دَ امت مسلمه بنيادی ذمه داری، دَ دعوت دينی اهميت ، دَ داعی مقام او اوصاف ،
دَ دعوت په اسلوب او طريقه کار باندے مشتمل يو مفصل او مفيد کتاب.

# مونږ به د
# دعوت
# کار څنګه کوؤ




مرتب

مولانا مفتی محمد اياز درّانی صاحب حفظه الله





العلم پبليکيشنز

# مونږ به د دعوت کار څنګه کوؤ

ابومعاویه مولانا مفتی محمد ایاز حفظہ اللہ

العلم پبلیکیشنز محلہ جنگی پشاور
091-2590315

# فهرست مضامین

پیش لفظ ........................ 14
د داعی اوصاف او طریقه کار :........................ 16
د دعوت فضیلت او ددې حکم ........................ 21
د دعوت د کار حکم الهی : ........................ 21
د دعوت طریقه : ........................ 27
د امت هر فرد دې داعی جوړ شی: ........................ 29
د داعی او دعوت فضائل : ........................ 31
د هدایت د سبب جوړیدو والا داعی لویه درجه :........................ 34
د داعی دپاره دعمل کوؤنکی برابر ثواب : ........................ 35
داعی قابل دپسخیدو دې : ........................ 36
د داعی دپاره د ټولو نه لوې اعزاز : ........................ 37
داعی او دعوت........................ 42
د داعی تعریف : ........................ 42
اوّل داعی : ........................ 42
د رسولانو کار : دعوت الی الله : ........................ 43
په دعوت الی الله کښې د امت شرکت : ........................ 45
د دعوت الی الله مکلّف څوک ؟........................ 47
شبهات او اعتراضات : ........................ 52
د دعوت الی الله د وجوب وجوهات : ........................ 66
۱-د شهادتِ حق فریضه :........................ 66
۲-د کفر غلبه او د هغې اثرات : ........................ 68

۳-د هلاکت او عذاب نه بچ کول : ......................... 69
د داعی حالت او قدرت او دعوت الی الله : ......................... 70
په هر وخت او هرحال کښې دعوت : ......................... 74
د داعی اصل ذمه داری : ......................... 76
الله تعالی طرف ته مسلسل دعوت ورکول: ......................... 78
د داعی اجر په الله باندې دې نه چه په بندګانو باندې: ......................... 79
په اسلام کښې د داعی مقام : ......................... 81
منظم دعوت: ......................... 82
ذاتی مشغولتیا : ......................... 86
بصیرت او علم : ......................... 86
دوست مزاج : ......................... 86
انتظامی صلاحیت : ......................... 87
تربیت یافته : ......................... 87
زاد المبلغ ......................... 88
تقوی څه څیز دې؟ ......................... 90
د داعی الی الله اول صفت "علم": ......................... 90
جاهل او جاهل مرکب کښ فرق : ......................... 91
په درې کارونو کښ بصیرت کیدل لازمی دی: ......................... 92
دویم صفت "صبر": ......................... 95
ددعوت په نتیجه کښ په انبیاؤ باندې د مصیبتونو غرونه : ......................... 98
د فرمان الهی نه یو باریکه نکته: ......................... 103
د مرګ نه پس هم ژوندې اوسیدو والا: ......................... 104

دریم صفت''حکمت'': .......................... 106
حکمت څه څیز دي؟.......................................... 107
د رسول ﷺ د دعوت څو نموني:........................ 109
اول مثال :.................................................... 110
دویم مثال : ................................................... 111
دریم مثال : ................................................... 112
څلورم مثال : .................................................. 114
څلورم صفت''حسنِ اخلاق'' ............................. 114
پنځم صفت''رکاوټونه لرې کولو والا وی'' ............... 116
شپږم صفت ''دمخالفین دپاره انشراح صدر'': ............ 117
کله چه خلق مخالفت کوی نوبیا ددعوت کار به څنګه کوئ؟........... 117
د داعیانه کردار آداب........................................ 122
د دعوت اوتبلیغ آداب : ...................................... 138
دنظمِ جماعت آداب : ......................................... 152
دقیادت آداب: ................................................. 158
دعوت وجهاد داعی او کارکن ................................ 164
به څنګه وی؟................................................... 164
خپل قانون او نظام صرف کتاب وسنت لره جوړ کړئ : .................. 166
هریو داعی دې دکتاب وسنت ضروری علم زده کړی : ................. 168
خپله تزکیه په شرعی طریقه باندې اوکړئ:.......................... 169
همیشه په جیب کښې وړوکې قرآن مجید ساتئ: ....................... 170
دأَشِدَّآءُ عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَآءُ بَيْنَهمْ صفت پیداکړئ: ................... 171

د الولاء والبراء د صفت نه مونږ محرومه ولې يو؟........................ 172
د رهبان بالليل وفرسان بالنهارماحول جوړ کړئ :......................... 175
د نعرو د سياست نه ځان اوساتئ او د دين د دعوت کار اوکړئ :........... 181
د يو جماعت لاندې اوسئ او د امير اطاعت کوئ :.......................... 183
ددعوت د ناکامئ اسباب اود هغې حل.......................... 185
د دعوت د ناکامئ اسباب :.......................... 187
١- د اقتدار نه محرومی:.......................... 187
٢-دعلم ناقدری:.......................... 187
٣-د دين د داعيانو غلطيانې:.......................... 188
د کاميابئ شرائط :.......................... 189
د کاميابئ کنجی :.......................... 191
ددعوت انداز:.......................... 193
انفرادی دعوت.......................... 198
مفهوم:.......................... 198
خصوصيات:.......................... 198
اثرات:.......................... 200
ددعوت آداب:.......................... 201
حلم وبردباری:.......................... 201
دمخاطب د جذباتو احترام:.......................... 202
دحالاتو مطالعه :.......................... 203
په بنيادی اصولوباندې توجه :.......................... 204
دحق اعتراف :.......................... 205

په متفقه امورو کښې خپل مینځ کښې تعاون : ................. 206
دحرص نه پرهيز: ................................. 207
اجتماعی دعوت ................................. 208
حقيقت او اهميت: ................................. 208
عبادتی امور سره متعلق خطبې: ................................. 212
په شرعی تقریرونو کښې قابل دلحاظ امور: ................. 212
مؤثرې خطبې: ................................. 213
د عوامی دعوت آداب ................................. 214
(۱)حسن انتخاب : ................................. 214
دموضوع انتخاب: ................................. 214
د الفاظو او جملو انتخاب: ................................. 215
د مناسب وخت انتخاب: ................................. 217
دمناسب ځاې انتخاب: ................................. 217
(۲) حکمت عملی: ................................. 217
حاضر جو ابی: ................................. 217
مباحثه: ................................. 218
د اختلافاتو نه ځان ساتل: ................................. 219
مخاطب لره په تنګې کښې مه اچوئ: ................................. 220
د اوږدوالی نه پرهيز : ................................. 221
د مسائلو ادراک: ................................. 223
د معلوم نه نامعلوم طرفته لا ړشئ: ................................. 224
په وړو وړو خبرو باندې نظرساتئ : ................................. 225

(۳) حسن ادا: ........ 225
شروع د الله تعالى دنوم نه وی : ........ 226
د موادو استحضار: ........ 226
پرکشش آغاز: ........ 226
وقار او سنجیدګی: ........ 227
په آواز کښ اعتدال: ........ 228
دموادو تقسیم: ........ 229
د تاریخ نه استدلال: ........ 229
د نفسیاتی او منطقی علومو نه استفاده: ........ 230
(٤) دقرآن کریم بهترین تلاوت : ........ 230
د احادیثو په خپل محل کښ استعمال: ........ 231
مجلس لره قابوکول : ........ 231
زیرئ : ........ 232
د معقولاتو دعلم نه استفاده : ........ 233
تلخیص: ........ 234
د تقریر نه پس : ........ 235
توسیعی لیکچرز: ........ 237
بحث ومباحثه: ........ 239
په خبرو اترو کښ څو نمونې : ........ 243
دعوت دکتابونو نه ........ 249
تصنیف وتالیف: ........ 249
د تالیف کتب دوه اړخونه : ........ 250

د موجوده مذهبي کتابونو خامیاني:........................................ 250
تکرار: ........................................................................ 250
دعلمي معیار پستي:........................................................ 250
د چهپائي خامیاني: ......................................................... 251
ناقص موضوعات: ........................................................... 251
داعی او تصنیف وتالیف:................................................... 252
صحافت: ..................................................................... 253
صحافتي مقالي:.............................................................. 254
د ادب فروشون نه ممتاز وی :............................................ 255
د پیشه وارانه اور جامد واعظانو نه پرهیز: ........................... 255
دموضوع انتخاب: .......................................................... 255
تنقید : ........................................................................ 256
رسائل اوخطونه: ........................................................... 258
علمي اوتحقیقي رسالي : .................................................. 261
ټیپ ریکارډنګ: ............................................................ 261
دعوت......په کردار سره..................................................... 263
د داعی کردار:............................................................... 263
پاکیزګی اور قرباني : ....................................................... 266
د زړه فراخي او اعلیٰ ظرف:................................................ 267
قرباني او دهغې ګنړ شکلونه : ............................................ 269
د نیکانو سره تعلق :......................................................... 270
د دیني تربیت فن:........................................................... 272

دعربئ ژبې اهتمام :.......................... 276
د اجتماعی کارونو اهمیت : .......................... 278
د فلاحی ادارو قیام:.......................... 281
عام مظاهر:.......................... 281
د کورنی ژوند او معاشرتی ژوند آداب:.......................... 282
دعبرت دپاره :.......................... 285
د دعوت رسولو وسائل .......................... 290
دقول(ژبې ) په ذریعې سره دعوت رسول.......................... 290
د دعوت په رسولو کښې دقول اهمیت : .......................... 290
د خبرو اترو عمومی آداب : .......................... 292
د داعی دپاره دخبرو اترو آداب :.......................... 294
دخبرو اترو قسمونه : .......................... 298
۱- خطاب:.......................... 299
۲-درس : .......................... 304
۳-لیکچر: .......................... 305
٤-مباحثه اومناظره : .......................... 308
٥-امر بالمعروف او نهی عن المنکر: .......................... 311
د امربالمعروف او نهی عن المنکر قواعد .......................... 312
۱- علم : .......................... 312
۲- نرمی: .......................... 312
۳-په مصلحتونو باندې نظر: .......................... 315
٤-دمعروف او منکر یوځاې کول .......................... 316

٥-رسوَل په قدر دامکان: ........................ 316
٦- خط وکتابت او تحریر: ......................... 317
په عمل سره دعوت رسوَل.......................... 318
د عمل نه مراد: ................................. 318
منکر لره د ختمولو بنیاد: .......................... 319
دمنکر د ختمولو عمومی قواعد: ..................... 319
١- دمنکر د ختمولو قدرت: ......................... 321
٢- دمنکر نه نفرت او د هغې لرې کول بقدرِ وسعت : ............. 322
٣- دمنکر لرې کولو دپاره دمباح اُمورو سهارا اخستل : ............ 323
په ښه کردار سره دعوت رسوَل....................... 324
د ښه کردار اهمیت:.............................. 324
د ښه کردار اُصول : ............................. 326
١-ښه اخلاق: .................................. 326
٢- په قول وفعل کښې مطابقت : ..................... 328
عام معاملات .................................. 330
سوالات وجوابات: .............................. 330
الف - دعاداتو او احکامو سره متعلق سوالات: .............. 330
ب - سیاست سره متعلق سوالات:..................... 333
د دعوت کارسره متعلق څو سوالات: ................... 340
دمغربی افکارو سره متعلق مسائل: ................... 344
ظاهر وباطن: .................................. 346
وسیله او شفاعت: .............................. 348

د اجتماعاتو قیام: ........................ 352
الف- ددعوت قسمونه : ........................ 352
خصوصی دعوت: ........................ 353
عوامی دعوت: ........................ 353
ب- ددعوت اعلان: ........................ 353
خصوصی دعوت نامې : ........................ 354
د کارډ تقسیم: ........................ 354
اجتماع ګاه: ........................ 354
د اجتماع کارکنان : ........................ 355
دجلسه ګاه نګرانی په داخلی او خارجی طور سره: ........................ 355
د اجتماع نه پس: ........................ 355
دعوتی ادارې: ........................ 357
مشکلات: ........................ 358
د پسماندګئ بعضې مثالونه: ........................ 360
د استعماریت نښې : ........................ 360
پارټی بندئ: ........................ 360
خارجی مشکلات: ........................ 361
بشارتونه (زیرې): ........................ 364
د سامراجیت ناکامئ : ........................ 365
په حکومتی سطح باندې د دعوت وتبلیغ اهتمام : ........................ 366
حرف آ خر: ........................ 366

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

# پيش لفظ

الله تعالی پیریان او انسان د خپل عبادت دپاره پیدا کړې دی اوعبادت په هره موقع باندې د همه وختی بندګئ نوم دې. دټولو انبیاء علیهم السلام هم دا دعوت وو چه اې خلقو! چه د الله تعالی همه وختی بندګی اختیارکړئ او د غیرالله بندګی پرېږدئ.

کله نه چه انسان دنیاته راغلو نو د همیشه راسې همدا د دعوت وتبلیغ کار کیدو. ددې عالم د رنګ وبو وجود ته راتلو سره د داعیانو او مربیانو سلسله ددې سره د جزولاینفک په شان تړلې او قائم او دائم راروانه ده او دا سلسله به ددې فانې دنیا د خاتمې پورې جاری وی.الله تعالی ددنیا د ابتداء نه واخله د آخری پیغمبرﷺ د راتلو نه مخکښې پورې په هردور کښې په مختلف علاقوکښې خپل داعیان دپیغمبرانو په شکل کښې راولیږل دې دپاره چه دنیا والو ته دهغوی د ژوند مقصد او په دنیا کښې د اوسیدو د لائحه عمل یاددهانی اوکړی. الله تعالی سبحانه وتعالی ددنیاوالو دپاره دټولو نه مخکښې داعی سیّدنا آدم علیه السلام او آخری داعی سیّدنا محمدالرّسول ﷺ وو. د نبوت د سلسله ختمیدو نه پس د انبیاء علیهم السلام دا فریضه امتِ مسلمه ته حواله کړې شوه او اوس هم دوی ددې وارثان دی، څنګه چه په حدیث پاک کښې راغلې دی :

اَلْعُلَمَاءُ هُمْ وَرَثَةُ الْأَنْبِيَاءِ، إِنَّ الْأَنْبِيَاءَ لَمْ يُوَرِّثُوا دِينَارًا وَلاَ دِرْهَمًا، إِنَّمَا وَرَّثُوا الْعِلْمَ، فَمَنْ أَخَذَهُ أَخَذَ بِحَظٍّ وَافِرٍ۔ [ابوداؤد، ابن ماجه، ترمذی]

”علمائے کرام د انبیاء علیهم السلام وارثان دی انبیائے کرام په میراث کښې درهم اودینار نه پریږدی بلکه دهغوی میراث علم وی چاچه په دې میراث کښې حصه واخسته یقینًا هغه لویه حصه اوموندله“.

د رسول اللهﷺ د وفات نه پس دهغوی تیارکړې شوې د داعیانو جماعت د دعوت او جهاد جهنډا اوچته کړه او په پوره دنیاکښې ئې خوره کړه. دغه شان هغوی دجهاد سره د دعوت الی الله د فریضې حق داسې ادا کړو څنګه چه د ادا کولو حق وو. اوګورئ بیانتیجه څه راوتله؟ په کتو کتو سره د اسلام جهنډا په څلور دانګ عالم باندې خوره شوه. د صحابه کرامو رضی الله عنهم اجمعین مبارک جماعت نه پس په امت کښې ددې مقصد دپاره په انفرادی او اجتماعی طور باندې کوشش کیدو او اوس هم دا کوشش اومحنت په امت کښې جاری او ساری دې.

الغرض داعی همیشه په معاشرې کښې یوه مثبت تبدیلی راولی چه قومونو ته ترقئ ته ورکوی او په عزت او وقار سره ورته ژوند تیرول ښائی. داعی په اصل کښې انقلابی وی چه دهغه په دعوت سره په معاشره او خلقو کښې انقلاب راولی او په هغوی کښې یو داسې روح اچوی چه هغوی لره په خوشحالئ او رغبت سره په عمل کولو او قربانئ ورکولو باندې آماده کوی.

داعی معاشرې لره د شرک او بدعاتو او خرافاتو نه بچ کوی. هغه په عائلی او سیاسی ژوند کښې هم د عام خلقو رهنما وی. هغه د امت

صحیح راهنمائی کولو سره د کفر او الحاد یلغار لره کوم چه د یهود ونصاراؤ او هنود د طرف نه جاری دي. ددې الحادی تیارو او طوفانونو مخې ته د غتې سینې حوصله او لائحه عمل فراهم کوی او پخپله هم ددې خلاف جنګیږی. هغه د مال دحرص او جاه دحرص د مال و زر د کشش، د اولاد او خاندان د غافلانه فضاګانو،دبینک بیلنس چکرو او ددنیا په پهندو کښې ګیر شوې انسانانو لره د معاش سره سره ورته دمعاد(آخرت) یاددهانی هم کوی څکه چه هغه ته به د خپل عمر، ځوانئ،مال ودولت د کیدو د ذرې ذرې او ساعت ساعت حساب ورکول وی.

"هسې خو داعی د امت افرادو ته دا سبق هم ورکوی چه معاش لره هرڅه مه ګنړئ دا خو صرف د ژوند تیرولو یو ادنی غوندې ذریعه ده نه چه مقصد دې، مقصد خو دالله تعالی د خالص بندګئ،د دین د دعوت، د دین د اقامت او د اخرت جواب دهی ده".

## د داعی اوصاف او طریقه کار:

د دین دعوت او د داعی کار او محنت صرف هغه وخت مفید او مؤثر ثابیتیږی کله چه :

(۱) دعوت د انبیاء علیهم السلام په نهج باندې وی.

(۲) د دعوت آداب واحکاماتو لره ملحوظ اوساتلې شی او د اصولو د سختئ سره پابندی اوکړئ شی.

(۳) په داعی کښې د مخلوق خدا سره د احسان او خیرخواهئ جذبه او اخلاص وی.

(٤) په داعی کښې د حق د دعوت فکر او درد وی.

(٥) په داعی کښې احساسِ ذمه داری وی.

(٧) داعی د دعوت طریقه کار او د هرې موقع محل په مناسبت سره خبره کولو باندې پوهیږی.

دلته په دې خبره هم پوهیدل پکاردی چه دعوت صرف تقریرکولو ته نه وائی او نه داعی صرف مقرر او خطیب وی څنګه چه دبعضو خلقو خیال دې چه تقریرکولو سره یا درس ورکولو سره د دعوت ذمه داریٔ نه ئې خپله غاړه خلاصه کړه.

په داعی خطیب او مقررکښې لوې فرق دې. اکثرمقررین اوخطباء صرف مقررین او خطباء وی. د هغې نه زیات د هغوی څه حیثیت نه وی. خو داعی د یو فکر علمبردار وی چه هم ددې فکر طرفته دخپل خطابت،تحریر،عوامی خبرو اترو د خپل خاص وعام ژوند نفع ورکوؤنکی اعمالو او د ذرائع ابلاغ په ذریعې سره خلقو ته دعوت ورکوی. هغه په یو وخت کښې مصنف او مضمون نګار هم وی نوخطیب هم وی،عوامی خبرې اترې هم کوی او د کردار نمونه هم پیش کوی هغه په خپل کار او شخصیت سره په خلقو باندې اثرانداز کیږی،هغه د معاشرې د فاسدانه نظام او طریقه کار اصلاح کوی. هغه یو سوشل ډاکټر وی چه د زړونو د رواحانی مرضونو علاج کوی نو هغه تنقید هم کوی او جائزه هم اخلی.دهغه ژوند اصلاح وی، هغه یو ښه ملګرې او دوست وی، د امیر وغریب ټولو رور وی، لوې وړو هر چاسره دشفقت معامله کوی،ددې صفتونو په وجه سره مونږ دهغه په زړه

کښې د محبّت د درياب چپې وينو. او دهغه دسترګو نه د رحمت او شفقت رنړا راپورته کيږی، دهغه ژبه په زخمی زړونو باندې پټۍ لګيدونکی په نظر راځی دهغه لاس د کمزورو دپاره اوچت په نظر راځی. داعی په خپله دائره کښې قائد وی،او په خپل ماحول کښې سياست دان وی،دخپل فکر ليډر وی او ددې فکر د علمبردارو رهنمائی کوؤنکی په نظر راځی او دا ټول صفتونه يواځې د خطابت د حقوقو په ادا کولو سره نه پيدا کيږی بلکه ددې دپاره اندرونی تاثيرپکار دې،روحانی کمال پکاردې،الله تعالی سره مضبوط تعلق کيدل پکار دې، او د تاريخ په تجربو سره او دخلقو دحالاتو نه د عقل استفاده کول ضروری دی. دغه شان د داعی دپاره تربيت شده کيدل او د دعوت په منظّم طريقې کيدل هم يو لازمی امر دې.

زما هم يو پخوانې خواهش وو چه يو داسې کتاب او ليکلې شی چه په هغې کښې ددعوت فضيلت او اهميت سره سره د دعوت اصول وقواعد چه ددعوت کار څنګه اوکړې شی، او دويم کتاب په تربيت ارکان او نظم جماعت باندې اوليکلې شی. مؤخرالذکر موضوع دومره وسيعه او مشکل ده چه ددې دپاره په شلګونو کتابونو کتل پکار دی او دمختلفو تجرباتو نچوړ پيش کول وی،خو آخر دمسلسل تصنيفی، تدريسی او تنظيمی مصروفياتو باوجود د الله تعالی په فضل وکرم سره "نظم جماعت او تربيت ارکان څه ولې او څنګه؟" نومې کتاب باندې کار دالله په فضل سره مکمل شو،هرکله چه ددعوت اهميت او طريقه کار باندې دليکلو اراده مې هغه وخت پريخودله هرکله چه دعالم عرب

مشهورسکالرالشیخ عبدالبدیع صقرمصری صاحب عربي کتاب "كَيْفَ نَدْعُوا النَّاسَ" لاس ته راغلو چه په دې موضوع باندې کافی حده پورې مفید دې.روستو ددې اردو ترجمه جاویداحسن فلاحی صاحب علی ګړه "مونږبه ددعوت کار څنګه کوؤ" په نوم باندې کړې وه.د هندوستان پبلی کیشنز دهلی ۱۹۸۲ءچاپ شوې دیو ملګری په ذریعه سره ملاؤ شو.بیا د دارالبلاغ پبلشرز لاهور والو په ۲۰۰۱ءکښې هم دا کتاب د څه اضافي عنواناتو سره چهاپ شوې په دې نوم سره ملاؤ شو.

ما هم دې اُردو ترجمې لره د نوې ترتیب سره،د دارالبلاغ والو دغیرضروری اضافه شده عنوانات حذف کولو سره په ابتداء کښې خپله لیکلې شوې مقدمه او د مولانایوسف اصلاحی "داعیانه کردار آداب" عنوان اضافي سره دشائع کولو عندیه د اشاعت اکیډمۍ ډائریکټر رور مولاناحشمت علی صافی صاحب ته ورکړه چه یقینًاپه دې خبره کښې ډیر مخلص او فکر لرونکې دې. هغوی په خوشحالۍ سره ددې کار په کولو کښې حمایت اوکړو. الله تعالی دې ورته مزید توفیق ورکړی. آمین

او د کتاب جدیدترتیب به داوی:

☆ پیش لفظ — از بنده ابومعاویه محمدآیاز
☆ د دعوت حکم او دهغې فضائل — از محمدطاهرنقاش
☆ داعی او دعوت — از عبدالکریم زیدان
☆ زاد المبلغ — از شیخ محمدبن صالح العثیمن
☆ د داعیانه کردار آداب — از مولانایوسف اصلاحی
☆ د دعوت او جهاد داعی — او کارکن به څنګه وی
از مولانامحمدشریف مدینه یونیورسټی

☆ د دعوت د ناکامئ اسباب تر آخر کتاب پورې از شیخ عبدالبدیع صقر۔

په آخر کښې زما د امت داعیانو ته ګزارش دې چه دې کتاب لره ېڅپله هم په غور اوفکر سره مطالعه کړی او نورو داعیانو حضراتو ته هم ددې د مطالعه کولو ترغیب ورکړی. ان شاء الله دا کتاب به ددعوت په کار کښې ستاسو دپاره ډیر بې حده مفید ثابتیږی.

الله تعالی دې مونږ ته صحیح او د منظّم دعوت توفیق او فکر راکړی. آمین

اَقُوْلُ قَوْلِیْ هٰذَا اَسْتَغْفِرُ اللهَ لِیْ وَلَکُمْ لِسَائِرِ الْمُسْلِمِیْنَ۔ آمین

ابومعاویه محمدآیاز درانی

جامعه تبلیغ القرآن یوسف آباد

پیښوربنار

## باب: ۱

# د دعوت فضیلت او ددې حکم

په موجوده دور کښې چه کله عالم کفر په خاص طور باندې هنودیهود او د صلبیانو سازشونه د اسلام خلاف په مختلف رنګونو کښې مخې ته راځی. د ټی وی،وی سی آر او د ډش نه پس اوس کیبل سسټم او د سی ډیانو طوفان هرې مسلمانې کورنۍ او خاندان ته ورننوتلې دی.او هرمسلمانه کورنۍ د کافرانو نشانه ده چه ده لره په څه نه څه اخلاقی او مذهبی اعتبارسره بربادکړې شی. نوپه داسې حالاتو کښې د اسلام دداعیانو ضرورت د مخکښې نه زیات دې او دمخکښې مصروف داعیانو لره زیات په تیزۍ او تندۍ سره د کار کولو ضرورت دې،ځکه چه که امت مسلمه لره که چرې ددې سیلاب او طوفان نه بچ نه کړې شی. نو د خسر الدنیا والاخرة مصداق به جوړ شی. په دې وجه دعوتی نیټ ورک لره په وسیع پیمانه سره خوړولو کښې ډیر لوې اجر وثواب او د نجات یقینی ذریعه ده. الله تعالی او دهغه خوږ پیغمبرهم ددعوت الی الله فضیلت او فرضیت طرفته په ګڼړو مقاماتو کښې په واضح طور باندې احکامات ښکاره فرمائیلې دی.

## د دعوت د کار حکم الهی:

په یو اوچت مقام باندې الله الرحمن د داعیانو او مبلغینو د جماعت اهمیت لره واضح کولو سره ارشاد فرمائی :

وَلۡتَكُنۡ مِّنۡكُمۡ اُمَّةٌ يَّدۡعُوۡنَ اِلَى الۡخَيۡرِ وَيَاۡمُرُوۡنَ بِالۡمَعۡرُوۡفِ وَيَنۡهَوۡنَ عَنِ الۡمُنۡكَرِ‌ؕ وَاُولٰٓـئِكَ هُمُ الۡمُفۡلِحُوۡنَ‏۔ [ال عمران: ۳/۱۰٤]

"او په تاسو کښې يوه ډله داسې کيدل پکار دی چه خلق نيکئ طرفته رابلی او دښه کار کولو حکم ورکړی او د بدو کارونو نه منع اوکړی. هم دا خلق دی چه خلاصی موندونکی دی."

الله تعالی ددعوت دکار اهميت لره واضحه کول او د امر بالعمروف ونهی عن المنکر نشاندهی کولو سره فرمائی:

" اې خلقو! په تاسو کښې څه خلق داسې کيدل پکار دی چه د نيکئ طرفته رابلی د ښه کار حکم ورکوی او دبدو کارونو نه منع کوی. چه کوم خلق داکار کوی هم دوی به کاميابی اوموی".

په دې سورت کښې مخکښې الله تعالی د دعوت دين دکار کولو والو خلقو لره بهترين او خوښ ګرځولو سره ارشاد فرمائی :

" اې مسلمانانو! په تاسو کښې بهترينه ډله به هغه وی کومه چه دانسانو ( دهدايت او اصلاح ) دپاره ميدان ته راوستلې شوې ده. تاسو به دنيکئ حکم کوئ او دبدئ نه به منع کول کوئ او په الله تعالی به ايمان ساتئ".

سيدناحذيفه بن اليمان رضی الله عنه روايت کوی چه رسول رحمت صلی الله عليه وسلم ارشاد اوفرمائيلو :

"په هغه ذات قسم چه دچا په لاس کښې د محمد(ﷺ) ساه ده چه تاسو به ضرور د نيکئ دعوت ورکوئ او ضرور به د بدئ نه منع کول کوئ ګنی نزدې ده چه الله تعالی به دخپل طرف نه په تاسو باندې عذاب راوليږی او بيابه تاسو دعاګانې کوئ خو هغه به قبليږی نه".

**[ترمذی، کتاب الفتن: باب ما جاء فی الامر بالمعروف والنهی عن المنکر]**

سيدنا ابوسعيدخدری رضی الله عنه روايت کوی چه ما رسول الله ﷺ نه دا فرمان واوريدلو: چه په تاسو کښې څوک بدی

اوینی نو پکاردی چه په خپل لاس (یعنی د قوت په زور) سره هغه منع کړی او که ددې طاقت نه لری نو په ژبه دې (وعظ او نصیحت کولو سره) دهغه د اصلاح کوشش دې اوکړی) او که ددې هم طاقت نه لری نو په زړه سره دې(دې لره بد اوګنړی) او دا د ایمان د ټولو نه کمزورې درجه ده.[صحیح مسلم، کتاب الایمان: باب بیان کون النهی عن المنکر من الایمان]

ددې خبرې تائید د نبی علیه السلام د دې فرمان نه هم کیږی، فرمائی :" کله چه خلق ظالم لره په ظلم کولو باندې اووینی او د هغه لاس اونه نیسی نو نزدې ده چه الله تعالی (په ظالمانو باندې نازلوؤنکی) عذاب لره عام کولو سره نه بندوؤنکو لره هم به راګیرکړی".

[سنن ابی داؤد: کتاب الملاحم، ترمذی: کتاب الفتن]

د سوره اعراف په ابتداء کښې الله تعالی فرمائی :

"دا یو کتاب دې چه (نبی ﷺ) ستاطرفته نازل کړې شوې دې. بس ستاسو په زړه کښې دې ددې متعلق څه جهجهک نه وی. ددې د نازلولو غرض دادې چه ته د دې په ذریعې سره (دحق منکرینو لره) اویروئ او ایمان راوړونکو ته یاددهانی اوکړئ".

په دې آیت مبارکه کښې دجهجهک نه مراد دادې چه دالله تعالی د طرف نه نازل کړې شوې کتاب د "قرآن" (احکامو) لره بغیر د جهجهک نه او **لومة لائم** او دڅه قسمه یرې نه ماورا کیدو سره خلقو ته اورسوئ او د دې خبرې لره هم پرواه مه کوئ چه مخالفین به ددې ځنګه او په کوم انداز کښې استقبال کوی.

کفر او شرک او بدعاتو او بدعملو لره اختیارونکی په حقیقت کښې د دنیاوالو د هلاکت ذریعه جوړیږی. هغه پخپله خو ددې معصیتونو او د الله کریم د نافرمانه جوړیدو په وجه هلاک شی، خو

ورسره نور خلق هم ډوبوی چه ددوی په بد عملونو او دکفروشرک په روش باندې ئې دخاموشۍ څادر اغوستې اوده وو او د نهی عن المنکر دعملی مظاهرې دپاره ئې خپلو شونډو له حرکت قدرې نه ورکوؤ. هغې لره دطاقت او دقوت په زور باندې منع کول خو لرې خبره ده.

د دې خبرې نشاندهی کولو سره سیدنانعمان بن بشیر رضی الله عنه روایت کوی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل :

"د الله تعالی په حدودو باندې د قائم اوسیدونکو او د هغې د ماتولو والو مثال دهغه خلقو په شان دې چه هغوی قرعه اندازی کولو سره د یوې کشتۍ حصې په خپل مینځ کښې تقسیم کړې. په هغوی کښې یوې ډلې ته د کشتۍ لاندینۍ حصه ملاؤ شوه او دویمې ډلې ته پاسنۍ حصه ملاؤ شوه. کوم خلق چه د کشتۍ په لاندینۍ حصه کښې وو هغوی ته چه کله د اوبو اخستلو ضرورت پیښیږی نو هغوی پاس خیژی(هغوی سوچ اوکړو چه زمونږ داوبو اخستلو دپاره باربار ختلو سره پاسنو خلقو ته څومره تکلیف کیږی) بس هغوی اووئیل: (ولې نه) کچرې مونږ د کشتۍ په خپله حصه کښې سُورې اوکړو (او ددې سُوری نه به اوبه اخلو اوبارباریاس ختلو سره) به پاسنو خلقو ته (بې ځایه) تکلیف نه رسی (نوډیرښه به وی) اوس که چرې پاسنی خلق دوی لره(دداسې کولو نه منع نه کړی او هغوی) په خپل حال باندې پریږدی چه هغوی دا (خطرناکه اوهلاکوؤنکې )اراده پوره کړی نو(ددې سُوری په ذریعه سره کشتۍ به د اوبو نه ډکه شی او ډوبیدو سره به غرق شی او بیابه) ټول په ټوله هلاک شی خو که پاسنی خلق دهغوی لاس اونیسی او هغوی لره په کشتۍ کښې د سُوری کولو نه

منع کړی) نو پخپله به هم بچ شی او باقی ټول خلق به هم خلاصې بیا مومی". [صحیح بخاری: کتاب الشهادات]

او کوم داعی چه ګناهګارو ته دعوت هم ورکوی خو بدعملئ سستئ کوتاهئ او بعضې سیاسی مصلحتونو لره پرده جوړوی او د هغوی سره شریک کیږی، او هغوی سره خوراک څکاک کوی،نو ددې دوه رُخه داعیانو او خلقو متعلق د رسول اللهﷺ دا وعید واورئ:

سیدناابوموسیٰ رضی الله عنه روایت کوی چه رسول اللهﷺ ارشاد اوفرمائیلو:" تاسو نه مخکښې په بنی اسرائیلوکښې چه به کله چا د ګناه څه عمل اوکړو نو منع کوؤنکی (داعی) به هغه لره منع کولو خو په دویمه ورځ به ئې بغیر د څه جهجهک محسوسولونه دهغه سره ناسته پاسته او خوراک څکاک کولو ګویاچه ده هغه لره پرون په څه ګناه کولو نه وو لیدلې. کله چه دې خلقو داسې اوکړل نو الله تعالی د دوی زړونه یوشان کړل او د سیدنا داؤد علیه السلام او د سیدناعیسی علیه السلام په ژبه باندې ئې په هغوی لعنت اوکړو. په دې وجه چه هغوی نافرمانی کوله او د حد نه تجاوز کوؤنکی وو. قسم دې په هغه ذات باندې دچاپه قبضه کښې چه زما ساه ده زه تاسو ته تاکید کوم چه تاسو ضرور د نیکو حکم کوئ،او دبدئ نه منع کول کوئ د ګناه کوؤنکو لاس اونیسئ او هغوی په حق باندې قائم اوساتئ. کچرې تاسو داسې اونکړل نو الله تعالی به ستاسو زړونه یوشان کړی او په تاسو به هم لعنت اوکړی څنګه چه ئې په هغه خلقو باندې کړې وو". [ مجمع الزوائد:۲۶۹/۷]

داعی دې د الله تعالی لارې طرفته دعوت ورکولو سره خپله علمی سرمایئ لره سپکه او معمولی نه ګڼړی. نو ده ته چه کومه خبره اورسی نو هغه دې نورو ته رسول اوغواړی خواه دکتاب الله یو آیت ولې نه وی.

ددې تعليم نبی عليه السلام خپلو صحابو ته به ورکولو. نبی عليه السلام اوفرمائيل :

"زما د طرف نه اورسوئ خواه يو آيت ولې نه وی".

[بخاری: کتاب احاديث الانبياء]

په يو بل مقام باندې رسول اللهﷺ د داعی دپاره چه خلقو لره دجنهم نه بچ کوی او د جنت په لاره باندې ئې اچوی،دارنګه د خير دعا اوفرمائيله :

"الله تعالې دې هغه سړی لره تروتازه اوساتی چه زمونږ نه يوه خبره واوری او هم هغه شان ئې نورو ته اورسوی چه څنګه ئې اوريدلې ده. ډيرکرته چه کوم سړی ته خبره رسولې شی هغه ددې خبرې د اوريدلو والا نه زيات محافظ وی". [سنن ترمذی: کتاب العلم]

د عظيم داعی محمدرسول اللهﷺ داعيانه تعليمات په مسلمانانو کښې دباطل مقابله جرأت،بهادری او شجاعت پيدا کوی او د دليرئ او ځوانمرادئ روح پکښې اچوی او دا اطمينان ورته ورکوی چه د ظالمانو په مقابله کښې د هغوی په دې دليرئ او شجاعت او قولِ حق سره نه خو دهغوی په رزق کښې به کمی راځی او دحق کلمې وئيلو په نتيجه کښې به نه به دهغوی مرګ د وخت نه مخکښې راځی بلکه مرګ به خو هغه وخت راځی هرکله چه دهغې دراتلو وخت راشی کوم چه په محفوظ کښې ليکلې شوې دې،نه ئې څوک يوساعت روستو کولې شی او نه مخکښې کولې. دارنګه نبی عليه السلام ددې خبرې نشاندهی کولو سره اوفرمائيل :

"د خلقو يره دې چاله دحق خبرې کولو نه يا د وخت د حاکم غلط فعل ( او فيصلې) باندې رد‌ل دی هيڅ کله مانع نه وی.ځکه چه

نه خو هغه لره دوخت نه مخکښې مرګ ورکولې شی او نه هغه لره د رزق نه محرومه کولې شی". [مسند احمد: ۵۰/۳، ابن ماجه: کتاب الفتن]

د داعیانو دا جماعت د دعوت کوم اسلوب(طرز) اختیار کړی،دعوت څنګه ورکړی؟ ددې وضاحت کولو سره الله مالک الملک په قرآن حکیم کښې په یو بل ځاې کښې د دین دعوت حکم کولو سره ارشاد فرمائیلې دې: اُدۡعُ اِلٰی سَبِیۡلِ رَبِّکَ بِالۡحِکۡمَۃِ وَ الۡمَوۡعِظَۃِ الۡحَسَنَۃِ وَ جَادِلۡہُمۡ بِالَّتِیۡ ہِیَ اَحۡسَنُ۔

[النحل:۱۶/۱۲۵]

"اې رسوله ﷺ! خلقو لره په حکمت اونیک نصیحت سره دخپل پروردګار لارې طرفته راوبله او په ډیره ښه طریقې سره دهغوی سره مناظره اوکړو".

په قرآن پاک کښې په یو دریم مقام باندې رب العالمین د دعوت طریقې لره بیانولو سره د دعوت الی الله حکم داسې ورکوی: قُلۡ ہٰذِہٖ سَبِیۡلِیۡۤ اَدۡعُوۡۤا اِلَی اللّٰہِ ۟ؔ عَلٰی بَصِیۡرَۃٍ اَنَا وَ مَنِ اتَّبَعَنِیۡ ۔[یوسف:۱۲/۱۰۸]

"اووایه دا زما لار ده زه دالله تعالی طرفته دعوت ورکوم په (حکمت)او بصیرت سره. زه هم خلقو لره د یو الله طرفته رابلل کوم او زما تابعدار ی او فرمانبرداری کوؤنکی اصحاب هم".

الله تعالی په پاسنی ذکرشوی آیتونو کښې په واضح طور باندې حکم ورکړې دې چه د هغه او د هغه درسول ﷺ د لارې طرفته دې بې لارې شوؤ ته دعوت ورکړې شی.

## د دعوت طریقه:

عام طورباندې کتلې شی چه کله څوک کس،یا ډله په حق باندې وی، نو هغوی ته دا فخر او غرور وی چه زمونږ څه! مونږ خو په حق باندې یو. مونږ ته د چا څه پرواه! چه څوک منی هغه به اومنی او د چاقسمت چه

خراب دې د هغه په زړه باندې مهرلګیدلي دې هغه نه منی وغیره. هغه وخت دهغه دخبرو انداز ډیر زیات سخت وی او هغوی په دې ګمان کښې خلقو ته څه قدرې سخت تریخ او مفتیانه انداز کښې دعوت ورکوی. ددې خبرې نشاندهی کولو سره الله تعالی د دعوت طرز بیانولو سره اوخودل چه داسې رویه هیڅ کله روا نه دی ساتل پکار، بلکه دالله کریم لارې طرفته ډیر د مینې او محبت په انداز کښې، په ناصحانه او خیرخواهانه انداز کښې په حکمت اوتدبیرسره دبصیرت او هوښیارتیاسره، په نرمه لهجه کښې دعوت ورکول پکاردی، داسې دمینې او محبت نه ډک انداز کښې چه د مخاطب زړه او دماغو ته کوز شی.غلط اوترش خوئې، جارحانه، مخالفانه، مناظرانه او د لاندې کولو په انداز کښې په دعوت ورکولو کښې به دانقصان وی چه دمخاطب منلو او دقائل کولو په ځاې د زیات هټ دهرمۍ او دضد مظاهره کولو سره به وائی: زه نه منم،خپل دعوت دې ځان سره اوساته، زه چه په کوم لار روان یم همدا ٹهیک ده".

دا نتیجه وی د غلط انداز دعوت. اګرچه دعوت د حق وی خو انداز بدل شی..... الفاظ بدل شی.........اوبیا نتیجه هم بدله شی. بعضې ځل داسې کیږی چه خبره یوه وی خو مخاطب ته د رسولو دپاره چه کوم الفاظ چانړ کولې شی او د کومې لب او لهجې سهارا چه اخستلې شی هغه مختلف وی، دویمه خبره داچه د مضمون ترجمانی کوؤنکی الفاظ د مخاطب په تن بدن کښې اُور هم لګوی اوهغه لره په جارحیت باندې راوچته وی هرکله چه هم دغې خبرې لره او مضمون لره کچرې الفاظ بدلولو سره په بل انداز کښې ادا کړې شی نو مخاطب به نه صرف چه متاثره کیږی،احسان مند به وی، عزت به ورکوی،خپل ځان ته کور دفتر یا مسجد اومکتب ته دراتلو دعوت ورکوی بلکه د اظهار محبت دپاره په

هغه باندې دځه خوږلو څکلو هم کوشش کوی. دا اوس په داعی باندې منحصره وی چه هغوی د خبرو اترو د دعوت کوم طرز او طریقه اختیاروی! نورو لره بې بس او لاجواب کولو والا مناظرانه اوحاکمانه انداز یاهغوی لره د خپل جوړولو دپاره د مینې محبت والا حکیمانه،ناصحانه او خیرخواهانه انداز.

الله کریم خپل آخری نبی کریمﷺ لره د دعوت وتبلیغ دپاره د نرم مزاج اختیارولو او د سختئ نه د منع کولو حکم ورکولو سره او د سخت مزاجئ نقصان بیانولو سره ارشاد اوفرمائیلو :

فَبِمَا رَحْمَةٍ مِّنَ اللهِ لِنْتَ لَهُمْ وَلَوْ كُنْتَ فَظًّا غَلِيْظَ الْقَلْبِ لَانْفَضُّوْا مِنْ حَوْلِكَ فَاعْفُ عَنْهُمْ وَاسْتَغْفِرْ لَهُمْ۔ [آل عمران:۳/۱۵۹]

"اې رسولﷺ! دا د الله لویه مهربانی ده چه ته په دوی باندې (یعنی مسلمانانو باندې) نرم زړه (والا) ئې کچرې ته تریخ مزاج او سخت زړه(والا) وې نوتاسره به (یو سړې هم نه ایساریدو ټول خلق به)ستا نه تتربترکیدل(تختیدل به)".

په یو بل مقام باندې الله تعالی د دعوت ورکولو طرز بیانولو سره د نرم خوئې تذکره داسې فرمائی :

فَقُوْلَا لَهٗ قَوْلًا لَّيِّنًا لَّعَلَّهٗ يَتَذَكَّرُ اَوْ يَخْشٰى۔ [طه:۲۰/٤٤]

"تاسو دواړه ده سره په نرمئ سره خبرې اوکړئ شاید چه هغه غور اوکړی یا اویریږی".

## دامت هر فرد دې داعی جوړشی:

د داعی مثال چا څه بنه "زمیندار" سره ورکړې دې.د داعی او د دین د دعوت تعلق لره ئې دې تعلق سره تشبیه ورکړې ده.چه څنګه هغه د دانې کرلو نه واخله تر فصل کټ کولو محفوظ کولو پورې

مسلسل او متواتر مشقت کوی او هر وخت هوشیار او چست وی ځکه چه هغه پوهیږی کچرې ما په څه ساعت کښې هم غفلت اوکړو نو زما فصل بربادیدې شی. تردې چه کله فصل بالکل پوخ شوې وی نو هغه دمځکښې نه زیات د هوشیارئ ثبوت ورکوی چه چرته څوک حاسد او دشمن فتنه خورونکې راتلو سره دې ته اُور وانه چوی یا څاروی او ځناور رانشی دې لره برباد نه کړی. ترڅو پورې چه دې فصل لره کټ کولو سره محفوظ مقام ته اونه رسوی ده ته سکون نه راځی. همدا حال د داعی وی چه هغه دکوم خلقو تربیت کوی دهغوی په هرحال کښې خبرګیری او حفاظت کوی چه چرته داسې ناخوښه واقعه راپیښه نه شی چه د هغې به نتیجه کښې افراد ضائع نه شی او دده ټول محنت ضائع نه شی.

د امت علماء دې خبرې لره واضحه کولو سره بیان کړې وو چه ددعوت کار فرض کفایه دې چه کچرې په څه علاقه یا ملک کښې څه ډله یاتنظیم دې عظیمې فریضې لره سرته رسول شروع کړی نو د هغه ځاې نوراوسیدونکو نه دا فریضه ساقط کیږی خو که ددې علاقې ټول اوسیدونکی په تبلیغی امورو کښې دلچسپی اخلی نودا د هغوی دپاره د درجو د اوچتوالی ذریعه به جوړیږی او په سنت مؤکده باندې دوی عمل کوی.او کچرې د علاقې څوک فرد هم دا تبلیغی فریضه سرته د رسولو دپاره ملا اونه تړی نو د هغه ځاې ټول اوسیدونکی برابر به ګناهګار وی.د هر انسان دپاره ضروری ده چه دخپل همت مطابق په تبلیغی مشن کښې حصه واخلی،او د داعی دپاره د مخصوص الٰهی انعاماتو نه خپله خالی ځولې لره ډکه کړی.

## د داعی او دعوت فضائل:

د داعی او مبلغ د الله تعالی په نزد څه قدروقیمت او څه شان او رفعت دې،ددې اندازه کولو دپاره مخکښې زه د قرآن یو آیت پیش کوم چه په کښې الله کریم د دنیا د بدبخت ترین سړی تذکره کولو سره فرمائی :

وَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنْ مَّنَعَ مَسَاجِدَ اللّٰهِ اَنْ يُّذْكَرَ فِيْهَا اسْمُهٗ وَسَعٰى فِىْ خَرَابِهَا۔

[البقرة:۲/۱۱٤]

"او د هغه سړی نه زیات ظالم څوک به وی چه د الله کورونو (مسجدونو) ته د تللونه منع کوی(چه هلته تلوسره) د الله تعالی په کورونو کښې دالله تعالی نوم وانه خستلې شی او دې جماعتونو لره ورانول غواړی".

دغه شان په بل مقام باندې الله کریم،د داعی عظمت بیانولو سره هم داسې طرز کښې اوفرمائیل :

وَمَنْ اَحْسَنُ قَوْلاً مِّمَّنْ دَعَآ اِلَى اللّٰهِ وَعَمِلَ صَالِحًا وَّقَالَ اِنَّنِىْ مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ ۔

[حم السجده:٤١/٣٣]

"او د هغه سړی نه (د خبرې په اعتبارسره) ښه څوک کیدې شی؟ چه الله طرف ته بلل کوی او نیک عمل کوی او دا اووائی چه زه مسلمان یم".

اوګوره په دې آیت مبارکه کښې مبلغین او د حق داعیانو لره په څه ښه او اعلی انداز سره یادکړې شوې دی. یوسړې هغه دې کوم جماعتونه چرته چه د الله تعالی ذکرکیږی،عبادت کیږی، د دعوت الی الله کارکیږی، هلته د تلو نه منع کوی هغه دکائنات مبغوض او "اظلم" د ټولو نه زیات ظالم جوړیږی او دویم سړې الله تعالی طرفته رابلل

کوی هغه ددنیا بهترین سړې دي. دا فیصله د الله کریم د دربار ده.

؎

*یہ رتبہ بلند ملا جس کو مل گیا*
*ہر مدعی کے واسطے دار و رسن کہاں*

د حق شناس داعیانو په جماعت کښې دټولو نه اعلی وارفع شان د محمدرسول الله ﷺ دې اودهغوی نه پس درجه په درجه د اصحاب کرامو رضی الله عنهم اجمعین، تابعین، محدثین، آئمه کرام د امت صالحان او علماء ربانی رحمهم الله علیهم دې چه هغوی د خپل علم او صلاحیت مطابق ددعوت الی فریضه سرته اورسوله.

وَمَنْ اَحْسَنُ قَوْلاً مِّمَّنْ دَعَا.....الخ دا آیت مبارک د دعوت اوتبلیغ د کار اهمیت لره راؤچتولو دپاره د ټولو نه زیات جامع ترین آیت دې. په دې کښې د دې خبرې هم وضاحت کړې شوې دې چه د دینِ متین مبلغین دالله تعالی په دربارکښې د لوې شرافت او عظمت او مقام اومرتبې حامل دی. دا آیت مبارکه د هرهغه سړی سره متعلق دې چه چا د دین د دعوت مبارک کار کړې دې. نیک عمل ئې کړې وی او د خپل مسلمان کیدو ئې په ښکاره اعلان کړې دې. خواه په مخکښنی دور کښې وو،یا اوس په حال کښې موجود دې یا به بیا په آئنده زمانه کښې موندلې شی. امام ابن کثیررحمه الله ددې ایت مبارکه تفسیرکولو سره لیکی:

"صحیح خبره داده چه دا آیت عام دې څنګه چه امام عبدالرزاق د معمر په حوالې سره د امام حسن بصری رحمه الله متعلق روایت بیان کړې دې چه هغوی د "حم السجده" د آیت "وَمَنْ اَحْسَنُ قَوْلاً مِّمَّنْ دَعَا اِلَى اللهِ وَعَمِلَ صَالِحًا وَّقَالَ اِنَّنِىْ مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ" تلاوت اوکړو او وې فرمائیل چه دا (داعی) د الله تعالی حبیب دې، دا دالله تعالی ولی دې،دا دالله

تعالی چانړکړې سرې دې دې. دې الله تعالی ته په زمکه والو کښې دټولو نه زيات محبوب دې،هغه دالله تعالی دعوت قبول کړو او هغه طرفته ئې خلق راوبلل او پخپله ئې هم ددې دعوت مطابق عمل اوکړو او دخپل مسلمان کيدو ئې اعلان اوکړو دا د الله تعالی خليفه دې".

[تفسيرابن كثير:١٠٦/٤،قرطبی:٣٠/١٥،الكشاف:٤٥٣/٣]

امام ابن قيم رحمه الله د پيغمبرآخرالزمان ﷺ راوړلې شوې علم د اشاعت او د نبی عليه السلام د طريقې طرفته د دعوت فضيلت بيانولو سره ليکی:

"دا د هغه عملونو نه دې چه دټولو نه افضل او اعلی دی او د کوم چه دبنده دپاره په دنياو آخرت کښې نفع د ټولو نه زياته ده".

**[جلاء الافهام: ۱۱۵، ۴۱۴]**

د دعوت الی الله متعلق امام صاحب رحمه الله يو بل ځاې کښې ليکی:
"دا د بنده د ټولو نه زيات عزت اوقدر والا او افضل مقام دې".

[مفتاح دار السعادة:١٤٥/١]

د سورة "حم السجده" د دې آيت د تفسيرلاندې شيخ عبدالرحمن سعادی ليکی:

"دا درجه خو دکامل صديقينو ده چاچه د خپل ځان او دنورو خلقو د نفسونو د تکميل دپاره محنت اوکړو او د پيغمبرانو کامل وراثت هم د هغوی په برخه کښې راغلو". [تفسير السعادی:٨٢٠]

دا د داعی عظمتونه دی چه الله کريم هغه ته ورکړې دی.

ذٰلِكَ فَضْلُ اللّٰهِ يُؤْتِيْهِ مَنْ يَّشَآءُ

## د هدایت د سبب جوړیدو والا داعی لویه درجه:

د دعوت الی الله عظمت او رفعت واضح کولووالا امورو کښې یو دا هم دې چه دکوم سړی (داعی) په ذریعه سره بل انسان د هدایت دولت اومومی نو ددې سړی (داعی) اجروثواب ډیر زیات اوچت دې. امام بخاری او امام مسلم رحمهاهم الله د سیدنا سهل بن سعدرضی الله عنه نه روایت نقل کړې دې چه د خیبر په ورځ رسول اکرم ﷺ سیدناعلی رضی الله عنه ته جهنډا ورکولو په وخت ارشاد اوفرمائیلو:

أُنْفُذْ عَلٰى رِسْلِكَ حَتّٰى تَنْزِلَ بِسَاحَتِهِمْ ثُمَّ ادْعُهُمْ إِلَى الْإِسْلَامِ وَأَخْبِرْهُمْ بِمَا يَجِبُ عَلَيْهِمْ مِنْ حَقِّ اللهِ فِيْهِمْ فَوَاللهِ لَأَنْ يَّهْدِيَ اللهُ بِكَ رَجُلًا وَاحِدًا خَيْرٌ لَّكَ مِنْ أَنْ يَكُوْنَ لَكَ حُمُرُ النَّعَمِ

[بخاری: کتاب المغازی،مسلم: کتاب فضائل الصحابه رضی]

"اې علی(رضی الله عنه)! نیغ ځه. تردې چه ته د دې(یهودیانو) علاقې ته اورسې نو هغوی ته د اسلام قبلولو دعوت ورکړه او د هغوی په ذمه دالله تعالی دحق نه هغوی خبر کړه. په الله قسم! کچرې ستاپه وجه سره (یعنی ستا د داعیانه کوشش په بناء باندې) الله تعالی(صرف) یو بنده ته هم هدایت اوکړی نو هغه ستا دپاره د سرُو اوښانو د حاصلیدو نه زیات بهتر دی".

سُور اوښ هغه وخت ډیر قیمتی څیز وو. داسې اوګڼړه څنګه چه نن زمونږ په نزد دټولو نه قیمتی او جدید ترین ګاډۍ وی.مثلاً: لیموزین کار. یعنی که ستاسو ددعوت په نتیجه کښې یو سړې هم د توحید د لارې لاروې جوړشی نوستادپاره دا د څو سرُو اوښانو (لیموزین ګاډو) نه زیات بهتردی.په دې وجه چه ددې عمل بدله جنت دې چه دهغې مقابله ددنیا قیمتی نه قیمتی څیز هم نه شی کولې.

د حق د داعیانو دعوتي پروګرام چونکه اکثر په جماعتونو کښې کیږي چه هغوی خلقو لره جماعت کښې راجمع کولو سره د دعوت فریضه سرته رسوي، نوپه دې عمل باندې هم د ثوابِ عظیم په بشارت باندې مبنی حدیث اوګورئ:

سیدنا ابوامامه رضی الله عنه بیانوي چه رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائیلو: " چه کوم سړې جماعت طرفته روان وي د خیر زده کولو یا بل ته دخودلو نه سیوا دده بل څه مقصد نه وي نو د هغه دپاره د داسې حج کوؤنکي په شان ثواب دې چه دهغه حج پوره شوې وي".

[الترغیب والترہیب:۱/۱۱۰]

اندازه اولګوئ دالله کریم د لوې شان چه خلقو ته د خیر خودلو والا داعي مرتبه څومره اوچته او عظیم الشانه ده. الله دې مونږ هم په دې کښې شامل کړي.آمین

## د داعي دپاره دعمل کوؤنکي برابر ثواب:

دا هم د داعي د اوچت شان دلیل دې چه هغه ته د هغه د دعوت په نتیجه کښې د عمل کوؤنکي برابر ثواب به ملاویږي. سیدنا ابوهریره رضی الله عنه بیان کوي چه رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائیلو:

" چاچه څوک هدایت طرفته راوبلل نوڅومره قدرې ثواب چه د دهٔ په دعوت باندې عمل کوؤنکي ته ملاویږي هم دومره ددې داعي دپاره دې،ده ته ملاویدونکي اجر په وجه سره د هغه (عمل کوؤنکي) په ثواب کښې څه کمې نه راځي او چاچه ګمراهۍ طرفته بلل اوکړل د هغه په ذمه به هغومره ګناه وي څومره چه د دهٔ د دعوت په نتیجه کښې په ګناه کوؤنکي باندې وي.او دهٔ ته به د ملاویدونکي ګناه په سبب د هغه (نوروخلقو) په ګناهونو کښې څه کمې نه راځي".

[صحیح مسلم: کتاب العلم]

یاد ساتئ چه د دعوت ورکوؤنکی دپاره دا ثواب د څه خاص عمل د دعوت سره مخصوص نه دې بلکه هرهغه نیک کار د کوم طرفته چه داعی خلقو لره راوبلی اوخلق دهغه دعوت قبول کړی او هغوی نیک عمل اوکړی نودې داعی ته ددې عمل په وجه سره اجروثواب ملاویږی. دا کارضروری نه ده چه ډیر زیات لوې او اوچت شان والا دې نو څکه ورته اجر ملاویږی......بلکه که دا کار د معمولی او ادنی حیثیت حامل هم وی نو هم به داعی ته اجر ضرور ملاویږی.د دې ثبوت د یو بل حدیث نه هم ملاویږی چه په هغې کښې رسول رحمت ﷺ ارشاد فرمائیلي دې:

مَنْ دَلَّ عَلٰی خَیْرٍ فَلَهٗ مِثْلُ اَجْرِ فَاعِلِهٖ۔ [مسلم: کتاب الامارة]

"چاچه د خیرطرفته رهنمائی اوکړه د هغه دپاره د عمل کوؤنکی په شان اجروثواب دې".

## داعی قابل دپسخیدو دې:

د داعی هم دا خوش قسمتی او اوچت نصیب دې چه د نبوت په ژبه سره د هغه په ذات باندې د پسخیدو ترغیب ورکولې شی چه دا سړې د دې قابل دې چه د ده قسمت ته اوپسخیدې شی. دا د داعی دپاره ډیرلوې اعزاز دې.څکه چه رسول الله ﷺ ددې پسخیدو ترغیب ورکولو سره اوفرمائیل:

"قابل دپسخیدو صرف دوه کسان دی،یوهغه (چاته پسخیدل) چاته چه الله تعالی مال ورکړې وی او هغه ئې دحق په لاره کښې تقسیموی.او دویم هغه چه الله تعالی ورته حکمت ورکړې وی او هغه د هغې په ذریعه په خلقو کښې فیصله کوی او خلقو ته ددې تعلیم(دعوت) ورکوی". [بخاری: کتاب العلم]

## د داعی دپاره د ټولو نه لوی اعزاز:

بنده دنیاته راځی ژوند تیروی او مری، د مرګ نه پس د دې خبرې ګارنټی نشته چه د هغه اولاد او پسماندګان نیکان او متقیان جوړ شی ښه اونیک عمل به کوی او خاص کر د هغه اولاد به د هغه دمغفرت دپاره نیک عمل کوی او د هغه د مغفرت او بخښنې دپاره به ضرور دعا کوی چه په کوم دۀ ته د ټولو نه زیات امید وی چه د مرګ نه پس به دا زما د ټولو نه زیات پکار راشی. خو داعی ته دا د ټولو نه زیات اعزاز او شرافت حاصل دې چه د هغه د مرګ نه پس به هم د هغه سیونګ اکاؤنټ کهلاؤ وی او د هغه اعمال نامې ته به مسلسل د ثواب ذخیره رسیږی. یعنی د داعی اجروثواب د مرګ نه پس نه ختمیږی بلکه ترڅو پورې چه د دۀ په دعوت باندې عمل کیږی د خلقو د مجموعی ثواب برابر به د دې داعی ثواب جاری اوساری وی.

الله تعالی په قرآن حکیم کښې ارشاد فرمائیلې دې:

عَلِمَتۡ نَفۡسٌ مَّا قَدَّمَتۡ وَاَخَّرَتۡ۔ [الانفطار:۵/۸۲]

"په هغه ورځ به انسان خپل مخکښې لیږلې شوې او روستو پریخودلې شوې اعمالو لره اوپیژنی".

سیدنا عبدالله بن مسعود رضی الله عنه د دې آیت مبارکه تفسیر داسې بیان کړې دې:

مَا قَدَّمَتۡ مِنۡ خَیۡرٍ وَمَا اَخَّرَتۡ مِنۡ سُنَّةٍ اِسۡتَنَّ بِهَا بَعۡدَهٗ فَلَهٗ مِثۡلُ اَجۡرِ مَنِ اتَّبَعَهٗ اَوۡ سَیِّئَةٍ فَعَلَیۡهِ مِثۡلُ وِزۡرِ مَنۡ عَمِلَ بِهَا۔ [شرح السنه: کتاب العلم]"

"کوم نیک عملونه چه هغه پخپله اوکړل او کومه ښه طریقه چه هغه روستو پریخودله د هغې مطابق ئې عمل اوکړو. نو د عمل کوؤنکی په شان د دۀ دپاره عمل دې او د هغه د پریخودلې شوې بدې طریقې مطابق چه چا غلط کار اوکړو د هغې په قدر د هغه په ذمه ګناه ده".

د سیدناعبدالله بن عباس رضی الله عنه نه د محمدبن کعب قرظی ددې آیت مبارکه تفسیر بیان کړې دې:

مَاقَدَّمَتْ فِيْ حَيَاتِهَا وَمَا أَخَّرَتْ مِمَّا سُنَّتَهُ فَعَمِلَ بِهِ بَعْدَ مَوْتِهَا۔

[المحرر الوجیز:٦٤٢]

"هغه په خپل ژوندکښې چه کوم اعمال کړې وی او کومې طریقې ئې روستو پریخودلې وی د هغې مطابق د هغه دمرګ نه پس عمل اوکړې شو."

په دې خبره ګواه نور هم ډیرزیات احادیث او د صحابو اقوال موجود دی چه د هغې نه ثابتیږی چه د داعی دا شان او فضیلت دې چه د هغه د مر ګ نه پس هم د هغه د کړې شوې وعظ ونصیحت او دعوت په نتیجه کښې د متاثر کیدو سره د عمل کوؤنکو د عملونو مجموعی ثواب برابربه ورته اجر وثواب ملاویږی.... د هغه درجې به په جنت کښې اوچتیږی..... هغه به د الله تعالی په جنت کښې د الله تعالی په مهربانو سره مسلسل نمانځلې کیږی.

دا اوچتوالې.... دا شان د دهٔ...دا فضیلتونه..... دا عظمتونه او د دې سعادتونو حاصلولو دپاره به د نن نه مونږ له خپل ژوند د قرآن حکیم د هغه هدایت مطابق تیرول وی.

إِنَّ صَلَاتِيْ وَنُسُكِيْ وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِيْ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۔ [الانعام:١٦٢/٦]

"بیشک زمامونځ،زماقربانی،زما ژوند او زما مرګ .....ټول هرڅه هم صرف او صرف د رب العالمین دپاره دی".

چرته چه د دعوت کار د کوؤنکو دپاره دومره قدرې بشاراتونه، زیری او د درجو اوچتوالې او د ثوابونو غرونه دی نو هلته د بې عمله داعیانو چه په زبانی طور باندې خو دعوت ورکوی خو پخپله په دې

باندې عمل نه کوی،د هغوی دپاره وعیدهم دومره قدرې تکلیف ورکوؤنکې دې. ددې خبرې رسول رحمت صلی الله علیه وسلم په ډېر ترهیبی انداز کښې داسې وضاحت فرمائیلې دې -

د قیامت په ورځ به یو سړې راوستلې شی او هغه په دوزخ کښې واچولې شی،د هغه د خیټې نه به کُولمې بهر راوځی او هغه به د دۀ نه ګیرچاپیره تاویږی څنګه خر د جرندې نه چاپیره تاویږی.(په دې باندې) به دوزخیان راجمع شی او به وائی: اې سړیه! څه خبره ده،آیا تابه د نیکئ حکم نه ورکولو؟ او د بدئ نه به دې منع کول نه کول؟ ..... هغه به جواب ورکوی: چه او!(مابه د دنیکئ حکم هم کولو او د بدئ نه به مې منع کول هم کول) مابه خلقو ته دنیکې حکم کولو خو پخپله به مې پرې عمل نه کولو (او) هغوی به مې د بدئ نه منع کول خو پخپله به مې بدی کوله. [بخاری : کتاب بدء الخلق]

په یو بل روایت کښې هم رسول الله صلی الله علیه وسلم ددې خبرې نشاندهی کولو سره اوفرمائیل :

ما د معراج په شپه څه خلق اولیدل چه دهغوی شونډې به د اُور په قینچیانو باندې کټ کولې شوې. ما د جبرائیل علیه السلام نه تپوس اوکړو: دا کوم خلق دی؟ جبرائیل علیه السلام جواب راکړو: دا ستاسو د امت مقررین دی. دوی به خلقو ته د نیکئ او تقوی تلقین کولو خو پخپله (ئې په دې باندې عمل کول) هیر کړې وو.

[بیهقی فی شعب الایمان،شرح السنة للبغوی:۱۴/۳۵۳]

کوم سړې چه د دعوت مواقع او وسائل موندلو باوجود د دې نه مخ اړوی . الله تعالی چه هغه ته کوم علم ورکړې وی هغه پټوی. او علم لره محض د دنیا د مناصبو او عهدو حاصلولو دپاره استعمالوی او

دي علم لره ددنيا د څو ورځو د فنا کيدونکي څيزونو نه فائده اوچتولو ذريعه جوړوی.

ددې متعلق د رسول رحمتﷺ وعيد څه داسې وارد شوې دې:

"کوم سړی چه داسې علم حاصل کړو په کوم سره چه د الله کريم رضاحاصل کولې شی خو هغه د دنيا د څه څيز حاصلولو دپاره زده کړو(استعمال کړو) نو هغه به د قيامت په ورځ د جنت خوشبو هم اونه مومی". [سنن ابی داؤدوترمذی: کتاب العلم]

حالانکه د جنت خوشبو د جنتيانو نه د څلويښت ميله په فاصله باندې او د لرې نه راځی،خو دا سړې به ددې باوجود ته داخليدل جنت خو څه چه دومره لرې قدرې نه به خوشبو هم اونه مومی.

علم ئې حاصل کړو نو اوس نورو ته رسول ضروری دی. اوکوم سړې چه خپل حاصل شوې علم لره د علم په تپوس کولو هم پټوی نو د دې متعلق هم وعيد واورئ، داعی اعظم محمدرسول الله صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل :

د کوم سړی نه چه د علم باره کښې تپوس اوکړې شو او هغه ئې پټ کړی نو د قيامت په ورځ به د هغه په خله کښې د اُور واګې اچولې شی. [ابوداؤد وترمذی: کتاب العلم]

اې زما رونړو! د نن نه هم د دعوت کار شروع کړئ دې دپاره چه د دې بشارتونو او سعادتونو مصداق جوړيدو سره د الله تعالی په کامياب بندګانو کښې شامل شئ. د الله کريم نه عاجزه دعا ده چه هغه مونږ په خپل داعيانو او مجاهدينوکښې شامل کړی او د دعوت دين څه کار زمونږ نه هم واخلی نو دا به زمونږ خوش نصيبی او خوش بختی وی. چه دهغې په

ذريعې سره مونږ خپل ژوند په داؤ باندې اولګوو ددعوت الی الله جهنډا اوچته کړو او د دې فريضې په ځاې راوړو باندې دې وئيلو سره چه :

*جان دی، دی ہوئی اسی کی تھی*

*حق تو یہ ہے کہ حق ادا نہ ہوا*

ځان قربان کړو او دا دتوحيد دولت اوړلو سره د الله احکم الحاکمين په دربار کښې کاميابيدو سره اورسو او بيا د مومنانو سره په جنت کښې ملاقات اوکړو. ان شاء الله .

## باب: ۲

# داعی او دعوت

### د داعی تعریف:

داعی هغه دي چه په شرعی طور باندې د دعوت الی الله کار باندې مامور دې. لهذا د هغې تعریف او د هغه مکلّف کیدو دلائل بیانول ضروری دی. داعی چه کله خپله ذمه دارئ لره ادا کوی نو هغه ته د څه تیارئ ضرورت وی چه په دې کار کښې دهغه دپاره معاون ثابت وی او د هغه دپاره داعظیم کار آسان شی. دغه شان هغه ته د اسلامی اخلاقیاتو دیومتعین قسم هم ضرورت وی او هغه ددې د ټولونه زیات محتاجه وی.

### اوّل داعی:

د اسلام اوّل داعی،رسول کریم صلی الله علیه وسلم دې الله تعالی فرمائی:

يَآاَيُّهَا النَّبِيُّ اِنَّآ اَرْسَلْنَاكَ شَاهِدًا وَّمُبَشِّرًا وَّنَذِيْرًا- وَدَاعِيًا اِلَى اللهِ بِاِذْنِهٖ وَسِرَاجًا مُّنِيْرًا-

[الاحزاب۳۳/۴۵، ۴۶]

اې نبی ﷺ! مونږتاسو لیږلې یئ ګواه ،زیرې ورکوؤنکې او یرؤنکې،د الله تعالی په اجازت سره دعوت ورکوؤنکې او روښانه ډیوې جوړیدو سره.

قرآن کریم کښې نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته بار بار خطاب کولو سره د دعوت الی الله حکم ورکړې شوې دې او په دې باندې قائم او دائم اوسیدو او ددې نه د ډډې نه کولو تاکید کړې شوې دې. دغه شان آیتونوکښې د الله تعالی څو ارشادات دادی:

وَادْعُ إِلَىٰ رَبِّكَ إِنَّكَ لَعَلَىٰ هُدًى مُّسْتَقِيمٍ [الحج ۲۲: ۲۷]

”ته خپل ربّ طرفته دعوت ورکوه،یقینًا ته په نیغه لار باندې ئې“.

وَادْعُ إِلَىٰ رَبِّكَ وَلَا تَكُونَنَّ مِنَ الْمُشْرِكِينَ [القصص۲۸: ۷۸]

”خپل ربّ طرفته دعوت ورکوه او هیڅ کله په مشرکانو کښې شامل نه شئ“.

قُلْ إِنَّمَا أُمِرْتُ أَنْ أَعْبُدَ اللَّهَ وَلَا أُشْرِكَ بِهِ إِلَيْهِ أَدْعُو وَإِلَيْهِ مَآبِ [الرعد۱۳: ۳۶]

”ته صفا اووایه چه ماته خو صرف د الله تعالی د بندګئ حکم راکړې شوې دې او د دې نه منع کړې شوې یم چه څوک هم د هغه سره شریک کړم، لهذا زه د هغه طرفته دعوت ورکوم او د هغه طرفته زما رجوع ده“.

نبی علیه السلام همیشه خپل ربّ طرفته دعوت ورکولو ترديې چه د الله تعالی د طرفنه استاذې راغلو او نبی علیه السلام هم په دې حالت کښې خپل رب ته اورسیدو چه نبی علیه السلام د خپل رب نه راضی وو. او د نبی علیه السلام رب دهغه نه راضی وو. الله تعالی دې دمسلمانانو دطرف نه هغه ته بهترینه جزاء ورکړی. آمین

**د رسولانو کار: دعوت الی الله:**

حقیقت دادې چه دعوت الی الله د ټولو رسولانو کار وو هم د دې دپاره هغوی لره الله تعالی خلقو ته لیږلي وو، د دې خبرې به ئې دعوت ورکولو چه په الله تعالی باندې ایمان راوړئ، هغه یواځې معبود اوګڼړئ او د هغه په داسې شان عبادت اوکړئ څنګه چه الله تعالی هغوی ته د هغې حکم ورکړې دې وو.

الله تعالی حضرت نوح علیه السلام په باره کښې اوفرمائیل :

لَقَدْ أَرْسَلْنَا نُوحًا إِلَىٰ قَوْمِهِ فَقَالَ يَا قَوْمِ اعْبُدُوا اللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُ ۔ [الاعراف۷: ۵۹]

"مونږ نوح علیه السلام لره دهغه د قوم طرفته اولیږلو. هغه اوئیل اې زما د قوم رونړو! دالله تعالی بندګی کوئ، او د هغه نه سیوا ستاسو څوک خداې نیشته دې".

د حضرت هودعلیه السلام په باره کښې دالله تعالی ارشاد دې:

وَإِلَىٰ عَادٍ أَخَاهُمْ هُودًا قَالَ يَا قَوْمِ اعْبُدُوا اللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُ ۔ [الاعراف۷: ۶۵]

"او عاد طرفته مونږ د هغوی رور هودعلیه السلام لره اولیږلو. هغه اووئیل اې زما قومه! دهغه نه سیوا ستاسو څوک معبود نیشته دې دې".

د حضرت صالح علیه السلام په باره کښې ئې اوفرمائیل:

وَإِلَىٰ ثَمُودَ أَخَاهُمْ صَالِحًا ۚ قَالَ يَا قَوْمِ اعْبُدُوا اللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُ ۔

[الاعراف۷:۷۳]

او ثمود طرفته مونږ د هغوی رور صالحؑ اولیږلو. هغه اووئیل اې زما د قومه! د الله تعالی بندګی کوئ، د هغه نه سیوا ستاسو څوک معبود نیشته دې.

او دحضرت شعیب علیه السلام په باره کښې ارشاد فرمائی :

وَإِلَىٰ مَدْيَنَ أَخَاهُمْ شُعَيْبًا قَالَ يَا قَوْمِ اعْبُدُوا اللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُ ۔

[الاعراف۷ :۸۵]

"او مدین والوته مونږ دهغوی رور شعیبؑ لره اولیږلو. هغه اوئیل:اې زما قومه! دالله تعالی بندګی کوئ،دهغه نه سیوا ستاسو څوک معبود نیشته دې".

همدا معامله د ټولو رسولانو وه. هغوی خلقولره دالله تعالی طرفته،دهغه دعبادت طرفته او دنورو دعبادت نه دبیزارئ اعلان کولو طرفته راوبلل.
د الله تعالی ارشاد دې:
وَلَقَدۡ بَعَثۡنَا فِي كُلِّ أُمَّةٖ رَّسُولًا أَنِ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ وَٱجۡتَنِبُواْ ٱلطَّٰغُوتَۖ [النحل١٦: ٣٦]
مونږ په هر امت کښې یو رسول اولیږلو، او د هغه په ذریعه سره مو ټولو لره خبردار کړل چه دالله تعالی بندګی کوئ او دطاغوت د بندګئ نه بچ شئ.
دارنګه د الله رسول هم داعی الی الله دې.الله تعالی هغوی لره دخپل دعوت دپاره او هغه خلقو ته د رسولو دپاره خوښ کړې دی.
## په دعوت الی الله کښې د امت شرکت:
روستو مونږ وئیلې دی چه رسول کریم صلی الله علیه وسلم د الله تعالی طرفته دعوت ورکوؤنکې اولنې داعی وو.مونږ هغه آیتونه هم ذکر کړل په کوم کښې چه نبی علیه السلام ته دهغې د دعوت ورکولو ذکر وو ددې آیت په حکم کښې ټول مسلمانان هم شامل دی. په دې وجه چه په اصولی طور باندې کله الله تعالی خپل نبی ته خطاب کوی نو په هغې کښې امت هم داخل وی، مګرداچه څه څیز ددې نه مستثنی شی، خو ددعوت الی الله حکم په دې مستثنی کښې شامل نه دې. ددې مطلب داشو چه ا لله تعالی دې امت ته دا عزت او شرافت ورکړې دې چه دخپل رسول سره ددعوت په کار کښې ئې شریک کړې دې. خو دا عزت او شرافت صرف دهغه آیتونو نه مستفاد نه دې په کوم کښې چه الله تعالی خپل نبی ته ددعوت حکم ورکړې دې، بلکه دقرآن په ډیر

آیتونو کښې داحکم په صراحت سره او په مستقل طور باندې هم راغلې دې.

الله تعالی فرمائی :

كُنتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ۔[آلِ عمران۳: ۱۱۰]

اوس په دنیا هغه بهترینه ډله تاسو ئې کوم لره چه د انسانانو د اصلاح دپاره میدان ته راویستلې شوې ئې. تاسو به د نیکۍ حکم کوئ او د بدۍ نه به منع کول کوئ.

ددې آیت کریمه نه دوه خبرې معلومې شوې: یو داچه دا امت بهترین دې. دویم داچه دې امت ته دا ا عزاز په دې وجه سره ملاؤ شوې دې چه دوی به د امربالمعروف او نهی عن المنکر فریضه ادا کوی، او دا فریضه د رسول اللهؐ او دباقی رسولانو هم وه.

په امربالمعروف او نهی عن المنکر کښې اول څیز دادې دالله تعالی د طرف نه او دهرقسمه شرک نه دبیزارۍ طرف ته دعوت ورکړې شی. بلکه قرآن کریم دعوت دمومنانو په صفتونو کښې یو صفت خودلې دې، برعکس دمنافقینو، چه خلقو لره دالله تعالی دلارې نه منع کوی، او نورو لارو طرف ته دعوت ورکوی.

د الله تعالی ارشا د دې:

اَلْمُنَافِقُونَ وَالْمُنَافِقَاتُ بَعْضُهُم مِّن بَعْضٍ يَأْمُرُونَ بِالْمُنكَرِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمَعْرُوفِ۔

[التوبة۷: ٦٧]

منافقان سړی او منافقانې ښځې ټول دیو بل په شان دی. د بدۍ حکم ورکوی او دنیکۍ نه منع کول کوی.

ددې نه پس الله تعالی فرمائی :

وَالْمُؤْمِنُونَ وَالْمُؤْمِنَاتُ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ يَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ[التوبة ۷: ۷۱]

مومنان سړی او مومنانې ښځې، دا ټول دیوبل ملګری دی دنیکئ حکم کوی او د بدئ نه منع کول کوی.

ددې آیت کریمه په تفسیرکښې علامه قرطبی فرمائی : الله تعالی د امربالمعروف او نهی عن المنکر لره ئې دمومنانو او منافقانو دفرق ذریعه اوګرځوله. دارنګه دا ددې خبرې دلیل دې چه امر بالمعروف او نهی عن المنکر دمومنانو د مخصوص اوصافو نه دې په دې کښې سرفهرست دعوت الی الله دې.

مونږ په دې باندې دا اضافه کولې شوچه په دې آیت کښې الله تعالی ددې امت مسلمه تعریف په دې څیز سره کړې دې په کوم سره چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم تعریف کړې شوې دې.

الله تعالی دخپل نبی په باره کښې فرمائی :

يَأْمُرُهُم بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَاهُمْ عَنِ الْمُنكَرِ وَيُحِلُّ لَهُمُ الطَّيِّبَاتِ وَيُحَرِّمُ عَلَيْهِمُ الْخَبَائِثَ

[الاعراف ۷: ۱۵۷]

هغه هغوی ته دنیکې حکم ورکوی او دبدې نه منع کول کوی او دهغوی دپاره پاک څیزونه پاک او ناپاکه څیزونه حرام کوی.

## د دعوت الی الله مکلّف څوک ؟

د مخکښنې خبرې نه دا خبره واضحه کیدو سره مخې ته راځی چه ددعوت الی الله مکلّف هر مسلمان سړې او ښځه ده. په دې وجه امت مسلمه په وجود کښې راغلو. دارنګه امت مسلمه په حیثیت مجموعی د دعوت الی الله مکلّف دې، هر عاقل او بالغ د دې دعوت مکلّف ګرځولې شو، خواه څوک سړې وی یاښځه.

معلومه شوه چه ددې فریضې مکلّف صرف علماء یا په قول د بعضې مولوی او مذهبی خلق نه دی. په دې وجه دا د ټولو فریضه ده.هاؤ د

دې تفصيلات او ددې د احکام او معانيو دپاره هم داخلق به مخصوص وی، په دې وجه د دې څيزونو په باره کښې د هغوی علم زيات وسيع وی او د دې دعوت جزئيات هم هغوی ښه پيژنی.

د دې خبرې چه ددعوت الی الله مکلّف هر مسلمان سړې او ښځه ده، مزيدوضاحت دالله تعالی ددې ارشاد نه کيږی په کوم کښې چه الله تعالی فرمائی :

قُلْ هٰذِهٖ سَبِيْلِيْٓ اَدْعُوْٓا اِلَى اللّٰهِ عَلٰى بَصِيْرَةٍ اَنَا وَمَنِ اتَّبَعَنِيْ وَسُبْحٰنَ اللّٰهِ وَمَآ اَنَا مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ [يوسف۱۲: ۱۰۸]

ته هغوی ته صفا اووايه چه زما لار خو دا ده چه زه د الله طرفته بلل کوم زه ځپله هم په پوره رڼړا کښې خپل لار وينم او زما ملګری هم، او الله پاک دې او د شرک کوؤنکو سره زما څه واسطه نشته.

د رسول الله صلی الله عليه وسلم سره هم هغه وو چاچه په نبی عليه السلام باندې ايمان راوړې وو. هغه هم د بصيرت او علم اويقين سره الله تعالی طرفته ئې دعوت ورکولو، څنګه چه د هغه رسول الله صلی الله عليه وسلم دې طرفته دعوت ورکولو. ددې مطلب د ادې چه د يو مسلمان د ايمان په ضروری لوازماتو کښې دی چه هغه د الله طرفته دعوت ورکړی. کچرې څوک سړې د دعوت نه روستو پاتې شی دا دهغوی په ايمان کښې د نقص يا خلل دليل به وی. ددې تلافی داسې کولې شی چه سړې د دعوت الی الله ددې فريضې د ادائيګی دپاره ولاړ وی.

ددې آيت په تفسيرکښې امام ابن کثير فرمائى :

الله تعالى خپل رسول صلى الله عليه وسلم ته فرمائى چه خلقو ته اووائى چه دا زما لار ده،يعنى زما طريقه،زما مسلک او زما سنت دې. يعنى دې کلمې طرفته دعوت چه دالله تعالى نه سيوا څوک معبود نشته، او هغه وحده لاشريک دې. نبى عليه السلام به په بصيرت او ايمان اويقين سره دا دعوت ورکولو.او دنبى عليه السلام ملګرو به هم ددې څيز دعوت ورکولو دکوم طرفته چه دهغه رسول په بصيرت،يقين او عقلى وشرعى دليل سره دعوت ورکړو.

د بخارى په يو حديث کښې راغلې دى، دحضرت ابن عباس رضى الله عنهما نه روايت دې چه نبى عليه السلام اوفرمائيل: **فَلْيُبَلِّغِ الشَّاهِدُ الْغَائِبَ**۔ کوم خلق چه دلته موجود دى هغه دې هغه خلقو ته دعوت اورسوى چه دلته موجود نه دى.

دلته د شاهد په حکم کښې هرهغه مسلمان داخل دى چه داسلام په باره کښې څه باندې پوهيږى.

د دعوت الى الله فريضه کله په انفرادى طور باندې ادا کيږى او کله په اجتماعى طور باندې. کچرې مونږ ددې د تعبير دپاره لږ باريکۍ ته لاړ شو نو وئيلې به شى چه دا فريضه په دوه قسمه ادا کيدې شى:

اول دا ده چه هر مسلمان بحيثيت ديو فردِ مسلم ددې فريضې دپاره اودريږى،او دويمه داچه دا فريضه يا ددې څه اړخ لره د يو داسې جماعت د فرد په حيثيت سره ادا کړى چه د دعوت الى الله دپاره قائم شوې وى.

په دې سبب باندې دالله تعالی دا ارشاد دلالت کوی:

وَلۡتَكُن مِّنكُمۡ أُمَّةٞ يَدۡعُونَ إِلَى ٱلۡخَيۡرِ وَيَأۡمُرُونَ بِٱلۡمَعۡرُوفِ وَيَنۡهَوۡنَ عَنِ ٱلۡمُنكَرِۚ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُفۡلِحُونَ۔[ آل عمران۳: ۱۰٤]

په تاسوکښې څه خلق خو داسې ضرور کیدل پکار دی چه نیکې طرفته رابلل کوی د نیکې حکم کوی او دبدو نه منع کول کوی. چه کوم خلق دا کار کوی هم هغوی به کامیابی بیامومی.

د دې ایت په تفسیرکښې امام ابن کثیر فرمائی :

د دې آیت مقصود دادې چه په دې امت کښې یوه داسې ډله کیدل پکار دی چه ددې کار دپاره مخصوص وی، اګرچه دا د امت په هر فرد باندې په خپل ځاې یوه فریضه ده، څنګه په صحیح مسلم کښې ثابت دی. حضرت ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل :

مَنْ رَّاٰی مِنْكُمْ مُّنْكَرًا فَلْيُغَيِّرْهُ بِيَدِهٖ، فَاِنْ لَّمْ يَسْتَطِعْ فَبِلِسَانِهٖ ، فَاِنْ لَّمْ يَسْتَطِعْ فَبِقَلْبِهٖ، وَذٰلِكَ اَضْعَفُ الْاِيْمَانِ۔

په تاسو کښې چه څوک بدی په کولو باندې اووینی نو هغه دې په لاس سره بنده کړی، کچرې ددې ئې طاقت نه وی نو په ژبه سره دې،کچرې ددې ئې هم طاقت نه وی نو په زړه سره دې(بد اوګڼړی) او دا د ایمان کمزورې درجه ده.

حقیقت دادې چه کله د دعوت کار زیات وی نو د دین د داعیانو په اجتماعی طور باندې د دعوت دکار دپاره اوچتیدل ضروری دی. مثلاً کچرې په بت پرسته معاشره کښې د دین دعوت ورکول وی، چه د شیطان ځاې دې او چرته چه ئې انډې او بچی اچولې وی چرته

چه خلق د الله تعالی د لارې نه منع کړې وی او هغوی ئې دشرک بهتې ته ښکته کړې وی، لکه د افریقې مشرکانه معاشره وغیره.

دغه شان علاقې د دعوت د نشرواشاعت او خلقو ته د دین د تعلیم ورکولو دپاره د زیات منّظم کوشش تقاضاکوی. ددې دپاره د یویو کس کوشش یا دمختلفو افراد انفرادی کوششونه نه کامیابیږی. ددې اجتماعی مشنری کوششونو تائید ددې خبرې نه هم کیږی چه د نبی علیه السلام طریقه وه چه کوم کس به اسلام قبلولو نو نبی علیه السلام به هغه ته حکم ورکولو چه هغه دارالهجرت ته لاړشی،دې دپاره چه دنورو مسلمانانو دکوشش سره یوځاې شی او درسول الله صلی الله علیه وسلم دې کوشش لره په صحیح رخ باندې واچوی.

ددې نه علاوه دالله تعالی ددې ارشاد نه چه :

وَتَعَاوَنُوْا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوٰى وَلَا تَعَاوَنُوْا عَلَى الْاِثْمِ وَالْعُدْوَانِ [المائدة: ٢]

کوم کار چه دنیکې او خداترسۍ دې په هغې دټولو سره تعاون اوکړۍ اوکوم چه دګناه او زیاتۍ کار دې په هغې کښې دچا سره تعاون مه کوۍ.

مونږ ته ددې خبرې یو بل دلیل ملاویږی چه ددعوت د کار دپاره جمع کیدل او په اجتماعی طور باندې دعوت ورکول نه صرف جائز بلکه ضروری دی.بلکه په داسې حالتو کښې خو دا واجب وی،چه کله دنیکو حاصلیدل ددې نه بغیر ممکن نه وی. دعلامه جصاص د روایت په رو سره امام ابوحنیفه د امر بالمعروف او نهی عن المنکر دپاره دتنظیم سازۍ او خپل کوششونو لره ددې مقصد دحاصلیدو دپاره دخرچ کولو په ضروریاتو باندې زور ورکړې دې.

## شبهات او اعتراضات:

بعضو خلقو ته دا شبهه کیږی چه ددعوت الی الله کار په هغوی باندې لازم نه دې په دې چه هغوی مذهبی خلق نه دی. د هغوی په خیال کښې دا یوفرض کفایه عمل دې چه صرف دعلماؤ کار دې او دا په عام خلقو باندې لازم نه دې.

دهغې دلیل هغوی دا ورکوی چه الله تعالی په قرآن کریم کښې فرمائی :

وَلْتَكُنْ مِّنْكُمْ أُمَّةٌ يَدْعُوْنَ إِلَى الْخَيْرِ وَيَأْمُرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ۔ [آل عمران۳: ۱۰٤]

په تاسو کښې څه خلق خو ضرور داسې کیدل پکار دی چه خلقو لره نیکو ته رابلی د ښو خبرو حکم کوی او دبدو نه منع کول کوی. چه کوم خلق دا کار کوی هم هغوی کامیابی موندونکی دی.

ددې جواب دادې چه د دې آیت تفسیر،څنګه چه مونږ دعلامه ابن کثیر نه نقل کړې دی، دادې چه په دې امت کښې یو ډله داسې کیدل پکاردی چه ددې کار دپاره فارغ وی، اګرچه دا د امت د هر فرد فریضه ده. او امام رازی ددې آیت په باره کښې وائی چه دالله تعالی د ارشاد مِنْكُمْ په باره کښې دوه قوله دی:

۱: یوقول دادې چه مِنْ دلته د تبعیض دپاره نه دې او د دې دوه دلیلونه دی:

یوداچه دالله تعالی ارشاد كُنْتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ۔ [ آل عمران۳: ۱۱۰] کښې امربالمعروف او نهی عن المنکر لره ئې په پوره امت باندې فرض کړې دې.

دويمه داچه کوم سړي هم مکلّف وی نو په هغه باندې امربالمعروف او نهی عن المنکر فرض دې،په لاس سره،ياژبې سره يابياپه زړه سره،په هرسړی باندې لازم دی چه دخپل نفس نه ضرر لرې کړی.
کله چه داخبره ثابته شوه نو مونږ وايو چه ددې آيت معنی داشوه: چه تاسو يو داسې امت جوړشئ چه دښو خبرو حکم ورکوؤنکې. د معروف حکم ورکوؤنکې او د منکر نه منع کوؤنکې ئې. پاتې شو د حرفِ مِنْ معامله نو دلته د تبعيض دپاره نه بلکه دتبيين دپاره دې، لکه څنګه چه د الله تعالی په ارشاد کښې چه : فَاجْتَنِبُوا الرِّجْسَ مِنَ الْأَوْثَانِ۔
[الحج۲۲: ۳۰]

"تاسو خلق د ګندګئ نه ځان ساتئ يعنی د بتانو نه"

۲: امام رازی دويم قول داذکر کړې دې "مِنْ " دتبعيض دپاره دې په دې وجه چه په امت کښې به داسې خلق هم وی چه په دعوت او امربالمعروف او نهی عن المنکر باندې قادر نه وی. بياددې قول دقائلينو په باره کښې وائی چه دا تکليف دعلماؤ سره خاص دې،په دې وجه چه د دعوت الی الخير دې خبرې سره مشروط دې چه دسړی سره د"خير"،"منکر" علم وی. نو ثابته شوه چه دا تکليف د علماؤ طرفته متوجه دې نه چه عوامو طرفته،اوپه امت کښې علماء بعض وی.

ددې آيت همدا مفهوم او ددې په باره کښې همدا دوه قولونه په تفسيرقرطبّی او تفسيرجصاص کښې هم ذکر دی.حقيقت دادې چه کوم قول امام رازی ذکر کړې دې هغه صحيح قول دې په دې وجه چه د هغه شاګردانو هم دې نه استدلال کړې دې. دا هغه قول دې کوم چه ابن کثير په خپلو دقيقو الفاظوکښې بيان کړې دې، چه کوم مونږ ذکر کړې دې. هغوی وجوب دهر فرد دطرف نه ګرځولې دې. خو ددې سره

يوه ډله داسې هم کيدل پکار دی چه دهغوی کار هم دعوت الى الخير وی.

دا هم يو حقيقت دې چه د لفظ "علماء" په وجه سره په دې مسئله کښې دڅه حده پورې التباس هم موندلې شی، چه دقول ثانی قائلينو د وَلۡتَكُن مِّنكُمۡ أُمَّةٞ تشريح کولو سره په دې اعتباسره ذکر کړې دې چه دعوت الى الخيردعلم سره مشروط دې. ددې التباس دويم سبب فرض کفايه الفاظ دی. په دې وجه ددې دوؤ خبرو وضاحت ضروری دې. نو مونږ وايو: چه په دې کښې شک نشته چه دعوت الى الخير،چه دهغې اعلی درجه دعوت الى الله ده، دپاره علم کيدل شرط دې، خو علم څه ناقابل تقسيم او ناقابل تجزيه څيز نه دې،بلکه هغه دخپل طبيعت په لحاظ سره قابل تقسيم هم دې او قابل تجزيه هم. نو که يو سړی ته يوه مسئله معلومه وی او دويمه معلومه نه وی نو هغه دخپلې مسئلې عالم او د نورو نه جاهل ګرځولې شوې دې.

ددې مطلب داشو چه د اولې مسئلې په باره کښې هغه به عالم تصور کولې شی، او نتيجتًا په هغه کښې د هغې يوې مسئلې په باره کښې ددعوت شرط موجود دې اګرچه د دويمې مسئلې په باره کښې هغه په مطلوبه شرط باندې نه پوره کيږی.

په دې مسئله کښې دفقهاؤ په مينځ کښې اختلاف نه شته چه کوم سړې د يو څيز يا دهغې دحکم نه بې خبره وی هغه سړې به د هغې طرفته دعوت نه ورکوی. په دې وجه چه دکوم څيز طرفته داعی دعوت ورکوی دهغې په باره کښې علم،د دعوت د صحت دپاره ضروری دی. په دې بناء باندې مسلمان دومره قدرې ددعوت مکلّف

دي ځومره چه د هغه سره علم دې. او علم تفصیل به مونږ بیا روستو بیان کړو.

نو کوم خلق چه دا وائی چه ددعوت کار په علماؤ باندې واجب دې نه چه په نورو خلقو باندې، نو ددې نه مراد به همدا وی.یعنی دا کار په هغه خلقو باندې واجب دې چه په یو مسئله او دهغې په حکم باندې پوهیږی. خواه هغه د عام خلقو نه وی یا په هغه خلقو کښې وی چاته چه دعلم پوره مقدار کښې حصه ملاؤ شوې وی. په دې سره دهغه خلقو قول فاسدکیږی چه وائی چه دعلماؤ نه مراد هغه خلق دی چاته چه دعلم ډیر مقدار کښې حصه ملاؤ شوې وی، نه بل څوک. د هغه علماؤ دپاره بعضې وخت د "مذهبی خلقو" الفاظ استعمال کولې شی. خو دا الفاظ په هر مسلمان باندې صادق راځی، په دې وجه هغوی هم دمذهب اسلام خلق وی. نو دا کار د هغوی د یوې ډلې پورې محدود نه دې.

د التباس دویم سبب دفرض کفایه مفهوم دې. ددې نه مقصود دادې چه بعضې خلق به دې لره ادا کوی نو د نورو خلقو نه به تکلیف ساقط شی، اګرچه دا کار به په ټولو باندې واجب وی. امام رازی فرمائی :

بیا دوی (یعنی د دعوت د عمومی وجوب قائل خلق ) وائی چه لفظ مِنْ د تبیین دپاره دې نه چه د تبعیض دپاره. او داکار اګرچه واجب په ټولو باندې دې مګر چه څه خلق دا کار ادا کوی نوباقی خلقو نه ددې وجوب ساقط کیږی. دهغې نظیر اِنْفِرُوْا خِفَافًا وَّثِقَالًا[التوبة۹: ٤١] او اِلَّا تَنْفِرُوْا يُعَذِّبْكُمْ عَذَابًا[التوبة۹: ۳۹] دې. ځکه چه حکم عام دې. بیاچه کله

یوه ډله دې کار لره سرته اورسوی نو کفایت رفع کیږی او دباقی خلقو نه دا تکلیف زائل کیږی.

علامه جصاص ددې آیت وَلۡتَكُن مِّنكُمۡ أُمَّةٞ يَدۡعُونَ إِلَى ٱلۡخَيۡرِ[آل عمران ۳: ۱۰٤] تفسیرکولوسره فرمائی:دا آیت په دوؤ معانو باندې محیط دې: یو د امر بالمعروف او نهی عن المنکر وجوب،او دویم دا چه دا فرض کفایه دې، نه چه فی نفسه په هرهر فرد باندې واجب کله چه نورو خلقو دې فریضې لره ادا کړې وی.

د علامه جصاص دا ویناچه "فی نفسه په هرهر فرد باندې واجب نه دې،خو کله چه نورو خلقو دې فریضې لره ادا کړې وی"، د فرض کفایه مقصود بیانوی. او هغه داچه کله څه خلق دې فریضې لره ادا کوی نو د نورو خلقو نه ددې واجب کیدل ساقط کیږی.او د فرض عین معامله ددې نه برعکس ده، ځکه چه هغه ددې نه بغیر نه ساقط کیږی ترڅو چه هرهر فرد ددې دپاره ولاړ نه وی.

معلومه شوه چه دعوت الی الخیر،چه دکومې درجې دعوت الی الله دې، په قدر د استطاعت په هرمسلمان باندې دا فریضه ده. ځکه چه دا دعوت څنګه چه مونږ بیان کړې دې، د مومنانو د صفاتو نه دې. په دې وجه هم چه حدیث شریف هرهر مسلمان سړی او ښځې ته حکم ورکړې دې چه دخپل استطاعت حده پورې دمنکر ازاله اوکړئ. هرکله چه د یو یا څو افرادو نه دا مقصود حاصل شی نو باقی خلقو ته به حکم نه شی ورکولې چه هغه دوباره د منکر ازاله اوکړی.دهغوی به په دې خبره باندې مواخذه نه کیږی چه هغوی د منکر ازاله ولې اونکړه.

دیو مسلمان شان دادې چه هغه د بل چا د انتظار کولو نه بغیر امربالمعروف او نهی عن المنکر طرفته ورمخکښې شی. په دې وجه که

هغه ورمخکښې نه شی نوبعضې وخت نور هم دهغې دپاره نه راځی لهذا دواړه به ګناهګار وی. مسلمان په دې وجه الله تعالی طرفته دعوت ورکوی چه په الله تعالی او دهغه په رسول باندې ایمان لری. مونږ د الله تعالی ددې ارشاد ذکر کړې دې چه :

قُلْ هٰذِهٖ سَبِيْلِيْٓ اَدْعُوْٓا اِلَى اللّٰهِ عَلٰى بَصِيْرَةٍ اَنَا وَمَنِ اتَّبَعَنِيْ وَسُبْحٰنَ اللّٰهِ وَمَآ اَنَا مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ۔

[یوسف۱۲: ۱۰۸]

ته هغوی ته صفااووایه چه زما لاره خو داده، چه زه د الله تعالی طرفته بلل کوم،زه په خپله هم په پوره رڼړا کښې خپل لار وینم او زما ملګری هم، او الله پاک دې او دشرک کوؤنکو سره زما څه واسطه نشته.

نو دمسلمان دپاره ضروری دی چه د هغه الله تعالی طرفته دعوت ورکړی. خو که فرض کړې شی چه یو متعین سړې د الله تعالی طرفته دعوت نه ورکوی،یاڅه وخت هغه ددې فریضې نه غافل شی اودهغه په ځاې باندې بل مسلمان دهغې دپاره اودریږی نو دعوت ورکوؤنکی ته به ثواب ملاویږی او دویم به ددې نه محروم وی. خو که یو مسلمان دعوت الی الله لره په قصد سره دهمیشه دپاره پریږدی نو هغه به د الله تعالی ددې ارشاد په مفهوم کښې شامل نه وی چه : قُلْ هٰذِهٖ سَبِيْلِيْٓ اَدْعُوْٓا اِلَى اللّٰهِ۔۔۔[یوسف۱۲: ۱۰۸] ددې دپاره چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم پیروکار خو هغه خلق دی چه د الله تعالی طرفته دعوت ورکوی.

ددې نه علاوه دفرض کفایه په معانی کښې یوه داده چه ددې حکم د ټولومسلمانانو طرف ته متوجه وی، چه هغوی دې فریضې لره

ادا کړی. چه کوم سړی عملاً په دې کار باندې قادر دې نو په هغه باندې لازم دی چه هغه براه راست ددې کار دپاره اودریږی.
دارنګه دا آیت: وَلْتَكُنْ مِّنْكُمْ أُمَّةٌ يَدْعُونَ إِلَى الْخَيْرِ وَيَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ
[ آل عمران٣: ١٠٤]

په تاسو کښې څه خلق داسې کیدل پکار دی چه د نیکۍ طرفته رابلل کوی،د ښوخبرو حکم کوی او د بدو نه منع کول کوی، معنی به دا وی چه مسلمانان داسې یوه ډله تیاره کړی. یعنی یو داسې جماعت چه دهغوی کار دعوت الی الله وی. ددې نه پس ددې جماعت سره تعاون اوکړی،دې دپاره چه دا جماعت دکوم مقصد دپاره تیارکړې شوې دې هغه مقصد حاصل شی. هغه مقصد دادې چه دالله تعالی دین په زمکه باندې قائم شی او ددې دعوت ددنیا کونې کونې ته اورسی.که مسلمانانو دا کار اونکړو نو ټول به ګناهګار وی خواه څوک ددعوت اهل وی یانه وی.

کچرې مونږ فرض کړو چه ددعوت الی الله کار په بعضې خلقو باندې واجب دې او په بعضو باندې واجب نه دې، ځکه چه دا فرض کفایه دې نوبیابه هم داوئیلې شی چه فرض کفایه نه بری الذمه کیدو دپاره شرط دادې چه کوم خلق دې ذمه داریٔ لره ادا کوی، د هغوی نه به په دې کار کښې کفایت اوشی. خو که کله د هغوی کفایت نه کیږی نوبیا په هر مسلمان باندې به لازم وی چه دخپل حیثیت مطابق دې فرض لره ادا کړی. خصوصًا زمونږ په دور کښې دا خبره ډیره ضروری ده.په دې وجه شرک او بت پرستیٔ او جاهلیت افریقې،امریکې او نورو ملکونو کښې انسانی معاشرو لره په ګیره کښې اخستې دی. په دې ملکونو کښې د دعوت الی نشرواشاعت دپاره د یو عظیم الشان

جدوجهد ضرورت دې، چه په کښې ټول مسلمانان به د خپل وسعت مطابق شریک وی،خواه په مال او دولت سره وی یا په علم اوفکر سره او یا اختیاراتو سره وی.

بعضې خلق په خوش فهمۍ کښې دالله تعالی ددې ارشاد نه غلط استدلال کوی چه :

يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا عَلَيْكُمْ أَنْفُسَكُمْ لَا يَضُرُّكُمْ مَنْ ضَلَّ إِذَا اهْتَدَيْتُمْ [المائدة۵: ۱۰۵]

اې هغه خلقو چه ایمان مو راوړې دې خپل فکر کوئ،د نورو ګمراهی تاسو ته ضرر نه شی رسولې کچرې تاسو په خپله په هدایت باندې ئې.

هغوی ددعوت دفریضې نه دځان خلاصولو دپاره او دهغې په باره کښې خپلې سستۍ او کوتاهۍ لره دحق بجانب ثابتولو دپاره کوشش کوی. او هغوی ته ددې نه غلط فهمی لاحق کیږی که یوسړې په خپل ځاې نیک او صالح وی نو دا ایت کریمه دهغه نه ددعوت الی الله ذمه داری بری کوی.

دا غلط فهمی دحضرت ابوبکرصدیق رضی الله عنه په دور کښې هم بعضې خلقو ته لاحق شوې وه، په دې وجه هغوی خلقو ته خطاب کولو سره اوفرمائیل :اې خلقو! تاسو دې آیت کریمه لره لولئ چه : عَلَيْكُمْ أَنْفُسَكُمْ لَا يَضُرُّكُمْ مَنْ ضَلَّ إِذَا اهْتَدَيْتُمْ، خو تاسودې لره په غلط مقام باندې ایخودلې دې.

ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه اوریدلې دی، چه فرمائیل ئې :

إِنَّ النَّاسَ إِذَا رَأَوُا الظَّالِمَ فَلَمْ يَأْخُذُوا عَلَى يَدَيْهِ يُوشِكُ أَنْ يَعُمَّهُمُ اللهُ بِعِقَابٍ

خلق چه کله ظالم لره (په ظلم کولو باندې) اووينی او دهغه لاس اونه نيسی نو خطره ده چه الله تعالی ټولو لره په عذاب کښې ګرفتار کړی.

ددې نه علاوه کتلې شی چه په آيت کښې هرمسلمان باندې ددعوت الی الله د لازم کيدو تاکيد او دهغې غلط فهمئ نفی موندلې شی کومه چه ددعوت الی الله نه تختيدونکو په مرۍ کښې اچولې ده. هغه تاکيد دادې چه الله تعالی فرمائی :

إِذَا اهْتَدَيْتُمْ "يعنی کچرې تاسو په خپله په هدايت باندې ئې"۔

اود شيخ الاسلام ابن تيميه په قول :

هدايت،دفرض په ادا کولو سره پوره کيږی. نويو مسلمان څنګه نور فرائض ادا کوی دغه شان د امربالمعروف او نهی عن المنکر فريضه هم ادا کوی نو دګمراه خلقو ګمراهی هغه ته څه نقصان نه شی رسولې.

بعضې خلقو ته يوه بله شبهه پيښيږی. هغه داچه په دنيا کښې باطل عام شوې دې او اوس د دعوت الی الله څه فائده نشته،نومسلمان له پکار دی چه خپل فکر اوکړی او دنورو خلقو معامله پريږدی. ددې شبهې،دکوم وضاحت چه به مونږ روستو کوو،جواب دادې چه د مسلمان کار دادې چه ددعوت الی الله فريضه سرته رسول خواه که مقصودحاصليږی يانه، او خواه خلق هغه منی يا نه. همدا شبهه مخکښنې قومونو نه هم پيښ شوې وه دکومو قصې چه الله تعالی زمونږ دپاره په خپل کتاب کښې ذکر کړې دی. په هغه واقعاتو کښې دا ذکر هم ملاويږی چه ددعوت علم بردارو ددې شبهې څه جواب ورکړې دې.

دالله تعالى ارشاد دې:

وَإِذْ قَالَتْ أُمَّةٌ مِّنْهُمْ لِمَ تَعِظُونَ قَوْمًا ۙ اللَّهُ مُهْلِكُهُمْ أَوْ مُعَذِّبُهُمْ عَذَابًا شَدِيدًا ۖ قَالُوا مَعْذِرَةً إِلَىٰ رَبِّكُمْ وَلَعَلَّهُمْ يَتَّقُونَ ۔ فَلَمَّا نَسُوا مَا ذُكِّرُوا بِهِ أَنجَيْنَا الَّذِينَ يَنْهَوْنَ عَنِ السُّوءِ وَأَخَذْنَا الَّذِينَ ظَلَمُوا بِعَذَابٍ بَئِيسٍ بِمَا كَانُوا يَفْسُقُونَ ۔ [الاعراف۷: ١٦٤ ـ ١٦٥]

او هغوى ته دا هم ورياد کړئ چه کله په هغوى کښې يوې ډلې دويمې ډلې ته اووئيل چه تاسو داسې خلقو ته ولې نصيحت کوئ چالره چه الله تعالى هلاکوؤنکى دى او ياسخت سزا ورکوؤنکې دې؟ نو هغوى جواب ورکړو چه مونږ دا ټول هرڅه ستاسو د رب په حضور کښې د خپل معذرت پيش کولو دپاره کوو او په دې اميد باندې ئې کوو چه شايد دا خلق دهغه د نافرمانۍ نه پرهيز اوکړی.آخرکله دا چه هغوى هغه هدايت بالکل پريخودل کوم چه هغوى ته ياد کړې شوې وو نو مونږ هغه خلقو لره بچ کړل چه د بدو نه ئې خلق منع کول اوباقى ټول خلق کوم چه ظالمان وو د هغوى په نافرمانو مو په سخت عذاب کښې اونيول.

دا آيت کريمه ديو کلي دخلقو طرفته اشاره کوى چه په درې ډلو کښې تقسيم شوې وو. يوه ډله په ګناهونو کښې مبتلا شوې وو،دويمې ډلې دهغوى دا کار ناخوښه کولو، او هغوى ته به ئې وعظ او نصيحت هم کولو،او دريمه ډله خاموش وه، هغوى ګناه نه کوله او نه ئې چالره دګناهونو نه منع کول. آخر داچه دې ډلې منع کوؤنکو خلقو ته اووئيل چه تاسو دې خلقو ته ولې نصيحت کوئ،چالره چه الله تعالى هلاکوؤنکې دې يا سخت عذاب ورکوؤنکې دې؟

يعنى تاسو هغه خلقو لره ولې منع کوئ،حالانکه تاسو ته معلومه ده چه دا خو تباه وبرباد دى او دوى د الله تعالى د عذاب مستحق دى. نو هغوى لره ددې کار نه د منع کولو څه فائده نشته دې.

په دې باندې منع کوؤنکو خلقو هغوی ته هغه جواب ورکړو چه بالکل صحیح وو، او هغه داچه مَعۡذِرَةً إِلَىٰ رَبِّكُمۡ "یعنی ستاسو د رب په حضور کښې خپل معذرت پیش کولو دپاره".

مطلب دادې چه د امر بالمعروف او نهی عن المنکر په باره کښې مونږ به نیولې شو نومونږ به دخپل رب په مخکښې دا معذرت کوو چه مونږ خو داکولې شو. چه هغه ګناهګارو لره به مونږ دهغوی دګناهونو نه منع کول اودخپل رب طرفته به مو د رجوع کولو دعوت ورکولو.

د هغوی دویم جواب دا وو چه وَلَعَلَّهُمۡ يَتَّقُونَ "یعنی په دې امید باندې چه شاید دا خلق د الله تعالی دنافرمانئ نه پرهیز اوکړی".

مطلب داچه زمونږ ناخوښی او دالله تعالی طرف ته د رغبت وانابت دعوت په دې امید باندې کولې شی چه هغوی زمونږ خبره اومنی او په سمه لار باندې راشی.

په دې کښې اشاره ده دې خبرې طرفته چه ترڅو پورې د دعوت دقبولیت احتمال موجود وی نو وعظ او ارشاد او دعوت الی الله لره جاری ساتل پکار دی دې دپاره چه څوک ژوندی اوسیږی هغه په دلیل سره ژوندئ اوسی او د چا چه هلاک کیدل مقدر دی هغه په دلیل سره هلاک شی.

بعضې خلق په یوه بله شبهه کښې پریوځی. هغوی په دې آیت سره په غلط فهمې کښې مبتلاء کیږی چه : لَا يُكَلِّفُ ٱللَّهُ نَفۡسًا إِلَّا وُسۡعَهَا۔

[البقرة۲: ۲۸٦]

الله په چا ساه لرونکی باندې د هغه دقدرت نه زیات د ذمه دارئ بوج نه اچوی.

دا خلق ددې آیت نه استدلال کوی چه دعوت الی الله دیو محنت او دمشقت کار دې اوددې طاقت نه لری.

دادلیل هم په اصل کښې دضعیف الایمان او کمزورې دین دارئ والا خلقو دې. دارنګه مشقت خو دوی هغه وخت هم برداشت کوی کله چه ددنیا په معمولی کارونو کښې مصروف کیږی لکه چه ددنیا معمولی فائده وغیره.

نو د الله تعالی ددعوت دین په خاطرڅه مشقت برداشت کول څه ګران نه دی، خصوصًا هرکله چه ددې دمشقت اجر ډیرزیات دې.

داخلق چه دکوم مشقت خبره کوی هغه ډیر کم هم دې او ډیر آسان هم. آیا چا ناواقف ته داسلام مسائل خودل یا د داسې یو کافر په مخکښې د اسلام دعوت پیش کولوکښې ډیرزیات مشقت دې،چاچه داسلام په باره څه هم نه وی اوریدلې؟ آیا په دې سره هم څوک سترې کیږی چه هغه دخپلې ژبې نه ښې خبرې راؤباسی؟ یا که څوک داسلام په باره کښې غور وفکر اوکړی نو دهغه دماغ ډیرزیات سترې کیږی؟ دغه شان آیا یو سړې په دې صورت کښې هم دڅه ناقابل برداشت مشقت سره مخ کیږی چه الله تعالی ورته وسائل ورکړې وی او هغه بت پرستانه معاشرې ته لاړ شی او هغوی الله تعالی طرفته راوبلی؟

آیا داخلق دکلیسا والا لره نه وینی چه هغوی څوڅو کلونه دخپل مشن په لاره کښې لګوی؟ په یو مسلمان باندې دعیسائی مشنرو په مقابله کښې زیاته ددې خبرې ذمه داری عائد کیږی چه هغه داسلام په مشن باندې راوځی او دهغه بت پرستوپه مینځ کښې دعوت الی الله لره عام کړی.

د یو مسلمان په زړه کښې چه کله شیطان وسوسه واچوی او هغه ستړی شی او په مشقت کښې مبتلاء شی نو مسلمان لره پکار دی چه هغه دالله تعالی دې ارشاد لره یاد کړی چه :

اِنْ تَكُوْنُوْا تَاْلَمُوْنَ فَاِنَّهُمْ يَاْلَمُوْنَ كَمَا تَاْلَمُوْنَ وَتَرْجُوْنَ مِنَ اللّٰهِ مَا لَا يَرْجُوْنَ

[النساء٤: ١٠٤]

"کچرې تاسو تکلیف اوچتوې نوستاسو په شان هغوی هم تکلیف اوچتوی. اوتاسو دالله تعالی نه دهغه څیز امیدوار ئې دکوم چه هغوی امیدوار نه دی".

داسې سړی ته داهم یاد ساتل پکار دی چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم صحابه کرامو د دعوت الی الله دپاره او په جهاد فی سبیل الله کښې ډیرزیات تکلیفونه اوچت کړی دی په کومو کښې چه بعضو لره مونږ په طور د مثال پیش کوو. دسیرت په کتابو کښې راغلې دی چه نبی علیه السلام او صحابه کرام کله چه دغزوه احد نه واپس مدینې ته راغلل نو اطلاع ملاؤ شوه چه ابوسفیان او دهغه مشرکان ملګری په مدینه باندې حمله کولو سره باقی خلقو لره هم ختمول غواړی.نوکله چه نبی علیه السلام د سحر مونځ اوکړو نو بلال ته ئې حکم ورکړو، هغه په خلقو لره په اوچت آواز سره راوبله چه نبی علیه السلام تاسوته حکم درکوی چه دخپل دشمن تعاقب اوکړئ، او نن به زمونږ سره هغه سړې اوځی کوم چه پرون په جنګ کښې شریک وو.

حضرت سعدبن معاذ لاړو اوخپل قوم ته ئې د تلو حکم ورکړو حالانکه هغوی ټول په زخمونو سره چور چور وو. هغه اووئیل چه نبی علیه السلام تاسوته حکم درکوی چه خپل دشمن پسې شې. دې

اوريدو سره حضرت اسيدبن حضير چه دهغه په بدن کښې اووه زخمونه وو. اوهغه ددې علاج کول غوښتل، اووئيل : چه دالله او رسول حکم په سرسترګو باندې. بيا اوچت شو او وسله ئې راوغستله او د دوائې طرفته ئې اوهم نه کتل. دغه شان رسول الله صلی الله عليه وسلم سره ملاؤ شو.

حضرت سعدبن عباده هم خپلې قبيلې ته لاړو او حضرت ابوقتاده هم يوې ډلې طرفته لاړو.ټول خلق سمدست يوځاې شول. په بنوسلمه کښې څلويښت کسان وو چه د زخمونو نه چور چور وو.د طفيل بن نعمان په بدن باندې ديارلس زخمونه وو،د نجراش بن الصمه په بدن باندې لس زخمونه وو. په دې حالت کښې چه کله ټول د رسول الله صلی الله عليه وسلم په خدمت کښی حاضر شول نو نبی عليه السلام هغوی ته اوکتل او وې فرمائيل : اَللّٰهُمَّ ارْحَمْ بَنِیْ سَلَمَةَ: اې الله! په بنو سلمه باندې رحم اوکړې.

داسې وو د رسول الله صلی الله عليه وسلم صحابه کرام او دادې د اعلاء کلمة الله په لاره کښې دهغوی دجهاد نمونه. بيا ولې چه يومسلمان د دعوت الی الله،داسلام دمحاسنو د نشر واشاعت او خلقو کښې د ښو اخلاقو تعليم په ورکولو کښې خپل ځان لږ شان سترې کوی نو هغه زيات ګنړی؟ آيا هغه ته شرم نه راځی چه هغه په دعوت الی الله کښې خپل معمولی غوندې محنت لره هم زيات ګنړی،حالانکه صحابه کرام په زخمی زخمی بدنونو سره دالله په لاره کښې دجنګ دپاره وتلې وو او وئيل به ئې چه دالله تعالی او دهغه درسول حکم په سر سترګو باندې.

## د دعوت الی الله د وجوب وجوهات:

په مخکښنو صفحو کښې مونږ د دې خبرې دلائل بیان کړل چه دعوت الی الله په هرمسلمان سړی او ښځه باندې لازم دې. ددې معنی داده چه اسلام دیو مسلمان دپاره صرف دا کافی نه ګڼړی چه هغه خو په خپله نیک او هدایت یافته وی بلکه هغه داهم غواړی چه هغه نورو لره هم نیک جوړونکی او په صحیح لاره باندې راوستونکې وی. او سوال دادې چه ددې وجه څه ده؟ نو ددې څو وجوهات دی.

### ۱- د شهادت حق فریضه:

الله تعالیٰ خپل رسول حضرت محمدصلی الله علیه وسلم لره دټولو خلقو دپاره نبی جوړکړې رالیږې وو. الله تعالی هغه ته حکم ورکړې وو:

قُلْ يَآأَيُّهَا النَّاسُ إِنِّىْ رَسُوْلُ اللهِ إِلَيْكُمْ جَمِيْعًا [الاعراف۷: ۱۵۸]

"اې محمدً! اووایه چه اې انسانانو! زه ستاسو ټولو دطرف نه دهغه الله پیغمبر یم چه د زمکې او آسمانونو مالک دې".

او د نبی علیه السلام رسالت دقیامت د ورځې پورې دې. ددې رسالت مقصد دادې چه ټول مخلوق الله تعالی په هدایت سره سرفراز کیدو سره ددنیا وآخرت په سعادت سره بهره مند وی. همدا وجه ده چه دنبی علیه السلام رسالت دټولوجهانونو دپاره رحمت دې.

د الله تعالی ارشاد دې:

وَمَآ أَرْسَلْنَاكَ إِلَّا رَحْمَةً لِّلْعَالَمِيْنَ [الاعراف۲۱: ۱۰۷]

"او اې نبیﷺ! مونږ خو تاسو لره دټول عالم د خلقو په حق کښی رحمت جوړکړې لیږلې ئې".

رسول اللهﷺ دخپل رب پیغام اورسولو او په داسی حالت کښی خپل رب ته اورسیدو چه نبی علیه السلام دخپل نه راضی او د نبی علیه السلام رب د نبی علیه السلام نه راضی.نو د نبی علیه السلام نه پس د مسلمانانو دپاره ضروری وو چه هغوی پوره دنیا ته داسلام ددعوت رسولو دپاره اودریدلی وو او خلق ئی دهدایت په نور سره منور کړي وي او هغوی لره ئی د تیارو نه رڼرا طرفته بوتللی.

الله تعالی فرمائی :

**الٓرٰ ۚ كِتَابٌ أَنزَلْنَاهُ إِلَيْكَ لِتُخْرِجَ النَّاسَ مِنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّورِ بِإِذْنِ رَبِّهِمْ إِلَىٰ صِرَاطِ الْعَزِيزِ الْحَمِيدِ** [ابراهيم١٤: ١]

"الف،لام،را، اي محمدﷺ! دایو کتاب دي کوم لره چه مونږ ستاسو طرفته نازل کړي دي دپاره چه تاسو خلقولره د تیارو نه راویستلو سره رڼرا ته راولی،دخپل رب په توفیق سره دهغه الله په لار باندې چه زبردست او په خپل ذات کښی محمود دي".

اسلام منونکو لره الله تعالی په باقی مخلوق باندې د ګواهان جوړ کړي دی او د نبی نه پس خلقو ته د الله تعالی پیغام رسونکی دی.

الله تعالی فرمائی :

**وَكَذَٰلِكَ جَعَلْنَاكُمْ أُمَّةً وَسَطًا لِّتَكُونُوا شُهَدَاءَ عَلَى النَّاسِ وَيَكُونَ الرَّسُولُ عَلَيْكُمْ شَهِيدًا**

[البقرة ٢: ١٤٣]

"او دغه شان خو مونږ تاسو مسلمانانو لره یو متوسط امت جوړکړي ئی دي دپاره چه تاسو په دنیا باندې ګواه شئ او رسول په تاسو باندې ګواه وی".

مسلمان چه کله ددعوت الی الله کار سرته رسوی نو دا څیزونه دالله تعالی دبندګانو دپاره دعظیم نفعې او تعاون ذریعه جوړیږی.په دې

وجه چه مسلمان دهغه دطرف نه دمهربانۍ لاس مخکښې کوی.هغه هغوی ته دشرک او بت پرستۍ دنجاستونو نه خلاصي ورکوی په کوم کښې چه هغوی پراته وو او هغوی له په صراط مستقیم باندې اچوی. نو هغوی په خپل ځان باندې دخپل رب لازم شوي حق ادا کوی او هغه مقصد حاصلوی دکوم دپاره چه هغوی پیدا کړې شوي دی.

الله تعالی فرمائی :وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنْسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ ـ [الذاریات ٥١: ٥٦]

"ماپیریې او انسان ددې نه سیوا دځه کار دپاره نه دي پیدا کړې چه هغوی زما بندګی اوکړی".

## ۲- د کفر غلبه او د هغې اثرات:

په زمکه باندې دکفراوشرک باقی پاتې کیدل یا که په تیزۍ سره وی یا په مزه مزه خو په هغه اسلامی تعلیماتو باندې اثرانداز کیږی چه د دنیا په یو حصه کښې قائم وی. همدا وجه ده. چه اسلام مسلمانانو لره د دې خبرې نه منع کوی چه هغوی د کافرانو په علاقه کښې پاتې شی. او هغوی ته حکم ورکوی چه اسلامی ملکونو ته راشۍ دې دپاره چه په فتنه کښې مبتلاء کیدو سره د زړه مریضان او دایمان نه محرومه نه شۍ.

د الله تعالی ارشاد دې:

إِنَّ الَّذِينَ تَوَفَّاهُمُ الْمَلَائِكَةُ ظَالِمِي أَنْفُسِهِمْ قَالُوا فِيمَ كُنْتُمْ ۖ قَالُوا كُنَّا مُسْتَضْعَفِينَ فِي الْأَرْضِ ۚ قَالُوا أَلَمْ تَكُنْ أَرْضُ اللَّهِ وَاسِعَةً فَتُهَاجِرُوا فِيهَا ۚ فَأُولَٰئِكَ مَأْوَاهُمْ جَهَنَّمُ ۖ وَسَاءَتْ مَصِيرًا ـ [النساء ٤: ٩٧]

"کوم خلق چه خپل نفس باندې ظلم کوی دهغوی روحونه چه کله فرښتې قبضه کول نو دهغوی نه ئې تپوس کوی چه دا تاسو په څه حال کښې مبتلاء وې؟ هغوی جواب ورکړو چه مونږ په زمکه کښې

کمزوري او مجبور وو. فرښتو به اووائی: آیا د الله تعالی زمکه فراخه نه وه چه تاسو هغی ته هجرت کړې وې؟ دا هغه خلق دی چه د هغوی ټهکانه جهنم دې او جهنم یوځاې د ورتلو دې".

مفسرینو ددې ایت په باره کښې وائی چه دا آیت دهغه خلقو به باره کښې نازل شوې دې چه دکفارو په مینځ کښې اوسیدو ته ترجیح ورکوی،هغوی په دین باندې عمل نه شی کولی، حالانکه دهغوی دپاره دهجرت لاره کهلاؤ وه. داسی خلق په خپل ځان باندې ظلم کوی او داسی کار کوی چه په اتفاق سره حرام دې.

امام مالک فرمائی : هغی زمکی لره پریږدئ په کوم کښی چه ناجائزه کار کهلاؤ کیږی او په هغی کښی څه پرده نه شی کولی.

په دې بناء باندې د یومسلمان کافرانو او مشرکانو لره د الله طرف ته او ددین طرف ته رابلل د هغوی دپاره مفید دی او هغوی لره دکفر د شر نه بچ کول.

## ۳- د هلاکت او عذاب نه بچ کول:

د الله تعالی ارشاد دې:

وَاتَّقُوْا فِتْنَةً لَّا تُصِيْبَنَّ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا مِنْكُمْ خَاۤصَّةً ۚ وَاعْلَمُوْۤا اَنَّ اللّٰهَ شَدِيْدُ الْعِقَابِ

[الانفال۸: ۲۵]

"او بچ شئ دهغه فتنی نه چه دهغی شامت په مخصوص طور باندې صرف هغه خلقو پورې محدود نه پاتی کیږی چا چه په تاسو کښی ګناه کړې ده. او ښه پوهه شئ چه الله تعالی سخت سزا ورکوؤنکې دې".

حضرت ابن عباس فرمائي :

الله تعالى مومنانو ته حكم وركړي دي چه هغوی په خپل مينځ کښې منكر لره برداشت نه کړی، ګنې په هغوی باندې به عذاب راشي. يعني هغه به داسې عذاب وی چه نيک او بد به په هغې کښې راګيرشي.

په صحيح مسلم کښې د زينب بنت حجش نه روايت دې هغه وائي چه ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه تپوس اوکړو: اې د الله رسوله! آيا مونږ به په هغه صورت کښې هم هلاک کيږو هرکله چه زمونږ په مينځ کښې نيکان خلق موجود وی؟ نبي عليه السلام اوفرمائيل: چه ها! کله چه بدی عامه شي.

## د داعي حالت او قدرت او دعوت الى الله:

هرکله چه دا خبره واضحه شوه چه دعوت الى الله په هرمسلمان باندې واجب دی نو اوس دا خودل ضروری دی چه دا فريضه د داعي په حالت او قدرت باندې منحصر وی. په دې وجه دڅه څيز د وجوب دارومدار په قدرت باندې دې. کوم سړې چه قدرت نه لری. په هغه باندې څه څيز نه واجب کيږی اوکوم سړې چه قدرت لری په هغه هغومره واجب وی څومره چه دهغه قدرت وی.

د قدرت مفهوم کښې علم او اختيار او اقتدار راځی. نو په يو عالم باندې به يو څيز واجب کيږی او هغه څيز به په جاهل باندې واجب نه وی. دغه رنګه په اختيار او اقتدار لرونکی باندې به يو څيز واجب وی او هم هغه څيز به داختيار او اقتدار نه محرومه په عام مسلمان باندې واجب نه وی. همدا وجه ده چه الله تعالى اهل علمو ته

خصوصی وعید واورولو او هغوی لره ئی دحق د پټولو نه منع کړل دکوم چه هغوی ته علم وی.

الله تعالی فرمائی :

إِنَّ الَّذِينَ يَكْتُمُونَ مَا أَنْزَلْنَا مِنَ الْبَيِّنَاتِ وَالْهُدَىٰ مِنْ بَعْدِ مَا بَيَّنَّاهُ لِلنَّاسِ فِي الْكِتَابِ ۙ أُولَٰئِكَ يَلْعَنُهُمُ اللَّهُ وَيَلْعَنُهُمُ اللَّاعِنُونَ إِلَّا الَّذِينَ تَابُوا وَأَصْلَحُوا وَبَيَّنُوا فَأُولَٰئِكَ أَتُوبُ عَلَيْهِمْ ۚ وَأَنَا التَّوَّابُ الرَّحِيمُ [البقرة ٢: ١٥٩- ١٦٠]

"کوم خلق چه زمونږ واضحه تعلیماتو او هدایاتو لره پټوی،پس دې نه چه مونږ ټولو انسانانو ته د لارې خودلو دپاره په خپل کتاب کښې بیان کړی دی،پوهه شئ چه الله تعالی په هغوی باندې لعنت کوی او ټول لعنت کوؤنکی هم په هغوی باندې لعنت لیږی. البته کوم خلق چه ددې نه منع شول او دخپل عمل ئې اصلاح اوکړه او کوم څه ئې چه پټول هغه ئې بیان کړل، هغوی به زه معاف کړم او زه ډیر معافی کوؤنکې او رحم کوؤنکی یم".

نو الله تعالی په اهل علمو باندې لازم کړل چه داسلام کوم تعلیمات هغوی ته معلوم شوې دی هغی لره دې بیان کړی او هغی لره دې په خلقو کښی عام کړی دې دپاره چه خلق دشرک د ګندګو نه پاک شی. چاته چه هم په اسلامی تعلیماتو کښی دڅه څیز هم علم اوشی نو دهغه څیز دحده پورې هغه عالم دې او په هغه باندې لازم دی چه هغه خلقو ته اورسوی چه کوم ددې تعلیم نه بی خبره دی. ځکه چه علم څه داسی اکائی نه ده دکوم چه تقسیم او تجزی نه کیږی. علم یو قابل تقسیم څیز دې.

کوم مسلمان چه په دې خبره باندې پوهیږی چه دالله نه سیوا معبود نشته او محمدصلی الله علیه وسلم دالله رسول دې، او دقیامت د

ورځې حساب حق دي،او قرآن دالله تعالی کلام دي، او مونځ او روژه،حج او زکوة داسلام فرائض دی، نو په هغه باندې لازم دی چه دخپل دې علم تبلیغ اوکړی. مګر کوم سړې چه ددې څیزونو نه هم بی خبره دې نو نه هغه ددې تبلیغ مکلّف دې نه دتعلیم، په دې وجه چه هغه په خپله لاعلم دې اودچاسره چه یو څیز موجود نه وی هغه څیز هغه چاته نه شی ورکولی.

دقدرت دویم مثال،اختیارواقتدار او په زمکه باندې حکومت دې قرآن کریم دې قسم طرف ته هم اشاره کړې ده چه دهغه حامل خلقو باندې لازم کړې شوې دی چه هغوی دالله تعالی ورکړې شوې اختیار او اقتدار لره ددعوت الی الله د نشرواشاعت ، دښه کارونو په ذریعه زمکی لره د آبادولو او دالله دعبادت دپاره استعمال کړی.

د الله تعالی ارشاد دې:

اَلَّذِيْنَ اِنْ مَّكَّنّٰهُمْ فِى الْاَرْضِ اَقَامُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتَوُا الزَّكٰوةَ وَاَمَرُوْا بِالْمَعْرُوْفِ وَنَهَوْا عَنِ الْمُنْكَرِ ؕ وَلِلّٰهِ عَاقِبَةُ الْاُمُوْرِ ۔ [الحج۲۲: ٤١]

دا هغه خلق دی چاته که مونږ په زمکه کښې اقتدار ورکړو نو هغوی به مونځ قائم کړی، زکوة به ورکړی، دنیکئ حکم به ورکوی او د بدئ منع کول به کوی. او دټولو معاملاتو انجام کار دالله تعالی په لاس کښې دې.

په زمکه کښې صاحبِ اقتدار کوم خلق دی؟ دهغې په باره کښې مفسرین فرمائی چه هغه حکمرانان دی. بعضو په دې کښې علماؤ لره هم شامل کړې دی خو اوله خبره زیاته واضحه ده.

په دې بناء باندې چاته چه هم الله تعالی حکومت او اقتدار ورکړې دې نو په هغه باندې لازم دی چه زمکې لره دالله تعالی په

عبادت سره آباده کړی،چه په هغې کښې اول مونځ دی. دغه شان امربالمعروف او نهی عن المنکر اوکړی، په امر بالمعروف کښې اول دعوت الی الله دې او په نهی عن المنکر کښې اول دادې چه خلقو لره دهرقسمه شرک نه منع کړی. همدا ددې حکمرانئ مقصود دې. شیخ الاسلام ابن تیمیه فرمائی : دامام تقرر په دې وجه کیږی چه هغوی امر بالمعروف او نهی عن المنکر اوکړی. دحکمرانئ مقصداصلی همدا دې.

په ماضی کښې چه کوم خلق حکمرانان جوړشوې وو هغوی دا مفهوم موندلې وو. نو هغوی خپل اقتدار دالله تعالی ددین د قائمولو او د هغې طرفته د دعوت ورکولو دپاره استعمال کړې وو. حضرت عمربن عبدالعزیز د مختلفو صوبو ګورنرانو ته خطونه لیکلې وو چه دهغې مفهوم داوو:

الله تعالی په خپل کتاب کښې چه دخپل اطاعت کوم حکم نازل کړې دې په هغې کښې داهم شامل دی چه سړې خلقو لره پوره پوره اسلام طرف ته راوبلی......... لهذا ستاسو کار دادې اسلام طرفته دعوت ورکړئ او د هغی حکم ورکړئ. الله تعالی فرمائی چه :

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللَّهِ وَعَمِلَ صَالِحًا وَقَالَ إِنَّنِي مِنَ الْمُسْلِمِينَ [حم السجدة ٤١: ٣٣]

"او دهغه دخبرې نه دچا خبره ښه کیدې شی چاچه الله تعالی طرفته رابلل اوکړل او نیک عمل ئې اوکړو او وې وئیل چه زه مسلمان یم".

حقیقت دادې چه دحکمران فریضه دعوت لره ادا کول د ډیر ښه او مؤثر نتائجو ذریعه جوړیږی. په دې وجه هغه دقوت او اقتدار مالک کیږی. دهغه په لاس کښې د امر او نهی اختیار وی چه دهغې

په بناء باندې هغه درعايا د عامو افرادو په نسبت د احکامو دنفاذ زيات قدرت لری. په دې وجه خو يو مشهور قول دې چه :

اِنَّ اللّٰهَ يَزَعُ بِالسُّلْطَانِ مَالَايَزَعُ بِالْقُرْآنِ۔

"الله تعالی دحکمران په ذريعه دهغه څيزونو ختمول کوی، د کوم چه قرآن نه کوی".

څومره قدرې چه يو مسلمان په دعوت او په نفاذ باندې قادر وی هم دومره قدرې په دعوت الی الله کښې دده فرض او ذمه داری جوړيږی.

## په هر وخت او هر حال کښې دعوت:

مونږ وئيلې دی چه دعوت الی الله دمسلمان فريضه ده او په دې اعتبارسره به هغه دې لره ادا کوی. ددعوت الی الله د فريضې دپاره د مونځ او روژې په شان څه وخت مقرر نه دې. په دې وجه سره به مسلمان دې فريضې لره په هرقسمه حالاتو کښې او هر وخت، کله چه هم ده ته موقع ملاويږی ادا کوی به.

دحضرت نوحؑ په باره کښی خبر ورکولو سره الله تعالی فرمائی :

قَالَ رَبِّ اِنِّیْ دَعَوْتُ قَوْمِیْ لَيْلًا وَّنَهَارًا۔۔۔ ثُمَّ اِنِّیْ دَعَوْتُهُمْ جِهَارًا۔ ثُمَّ اِنِّیْ اَعْلَنْتُ لَهُمْ وَاَسْرَرْتُ لَهُمْ اِسْرَارًا۔ [نوح۷۱: ۵، ۸۔ ۹]

"هغه عرض اوکړو: اې زما ربه! مادخپل قوم خلقو لره دشپې او ورځې راوبلل بياماهغوی په زوره راوبلل دعوت مې ورکړو بياپه ښکاره هم هغوی ته تبليغ اوکړو او پټ پټ هم مې پوهه کړل".

دغه شان زمونږ نبی حضرت محمدصلی الله عليه وسلم هم شپه او ورځ او په پټه او ښکاره هم خپل قوم ته به دعوت ورکولو. څه څيز هم هغوی لره ددعوت الی الله نه (علاوه په بل څه کښې ) نه مشغول کولو.

حقيقت دادې چه داعی کله خپل دعوت کښې رښتونی وی نوهم دهغه مشغله داوی. دهغه هرسوچ ددعوت په باره کښې وی دهغه هرحرکت دهغې دخاطره وی. هغه ددې په لاره کښې دخپل وخت او صلاحيتونو باره کښې دبخل نه کار نه اخلی. څه کارئې هم ددې کار نه بې فکره کوی نه،تردې چه هغه په سخت ترين لمحاتو او د مشکل نه مشکل حالاتو کښې هم هغې طرفته متوجې اوسی.

زمونږ رسول پاک حضرت محمدصلی الله عليه وسلم داسې وو. نبی عليه السلام چه کله دمدينې هجرت کولو په کوم کښې چه ابوبکرصديق رضی الله عنه هم د هغوی سره وو نو په لاره کښې دمکې او مدينې ترمينځه هغوی سره د بريدبن الحصيب الاسلمی ملاقات اوشو چه دخپل قوم دقافلې سره روان وو. نبی عليه السلام هغوی ته داسلام دعوت ورکړو او هغوی اسلام قبول کړو.

دا ددې خبرې دليل دې چه رسول الله صلی الله عليه وسلم په دې مشکل ترين وخت کښې د دعوت الی الله نه غافل نه وو حالانکه نبی عليه السلام مکه پريخودله او مدينې طرف ته ئې هجرت کولو اودنبی عليه السلام قوم دهغوی په تلاش کښې سرګردانه وو.

دغه شان يوسف عليه السلام په مظلومانه طور باندې په جيل کښې واچولې شو خو جيل او دهغې تنګ او تياره ژوند هغه لره د دعوت الی الله نه غافل نه کړو. همدا وجه وه چه کله هغه دوؤ قيديانو د هغوی نه دخپل خوب تعبير اوغوښتلو نو دې موقع لره هغوی غنيمت اوګڼړله اوهغوی ئې د جواب ورکولو نه مخکښې د الله تعالی طرفته راوبلل.دې واقعې لره الله تعالی په دې الفاظو کښې زمونږ مخکښې بيان کړې ده:

يَا صَاحِبَيِ السِّجْنِ ءَأَرْبَابٌ مُّتَفَرِّقُونَ خَيْرٌ أَمِ اللهُ الْوَاحِدُ الْقَهَّارُ o مَا تَعْبُدُونَ مِن دُونِهِ إِلَّا أَسْمَاءً سَمَّيْتُمُوهَا أَنتُمْ وَآبَاؤُكُم مَّا أَنزَلَ اللهُ بِهَا مِن سُلْطَانٍ ۚ إِنِ الْحُكْمُ إِلَّا لِلَّهِ ۚ أَمَرَ أَلَّا تَعْبُدُوا إِلَّا إِيَّاهُ ۚ ذَٰلِكَ الدِّينُ الْقَيِّمُ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ [يوسف۱۲: ۳۹- ٤۰]

”اې د جيل ملګرو ! تاسو په خپله سوچ اوکړئ چه ډير متفرق ارباب بهتر دی يا يو الله چه په ټولو باندې غالب دې؟ هغه لره پرېخودو سره چه تاسو د چا بندګی کوئ هغه د دې نه سيوا هيڅ هم نه دې بس څو نومونه دی چه تاسو اوستاسو پلار نيکه ايخودلې دی،الله تعالی دهغوی دپاره څه سند نه دې نازل کړې. فرمان روائی او اقتدار دالله تعالی نه سيوا دچادپاره هم نشته دې. دهغه حکم دې چه تاسو دهغه نه سيوا دچا هم بندګی مه کوئ. همدا ټهيک سيدها طريقه دژونده،خو اکثر خلق نه پوهيږی“.

## د داعی اصل ذمه داری:

دداعی نه چه کوم کار مطلوب دې هغه دادې چه د الله تعالی طرفته دعوت ورکړی او همدا دهغه ذمه داری ده. او دهغه نه دا مطلوب نه دی چه خلق منی نو هله به دعوت ورکوی.

الله تعالی فرمائی :

وَمَا عَلَى الرَّسُولِ إِلَّا الْبَلَاغُ الْمُبِينُ [النور۲٤: ٥٤]

”د رسول ذمه داری ددې نه زيات هيڅ نه ده چه صفاصفا حکم اورسوی“.

کله چه د رسول دا حالت دې چه دتبليغ نه علاوه دڅه څيز مکلّف نه دې نو دامت افراد په طريق اولی باندې دتبليغ نه علاوه دڅه څيز مکلّف به نه وی ددې دوه وجهې دی.

یو اصول دادې چه یوه اصولی قاعده ده چه انسان د بل کار نه مکلّف کیږی چه فلانې سړې دې دا کار اوکړی او دا کاردې نه کوی. په دې وجه دا دطاقت نه زیات بوج اچول دی البته انسان ددې خبرې مکلّف دې او دده نه مطلوب دی چه هغه دمعروف حکم اوکړی.

اوس که مامور دده حکم اومنی نو دحکم ورکوؤنکی فعل دمامور دفعل سبب جوړیږی مګر کله هم په ماموربандې دې حکم لره نه منی همدا وجه چه الله تعالی دخپل یو نبی (حضرت اسماعیلؑ) په دې خبره باندې تعریف کړې دې چه :

وَكَانَ يَأْمُرُ أَهْلَهُ بِالصَّلٰوةِ [مریم۱۹: ۵۵]

"هغه به خپل اهل وعیال ته دمونځ حکم ورکولو".

نو یو مسلمان چه دکوم څیزمالک او دهغې مکلّف دې هغه دادې چه نورو ته دمعروف حکم ورکړی او هغه دالله تعالی طرف ته راوبلی . خو هغه ددې خبرې مکلّف نه دې چه په نورو باندې څه کار اوکړی.

دویمه وجه داده چه په مدعو باندې دداعی خبره منل او هغه ته هدایت ورکول دالله تعالی په لاس کښې دې ځکه چه هم هغه هادی دې:

يُضِلُّ مَن يَشَآءُ وَيَهْدِي مَن يَشَآءُ [الفاطر۴۵: ۸]

"چاته چه غواړی په ګمراهۍ کښې ئې اچوی او چاته چه غواړی نو صحیح لار ورته ښائی".

الله تعالی ته په خپل بندګانو باندې حجت هم حاصل دې. که هغه غوښتل نو ټولوته به ئې هدایت کړې وو.دهغه نه چا تپوس نه شو کولې، البته باقی ټول جواب ورکوؤنکی دی. د تبلیغ،بیان او دعوت

هدایت خو د رسولانو ذمه داری هم وه او دهر داعی ذمه داری ده په دې وجه چه هغه ددې مکلّف دې. الله تعالی خپل رسول کریم صلی الله علیه وسلم ته فرمائی :

وَاِنَّكَ لَتَهْدِيْٓ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ[الشوریٰ: ۴۲: ۵۲]

"یقینًا ته نیغې لارې طرف ته رهنمائی کوئ".

خو ورسره په یو بل آیت کښې دا اشاره ده :

اِنَّكَ لَا تَهْدِيْ مَنْ اَحْبَبْتَ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ يَهْدِيْ مَنْ يَّشَآءُ [القصص۲۸: ۵۶]

"اې نبیؐ ! ته چه چاته غواړې هدایت نه شې ورکولې خو الله تعالی چه چاته اوغواړی هدایت ورکوی".

**الله تعالی طرف ته مسلسل دعوت ورکول:**

کله چه دیو مسلمان نه مطلوب دادې چه هغه دې د الله تعالی طرفته دعوت ورکړی او دهغه نه دا مطلوب نه دی چه خلق دې هدایت اوموی نو هغه له پکار دی چه بغیردڅه ستړې والی نه ددعوت کار جاری اوساتی،ځکه چه دده خبره رسول دی او دهغې وضاحت کول دی. دا کار دهغه سره تعلق ساتی په دې وجه هغه له پکار دی چه دا کار به هسې هم کوی څنګه چه نور فرائض سرته رسوی، اګرچه څوک هم دهغه په دعوت باندې لبیک اونه وائی.

آیا حضرت نوح علیه السلام ته نه ګوری چه هغه خپل قوم 950 کاله پورې الله تعالی ته رابلل؟ دغه شان وو دالله تعالی رسولان چه هغوی ټول ژوند کښې خلقو لره د الله تعالی طرفته رابلل. په هغوی کښې داسې هم ووچه دهغوی دعوت یو سړی هم نه وو قبول کړې.

امام نووی فرمائی چه یو مکلّف سړی نه د امربالمعروف او نهی عن المنکر فریضه په دې خبره باندې نه ساقط کیږی چه دا خیال

اوکړي چه دامربالمعروف څه فائده نشته دې،بلکه په باندې لازم دی چه هغه فريضې لره ادا کوی. په دې وجه چه ايمان راوړونکو ته نصيحت فائده ضرور رسوی دهغه په ذمه چه کوم کار دې هغه امر او نهی دې نه چه قبوليت.

د دې قول نه داستدلال توجيه داده چه د دعوت الی الله کار په امر بالمعروف او نهی عن المنکر کښې د ټولو نه اول دې. نو ددې معنې په لحاظ سره دا قول هم زمونږ د رائې تائيدکوی. دې مفهوم لره علامه سيوطی هم بيان کړې دې.

دعوت الی الله لره مسلسل د جاری ساتلو تائيد ددې خبرې نه کيږی چه مايوسئ لره حرام کړې شوې ده چه کله نه کله به خو څوک اومنی. په دې وجه چه معاملات دالله تعالی په لاس کښې وی، او دبندګانو زړونه،د رحمن په دوؤ ګوتو کښې وی، هغه دې لره چه کوم طرفته غواړی اړوی. داعی ددې خبرې قطعی فيصله نه شی کولې چه څوک منی نو (دعوت) به ورکوم. نو په ده باندې لازم دی چه دعوت او وعظ او ارشاد مسلسل جاری اوساتی. تردې چه الله تعالی هغه کار سرته اورسوی دکوم کار چه فيصله شوې ده.

## د داعی اجر په الله باندې دې نه چه په بندګانو باندې:

د الله تعالی طرفته دعوت ورکولو والا يو فريضه ادا کوی او د الله د حکم لاندې يو عبادت سرته رسوی. عبادت کوؤنکی دعبادت اجر دخپل رب نه مومی او دا د الله تعالی د طرف نه په ده باندې فضل واحسان وی.نو داعی دچانه هم د خپل دعوت اجر نه غواړی،نه د مال په صورت کښې نه د تعريف او توصيف په صورت کښې،نه د جاه او

منصب په صورت کښې او نه د نورڅه مادی یا معنوی عوض په صورت کښې.

الله تعالی دحضرت نوحؑ په باره کښی فرمائی :

فَإِنْ تَوَلَّيْتُمْ فَمَا سَأَلْتُكُمْ مِّنْ أَجْرٍ إِنْ أَجْرِيَ إِلَّا عَلَى اللهِ وَأُمِرْتُ أَنْ أَكُونَ مِنَ الْمُسْلِمِينَ۔ [یونس۱۰: ۷۲]

”تاسو زما د نصیحت نه مخ واړولو(نو زماڅه نقصان مو اوکړو) زه ستاسو نه دڅه اجر طلبګار نه یم،زما اجر خو د الله په ذمه دې. او ماته حکم راکړې شوې دې چه(خواه څوک منی یا نه منی) زه به په خپله مسلمان اوسیږم“.

او زمونږ نبی حضرت محمدصلی الله علیه وسلم ته الله تعالی فرمائی :

قُلْ لَّا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ أَجْرًا إِلَّا الْمَوَدَّةَ فِي الْقُرْبَىٰ [الشوریٰ۴۲: ۲۳]

”او وایه چه زه ستاسو نه په دې کار باندې د څه اجر طالب نه یم، البته د رشته دارئ محبت ضرور غواړم“.

یعنی صرف دا وایم چه ماسره د خپلې رشته دارئ خیال اوکړئ. ما د عوت الی الله کار ته پریږدئ او مالره ددې نه دمنع کولو کوشش مه کوئ او نه نورو لره ددې نه دمنع کولو کوشش اوکړئ.

دا طریقه کار د الله تعالی د ټولو رسولانو وو. هغوی به د الله تعالی طرفته دعوت ورکولو د هغوی نه د څه اجر یا قدردانئ طالب نه وو. ځکه چه دهغوی اجر د الله کریم په ذمه وو.

دالله تعالی ارشاد دې:

وَجَاءَ مِنْ أَقْصَا الْمَدِينَةِ رَجُلٌ يَسْعَىٰ قَالَ يَا قَوْمِ اتَّبِعُوا الْمُرْسَلِينَ اتَّبِعُوا مَنْ لَا يَسْأَلُكُمْ أَجْرًا وَهُمْ مُهْتَدُونَ۔ [یٰسٓ ۳۶: ۲۰-۲۱]

”د ښار د لرې علاقې نه يو سړې په منډه راغلو او وې وئيل : اې زما قومه! د رسولانو تابعداری اوکړئ. تابعداری اوکړئ دهغه خلقو چه تاسو نه څه اجر نه غواړی او په صحيح لاره باندې دی“.

## په اسلام کښې د داعی مقام:

په اسلام کښې دداعی الی الله مقام ډير اوچت دې. د دعوت الی الله په لاره کښې د داعې خبرې اترې د الله تعالی په تله کښې،چه دټولو نه ښه تله ده بهترينې خبرې اترې وی.

دالله تعالی ارشاد دې:

وَمَنْ اَحْسَنُ قَوْلًا مِّمَّنْ دَعَآاِلَى اللهِ وَعَمِلَ صٰلِحًا وَّقَالَ اِنَّنِىْ مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ

[حمٓ السجدة ٤١: ٣٣]

”او د هغه سړی نه به د چا خبره ښه وی چاچه د الله تعالی طرفته بلل اوکړل او نيک عمل ئې اوکړو او وې وئيل چه زه د مسلمانانو نه يم“.

دا آيت ځنګه چه مفسرين فرمائی،دهغه ټولو خلقو په باره کښې دې چه الله تعالی طرفته دعوت ورکوی، او پخپله هم په نيغه لار باندې وی نيک عمل کوی،فرائض ادا کوی او دحرام څيزونو نه ځان ساتی.

ددعوت الی الله په لاره کښې دهغه کلمات،خصوصًا هغه وخت کښې چه دالله نه انکار او سرکشی عامه وی، په مخ دزمکه باندې دټولو نه بهترين کلمات وی. او د هغې ويونکې په ذاتی طور باندې دنيکئ او دالله په مخکښې سربښکته کوؤنکی غوندې صفاتو سره متصف وی نو هغه په مخ دزمکه بهترين سړی به وی.

پاتې شو د داعی الی الله د اجر معامله نو دهغه اجر به ډیر زیات وی. درسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد دې: مَنْ دَعَا إِلَىٰ هُدًى كَانَ لَهُ مِنَ الْأَجْرِ مِثْلُ أُجُورِ مَنْ تَبِعَهُ لَا يَنْقُصُ ذٰلِكَ مِنْ أُجُورِهِمْ شَيْئًا۔

"چاچه څه ښه خبرې طرفته دعوت ورکړو هغه ته به دهغې خلقو برابر ثواب ملاویږ چه دده تابعداری کوی،او دهغوی په اجر کښې به څه کمی نه کیږی".

په یو بل حدیث کښ دی چه نبی علیه السلام حضرت علی ته اوفرمائیل:

فَوَاللّٰهِ لَأَنْ يَهْدِيَ اللّٰهُ بِكَ رَجُلًا وَاحِدًا، خَيْرٌ لَكَ مِنْ حُمْرِ النَّعَمِ۔

"چه الله تعالی ستاپه ذریعه سره یو سړی ته هدایت اوکړی نو دا ستادپاره د سرو اوښانو نه بهتر دی".

په یو حدیث کښې دی چه: مَنْ دَلَّ عَلَىٰ خَيْرٍ فَلَهُ أَجْرُ فَاعِلِهِ

چاچه د څه ښیګړې د کار طرفته دعوت ورکړو هغه دپاره دهغه ښه کار کوؤنکی برابر اجر دې.

## منظم دعوت:

ددعوت او تبلیغ دوه طریقې دی.یو په منظّم او جماعتی شکل کښې او دویم بغیر د جماعت نه او په غیرمنظّم طرز باندې. دا دواړه طریقې دنتیجې په اعتبارسره یوشان نه دی بلکه په دې دواړو کښې لوې فرق دې. یو داعی که په وسیع پیمانه باندې دتوحیدوسنت دعوت وتبلیغ کوی،خو خپل کار او متعلقه افرادو لره په تنظیمی ډهانچه او جماعتی شکل کښې دمنظّم کولو کوشش نه کوی،بلکه دهغه دعوت دې نو په دې طرز دعوت باندې اګرچه دهغه غاړه به خلاصه شی او په آخرت کښې به ورته داخلاص په شرط اجر هم ان شاء الله ملاویږی، خو دا حکیمانه او مبصرانه دعوت اوتبلیغ نه دې اونه په دې طرز تبلیغ

باندې به مطلوبه نتائج حاصل کړې شی چه دیو صالح انقلاب او بهترینې تبدیلۍ دپاره پیش خیمه وی . دهغې په ځاې په محدوده پیمانه باندې مستقل،مسلسل او په جماعتی او منظّم طرز باندې دعوت اوتبلیغ زیات حکیمانه،او زیات مفیداو زیات نتیجه والا وی او انقلاب هم په داسې طرز دعوت باندې راځی.

دې خبرې لره په پوهه کښې د راوستلو دپاره په زمکه کښې دتخم کرلو مثال زیات فائده مند دې،دعوت وتبلیغ یوقسم تخم اچول دی. دتخم کرلو دوه صورتونه وی یو تخم کرل هغه دی چه دتجربې او سائنس نه ثابت دی چه هغه دهواګانو، څاروؤ او مرغو په ذریعه سرته رسی. هوا،څاروی او مرغې تخم دیو ځاې نه بل ځاې ته اوړی څنګه چه هرقسم تخم په هرقسمه زمکه کښې خوریږی په منتشرطور باندې قسماقسم فصلونه راخیژی، نه دهغې باقاعده فصل کټ کولې شی او نه داسې قسمه پیداوار خلقو ته په وافر مقدار کښې میوې ګلونه ملاویږی. دتخم کرلو دویم قسم دادې چه زمیندار ئې په یو خاص طریقه باندې کری. هغه په یوه زمکه باندې مسلسل محنت کولو سره هغه تیاروی،بیادیو منصوبې مطابق په دې کښې تخم اچوی،هغې له اوبه ورکوی اودهغې خیرخبر اخلی. تردې پورې چه هغسی هغه فصل تیارشی څنګه چه هغه ته مطلوب وو. دداسې فصل باقاعده کټائی کیږی خلقوته دهغې نه ګل،میوه او غله ملاویږی.

غرض داچه داعی ته پکار دی چه هغه خپل دعوتی تخم کرلو کښې دهواګانو او مرغو په شان غیرمنظّم طریقه اختیار نه کړی، بلکه د زمیندار په شان دیومنصوبې او مسلسل محنت والا منظّم طریقه اختیارکړی. اکثرداعی خو دتوحیدوسنت مسئله خو بیانوی،ددعوت کار

کوی، د قرآن درس هم کوی،خو په هغه درسونو کښې دنظم او اجتماعیت په حوالې سره ذهن سازی نه کیږی.دجماعت اهمیت دشوری ضرورت،دامیر په اطاعت باندې خبره نه کیږی،هغه خپل شاګردانو، متعلقینو کسانو کښې دتنظیم په حوالې سره ذهن سازی نه کیږی او نه هغوی لره داعی جوړوی.چه دهغې نتیجه دا راوتله چه هغه صحیح العقیده او دسنت متبع خو جوړیږی، خو هغوی مخکښې د دعوت کار نه شی کولې که ددعوت کار کوی هم نو په غیر منظّم طریقې سره سرته رسی چه دهغې مطلوبه نتائج نه حاصلیږی.

دمنظّم دعوت طریقه داده چه هر رکن په خپل قریبی ماحول کښې یو حلقې لره منتخب کولو سره باقاعده په خپل چارج کښې اخستلو سره او هغه کښې ددعوت او درس قرآن مسلسل او منظّم کار شروع کړی.

اول دې هغه د اساسی عقائد توحیدوسنت او د اسلام بنیادی اصولو، داحکامو او اخلاقو دې تفصیلاتو طرفته مخکښې شی او په هغې باندې دې د ایمان د پوخوالې او دعمل کولو تلقین کوی دې دپاره چه په هغوی کښې مکمل اعتقادی،اخلاقی اوعملی انقلاب پیداشی. خپل عملی سلوک او خپلو هدایاتو او نګرانئ سره دې هغه دې کار لره مخکښې چلوی. ددې نه پس دې هغه خلقو لره خواه په تعداد کښې څومره هم کم وی په تنظیمی لړې پائیللو سره په نورو خلقو کښې په دې طرزباندې کرونده کول او د دعوت دپاره استعمالول شروع کړی اوپه خپله نګرانئ او رهنمایئ کښې دې د هغې نه کار واخلی. دغه شان ددعوت دا حلقه به وسیع کیږی او د علاقې په علاقې به دالله تابعداری اختیاروی، خو ددې دپاره اصولِ دعوت، طریقه د دعوت

پیژندل او حکیمانه مبصرانه دعوت اختیارول ضروری دی. ددې نه چه کوم نتائج هم حاصلیږی پائیدار کیږی به، او بیا به دا کرونده د **اضعافاً مضاعفه** په تناسب به خوریږی.

په دې تناظر کښې دا خبره هم قابل توجه ده چه دروسِ قرآن هم په دوه قسمه وی یو هغه چه صرف دیوتقریر په شان عوامو ته واورولې شی دا یک طرفه عمل دې.په دې سره به دآخرت په ثواب سره څه ورکوکې غوند کار خوبه اوشی، خو په مکمل طور باندې مطلوبه مقصد نه حاصلیږی،هرکله چه دویم قسم د درسِ قرآن هغه دې چه په هغې کښې دتعلیم او تعلم طریقې باندې دوه طرفه عمل کیږی. استاذسبق ښائی او شاګردان او عوام ئې زده کوی دهغوی مخې ته قرآن پاک وی. په هغوی باندې د زده کړې او خودلو محنت کیږی،دهغوی په مذکوره پاسنې طریقې سره تربیت کیږی.ددې درسِ قرآن نه نه صرف مطلوبه مقاصدحاصلیږی بلکه افراد د دعوت به دې کار لره خپل کار تصور کوی او داعی جوړیږی. لهذا مونږ له په دې دویمه طریقه باندې درس اختیارول پکار دی.

همدا وجه چه بعضې افراد په دعوتی لحاظ سره زیات کامیاب دی اوبعضې کم. دبعضو کار مؤثر وی خواه که لږ وی او دبعضو دومره مؤثر نه وی خواه که زیات وی. ددعوت کار په انفرادی او اجتماعی سطح باندې خور وی. شخصیات او تنظیمات دواړو کښې قدرې مشترک چونکه داعیانه کردار دې. نوکه ددې کردار جړې مضبوطې وی. نو د دعوت کار د سیورې لرونکی اونې په شان خوریږی.د هغې جړې مضبوط کیدل ددعوت د مؤثر کیدو دپاره دی زمونږ په نزد په داعی کښې لاندینی خصوصیات تلاش کول او ترقی ورکول پکاردی.

**ذاتی مشغولتیا:**

بعضې داعیان پخپله خو متحرک،دعوتی درد لرونکې او دحق خورولو حریص وی. هغوی دکامیابۍ خورولو دپاره بې قراره وی. دځه منزل تعین کوی اوبیا د هغې دپاره شپه او ورځ دکوشش حق ادا کوی. هغوی یقین ساتی چه ددوی انفرادی کار به هم دیوې لوې تبدیلۍ ذریعه جوړیږی. خپل ځان لره جواب ده او ذمه دار ګڼړی. چونکه داسې خلق عمل پسند وی،ددعوت کار په خپله کوی او په دې کښې دکام چورۍ او سستۍ نه کار نه اخلی لهذا دهغوی کار اثرکوؤنکی وی.

**بصیرت او علم:**

بعضې داعی افراد دفکری اوعملی صلاحیت حامل وی. دهغوی ذهن د دعوت حقیقت او ددې د ټولو اړخونو نه خبردار وی، هغوی موقع محل او حالات او مخاطب ته کتو سره په هغې مناسب طریقې سره کارکوی. د دعوت په لاره کښې حائل رکاوټونه او دمسائلو حل پیژنی. لهذا حق دهغه د بیان نه ښکاره کیږی. دعلم استدلال او بلاغت په ذریعې سره دخلقو ذهنونو او زړونو لره متاثره کوی.

**دوست مزاج:**

بعضې داعیان دوست مزاج وی. هغوی په خلقو کښې میل ملاپ کولو سره دهغوی په مینځ کښې اوسی او د هغوی په دک درد کښې شریک کیږی، خلقو سره تعلقات قائم ساتی. لوې یا وړوکې،خوشحالی وی یاغم،مشکل وی یا آسانی هغه په هرموقعه باندې،هرسطح باندې،هرصورت کښې رابطه جوړول تعلق ښه ساتل او دې تعلق لره ددعوت دپاره استعمالول پیژنی.

**انتظامي صلاحيت:**

بعضې داعيان په تنظيمی سطح باندې د منصوبه سازئ په ذريعې سره اهداف متعين کوی. دکار دپاره لائحه عمل مرتب کولو سره مخکښې تلل پيژنی. هغه د صبا کار د صبا راتلو نه مخکښې شپه په شپه په دې وجه سرته رسوی چه ممکن ده صبا ژوند وفااونکړی او دکار د سعادت نه محروم پاتې نه شی. په هغوی کښې د قيادت،فيصله سازئ،معامله فهمئ وغيره اهليت موجود وی. هغوی په خپل منظّم دعوت سره تنظيمې او اجتماعی قوت لره په کار راوستلو سره د لوې مقاصدو او د اعلی اهدافو ذريعه جوړيږی.

**تربيت يافته:**

داعی دپاره يو ضروری صفت داهم دې چه هغه ددعوت په ميدان کښې د کوزيدو نه مخکښې اول تربيت ددعوت حاصل کړې وی. ګنی بغير دتربيت نه دخير په ځاې به د شر خورولو سبب جوړيږی. ځکه چه دعوت يو فن دې. ددې څه اصول او قواعد اوضوابط دی.دهغې لوازم او تقاضې دی، د دعوت الی اللّٰہ ميدان ته دکوزيدو نه مخکښې اول دې ټولو تقاضو او اصول او ضوابط باندې عبورحاصلول، بعينه هم داسې فرض دی څنګه چه په خپله دعوت الی اللّٰہ فرض دې ددې ټولو امورو نه باخبرکيدو نه پس ددې ديوې يوې طريقې او ضابطې لحاظ ساتل به وی، ددې لحاظ کولو نه بغير صرف داچه ددعوت مطلوبه مقاصد به نه حاصليږی،بلکه دداعی دټول جدوجهد نتيجې به برعکس او په دعوتی نقطه نظر سره به نقصان ده وی.

اوس هر يو داعی او رکن دې دعوت لره مخکښې بوتللو دپاره د داعيانه کردار دا خصوصيات بايد چه خپل کړی او هم په دې تناظر کښې دعوت لره مخکښې بوتلل پکار دی.

## باب : ۳

# زاد المبلغ

## (د مبلغ توښه)

الله تعالی چه چاله دعلم په دولت سره نمانځلې دي دهغه نه ئې دا پخه وعده هم اخستې ده چه هغه به دې علم لره دپټولو نه بغير دخلقو په مخکښې صفاصفا بيانوی څنګه جه د الله تعالی ارشاد دې:

وَاِذْ اَخَذَ اللّٰهُ مِيْثَاقَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتَابَ لَتُبَيِّنُنَّهٗ لِلنَّاسِ وَلَا تَكْتُمُوْنَهٗ۔ آل عمران:۳/۱۸۷]

"او (هغه وخت ياد کړئ) کله چه الله تعالی دهغه خلقو نه وعده واخستله چاته چه کتاب ورکړې شوې وو چه تاسو به دې کتاب لره دخلقو په مخکښې صفاصفا بيانوې او د(دې څه خبرې) لره به نه پټوئ".

دالله تعالی اخستلې شوې دا وعده څه داسې وثيقه نه ده چه ليکلې شی اوپه هغې باندې ګواه جوړولې شی بلکه دا يو داسې وثيقه ده چه دهغې هر اهل علم ته ښه علم دې چه الله تعالی ددې وثيقې او وعدې په ذريعې سره دخپل ورکړې شوې دولت علم په باره کښې به تپوس کوی. ددې وثيقې په وجه سر ه الله تعالی دهر سړی اوښځې نه چاته چه الله تعالی دعلم دولت ورکړې دې پخه وعده اخستې ده چه هغه به دالله تعالی د شريعت متعلق خپل علم لره هروخت او هرځاې کښې خلقو ته رسوی.

د داعی الی الله دپاره لائحه عمل (زاد راه) څه دې...؟ د هر مسلمان توښه هم هغه ده کوم لره چه الله تعالی په خپل فرمان کښې بيان کړې دې:

وَتَزَوَّدُوْا فَاِنَّ خَيْرَ الزَّادِ التَّقْوٰى۔ [البقرة: ۱۹۷/۲]

”او توښه ځان سره واخلئ او دټولو نه بهتر توښه پرهیزګاری ده“.

دهرمسلمان توښه ”تقوی“ده دکوم چه الله تعالی په قرآن کښې (حکم ورکولو سره) باربار ذکر فرمائیلي دې اودهغه سړی تعریف ئې فرمائیلي دې چه ددې اهتمام کوی،او الله کریم دهغې ثواب لره بیان فرمائیلوسره دخبرې کولو طرزلره هم ذکر کړې دې:

وَسَارِعُوْا اِلٰى مَغْفِرَةٍ مِّنْ رَّبِّكُمْ وَجَنَّةٍ عَرْضُهَا السَّمٰوٰتُ وَالْاَرْضُ اُعِدَّتْ لِلْمُتَّقِيْنَ۔ الَّذِيْنَ يُنْفِقُوْنَ فِى السَّرَّآءِ وَالضَّرَّآءِ وَالْكٰظِمِيْنَ الْغَيْظَ وَالْعَافِيْنَ عَنِ النَّاسِ وَاللّٰهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِيْنَ۔ وَالَّذِيْنَ اِذَا فَعَلُوْا فَاحِشَةً اَوْ ظَلَمُوْا اَنْفُسَهُمْ ذَكَرُوا اللّٰهَ فَاسْتَغْفَرُوْا لِذُنُوْبِهِمْ وَمَنْ يَّغْفِرُ الذُّنُوْبَ اِلَّا اللّٰهُ وَلَمْ يُصِرُّوْا عَلٰى مَا فَعَلُوْا وَهُمْ يَعْلَمُوْنَ۔ اُولٰٓئِكَ جَزَآؤُهُمْ مَّغْفِرَةٌ مِّنْ رَّبِّهِمْ وَجَنّٰتٌ تَجْرِىْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا وَنِعْمَ اَجْرُ الْعٰمِلِيْنَ۔ [آل عمران:۱۳۳،۱۳۴/۳]

”او په منډه ځئ په هغه لار باندې چه ستاسو د رب د بخښنې او د هغه جنت طرف ته ځی چه دهغې وسعت د زمکه او آسمان په شان دې او دهغه خلقو دپاره تیارکړې شوې دې چه په هرحال کښې خپل مال خرچ کوی،خواه بدحاله وی یا خوشحاله، او غصې لره څکی او د نورو قصور معاف کوی. او داسې نیک خلق الله تعالی ته ډیر خوښ دی دچاچه حال دادې چه کله هم څه فحش کار ددوی نه اوشی یا دڅه ګناه په کولو سره په خپل ځان باندې ظلم اوکړی نو الله ورته رایاد شی او په دې سره هغوی د خپل قصورونو(په زړه سره) معافی غواړی.ځکه چه دالله تعالی نه سیوا نو رڅوک دی چه ګناه لره معاف کولې شی.او هغوی کله هم په هیره بخپل کړې شوو باندې ضدنه کوی.دداسې خلقو جزا دهغوی درب سره داده چه هغه دوی لره معاف کړی او داسې باغونو ته هغوی داخل کړی دکوم لاندې چه نهرونه بهیږی او هلته به همیشه اوسیږی. څنګه ښه بدله ده دنیک عملونو کولو والا دپاره.“

## تقوی څه څیز دې؟

معززو رونړ!.....کله کله تاسو وائې چه "تقوی"څه څیز؟نو د هغې جواب د سیدناطلق بن حبیب رحمه الله هغه اثر دې په کوم کښې چه هغوی فرمائیلې دی : تقوی داده چه ته دالله تعالی د ورکړې شوې رنړا(هدایت) مطابق دثواب په امیدباندې دالله تعالی داطاعت کار اوکړې او دالله تعالی دعذاب نه یریدو سره دهغه د ورکړې شوې هدایت په رنړا کښې دهغه منع کړې شوې خبرو لره پرېږدئ.

په دې عبارت کښې دعلم،عمل،ثواب حاصلول او سزا یرې لره جمع کړې شوې دې، بس همدا تقوی ده. مونږ ټول پیژنو چه داعی الی الله دپاره د نورو خلقو په نسبت انتهائی ضروری ده چه هغوی د پټو او ظاهری دواړو حالتونو کښې د"الله دیرې" په صفت سره ښائسته وی. او زه دالله په توفیق سره په دې ځاې هغه ټول صفتونه ذکرکوم چه ددعوت دین کارکوؤنکی دیو داعی سره تعلق ساتی او کوم چه د لارې توښه جوړول دهغه دپاره ضروری دی.

## د داعی الی الله اول صفت "علم":

دکومې خبرې چه دعوت ورکول غواړی دهغې متعلق هغه ته بالکل صحیح علم وی او په کتاب الله اوسنت رسول باندې مشتمل وی،ځکه چه کوم علم هم ددې دوه چشمو نه علاوه حاصل کړې شی،هغه قابل د موازنې دې یاخو مخکښې یا دپیش کولو نه پس. ځکه چه یاخوبه دقرآن وسنت موافق وی نو هغه به قبلولې شی یا به مخالف وی نو هغې لره رد کول واجب دی خواه ویونکې څوک هم وی. نو الله تعالی فرمائیلې دی:

فَلْيَحْذَرِ الَّذِيْنَ يُخَالِفُوْنَ عَنْ اَمْرِهٖٓ اَنْ تُصِيْبَهُمْ فِتْنَةٌ اَوْ يُصِيْبَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ [النور:٢٤/٦٣]

درسول دحکم خلاف ورزی کولو والا ته یریدل پکار دی چه په (دنیاکښې) هغه په څه فتنه کښې ګرفتار نه شی(یعنی څه مصیبت پرې راپریونه ځی) یا (په آخرت کښې) په دوی باندې دردناک عذاب رانه شی.
امام احمدرحمه الله فرمائی :

”ته پوهیږئ چه فتنه څه څیزدې؟ دفتنې نه مراد شرک دې،شاید چه کله د رسول الله صلی الله علیه وسلم دحکم تردید اوکړې شی نودهغې د کوؤنکې په قول کښې کوږ والې واقع شی او هغه هلاک شی“. [ کتاب التوحید:۲۹۹]

## جاهل او جاهل مرکب کښې فرق:

دټولو نه مخکښې خبره چه داعی الله دپاره ضروری ده هغه داده چه هغه دکتاب الله او سنت صحیحه مطابق په علم باندې کماحقه حاوی وی. ځکه چه بغیر دعلم نه دعوت ورکول دجهالت دعوت ورکول دی اودجهالت ددعوت نقصان ددې نه زیات دې. ځکه چه داسې داعی خپل ذات لره قابل دتوجه او رشدوهدایت علمبردار ګڼړی اوکله چه هغه جاهل دې نو هغه دګمراه کیدو والا او دګمراه کوؤنکو نه سیوا نور څه کیدې شی!!

العیاذبالله (د الله پناه ددې نه) دهغه دا جهالت جهل مرکب دې اوجهل مرکب دجهل بسیط(ساده) نه زیات سخت وی ځکه چه جهل بسیط صرف خپل صاحب لره د رشد وهدایت نه منع کوی په هغې کښې جاهلانه کلام نه وی اودا په علم حاصلولو سره رفع کیږی خو په جاهل مرکب کښې د مشکل دپاسه مشکل دې ځکه چه هغه خاموش نه وی بلکه خبرې کوی. اګرچه دجهالت وی نتیجتًا هغه د روښانه زړه په ځاې تیاره زړه والا وی.

## په دې کارونو کښې بصیرت کیدل لازمی دی:

اې زما داعی رونړو!..... دعلم نه بغیر د اللّٰه طرفته راغوښتل دنبی علیه السلام او دهغه دتابعداری کوؤنکو صحابه کرام رضی اللّٰه عنهم اجمعین د طریقې نه خلاف دہ.د اللّٰه تعالی فرمان طرف ته دهیان اوکړئ چه هغه خپل نبی صلی اللّٰه علیه وسلم طرفته دحکم ورکولو سره اوفرمائیل :

قُلْ هٰذِهٖ سَبِيْلِيْٓ اَدْعُوْٓا اِلَى اللّٰهِ عَلٰى بَصِيْرَةٍ اَنَا وَمَنِ اتَّبَعَنِيْ [یوسف:۱۲/۱۰۸]

”اې رسول! اووایئ دا زما لاره ده چه زه د اللّٰه طرفته دعوت ورکوم، زه او زما تابعداری کوؤنکی (صحابه رضی اللّٰه عنهم اجمعین) په پوهې او بصیرت سره په دې باندې قائم دی“.

اې داعی الی اللّٰه!...... داللّٰه تعالی په فرمان {علی بصیرۃ} باندې غور اوکړه.داعی او مبلغ لره د دریو کارونو بصیرت ضرور حاصلول پکار دی:

۱: دکوم حکم شرعی چه هغه دعوت ورکوی دهغې متعلق ورته پوره پوره علم وی.......چرته داسې نه وی چه هغه دخپل ګمان په بناء باندې څه حکم لره واجب ګنړلو سره دعوت ورکړی،حالانکه هغه حکم په شریعت الٰهی کښې غیرواجب وی....په دې لحاظ سره به هغه په بندګانو باندې څه غیر لازم حکم لره لازم به کړی... دغه شان به هغه څه څیز لره حرام ګنړلو سره دپریخودلو حکم ورکړی حالانکه هغه څیز به داللّٰه تعالی په دین کښې حرام نه وی.... نو داسې به هغه بندګان د رب العزت حلال څیزونه لره حرام کړی.

۲: چاته چه دعوت ورکولې شی دهغه دحالاتو نه هم کماحقه

بصيرت او واقف کيدل پکاردی. په دې وجه نبی کريم صلی الله عليه وسلم سيدنامعاذ رضی الله عنه لره ديمن طرف ته اوليږلو نو ته ئې اوفرمائيل :

اِنَّكَ سَتَأْتِيْ قَوْمًا اَهْلَ كِتَابٍ لِيَعْرِفَ حَالَهُمْ وَيَسْتَعِدَّ لَهُمْ

”ته داهل کتابو داسې خلقو ته تلو والا ئې چه دهغوی حالات تالره معلومول پکار دی دهغې دپاره تياری کول پکار دی“.

لهذا په دې پوهيدل ضروری دی چه چاته دعوت ورکولې شی دهغه بساط علمی څه دې؟ او دهغه دبحث او جدل کيفيت څه دې؟ دې دپاره چه ته تيارشې او (حق لره واضح کولو دپاره) دهغه سره بحث او تکرار اوکړې شې.ځکه چه کله ته هغه لره په بحث او تکرارکښې مصروف کړې او هغه سره (د بحث کولو) په تاکښې کماحقه همت اوطاقت وی نو په دې صورت کښې به دحق عظيم فتح وی،چه دهغې سبب (اې داعی!) هم ته ئې. او خيال نه کول چه دباطل عادت په هرحال کښې سرښکته وی ځکه چه رسول اکرم صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل:

اِنَّكُمْ تَخْتَصِمُوْنَ اِلَيَّ وَلَعَلَّ بَعْضُكُمْ اَنْ يَّكُوْنَ اَلْحَنَ بِحُجَّتِهٖ مِنْ بَعْضٍ فَاَقْضِيْ لَهٗ بِنَحْوِمِمَّا اَسْمَعُ۔

[بخاری: کتاب الاحکام، مسلم: کتاب الاقضية]

”تاسو ماته جهګړا راوړې او کيدې شی چه په تاسو کښې څوک خپل دليل پيش کولو کښې د ربنتونی سړی نه زيات تيز وی نو زه خو به د خپل اوريدو مطابق فيصله کوم“.

ددې حديث نه ثابتيږی چه دعوی کوؤنکې (اګرچه په دروغه وی) او په خپل دليل پيش کولو کښې د ربنتونی سړی نه زيات تيز (چالاک) کيدې شی او فيصله خو به دهغه جهګړمار د خبرو اترو

مطابق کيږی. لهذا ضروری ده چه داعی دمدعو دحالاتو نه واقف وی.

۳: ددعوت پيش کولو انداز اوکيفيت نه هم داعی ته بصيرت حاصلول پکار دی.

د الله تعالی ارشاد دې:

اُدۡعُ اِلٰی سَبِیۡلِ رَبِّکَ بِالۡحِکۡمَۃِ وَ الۡمَوۡعِظَۃِ الۡحَسَنَۃِ وَ جَادِلۡهُمۡ بِالَّتِیۡ هِیَ اَحۡسَنُ۔

[النحل:۱۶/۱۲۵]

”اې نبی! تاسو د خپل رب لارې طرف ته حکمت او ښه نصيحت سره دعوت ورکوئ او(کله چه دبحث موقع راشی) نو هغوی سره په بهترين طريقه باندې بحث کوئ“.

څه خلق بدئ لره وويني.... په هغې کښې ورپريوځی او دهغې نه دپيدا کيدونکې انجام متعلق څه سوچ نه کوی.... نه خو دخپل ځانله کيدو په باره کښې او نه د(مدعو) متعلق او نه حق طرف ته د رابللو دمثالونو طرفته توجه کوی. لهذا دداعی دپاره ضروری ده چه په جوش کښې دراتلو نه مخکښې دهغې نتيجو طرفته اوګوره. زما داعی رونړو دحکمت او موعظت استعمال ډيرمحبوب کيدل پکاردی او که په څه معامله کښې لږ شان هم روستوالې اوشی نو ان شاء الله انجام به ډير ښه وی.

## آيا دعلم دخزانې نه بغير ددعوت کار کيدې شی؟

کله چه دداعی الی الله توښه صحيح علم وی چه دکتاب الله او سنت رسول صلی الله عليه وسلم باندې مبنی وی،نودا خبره دشرعی نصوص په رو سره مطلوب او مقصود ده او همدا خبره د واضح عقلی دلائلو جان دې ځکه چه په هغې کښې د شبهاتو او شهواتو ګډون نه وی.

تاسو دالله تعالی ذات اقدس طرفته څنګه دعوت ورکولې شئ،هرکله چه ته دهغې طریقه (لاره) نه پیژنې، کچرې تاسو شریعت الٰهی لره نه پیژنې نو بیا صحیح داعی څنګه جوړیدې شئ؟

زمونږ همدا مقصد دې چه داعی سرهددې علم موجود وی، مونږدا نه وایو چه هغه دې دزیات علم حاصلولو سره د دعوت په میدان کښې راکوز شی،صرف دا مقصد دې چه کوم څه هغه بیان کړی دهغې متعلق دې هغه سره پوره پوره علم وی او کوم څه باندې چه هغه نه پوهیږی دهغې متعلق دې خبره نه کوی.

**دویم صفت "صبر":**

دداعی دطریق کار دویم صفت دادې چه ......

١: هغه په خپل دعوت.... باندې صبرکوؤنکې وی.

٢: کوم طرفته چه هغه دعوت ورکوی په هغې باندې هم صبر کوؤنکې وی.

٣: دهغه په دعوت باندې چه کوم اعتراض وی،په هغې هم صبر کوؤنکی وی.

٤: ددعوت په دوران کښ راپیش شوې تکالیف هغه ته مخې ته راځی په هغې باندې صبرکوؤنکی وی.

په دعوت باندې دصبرکولو مطلب دادې چه ددعوت په کار باندې همیشه والې اختیارکړی،هغې لره منقطع نه کړی او نه ددې نه ستړې شی بلکه خپل دعوت لره مسلسل جاری اوساتی( څومره چه په هغه کښې وس وی) او په مختلف میدانونو کښې دعوت نفع ورکوؤنکی څه قدرې بهتر اوزیات مؤثر ثابت شی.

د دعوت په کار باندې دصبرمظاهره کولو سره دهغې نه سترې نه شی، ځکه چه د سترې کیدو په صورت کښې انسان غمژن کیدو سره دعوت لره پرېږدی. خو کله چه هغه په باقاعدګئ سره دې کار لره کوی نو یو طرفته خو هغه د صابرینو د اجر مستحق وی او هغه بل طرفته بهترین انجام مومی. نو الله تعالی خپل نبی ته چه کوم حکم ورکړې دې هغه په غور سره واورئ:

تِلْكَ مِنْ اَنْۢبَآءِ الْغَيْبِ نُوْحِيْهَآ اِلَيْكَ مَا كُنْتَ تَعْلَمُهَآ اَنْتَ وَلَا قَوْمُكَ مِنْ قَبْلِ هٰذَا فَاصْبِرْ اِنَّ الْعَاقِبَةَ لِلْمُتَّقِيْنَ۔ [هود:۱۱/۴۹]

"اې رسول صلی الله علیه وسلم! دغیب په خبرو کښې دا څو خبرونه دی چه مونږ ئې ستاطرف ته وحی کوو.ددې نه مخکښې ته ددې خبرو نه واقف نه وې اونه ستاقوم(اې رسولﷺ د کافرانو په تکلیف رسولو باندې) تاسو صبر اوکړئ( دکافرانو انجام به ښه نه وی) ښه انجام خو د متقیانو خلقو به وی"۔

انسان له پخپل دعوت باندې په اعتراضاتو اوجهګړو باندې صبر کول پکاردی ځکه چه کوم انسان هم ددعوت الی الله کار کوی په هغه به اعتراضات ضرور کیږی ترددې چه انبیاء هم ددې نه شی بچ کیدی. دالله تعالی فرمان دې:

وَكَذٰلِكَ جَعَلْنَا لِكُلِّ نَبِيٍّ عَدُوًّا مِّنَ الْمُجْرِمِيْنَ وَكَفٰى بِرَبِّكَ هَادِيًا وَّنَصِيْرًا۔

[الفرقان:۲۵/۳۱]

"او (اې رسولﷺ څنګه چه دا کافران ستاسو دشمنان دی) دغه شان مجرمانو لره مونږ د هرنبی دشمنان جوړ کړې وو( او اې رسولﷺ) ستاسو رب هادی او مددګار کیدو په لحاظ سره ستاسو دپاره کافی دې".

د هررښتونې دعوت مخالفین ضرور وی او دهغې مخې ته د رکاوټونو، جهګړو او مشکلاتو غر اودرولې شی. په دې ټولو صورتونو کښې په داعی باندې واجب دی چه هغه په خپل دعوت باندې د پیش کیدونکی اعتراضاتو مخې ته صبر اوکړی. تردې چه دې دعوت لره غلط اوباطل ولې نه ګنړلې کیږی،خو که هغه ګنړی چه دده دعوت دکتاب الله اوسنت رسول صلی الله علیه وسلم د تقاضو مطابق دې نو هغه له په هرحال کښ په دې باندې صبر کول پکار دی. د سیداسماعیل شهیدرحمه الله متعلق بیان کولې شی چه هغه یو ورځ دخپل دوست مولوی رستم علی سره په چاندنی چوک کښې تیریدلو چه یو پهلوان سیدصاحب ته کنځل شروع کړل.په دې باندې مولوی رستم علی صاحب ته غصه راغله او توره ئې راوستله او هغه پسې ئې منډه کړه سیدصاحب د مولوی رستم علی صاحب لاس اونیولو. او وې فرمائیل چه : میاں رستم علی! څه کوئ؟ هغه کنځل بې ځایه نه کوی بلکه هغه ټهیک وائی،ځکه چه هغه دا وائی"دا (مولوی اسماعیل) ډیربددین دې چه نوې نوې خبرې راوباسی" بس په دې کښې هغه څه بې ځایه (بده خبره) کوی؟ زما خبرې خو ددوی دپاره واقعی نوې دی.

علماؤ دا خبرې دې بې چارو ته چرته اوروِلی دی، بیابه دوی ته ولی نوې نه معلومیږی او کنځل به ولې نه کوی." د سید شهیدرحمه الله ددې خبرې په هغه پهلوان باندې دا اثر اوشو چه هغه دهغه ورځ نه دهغوی دوست جوړشو. [روایات الطیب]

په دې واقعه کښې د صبر،حکمت،پوهې ټول څیزونو سبقونه ټول یوځاې جمع دی. ددې معنی داده چه که ددوی خبره د حق نه خلاف وی( او هغوی ته پته هم اولګی) نو بیادې هم په خپله خبره او

دعوت باندې ټينګ وی ،ځکه دحق خبرې د ښکاره کيدو نه پس چه کوم داعی په غلطه خبره باندې ټينګ وی ،نو د الله تعالی ددې فرمان مصداق به وی:

يُجَادِلُوْنَكَ فِي الْحَقِّ بَعْدَمَا تَبَيَّنَ ۔ [انفال:٨/٦]

"اے رسول صلی الله عليه وسلم! هغه خلق د حق ښکاره کيدو نه پس دحق په معامله کښې تاسو سره بحث کولو ګويا چه هغوی لره دهغوی په سترګو ليدو سره د مرګ خُلې ته غورزولې شی".

دحق ښکاره کيدو نه پس په دې کښې جهګړا کول يو مذموم صفت دې په دې سره دمتصف کيدو په باره کښې د الله تعالی ارشاد اوګورې:

وَمَنْ يُّشَاقِقِ الرَّسُوْلَ مِنْ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُ الْهُدٰى وَيَتَّبِعْ غَيْرَ سَبِيْلِ الْمُؤْمِنِيْنَ نُوَلِّهٖ مَا تَوَلّٰى وَنُصْلِهٖ جَهَنَّمَ وَسَآءَتْ مَصِيْرًا۔ [النساء:٦/١١٥]

"او کوم سړې چه دهدايت ښکاره کيدو نه پس د رسول مخالفت کوی او دمومنانو د لارې نه علاوه په بله لاره باندې لاړشی نومونږ هغه لره په هغه لار باندې روانوو کوم طرفته چه هغه دتلو دپاره رخ کړې دې. بيابه مونږهغه لره دوزخ ته داخل کړو او هغه ډير بد ځاې دې".

اې داعی!... که ستاپه دعوت باندې څوک صحيح اعتراض اوکړی نوپه تاباندې رجوع کول،(منل) ضروری او واجب دی او که اعتراض باطل او غلط وی نوستاددعوت په جاری پاتې کيدو ذره برابر هم ګډوډوالې نه دی راتلل پکار.

## ددعوت په نتيجه کښې په انبياؤباندې د مصيبتونوغرونه:

دغه شان داعی لره د خپل دعوت په سلسله کښې راپيښيدونکی تکاليفو باندې هم صبر کول پکاردی ځکه چه داعی لره په لازمی

طور باندې قولی او فعلی تکلیفونو سره به مخ کیدل پریوځی تردې چه پیغمبرانو ته هم قولی اوفعلی تکلیفونه ورکړې شوې وو.دهغې متعلق دالله تعالی فرمان اولولئ:

كَذٰلِكَ مَا أَتَى الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ مِنْ رَّسُوْلٍ إِلَّا قَالُوْا سَاحِرٌ أَوْ مَجْنُوْنٌ۔[الذاريات:۵۱/۵۲]

"همداسې کیږی چه د دوی نه مخکښنی قومونو ته هم څوک رسول داسې نه دې راغلې چه هغه ته دا نه وی وئیلې شوې چه دا ساحر دې یامجنون دې".

تاسو به څنګه محسوسوئ؟ چه چاته دهغه درب د طرف نه وحی راځی او هغه ته مخامخ اوئیلې شی چه "ته خو جادوګر یا لیونې ئې" لازمًا به هغه ته تکلیف کیږی. دهغې باوجود پیغمبرانو دخلقو په تکلیف ورکوؤنکی خبرو باندې صبراوکړو او د هغوی په تکلیف ورکوؤنکی افعالو باندې ئې هم دصبر مظاهره اوکړه.د ټولو نه مخکښې پیغمبرنوح علیه السلام طرف ته اوګورئ چه دکشتئ جوړولو په وخت دهغه قوم دهغه خوا کښې تیریدو باندې به مذاق کولو نو هغه به په جواب کښې وئیل :

اِنْ تَسْخَرُوْا مِنَّا فَاِنَّا نَسْخَرُ مِنْكُمْ كَمَا تَسْخَرُوْنَ فَسَوْفَ تَعْلَمُوْنَ مَنْ يَّأْتِيْهِ عَذَابٌ يُّخْزِيْهِ وَيَحِلُّ عَلَيْهِ عَذَابٌ مُّقِيْمٌ۔ [هود:۱۱/۳۸،۳۹]

"کله چه نوح علیه السلام کشتئ جوړول شروع کړل) نوکله چه به دهغه دقوم خلق هغه سره تیریدل نو دهغه مذاق به ئې اوچتولو، نو د هغوی دمذاق په جواب کښې به ئې وئیل کچرې تاسو دا وخت زما مذاق اوچتوئ نو(یووخت راتلونکې دې کله ) به چه مونږ ستاسو مذاق اوچتوو. هغه وخت لرې نه دې کله چه تاسو ته معلومه شی چه رسوا کوؤنکې عذاب به په چا باندې نازلیږی او د همیشه په عذاب کښې به څوک مبتلا کیږی".

اومعامله صرف په مذاق کولو باندې موقوف نه شوه بلکه قوم هغه ته دقتل دهمکیانې هم ورکړې اوګورئ:

قَالُوا۟ لَئِن لَّمْ تَنتَهِ يَـٰنُوحُ لَتَكُونَنَّ مِنَ ٱلْمَرْجُومِينَ [الشعراء:۲۶/۱۱۲]

هغوی اووئیل : "اې نوحؑ! کچرې ته دتبلیغ کولو نه منع نه شوئ نو بیا سنګسار به کړې شې".

یعنی تابه په کاڼړو ویشتلو ویشتلو سره قتل کړو. د قتل د دهمکیانو سره سره دا دهمکیانې هم ورکړې شوې(خپل عزت او غلبه ښکاره کولو سره ئې) اووئیل چه مونږ ستانه سیوا نور نور ډیر رسولان په کاڼړو ویشتلې دی، نو ته هم د هغوی نه ئې،خو ددې ټولو دهمکو باوجود هم ددعوت په سلسله کښې د نوح علیه السلام خپې لړې هم اونه خودیدلې،بلکه هغوی خپل دعوت جاری اوساتلو،تردې پورې چه الله تعالی دهغه او اودهغه قوم په مینځ کښې فیصله اوکړله.

دحضرت ابراهیم علیه السلام قوم (دهغوی ددعوت نه) انکارکولو سره دهغوی مقابله اوکړه بلکه په خلقو کښې داسې مشهور کړې شو:

قَالُوا۟ فَأْتُوا۟ بِهِۦ عَلَىٰٓ أَعْيُنِ ٱلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَشْهَدُونَ [الانبیاء:۲۱/۶۱]

"دقوم خلقو اووئیل چه اوئې نیسې او رائې ولې دټولو خلقو مخکښې دې دپاره چه خلق اووینی".

بیا هغوی ته د ژوندی سوزولو دهمکی ورکولو سره ئې اووئیل :

قَالُوا۟ حَرِّقُوهُ وَٱنصُرُوٓا۟ ءَالِهَتَكُمْ إِن كُنتُمْ فَـٰعِلِينَ [الانبیاء:۲۱/۶۸]

دقوم خلقو اووئیل :

"که چرې تاسو څه کول غواړۍ نودې (ابراهیم) لره اوسوزوئ او (دغه شان) دخپل معبودانو مدد اوکړئ".

لهذا هغوی ډیرزیات اُور بل کړو او د ډیر زیات ګرموالی او لرې والی په وجه ئې دمنجنیق په ذریعې سره په هغې اُور کښې ئې اورغورزولو،خو الله رب العزت اُور ته حکم اوکړو:

قُلْنَا يَا نَارُ كُونِي بَرْدًا وَسَلَامًا عَلَىٰ إِبْرَاهِيمَ - [الانبیاء:۲۱/۶۹]

مونږ اووئیل :" اے اُوره! په ابراهیم علیه السلام باندې یخ او سلامتیا والا جوړ شه".

نو اُور په هغوی باندې یخ او سلامتیاوالا شو او هغوی ترینه بچ راوتلو او دانجام بهتری د ابراهیم علیه السلام په حصه کښ راغله. بل طرف ته حضرت موسی علیه السلام لره (دحق دعوت ورکولوپه جرم کښې) فرعون دقتل دهمکی ورکولو سره اووئیل: ذَرُونِي أَقْتُلْ مُوسَىٰ وَلْيَدْعُ رَبَّهُ إِنِّي أَخَافُ أَنْ يُبَدِّلَ دِينَكُمْ أَوْ أَنْ يُظْهِرَ فِي الْأَرْضِ الْفَسَادَ - المؤمن:۲۶]

"پریږدئ ما،زه دې موسی لره وژنم او آواز دې اوکړی خپل رب ته، ماته یره چه (دې دخپل دعوت وتبلیغ په ذریعې سره) به ستاسو دین بدل کړی یا به په ملک کښې فساد خور کړی".

فرعون موسی علیه السلام ته دقتل دهمکی خو ورکړه خو آخر داچه دخیرانجام دموسی علیه السلام په حصه کښې راغلو. اوس دعیسی علیه السلام حال واورئ، چه هغوی ډیر تکلیفونو سره مخ شوې وو. تردې پورې چه یهودو هغوی ته د زانیې د ځوی کیدو تهمت پرې اولګولو او هغوی په خپل ګمان کښې هغه لره قتل هم کړو خو الله تعالی فرمائی :

وَمَا قَتَلُوهُ وَمَا صَلَبُوهُ وَلَٰكِنْ شُبِّهَ لَهُمْ وَإِنَّ الَّذِينَ اخْتَلَفُوا فِيهِ لَفِي شَكٍّ مِنْهُ مَا لَهُمْ بِهِ مِنْ عِلْمٍ إِلَّا اتِّبَاعَ الظَّنِّ وَمَا قَتَلُوهُ يَقِينًا بَلْ رَفَعَهُ اللَّهُ إِلَيْهِ وَكَانَ اللَّهُ عَزِيزًا حَكِيمًا -

[النساء:۴/۱۵۸،۱۵۷]

هغوی اووئیل: مونږ دالله رسول عیسیٰ بن مریم لره قتل کړو حالانکه نه ئې هغه قتل کړو او نه ئې ورته پهانسی ورکړه بلکه دهغوی دپاره (بل سړی ته دعیسیٰ علیه السلام) شکل ورکړې شو (اوهغوی هغه دهغه په شکل کښې قتل کړو نه چه عیسیٰ علیه السلام لره)بیشک چه کوم خلق اوس هم دهغوی د قتل متعلق اختلاف کوی. هغوی په شک او شبهه کښې پراته دی.هغوی ته په دې سلسله کښې مطلق څه علم نشته هغوی صرف د وهم اوګمان تابعداری کوی (یقینی علم خو الله تعالی ته دې او هغه وائی چه) یقینًا دې خلقو عیسیٰ علیه السلام لره قتل نه کړو.بلکه هغه لره خو الله تعالی ژوندې اوچت کړو(او داکا دالله تعالی دپاره څه مشکل دې) هغه غالب دې(هرکار کولې شی او هغه) حکیم دې(دهغه ژوندې اوچتول دالله تعالی په حکمت او مصلحت باندې مبنی دی)۔

دلته الله دانبیاؤ دامام،خاتم الرسل او د بنی آدم د سردار محمدرسول الله صلی الله علیه وسلم په باره کښې الله تعالی فرمائی :

وَاِذْ يَمْكُرُ بِكَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لِيُثْبِتُوْكَ اَوْ يَقْتُلُوْكَ اَوْ يُخْرِجُوْكَ وَيَمْكُرُوْنَ وَيَمْكُرُ اللّٰهُ وَاللّٰهُ خَيْرُ الْمٰكِرِيْنَ ۔ [الانفال:۸/۳۰]

”او کله چه منکرین حق ستاخلاف تدبیرونه سوچ کول (او اے رسولؐ!) هغه وخت یادکړه کله چه کافرانو ستاسو دپاره خفیه تدبیرونه کول چه یاخو تاسولره قیدکړی یا تاسو قتل کړی یاتاسو لره جلاوطن کړی. هغوی خپل تدبیرونه کول او الله تعالی خپل تدبیرکولو او الله دټولو نه بهترتدبیر کولو والا دې“.

ددې واقعاتونه پته لګی چه هرداعی ته تکلیفونه ضرور به رسیږی[داعی چه کله دالله کریم په لاره کښې مشکلاتو اوتکالیفولره

بغیر داُف کولو نه، بغیردخه شکوې شکایت کولو نه په خوشحاله تندی سره برداست کوی،په مصیبتونو، تکلیفونو باندې صبر کوی،د زړه نه تنګولو په ځاې د حق دلارې نه ګمراه شوی او مخ اړونکی افرادو ته په دعوت ورکولو کښې خپل مال خرچ کوی او وخت خرچ کوی.د نبوّت د ژبې نه داسې خلقو ته د پسخیدو پاکیزه جذبات او ترغیبات ذکرشوې دی.دداسې داعیانو دپاره رسول رحمتؐ فرمائیلې دی:

”قابل دپسخیدو خو صرف دوه سړی دی: (۱) یو هغه چه الله تعالی ورته مال ورکړې وی او هغه دحق په لاره کښې الوزوی.(۲) او دویم هغه چالره چه الله تعالی دحکمت نعمت ورکړې وی او دهغه دهغې په ذریعه سره په خلقو کښې فیصله اوکړی او خلقو ته دهغې تعلیم(او دعوت) ورکړی“. [بخاری:کتاب العلم]

لهذا ده له په هغې باندې صبرکول پکاردی. هم په دې کښې کامیابی ده.

## د فرمان الهی نه یو باریکه نکته:

په دې وجه چه کله الله تعالی خپل رسول صلی الله علیه وسلم ته اوفرمائیل :اِنَّا نَحۡنُ نَزَّلۡنَا عَلَیۡكَ الۡقُرۡاٰنَ تَنۡزِیۡلًا۔ [دهر:۳۳/۷]

”اې نبی صلی الله علیه وسلم! مونږ په تاسو باندې دا قرآن لږ لږ کولو سره(په مزه مزه) نازل کړې دې“.

امید کولې شی چه الله تعالی به ددې آیت نه پس داسې ارشاد اوفرمائی چه :

ددې قرآن په نازل کیدو باندې دالله تعالی دنعمت شکر ادا کړئ خو الله تعالی هغوی ته داسې ارشاد اوفرمائیلو :

فَاصۡبِرۡ لِحُکۡمِ رَبِّكَ ۔ [دهر:۲٤/۷٦]

”لهذا ته دخپل رب په حکم باندې صبرکوه“.

(په دې آيت کښې) ئې دې خبرې طرفته اشاره اوفرمائيله چه څوک هم دې قرآن لره واخلي اودريږی(ددې دعوت ورکوی) نو هغه ته به دداسې امورو سره مخامخ کيدل وی.لهذا دداعی دپاره ضروری ده چه هغه زيات صبر کوؤنکې وی اوخپل دعوت لره مسلسل جاری ساتونکی وی. تردې پورې چه الله تعالی دهغه په حق کښې فيصله اوکړی.او دا ضروری نه ده چه دا الٰهی فيصله دهغه په ژوند کښې اوشی بلکه داسې هم کيدې شی چه دهغه دعوت دهغه نه پس خلقو کښې واضح شی او تابعداری شروع کړی. لهذا شخصيت ضروری نه دې بلکه دعوت ضروری دې.

## د مرګ نه پس هم ژوندې اوسيدو والا:

بس کله چه دچا دعوت باقی دې اګرچه دهغه دمرګ نه پس ولې نه وی نو هغه ژوندې دې څنګه چه الله تعالی فرمائيلې دی:

**اَوَمَنْ كَانَ مَيْتًا فَاَحْيَيْنٰهُ وَجَعَلْنَا لَهٗ نُوْرًا يَّمْشِيْ بِهٖ فِي النَّاسِ كَمَنْ مَّثَلُهٗ فِي الظُّلُمٰتِ لَيْسَ بِخَارِجٍ مِّنْهَا ۔** [الانعام:٦/١٢٢]

”اې رسولؐ! دې کافرانو نه سوال اوکړه چه اوښايئ) چه آيا هغه سړې چه مړ وو بيامونږ هغه ژوندې کړو،بيا مونږ هغه ته نور ورکړو،چه دهغې رڼړا په وجه هغه دخلقو په مينځ کښې ګرځی راګرځی،نو داسې کس دهغه چا په شان کيدې شی چه په تيارو کښې ګير وی،بيادهغې نه وتلې نه شی(هيڅ کله نه،کافران دې خبرې لره نه منی وجه ددې صرف داده چه)چه کوم عمل دا کافران کوی هغه عملونه ددوی دپاره ښائسته کړې شوې دی(هغه عملونه دوی ته بدنه معلوميږی نو پريږدی به ئې څنګه)“۔

حقیقت کښې د داعی د ژونددامعنی نه ده چه دهغه په جسم کښ روح باقی دې بلکه دهغه مقالات(ددعوت پروګرام اودهغه ددعوت مثبت اثرات) په خلقوکښې باقی پاتې کیدل د هغه د ژوند همیشوالې دې. (یعنی دمرګ نه پس دهغه ددعوت اثرات ژوندی پاتې کیدل هم هغه لره په دنیاکښې ژوندې ساتی).

هرقل (د روم باچا) سره دسیدناابوسفیان رضی الله عنه په بیان باندې غور اوکړئ.

کله چه هغه ته په اوومه هجرئ کښې راغلو او هرقل ته دهغه د راتلو پته اولګیده. هرقل ته دنبی کریم صلی الله علیه وسلم د هجرت (دمکې نه دوتلو) پته لګیدلې وه. نو سیدنا ابوسفیان رضی الله عنه لره ئې راوغوښتلو اودنبی کریم صلی الله علیه وسلم په باره کښې ئې تپوس اوکړو. دهغوی دذات بابرکت،اودهغوی دنسب اوخاندان په باره کښې دنبی علیه السلام ددعوت متعلق او دهغوی دصحابه کرام رضی الله عنهم اجمعین په باره کښې ئې تپوس اوکړو.کله چه سیدنا ابوسفیان رضی الله عنه دهرقل دسوالاتو جواب ورکړو نو هرقل متاثر کیدو سره اووئیل : ”کچرې ستا بیان رښتونی دې نو زر ده (ستاسوپیغمبر)به زما ددې شاهی تخت وتاج مالک جوړشی“.

[بخاری: کتاب بدء الوحی،مسلم : کتاب الجهاد]

سبحان الله! څوک تصور کولې شی چه(دخلقو د وینامطابق) یو رعب والاحکمران باچا داسې قسمه الفاظ دمحمدصلی الله علیه وسلم په باره کښ وائی هغه هم هغه وخت هرکله چه جزیره عرب دشیطان دپنجې او تسلط نه آزاده نه وو. هرکله چه ابوسفیان دهرقل ددربار نه اووتلو نوخپل قوم ته ئې اووئیل چه ”هرقل ابن ابی کبشه ته دیو لوې عظیم خبرې خبر ورکړې دې“.

آخر داچه نبی علیه السلام دخپل دعوت په ذریعه سره د هرقل دملک روم مالک جوړ شو هرکله چه دنبی علیه السلام دعوت دې زمکې ته راغلو نو بت پرستی،شرک او شرک والا ټول په ټول ختم او فناء شو او دمحمدصلی الله علیه وسلم نه پس خلفاء راشدین ددې زمکې مالکان جوړ شول....صرف دنبی کریم صلی الله علیه وسلم ددعوت او شریعت په برکت سره.

کله چه داعی په خپل دعوت کښې مخلص او رښتونی وی او دصبر مظاهره کوی نو دانجام خیر اوښیګړه به دهغ مقدر وی خواه دهغه په ژوند کښې وی یادهغه دمرګ نه پس.

**دریم صفت "حکمت"**:

په داعی الی الله کښې دریم صفت داکیدل پکار دی چه پخپل دعوت کښې دحکمت اړخ لره اول اوساتی ځکه چه دا قسمه دعوت بغیر دحکمت والا دعوت نه زیات مؤثردې. [حکمت ددې امر تقاضاکوی چه مخاطب سره دهرقسمه جارحیت باوجود دډیر صبر اوحوصلې نه کار واخلی نه چه دسختې جواب په کاڼړی ورکړې شی.]ددې اثرات ښه نه ښکاره کیږی. دسیده عائشه رضی الله عنها نه روایت دې چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل : الله کریم نرمۍ لره خوښوی او دنرمۍ جواب باندې چه کوم ثواب ورکوی، هغه په سختۍ باندې نه ورکوی او نه دنرمۍ نه سوا په څه بل څیز باندې ورکوی. [مسلم: کتاب البر والصلة]

"دغه شان دسیده عائشه رضی الله عنها نه روایت دې چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل: الله کریم نرمی کوؤنکې دې او په ټولو امورو کښې نرمی خوښوی". [بخاری]

بهر حال ددعوت اوله غوټه "حکمت" دويمه "ښه نصيحت" او دريمه " زياتى نه کوؤنکى سره په ښه اوښکلې انداز کښ بحث" بياظالم سره"بحث مباحثه". دا د دعوت ورکولو څلور مرتبې شوې څنګه چه الله تعالى فرمائيلې دى:

اُدۡعُ اِلٰى سَبِيۡلِ رَبِّكَ بِالۡحِكۡمَةِ وَالۡمَوۡعِظَةِ الۡحَسَنَةِ وَجَادِلۡهُمۡ بِالَّتِىۡ هِىَ اَحۡسَنُ۔

[النحل:١٦/١٢٥]

" (اے رسول صلى الله عليه وسلم)تاسو دخپل رب لارې طرفته حکمت او ښه نصيحت سره دعوت ورکوئ او (کله چه دبحث موقع راشى نو) هغوى سره په بهترين طريقه باندې بحث اوکړئ".

په يو بل مقام باندې الله تعالى فرمائيلې دى:

وَلَا تُجَادِلُوۡۤا اَهۡلَ الۡكِتٰبِ اِلَّا بِالَّتِىۡ هِىَ اَحۡسَنُ اِلَّا الَّذِيۡنَ ظَلَمُوۡا مِنۡهُمۡ۔

[العنکبوت:٢٩/٤٦]

"او هل کتابو سره بحث مه کوئ مګر ښه طريقه سره،سوا دهغه خلقو نه چه په دوى کښ ظالمان دى".

## حکمت څه څيز دې؟

ټولو کارونو لره په ښه طريقه سره سرته رسول حکمت دې او د دې حکم دا دې چه ټولو کارونو لره د هغوى د مرتبو مطابق سرته رسول او د هغې په اصل مقاماتو باندې ايخودل. په حکمت کښې دا نه چه ته جلد بازى اوکړې او د خلقو نه دا اميد اوساتئ چه هغوى دى خپل حالت لره بدلولو سره د مازيګر نه سحر پورې وخت کښ دصحابه کرامو رضى الله عنهم اجمعين په شان حالت باندې راشى.کوم سړې چه د دې خبرې تمنا کوى هغه په عقلى طور باندې بې وقوف دې او دحکمت د وصف نه خالى دې، او د الله تعالى حکمت هم ددې خبرې

نه انکار کوی چه دا کار داسې اوشی. دې سره سره دې دا هم په ذهن کښې اوساتلې شی چه په محمدصلی الله علیه وسلم باندې کتاب وشریعت په مزه مزه نازل کړې شوې دې تردې چه هغه په زړونو کښې مستحکم او مکمل شو."مونځ" دمعراج په موقعه باندې دهجرت نه مخکښې د دریو کالو په دوران کښې فرض شو او وئیلې شوې دی چه دیو نیم کال په دوران کښې او دا هم وئیلې شوې دی چه د پنځو کالو په دوران کښې، ځکه چه ددې متعلق په علماؤ کښې اختلاف دې. او ددې نه باوجود هم په خپل اصل حالت کښې فرض شوې نه وو.

د ټولو نه مخکښې ماسپخین،مازیګر،ماسخوتن او دسحر دوه دوه رکعتونه او د ماښام درې رکعته وو،ځکه چه دا دورځې وتردی.... د هجرت نه پس او په مکه مکرمه کښې د رسول الله صلی الله علیه وسلم دیارلس کاله ژوند تیرولو نه پس دحضر مونځ زیاتیدو سره دماسپخین،مازیګر او ماسخوتن څلور رکعته کړې شواودسحر مونځ په خپل حالت باندې پاتې شو.(دوه رکعته) ځکه چه په دې کښې اوږد قرأت کیږی او د مغرب هم درې رکعته پاتې شو ځکه چه دا د ورځ وتر دی او زکوة په دویمه هجرئ کښې مقررکړې شو یا په مکه کښې فرض کړې شو، خو د دې دنصاب او واجب کیدو فیصله یوې مودې پورې نه وه کړې شوې او نه نبی علیه السلام عاملین دزکوة اخستلو دپاره څوک لیږلې وو خو په نهمه هجرئ کښې.بس زکوة په درې مرحلو کښې مرتب شو.

١- په مکه کښې "وَآتُوحَقَّهُ يَوْمَ حَصَادِهِ" [الانعام:١٤١/٦] "او دالله حق ادا کړئ کله چه د هغه فصل کټ کړئ". نه خو ددې واجب کیدل بیان شو او نه هغه مقدار دکوم نه چه زکوة ویستل واجب دی او دا معامله په

خلقوباندې پرېځودلې شوه او په دويمه هجرئ کښې د زکوة نصاب بيان کړې شو او په نهمه هجرئ کښ نبي عليه السلام عاملين د څاروؤ او ميوؤ مالکانو طرف ته دزکوة اخستلو دپاره اوليږل. الله احکم الحاکمين د شريعت په نافذ کولو کښې دخلقو دحالاتو څومره قدرې رعايت فرمائيلې دې لږ غور خو اوکړئ.

دغه شان روژې (چه په مونږ باندې پټې نه دی) په شريعت کښې مرحله وار فرض شوې.

د ټولو نه مخکښ انسان ته اختيار ورکړې شو چه که هغه غواړی نو روژې دې اونيسی او که غواړی نو په چادې خوراک اوکړی. بيا روژې مقرر (فرض) کړې شوې او خوراک خوروَل د هغه سړی دپاره پاتې شو چه د روژې نيولو طاقت نه لری او دا صورت ترننه پورې قائم دې. زه وايم چه حکمت ددې خبرې نه انکار کوی چه ددنيائې عالَم لره دمازيګر نه سحر پورې بدلولې کيدې شی. ددعوت په کار کښې وخت خرچ کول لازمی دی.

اې داعی!... ته د خپل رور طرفته متوجه شه چاته چه ته دعوت ورکوئ چه هغه سره حق څومره دې؟ او دې سره په مزه مزه ځه،تردې چه ته هغه لره دباطل نه بالکل بيزاره کړې. تاسره اوسيدونکی خلق يو شان استطاعت ذهانت والا نه دی، جاهل او ضدی(سرکش) کښې فرق وی.

**د رسول ﷺ د دعوت څو نمونې:**

مناسب معلوميږی چه زه تاسو ته درسول الله صلی الله عليه وسلم د دعوت پيش کولو څو نمونې بيان کړم :

**اول مثال:**

یو بانډیچې راغلو او نبی علیه السلام دخپل صحابه کرام رضی الله عنهم اجمعین سره په مسجد کښې ناست وو. بس بانډیچې د جماعت په یو ګوټ کښې متیازې اوکړې،خلقو (صحابه کرام رضی الله عنهم) هغه لره اورټلو او نبی علیه السلام (چاته چه الله تعالی دحکمت ډیرحصه ورکړې وه) هغه خلقو لره د رټلو او بدرد وئیلو نه منع کړل..............کله چه هغه پوره متیازی اوکړې نو نبی علیه السلام حکم اوکړو چه دده په بولو(متیازو) باندې د اوبو یو ډول واړوئ. پلیتی ختمه شو. بس اوس هغوی بانډیچې لره په مینه راوغوښتلو او ورته ئې اووئیل:

اِنَّ هٰذِهِ الْمَسَاجِدَ لَا يَصْلَحُ فِيْهَا شَيْئٌ مِنَ الْاَذٰى اَوِالْقَذِرِ اِنَّمَا هِيَ لِلصَّلٰوةِ وَقِرَآءَ ةِ الْقُرْآنِ [مسلم: کتاب الطهارة]

زما روره! "دا جماعتونه دی په دې جماعتونو کښې ګندګی او پلیتی مناسب نه وی. دا خو صرف دمونځ او قرآن لوستلو دپاره وی".

په دې ښه سلوک سره د اعرابی(بانډیچې) سینه د اسلام قبلولو دپاره کهلاؤ شوه(او هغه کلمه اووئیله مسلمان شو) ما دبعضې اهل علمو نه اوریدلې دی چه هغه بانډیچې اووئیل:

"اے الله ! په مااو په محمدرسول الله صلی الله علیه وسلم باندې رحم اوکړه او زمونږ سره په چا باندې رحم مه کوه".

ځکه چه محمدرسول الله صلی الله علیه وسلم دهغه سره ښه سلوک کړې ووهرکله چه صحابه کرام رضی الله عنهم اجمعین دپلیتئ ختمولو دپاره خپل کوشش کړې وو، بیاهم هغوی دهغه جاهل سړی دحال نه پوره واقف نه وو.

**دويم مثال:**

سيدنا معاويه بن الحکم رضی الله عنه راغي او نبی علیه السلام خلقوته مونځ ورکولو. په خلقو کښې يو کس ته انتروشکی راغي. لهذا هغه فوری طور باندې الحمدلله اووئيلو،ځکه چه نبی علیه السلام فرمائيلي وو چه کله په مونځ کښې په تاسو کښې چاته انتروشکې راشی. نو الحمدلله وئيل پکار دی.خواه په قيام کښې وی يا رکوع کښې يا په سجده کښې. نو سيدنامعاويه رضی الله عنه په جواب کښې يرحمک الله اووئيلو(دا حرکت دسړي دمونځ دباطل کيدو علامت وو)خلقو معاويه رضی الله عنه ته په برندو سترګو سره اوکتل. معاويه رضی الله عنه اووئيل هائې! چه زما مور زه ورک کړې ووم". [مسلم : کتاب المساجد]

دا کلمه سمدست وئيلي شی او ددې معنی مراد نه شی اخستلې او نبی علیه السلام هم داسې کلمه وئيلې وه کله چه سيدنامعاويه رضی الله عنه ته ئې وئيلي وو:

اَلَاۤ اُخۡبِرُكَ بِمِلَاكِ ذٰلِكَ كُلِّهٖ

"آيازه تاته دهغه عملونو اصل منبع(چشمې) خبر درنکړم.؟"

سيدنامعاذرضی الله عنه وائی ما اووئيل: يارسول اللهؐ! ولې نه. هغوی اوفرمائيل :

قَالَ كُفَّ عَلَيْكَ هٰذَا اَخَذَ بِلِسَانِهٖ وَقَالَ كُفَّ عَلَيْكَ فَقَالَ مَعَاذُ وَاِنَّا لَمُؤَاخَذُوْنَ بِمَا نَتَكَلَّمُ بِهٖ قَالَ ثَكِلَتْكَ اُمُّكَ يَا مَعَاذُ وَهَلْ يَكُبُّ النَّاسَ عَلٰى وُجُوْهِهِمْ اَوْ قَالَ عَلٰى مَنَاخِرِهِمْ اِلَّا حَصَائِدُ اَلْسِنَتِهِمْ۔

اې معاذه! خپله ژبه په قابوکښې ساته. معاذ رضی الله عنه اووئيل: آيا زمونږ نه به دخپلو خبرواترو په باره کښې تپوس کيږی؟(يعنی دقيامت په ورځ به زمونږ نه خپل مينځ کښې دخبرو اترو

حساب اخستلې کېږی) نبی علیه السلام اوفرمائیل:"چه مور دربانديې بُوره شه،خلقو لره به دهغوی دژبو په وجه سره په اُور کښې زوړوندولې شی".[ترمذی: کتاب الایمان،ابن ماجہ: کتاب الفتن]

بیاسیدنامعاویه رضی الله عنه خپل مونځ لره جاری اوساتلو اوکله چه ئې مونځ پوره کړو، نو نبی علیه السلام راوغوښتلو. سیدنامعاویه رضی الله عنه وائی په الله قسم! ماد تعلیم په ورکولو کښې دهغوی نه بهتر معلم نه دې لیدلې. (اې الله! په نبی صلی الله علیه وسلم باندې درود او سلام اولیږه) نو نبی علیه السلام نه ماسره په تریو تندی سره پیش شو او نه ئې زه اورټلم،بلکه نبی علیه السلام صرف دومره ارشاد اوفرمائیلو:

هٰذِهِ الصَّلٰوةُ لَا يَصْلَحُ فِيْهَا شَيْءٌ مِنْ كَلَامِ النَّاسِ اِنَّمَا هِيَ التَّسْبِيْحُ وَالتَّكْبِيْرُ وَقِرَآءَةُ الْقُرْآنِ، اَوْ كَمَا قَالَ۔

"بیشک مونځ کښې دخلقو د خبرونه څه څیز مناسب نه وی. په دې کښې خو صرف تسبیح،تکبیراودقرآن پاک تلاوت کیږی".

زړونو لره د اخستلو والا دعوت په انداز باندې غور اوکړئ، انسان هغه لره قبلوی هم او دهغه سینه هم ورته کهلاویږی.

**دریم مثال:**

یو کس نبی علیه السلام ته راغلو او وې وئیل: یارسول الله! زه هلاک شو نبی علیه السلام ورته اوفرمائیل ته څه څیز هلاک کړې؟ وې وئیل ما د رمضان دروژې په حالت کښې خپلې ښځې سره صحبت (کوروالې) کړې دې. دې اوریدو سره نبی علیه السلام هغه ته د یو څښ(غلام) آزادولو حکم ورکړو،په دې باندې هغه اووئیل زه خو ددې طاقت نه لرم بیانبی علیه السلام هغه ته حکم ورکړو مسلسل دوه

میاشتې روژې اونیسه. هغه اووئیل زه داهم نه شم کولې(زه کمزورې ضعیف یم) بیانبی علیه السلام هغه ته حکم ورکړو چه : شپیته مسکینانو باندې خوراک اوکړه. هغه اووئیل : زه دا طاقت هم نه لرم. (یعنی غریب او مسکین سړې یم په دې وجه به شپیتو مسکینانو ته دکوم ځاې نه خوراک ورکړم) ددې نه پس هغه سړې کیناستو (لږساعت پس دیو صحابی دطرف نه ) نبی علیه السلام ته کهجورئ پیش کړې شوې.هغوی هغه سړی ته اوفرمائیل : دا واخله او په خلقو کښې ئې تقسیم کړه،خو هغه سړی دنبی علیه السلام په سخاوت کښې طمع اوکړه ځکه چه هغوی دټول مخلوق نه زیات سخی وو)هغه سړې اووئیل : یارسول الله! آیا زه دې کهجورو لره دخپل ځان نه زیات محتاجوکښې تقسیم کړم؟ په الله قسم د دې دواړو وادیانو په مینځ کښې هیڅ یو کور زما نه زیات محتاج نشته دې (یعنی دغربت او فقیرئ په بناء باندې دنورو خلقو په نسبت زه ددې کهجورو زیات حق داریم) نبی علیه السلام مسکې شو،تردې پورې چه دنبی علیه السلام غاښونه ښکاره شول.ځکه چه داسړې په یره راغلې وو او وئیلې ئې وو چه زه هلاک شوم خو اوس ځی او څه ئې حاصل کړی هم دی،ځکه چه نبی علیه السلام اوفرمائیل چه (داکهجورئ ټولې په ټوله یوسه او)دې لره په خپل کور والوباندې اوخوروَه. [بخاری: کتاب الصوم]

لهذا اوس هغه سړې څه اوړلو سره خوشحاله روان وو. ددې دین اسلام په برکت سره او د ټولو نه اول دعوت ورکوؤنکی د(نبی کریم صلی الله علیه وسلم) په دې دین کښې د آسانئ پیدا کولو په وجه سره.

## څلورم مثال:

دې خبرې طرفته غور اوکړئ چه هغوی ګناه کوؤنکی سره څه قسم سلوک وکړو. یوسړې نبی علیه السلام اولیدلو چه دهغه په لاس کښې دسرو زرو ګوتمه ده نو نبی علیه السلام دهغه د لاس نه اوویستله او وې غورزوله او وې فرمائیل :

يَعْمَدُ أَحَدُكُمْ إِلَىٰ جَمْرَةٍ مِنْ نَارٍ فَيَضَعُهَا فِي يَدِهِ۔

"په تاسو کښې یوکس د اُور په سکروټه باندې بهروسه کولو سره هغې لره په خپل لاس باندې ایږدی".

په دې واقعه کښې نبی علیه السلام دمخکښې دوؤ سړو په شان معامله اونکړه بلکه دهغه دلاس نه ئې ګوتمه اویستله او وې غورزوله. هرکله چه نبی علیه السلام لاړو نو هغه ته اووئیلې شو چه خپل ګوتمه اوچته کړه او روستو ئې په استعمال کښې راوله فائده ترې اوچته کړه هغه جواب ورکړو. په الله قسم! زه دا ګوتمه نه شم نیولې کومې لره چه نبی علیه السلام اوغوزوله. [مسلم : کتاب اللباس]

الله اکبر! دصحابه کرام رضوان الله علیهم اجمعین څومره قدرې عظیم دتابعدارئ مثال دې. دداعی دپاره ضروری ده چه هغه د الله تعالی طرفته په حکمت سره راوبلی. جاهل دعالم په شان نه شی کیدې او ضدی دمنونکی په شان نه شی کیدلې. دهرموقعې په نسبت سره خبره کولې شی او دهرې مرتبې یوحالت وی.

## څلورم صفت "حسن اخلاق":

داعی لره په ښو اخلاقو سره ښائسته کیدل پکاردی او په هغه سړی باندې دهغه دعلم څه اثرات کیدل پکاردی.(په عقائدو عباداتو کښې دهغه په شخصیت او هیئت کښې او دهغه په ټولو طریقوکښې)

تردې چه دهغه دور مثالی وی... که داخبرې خلاف وی نو دهغه دعوت به فیل شی اګرچه په وختی طور باندې کامیابی معلومیږی ځکه چه دهغه کامیابی به برائے نام (او صرف عارضی) وی بس داعی دپاره ضروری ده چه دکومو خبرو دعوت ورکوی، په هغې به پخپل عمل کوی، په (معاملات،عبادات،اخلاق او په ټولو طریقو کښې) دې دپاره چه دهغه دعوت مقبول اوګرځی او دهغه خلقو نه نه شی په کومو سره چه دټولو نه مخکښې دجهنم اُور ګرمولې شی.

رونړو! کله چه مونږ دخپل حالاتو جائزه اخلو نو ضرور به محسوسو چه واقعی دکومو خبرو چه مونږ دعوت ورکوومونږ په هغې په خپله عمل نه کوواو بیشکه دا ډیر لوې نقصان دې(اې الله! مونږ ته توفیق راکړې چه مونږ ددې نه زیات صلاحیت والا جوړشو) ځکه چه دهرمقام په لحاظ سره خبره کولې شی. کله برتر څیز دکمې درجه وی او دڅه عواملو په وجه سره دکم درجې والاڅیز داعلی درجې خیال کولې شی.

رسول اکرم صلی الله علیه وسلم به بعضې اُمورو طرفته دعوت ورکولو او پخپله به په اهم امورو کښې مشغول کیدلو. کله به ئې دومره قدرې روژې نیولې چه وئیلې به شو چه کله به هم کوژه(بوزه) نه کړی اوکله به ئې دومره قدرې کوژه(بوزه) وه چه وئیل به شو چه کله به هم روژه نه نیسی. [بخاری: کتاب التهجد]

اې رونړو! زه غواړم چه داعی په هغه ټولو اخلاقو سره ښائسته وی چه دداعی دپاره د وس مطابق ضروری دی. تردې چه داعی په صحیح معنو کښې داعی جوړ شی دې دپاره چه دهغه خبره قبولیت ته عین نزدې شی.

**پنځم صفت "رکاوټونه لرې کوونکی وی":**

داعی له پکاردی چه خپل مینځ او دخلقو مینځ کښې حائل کیدونکی رکاوټونواو دیوالونو لره مات کړی.ځکه چه زمونږ اکثر داعیان حضرات چه کله خلقو لره په څه بدئ کښې ملوث اووینی نودهغه ایمانی غیرت او ددبدئ نه نفرت، هغه لره دې خبرې طرفته آماده کوی چه هغه دې بدو خلقو ته نه ځی او نه دهغوی خیرخواهی کوی. حالانکه دا طرزعمل په غلطئ باندې مبنی دې اودحکمت نه خالی دې بلکه حکمت او هوښیارتیا داده چه هغه هغوی ته نزدې لاړشی،اوهغوی ته دعوت وتبلیغ اوکړی او هغوی  ته دنیک کارونو کولو او دجنت ترغیب ورکړی او دبدکارونو او دوزخ نه ئې اویروی. او کله هم داسې نه وائی چه دا نه شی کیدې چه زه هغوی ته لاړشم.

اې مسلمان داعی! چه کله ته هغه بدو خلقو ته نه ځې او نه هغوی د الله طرفته رابلې نو نور څوک به دهغوی وارث وی. آیا دهغوی په شان چه څوک به سرې دهغوی وارث وی؟ آیابې علمه خلق به دهغوی خبر اخلی؟ کله هم نه.

لهذا داعی دپاره ضروری ده چه صبر اوکړی او د صبرڅه مثالونه مونږ مخکښې ذکر کړی دی یعنی په خپل زړه باندې کنټرول اوهغه مجبورول او خلقوته د رسیدو دپاره ټول رکاوټونه ماتول دې دپاره چه کوم خلقو ته ضرورت دې هغوی ته دهغه دعوت اورسی .....کچرې هغه انکار اوکړی نوداخبر دهغه طریقې خلاف ده کومه چه رسول الله صلی الله علیه وسلم کوله څنګه چه تاسو ته  معلومه ده،نبی کریم صلی الله علیه وسلم دمنی په ورځوکښ به مشرکینو ته  دهغوی کورونو او ټهکانو ته تللو اوهغوی به ئې د الله طرفته رابلل دهغوی نه یو اثر نقل

دې چه نبی علیه السلام اوفرمائیل :

اَلَا اَحَدٌ یَحۡمِلُنِیۡ حَتّٰی اُبَلِّغَ کَلَامَ رَبِّیۡ فَاِنَّ قُرَیۡشًا مَنَعَتۡنِیۡ اَنۡ اُبَلِّغَ کَلَامَ رَبِّیۡ۔

[سنن ابو داؤد: کتاب السنة]

"آیا نشته څوک چه زما بوج پورته کړی تردې چه زه دخپل رب دکلام تبلیغ اوکړم ځکه چه قریشو زه دخپل رب دکلام د تبلیغ نه منع کړې یم".

بس هرکله چه دا زمونږ دنبی او رهنمامحمدصلی الله علیه وسلم عادت مبارک وو نو مونږله هم پکار دی چه مونږ هم دهغوی په شان شو.

**شپږم صفت "دمخالفین دپاره انشراح صدر":**

د داعی به دا صفت هم وی چه دمخالفینو دپاره ئې سینه کهلاؤ وی.خصوصًاهرکله چه هغه پوهه شی چه دهغه مخالف په ښه نیت سره او صرف د خپل دلیل قائمولو په غرض سره مخالفت کوی.سړی له پکاردی چه هغه په ټولو امورو کښې کامل وی او عداوت او نفرت لره د راوچتولو دپاره دهغه مخالفت اونکړی......صرف دهغه سړی دپاره چه دحق ښکارکیدو نه پس دسرکشئ او ضد په بناء باندې مخالفت کوی او په خپل باطل عندیه باندې ټینګ ولاړ هم وی،صرف دهغه سړی دپاره نفرت آمیز معامله کول جائز دی.او خلقوله دهغې نه بچ کیدل پکاردی ځکه چه دحق ښکاره کیدو نه پس د هغه عداوت ښکاره شوې دې، دې لره اختیار نه کړی.

**کله چه خلق مخالفت کوی نوبیا ددعوت کاربه څنګه کوئ؟**

په څه فروعی مسائلو کښې خلق اختلاف کوی او حقیقت دا دې چه په هغې کښې الله تعالی دبندګانو دپاره ګنجائش ایخودلې دې(دا اصولی مسائل نه وی چه مخالف لره کافر جوړوی) اوپه دې

کنبې دغلطی کیدو هم ګنجائش شته دې.....نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل:

اِذَا حَکَمَ الْحَاکِمُ فَاجْتَهَدَ فَاَصَابَ فَلَهٗ اَجْرَانِ وَاِنْ اَخْطَأَ فَلَهٗ اَجْرٌ وَّاحِدٌ۔

[بخاری :کتاب الاعتصام]

”کله چه حاکم فیصله کولوکښ اجتهاد کولو سره صحیح فیصله اوفرمائی نو دهغه دپاره دوه اجرونه دی اوکه په اجتهادکښې غلطی اوکړی نو دهغه دپاره یو اجر دې“.

کله چه ستاسو دا خواهش وی چه ستاسو ثوک مخالفت اونکړی نوستامخالف به هم دا تمناوی چه نور خلق دهغه مخالفت اونکړی..... څنګه چه ستاخواهش وی چه خلق ستا خبره قبوله کړی، دغه رنګه مخالفین هم غواړی چه خلق دهغه خبره قبوله کړی.لهذا د اختلاف په صورت کښ دالله تعالی دفرمان مطابق دهغې اصل مرجع طرف ته واپس کیدل پکاردی:

وَمَا اخْتَلَفْتُمْ فِيْهِ مِنْ شَيْءٍ فَحُكْمُهٗ اِلَى اللّٰهِ۔ [شوریٰ: ۴۲/۱۰]

”او (اې خلقو)تاسو چه دپه کومه خبره کښ اختلاف کوئ نو د هغې فیصله به الله تعالی کوی“۔

دارنګه ارشادباری تعالی دې:

فَاِنْ تَنَازَعْتُمْ فِيْ شَيْءٍ فَرُدُّوْهُ اِلَى اللّٰهِ وَالرَّسُوْلِ اِنْ كُنْتُمْ تُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ۔

[النساء:٥٦/٤]

”بیاکه ستاسو په خپل مینځ کښې په څه معامله کښې په جهګړا شی نو هغې لره د الله او د رسول طرفته یوسې.کچرې تاسو واقعی په الله اوقیامت باندې ایمان لرئ“.

په بحث او اختلاف کوؤنکو باندې واجب دی چه هغه دې دوؤ بنیادی څیزونو طرفته رجوع اوکړی یعنی کتاب الله او سنت رسول صلی الله علیه وسلم .دچاډپاره دا جائزنه دی چه څه انسانی کلام لره دالله اودهغه درسول دکلام مخې ته اودروی، خواه هغه څومره (اوچتې مرتبې والا) انسان وی. بس کله چه په تاسو باندې حق ظاهر او واضح شی نو په تاسو باندې واجب او ضروری دی چه دحق مخالف خبرې لره په دیوال باندې اولې.اوپه هغې باندې بالکل توجه ورنکړې،خواه ددین او علم په لحاظ سره څومره اوچتې مرتبې والا ولې نه وی ځکه چه دانسان نه غلطی کیږی خو د الله اودهغه درسول کلام کښې بالکل دغلطئ امکان نشته. ماته په دې خبره باندې افسوس دې چه خلق دحق طلب کولو او حق ته درسیدو دپاره مختلف لارې اختیاروی او دهریو یو مخصوص او معین نوم او ډله ده او دهریو جدا صفتونه دی او په هغې باندې عمل کوی او په حقیقت کښې دا ټول غلط دی ځکه چه دالله دین هم یو دې او امت اسلامیه هم یودې الله تعالی فرمائی :

وَاِنَّ هٰذِهٖٓ اُمَّتُكُمْ اُمَّةً وَّاحِدَةً وَّاَنَا رَبُّكُمْ فَاتَّقُوْنِ۔ [المؤمنون:۵۲/۳۳]

"دا ستاسو امت هم یو امت دې او زه ستاسو رب یم. بس زما نه اویریږئ".

او الله سبحانه وتعالی خپل نبی محمدصلی الله علیه وسلم ته فرمائی :

اِنَّ الَّذِیْنَ فَرَّقُوْا دِیْنَهُمْ وَكَانُوْا شِیَعًا لَّسْتَ مِنْهُمْ فِیْ شَیْءٍ اِنَّمَآ اَمْرُهُمْ اِلَى اللّٰهِ ثُمَّ یُنَبِّئُهُمْ بِمَا كَانُوْا یَفْعَلُوْنَ۔ [الانعام:۱۵۹/۶]

"او اې رسول(صلی الله علیه وسلم)چه کوم خلق خپل دین لره ټکړې ټکړې کوی او فرقه فرقه جوړ شی،دهغوی معامله الله تعالی ته حواله ده،بیابه(دقیامت په ورځ) هغه دوی ته اووائی چه هغوی څه څه کول".

الله تعالی مزید فرمائی :

**شَرَعَ لَكُمْ مِنَ الدِّيْنِ مَا وَصّٰى بِهٖ نُوْحًا وَّالَّذِيْٓ اَوْحَيْنَآ اِلَيْكَ وَمَا وَصَّيْنَا بِهٖٓ اِبْرٰهِيْمَ وَمُوْسٰى وَعِيْسٰٓى اَنْ اَقِيْمُوا الدِّيْنَ وَلَا تَتَفَرَّقُوْا فِيْهِ** ۔ [شوریٰ:۱۳/٤٢]

”هغه ستاسو ددين واضحه لار مقررکړې ده(هغه لار) دکومې چه هغه نوح علیه السلام ته حکم ورکړې وو او (اې رسولؐ) دکوم وحی چه مونږ ستاطرف ته اولیږله او دکومې حکم چه مونږ ابراهیمؑ،ته موسیٰؑ ته او عیسیٰؑ ته ورکړې وو او مونږ هغوی ته هم دا حکم ورکړې دې) چه دې دین لره قائم ساتئ او په دې کښې متفرق (جداجدا) مه کیږئ“.

بس کله چه الله تعالی په دې آیتونو کښ زمونږ دپاره توجیه بیان فرمائیلې ده لهذا په مونږ باندې واجب دی چه مونږ دې توجیه لره مدنظر ساتلو سره د اصلاح(تحقیق) په نیت سره (په شرعی مسائلو کښ) یو بل سره اختلاف او بحث او تکرار اوکړو. زمونږ نیت به تنقیدکول او انتقام اخستل نه وی. ځکه چه کوم انسان هم خپل رائې ته ترجیح ورکولو او د نورو رائې لره سپک ګڼړلو یادتنقید په نیت سره نورو سره جهګړا او مجادله کوی،یقینًا دۀ داسې روش اختیارکړې دې کوم لره چه الله او دهغه رسول صلی الله علیه وسلم نه خوښوی.

لهذا ددې حکم پیروی کولو سره په مونږ باندې واجب دی چه مونږ یو جماعت جوړ شو.زه دانه وایم چه څوک غلطی نه شی کولې.دهریو نه غلطی هم ممکن کیدې شی او هغه سړې په صحیح انداز کښې هم کارکولې شی. اګرچه په اصلاحی کار کښې اعتراض او تنقید کول غلطه خبره ده خو دغلطۍ د اصلاح دپاره داسې لار اختیارول چه ددې سړی په غیر موجودګۍ کښې خبره اوکړی شی، په

زړه کښې کینه اوساتلې شی، داغلطه ده. د اصلاح اصل طریقه داده چه دهغه سره کیناستلې شی او (د قرآن او حدیث په رنړا کښې) بحث وغیره اوکړې شی. بس کله چه ښکاره شی چه سړې په خپله سرکشئ باندې ضدکوی او هغه په باطل باندې ټینګ وی بس هغه وخت دعذر ګنجائش دې او دې هم حق.بلکه داضروری ده چه دده غلطئ لره ښکاره کړې شی اوخلقو لره ددې غلطئ نه اویرولې شی دې دپاره چه ټول امور صحیح شی،خو فرقه بندی او ګروه بندی داسې امر(ناسور) دې چه دې لره هیڅ یوه سترګه هم نه خوښوی خو هغه کس چه د اسلام او مسلمانانو دشمن وی.

زه دالله تعالی نه دعاګویم چه زمونږ زړونو لره په خپل اطاعت باندې جمع کړی او مونږ دهغه خلقو نه کړی چه(کوم د اختلاف په وخت یاپه څه مسئله د رهنمایئ حاصلولو په وخت) دالله اودهغه رسول طرف ته فیصله اوړلو سره ځی. الله رب العزت دې زمونږ نیتونه خالص کړی اودهغه په شریعت کښې چه څه هم په مونږ باندې پټ دی هغې لره ښکاره کړی، بې شک هغه سخی او عزت والا دې.

وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ وَصَلِّ وَسَلِّمْ عَلٰى نَبِيِّنَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ اَجْمَعِيْنَ۔

## باب: ٤

# د داعیانه کردار آداب

۱: دخپل منصب حقیقی شعور پیدا کړئ،تاسو دنبی علیه السلام جانشین ئې او ددین دعوت،دحق شهادت او د تبلیغ هغه فریضه تاسولره سرته رسول دی کومه چه دالله رسول صلی الله علیه وسلم سرته رسوله،لهذا هم ددې داعیانه درد پیدا کولو کوشش اوکړئ چه دنبی صلی الله علیه وسلم خصوصی او امتیازی وصف دې.

دقرآن ارشاد دې:

هُوَاجْتَبٰكُمْ وَمَا جَعَلَ عَلَيْكُمْ فِي الدِّيْنِ مِنْ حَرَجٍ مِلَّةَ اَبِيْكُمْ اِبْرَاهِيْمَ هُوَسَمّٰكُمُ الْمُسْلِمِيْنَ مِنْ قَبْلُ وَفِيْ هٰذَا لِيَكُوْنَ الرَّسُوْلُ شَهِيْدًا عَلَيْكُمْ وَتَكُوْنُوْا شُهَدَآءَ عَلَى النَّاسِ۔ [الحج:۷۸]

”هغه تاسومنتخب اوفرمائیلې او ددین په معامله کښې ئې په تاسو باندې څه تنګی نه ده ایخودلې،تابعداری کوئ دهغه دین چه ستاسو دپلار ابراهیم دین ووهغه دمخکښې نه تاسو په مسلم نوم سره نمانځلې ئې او په دې سلسله کښې هم چه رسول الله صلی الله علیه وسلم ستاسو دپاره دحق دین شهادت درکړو اوتاسو دټولو انسانانو په مخکښې دحق دین شهادت ورکړئ“.

یعنی امت مسلمه د رسول الله صلی الله علیه وسلم جانشین دې او دې به هغه کارسرته رسوی چه کوم رسول الله صلی الله علیه وسلم کړې وو. څنګه چه آخری رسول صلی الله علیه وسلم په خپل قول وعمل او دشپې ورځې په تګ ودؤ سره د الله ددین واضح کولو حق ادا کړو. همدغسې امت ته هم ددنیا د ټولو انسانانو په مخکښې دالله تعالی دین واضح کول دی او هم ددې فرض په احساس او داعیانه درد سره

دحق دين ژوندې شهادت جوړيدو سره ژوندې اوسيدل دی.

۲: خپل اصل حيثيت لره هميشه په نظر کښې اوساتئ او د هغې په شان دخپل ژوند جوړول کوشش جاری اوساتئ. تاسو د دنيا د نورو امتونو په شان يوعام امت نه ئې،بلکه الله تعالی تاسو ته يو امتيازی شان درکړې دې. تاسو ته ددنيا په ټولو قوتونو کښې دصدرپه شان د رهنمائې مقام حاصل دې. تاسو دهرقسمه افراط او تفريط نه پاک،د الله تعالی په نيغه لار باندې په اعتدال سره قائم ئې. په قرآن پاک دی :

وَكَذٰلِكَ جَعَلْنٰكُمْ اُمَّةً وَّسَطًا لِّتَكُوْنُوْا شُهَدَآءَ عَلَى النَّاسِ وَيَكُوْنَ الرَّسُوْلُ عَلَيْكُمْ شَهِيْدًا۔ [البقره:]

”اودغه شان مونږ تاسو لره يو”متوسط امت“ جوړکړې دې دې دپاره چه تاسو دټولو انسانانو دپاره دحق دين ګواه جوړ شئ،او زمونږ رسول صلی الله عليه وسلم ستاسودپاره ګواه وی“.

۳: دخپل نصب العين واقعی علم حاصل کړی او شرح صدرسره دې لره دخپلولو کوشش اوکړئ. دالله تعالی په نظر کښې دامت مسلمه نصب العين په قطعی طور باندې دادې چه هغوی په کامل يکسويئ او اخلاص سره دې پوره دين لره قائم او نافذکړی کوم چه محمدصلی الله عليه وسلم راوړلو اوکوم عقائدوعبادات،اخلاق ومعاشرت او معيشت اوسياست غرض د انسانی ژوند سره متعلق په ټولو آسمانی هداياتو باندې مشتمل دې.نبی عليه السلام د عقائدو او اخلاقو تعليم هم ورکړې دې، دعباداتو طريقې هم خودلې دی ددين په بنيادباندې ئې دمعاشرې تعمير هم کړې دې او انسانی ژوند لره ئې دمنظّم کولو او دخير او برکت نه دمالامال کولو والا يو بابرکته استيټ هم قائم کړو.د الله تعالی ارشاد دې:

شَرَعَ لَكُمْ مِّنَ الدِّيْنِ مَا وَصّٰى بِهٖ نُوْحًا وَّالَّذِيْٓ اَوْحَيْنَآ اِلَيْكَ وَمَا وَصَّيْنَا بِهٖٓ اِبْرٰهِيْمَ وَمُوْسٰى وَعِيْسٰٓى اَنْ اَقِيْمُوا الدِّيْنَ وَلَا تَتَفَرَّقُوْا فِيْهِ۔ [الشوری:١٣]

”مسلمانانو! الله تعالی ستاسو دپاره ددین هم هغه طریقه مقررکړې ده دکوم وصیت چه هغه نوح علیه السلام ته کړې وو او دکوم وحی اې رسول صلی الله علیه وسلم!مونږ ستاطرفته لیږله ده اودکوم هدایت چه مونږ ابراهیم او موسی او عیسی علیهم السلام ته ورکړې دې چه دې دین لره قائم کړه او په دې کښې تفرقه مه اچوئ“.

٤: بدو لره د ختمولو او ښه کارونو لره دقائمولو دپاره هر وخت ملاتړلې اوسئ.همدا ستاسو دایمان تقاضا ده او همدا ستاسو دملی وجود مقصد دې ددې مقصددپاره ژوندې اوسئ او ددې دپاره ځان قربان کړئ.دې کارلره سرته رسولو دپاره الله تعالی تاسو د”خیرامت“ په عظیم لقب سره سرفرازه کړې ئې.

كُنْتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَتُؤْمِنُونَ بِاللهِ۔

[آل عمران:۱۱۰]

”تاسو د خیرامت(بهترین امت) ئې چه دټولو انسانانو دپاره په وجود کښې راوستلې شوې ئې. تاسو به دښو خبرو حکم کوئ او دبدو نه به منع کول کوئ او په الله به کامل ایمان ساتئ“.

د نبی صلی الله علیه وسلم ارشاد دې: په هغه ذات قسم دچاپه قبضه کښې چه زما ساه ده،تاسو خلق لازمًا دنیکئ حکم کوئ او دبدئ نه منع کول کوئ،ګنی نزدې به الله تعالی په تاسوباندې داسې عذاب راولیږی چه تاسو به آوازونه کوئ او څوک به ئې نه اوری.

[ترمذی]

٥: د الله تعالی پیغام رسول او دالله بندګان دجهنم د سخت عذاب نه بچ کولو دپاره داعیانه درد او مثالی درد وسوز پیدا کړئ.دنبی علیه السلام دبې مثال دردوغم اعتراف قرآن په دې الفاظو کښې فرمائیلې دې:

فَلَعَلَّكَ بَاخِعٌ نَّفْسَكَ عَلٰى آثَارِهِمْ إِن لَّمْ يُؤْمِنُوا بِهٰذَا الْحَدِيثِ أَسَفًا۔ [الكهف:٦]

"شایدچه تاسو هغه خلقو پسې خپل ځان په هلاکت کښې واچوئ کچرې دې خلقو دهدایت په دې کلام باندې ایمان راونړو".

او نبی علیه السلام خپل کیفیت لره په دې الفاظو کښې بیان فرمائیلي دی:

"زما مثال د هغه سړی دې چاچه اُور بل کړې وی او کله چه ګیرچاپیره ماحول د رنړا په وجه سره اوچمکیږی نو میږی او پتنګان په هغې کښې ځان ورغورزوی او هغه سړې په پوره قوت سره دې میږو او پتنګانو لره منع کوی، خو پتنګان دې کوشش لره ناکام جوړوی او په اُور کښې ورپریوځی دغه شان زه تاسو دملا نه نیسم د اُور نه مو منع کوم او تاسو ئې چه په اُور کښې ځان ورغورزوئ". [مشکوٰة]

یوځل حضرت عائشه صدیقه رضی الله عنها دنبی علیه السلام نه تپوس اوکړو اې دالله رسولهٔ! د اُحد نه هم زیاته سخته ورځ په تاسو باندې تیره شوې ده. وې فرمائیل : هاؤ عائشه! زما په ژوندکښې دټولو نه زیاته سخته ورځ دعقبه ورځ وه. دا هغه ورځ وه کله چه نبی علیه السلام دمکې والو نه مایوس کیدو سره طائف والو ته دالله تعالی پیغام اوړلو دپاره تشریف یوړلو. دهغه ځاې سردار عبدیالیل سرکشه هلکان نبی علیه السلام پسې کړل هغوی دپیغام رحمت په جواب کښې په نبی علیه السلام باندې کانړی اورول.نبی علیه السلام په وینو باندې رنګ بنګ شو او بې هوشه کیدو سره پریوتلو بیانبی علیه السلام پریشانه کیدو سره دهغې ځاې نه روان شو. کله چه قرن الثعالب ته اورسیدو نو غم ئې څه سپک غوندې شو. الله تعالی دعذاب فرښتې دنبی علیه السلام په خدمت کښې راولیږلې دعذاب فرښتو اووئیل: یارسول الله

صلی الله علیه وسلم که تاسو اوفرمایئ نو زه به جبل ابوقبیس او جبل احمر لره په خپل مینځ کښې اوجنګوم او ددې دواړو غرونو په مینځ کښې به دا بدبخت چخنړی کړم خپل انجام ته بس اورسی.رحمت عالم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل : "نه نه! ماپرېږدئ چه زه خپل قوم دعذاب نه اویروم،شاید چه الله تعالی ددوی زړونه دهدایت دپاره کهلاؤ کړی یا بیاددوی په اولادکښې داسې خلق پیدا شی چه هدایت لره قبول کړی".

[بخاری ومسلم]

نبی صلی الله علیه وسلم په مکه کښې دې او دمکې والو په خلقو کښې د نبی صلی الله علیه وسلم خلاف سازشونه کیږی. څوک وائی چه دې دښارنه اوباسئ. څوک وائی چه دې قتل کړئ.هغه ورځو کښې سمدست مکې لره قحط راګیره کړه.داسې قحط چه دقریش خلق په پاڼړو او څرمنو خوړلوباندې مجبوره شو. ماشومانو د لوږې نه ژړل او غټو به دهغوی حالت زار ته کتلو سره سخت غمژن کیدل.

رحمت عالم صلی الله علیه وسلم دې خلقو لره په دې سخت مصیبت کښې مبتلا کتلو سره بې قراره شو. دنبی علیه السلام مخلص ملګرې هم نبی علیه السلام لره په اضطرابی حالت کښې کتلو سره غمژن شو. نبی علیه السلام خپل دې جانی دشمنانو لره چه دهغوی ورسیدلې غم له تراوسه تازه وو،دخپل زړه د همدردئ پیغام وراولیږلو او ابوسفیان او صفوان ته ئې پنځه سوه دیناره وراولیږل ورته ئې اوئیل چه دې لره په قحط زده غریبانانو کښې تقسیم کړئ.حقیقت دادې چه دګمراه خلقو په غم کښې ویلې کیدل، د هغوی په ګمراهئ او مصیبت باندې دردمند کیدل،هغوی لره دالله دغضب نه بچ کولو دپاره غمژن کیدل،دهغوی تکلیفونو ته کتلو سره بې قراره کیدل او دهغوی

دهدایت دپاره غیرمعمولی حریص کیدل همدا دیو حق دداعی هغه جوهر دې دکوم په ذریعه سره چه دهغه ژوند انتهائی دل کش او غیرمعمولی اثرانګیز جوړیږی.

٦: دقوم ډیرخدمت اوکړئ او دخپل څه خدمت صله دبندګانو نه مه غواړئ.څه چه کوئ صرف دالله تعالی درضا دپاره اوکړئ اودهغه نه د خپل اجروثواب توقع اوساتئ. دالله تعالی رضا اودالله تعالی نه داجروثواب طلب داسې محرک دې چه دسړی په خبره کښې اثرپیدا کوی او سړی لره مسلسل سرګرم ساتی. الله تعالی دهمیشه نه دې. او همیشه به اوسی. نه هغه ته خوب راځی،نه ورته دخوب جهټکه. دهغه دنظر نه دبنده یو عمل هم پټ نه دې.هغه دخپل مخلصینو اجر کله هم نه ضائع کوی هغه دمحنت نه زیات ورکوی او چالره نه محروم کوی.پیغمبربه باربار خپل قوم ته وئیل:

"زه ستاسو نه دځه اجراو بدلې مطالبه نه کوم. زما اجر خو د رب العالمین په ذمه دې".

٧: د اسلام ژور بصیرت حاصل کړئ او یقین اوساتئ چه دالله تعالی په نزد خو بس هم اسلام دې،دې حق دین لره پریخودلو سره چه کوم طریقه دژوندهم اختیارکولې شی. دالله تعالی په نزدبه دهغې څه قدروقیمت نه وی. دالله تعالی په نزد خو هغه دین مقبول دې چه په قرآن کښې دې او د کوم چه عملی تفسیرحضرت محمدصلی الله علیه وسلم په خپل مبارک ژوند سره پیش کړې دې.قرآن پاک کښې نبی علیه السلام ته وئیلې شوې دی چه خلقو ته صفاصفا اووایه چه ماکومه لار خپله کړې ده :

قُلْ هٰذِهٖ سَبِيْلِيْٓ اَدْعُوْٓا اِلَى اللّٰهِ ۣ عَلٰى بَصِيْرَةٍ اَنَا وَمَنِ اتَّبَعَنِيْ ۭ وَسُبْحٰنَ اللّٰهِ وَمَآ اَنَا مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ۔

[يوسف:۱۰۸]

”اے رسول صلى الله عليه وسلم! تاسو دوی ته صفاصفا اووائې چه زما لار خو داده،زه او ماپسې تلونکی خلق په پوره بصيرت سره الله تعالى طرفته دعوت ورکوو او الله تعالى دهرعيب نه پاک دې او زما دهغوی سره څه واسطه نشته چه کوم خلق دالله تعالى سره شرک کوی“.

او د الله تعالى صفاصفاارشاد دې:

وَمَنْ يَّبْتَغِ غَيْرَ الْاِسْلَامِ دِيْنًا فَلَنْ يُّقْبَلَ مِنْهُ ۚ وَهُوَ فِي الْاٰخِرَةِ مِنَ الْخٰسِرِيْنَ۔ [آل عمران:۷۵]

”اوڅوک چه د اسلام نه سيوا بل کوم يو دين اختيارکول غواړی دهغه هغه دين به هيڅ کله قبول نه کړې شی او په آخرت کښې به هغه ناکامه اونامراده وی“.

اِنَّ الدِّيْنَ عِنْدَ اللّٰهِ الْاِسْلَامُ

”اود الله تعالى په نزدخو بس هم اسلام دين دې.“-

۸: دخپل نصب العين عظمت او اهميت لره هميشه په نظر کښې ساتئ او خيال ساتئ چه داهغه عظيم کار دې دکوم دپاره چه دالله تعالى دطرف نه هميشه انبياء راليږلې کيدل او دا يقين اوساتئ چه الله تعالى تاسو ته کوم د دين دولت درکړې دې همدا ددواړو جهانونو دعظمت او اوچتوالی سرمايه ده،ددې په مقابله کښې ددنيا د دولت او شان وشوکت څه قدر دې چه کوم څو ورځې بهار دې. په قرآن کښې دی:

”او مونږ تاسو ته اووه باربار لوستونکی آيتونه او عظمت والا قرآن درکړې دې نو تاسو دې فانی سامان طرفته نظر هم مه اوچتوئ چه کوم مونږ دې مختلف طبقوته ورکړې دې“.

او اهل کتابو ته خطاب کولو سره وئیلي شوي دی:

يَآ اَهْلَ الْكِتٰبِ لَسْتُمْ عَلٰى شَيْءٍ حَتّٰى تُقِيْمُوا التَّوْرَاةَ وَالْاِنْجِيْلَ وَمَا اُنْزِلَ اِلَيْكُمْ مِنْ رَّبِّكُمْ ـ [المائده:٦٨]

"اې اهل کتابو!تاسو هيڅ نه ئې،کله پورې چه تاسو تورات او انجيل او نور کتابونو لره قائم نه کړئ چه کوم ستاسو رب نازل کړې دی".

۹: د دين صحيح پوهه حاصلولو او ددين حکمتونو باندې د پوهيدلو برابر کوشش کوئ. د نبی اکرم صلی الله عليه وسلم ارشاد دې:

"الله تعالی چه چاته دخير اراده اوفرمائی نو هغه ته دخپل دين صحيح فهم او ژوره پوهه ورکوی". [بخاری ومسلم]

حقيقت دادې چه ددين صحيح فهم او ددين حکمت هم دټولو ښيګړو سرچشمه ده او کوم سړې چه ددې خيرنه محرومه دې هغه ددواړو جهانونو دنيک بختو نه محرومه دې. نه دهغه په ژوند کښې توازن او برابروالې پيدا کيدې شی اونه هغه دژوند په هرميدان کښې د صحيح نمائندګی کولې شی.

۱۰: کوم څه چه ددنيامخې ته پيش کړې دهغې مطلب دټولو نه اول خپل ذات لره جوړ کړئ. نورو ته دخودلو نه مخکښې خپل ځان ته اوښايه او څه چه دنورو نه غواړې اول ئې پخپله کولو سره اوښايه .دحق دين دداعی امتياز دادې چه هغه دخپل دعوت رښتونی نمونه وی. کوم څه چه هغه وائی،خپل عمل او کردار لره په هغې باندې ګواه جوړوی،کوم حقيقتونو لره چه په قبلولو کښې هغه ددنيا ښيګړه وينی پخپله دهغې د ټولو نه زيات حريص وی پيغمبرؐ چه کله دقوم په مخکښې ددعوت ورکولو دپاره اودريدونو هغه اعلان اوکړو" اَنَا اَوَّلُ الْمُسْلِمِيْنَ"زه په خپله

دټولو نه مخکښ مسلمان يم.

تاسو په ژبه او قلم سره هم ګواهی ورکړئ چه حق هغه دې چه کوم تاسو پيش کوئ اوپه خپل انفرادی عمل،کورني تعلقات،سماجی معاملات اوسیاسی او ملکی سرګرمو نه هم دا ثابت کړئ چه دين حق لره خپل کولو سره پاکيزه کردار په وجود کښ راځی،مستحکم خاندان جوړيږی ښه معاشره تشکيل کيږی او يو داسې نظام تهذيب وتمدن جوړيږی چه دهغې بنياد په عدل وانصاف باندې وی،چه کوم خلق دخپل تربيت او اصلاح نه غافله کيدو سره د نورو داصلاح وتربيت خبرې کوی هغه انتهائی نادان دې. هغه خپل کور سوزيدو باندې ليدو سره بې فکردې او د اوبو بالټۍ ئې اخستې دې تلاش کوی چه دچا کورته اُور لګيدلې ملاؤ شی نو هغه مړکړم. داسې خلق په دنيا کښې ناکامه دی او په آخرت کښ هم به ناکامه وی. دلته خو دهغه بې عملی دهغه پندو نصيحت لره بې وزنه او بې اثره کوی او په آخرت کښ به دې انتهائی عبرت ناک عذاب ځکی. الله تعالی ته داخبره انتهائی ناخوښه ده چه نورو ته نصيحت کوؤنکې ېخپله بې عمله وی او هغه څه وائی چه ېخپله ئې نه کوی،نبی عليه السلام داسې بې عمله داعيانو لره دانتهائی سخت عذاب نه يرولې دی. نبی عليه السلام اوفرمائيل:

”د قيامت په ورځ به يو سړې راوستلې شی او اُور ته به اوغورزولې شی، او د هغه کُولمې به په دې اُور کښ بهر راوځی اوبيابه هغه سړې ددې خپلو کُولمونه ګيرچاپيره داسې تاويږی څنګه چه خر د جرندې نه ګير چاپيره تاويږی. دې کتو سره به نور جهنمی خلق هغه ته راجمع شی او تپوس به ترې اوکړی اې فلانيه! داستاڅه حال دې؟ آياتابه په دنياکښې مونږ ته ددنيکو تلقين نه کولو؟ او دبدو نه به دې نه منع

کولو؟ (دداسې نيکۍ دکار کولو باوجود ته دلته څنګه راغلې؟) هغه سړې به اووائی ما تاسوته دنيکو سبق خو درکولو خو پخپله به نيکو ته نزدې هم نه ورتلم،تاسو به مې دبدو نه  منع کولۍ خوپخپله به ددبدو نه نه منع کيدم. [مسلم وبخاری]

دمعرج په شپه چه  کوم دعبرت مناظر نبی عليه السلام دخلقو په مخکښې کيخودل دهغې اهم مقصدداهم دې چه د نيمګړی کار والا خلقو ته خبردارې ورکړی او دخپل حال داصلاح فکر اوکړی. نبی عليه السلام اوفرمائيل :

”مادمعراج په شپه څه خلقو لره اوليدل چه دهغوی شونډې د اُور په قينچيانو سره کټ کيدلې. مادجبرائيل عليه السلام نه تپوس اوکړو چه دا کوم خلق دی؟ جبرائيل عليه السلام اوفرمائيل: داستاسو د اُمت مقررين دی. دوی به خلقو ته دنيکۍ او تقوی تلقين کولو او خپل ځان ئې هير کړې وو“. [مشکوٰة]

صحابه کرام رضی الله عنهم اجمعين هم داسې قسمه کوتاه او بې عملو ته سخته تنبيه به فرمائيله. يو ځل حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنه ته يو سړی اووئيل، حضرت زه غواړم چه خلقو ته دنيکۍ حکم ورکړم او دبدو نه ئې منع کوم او ددعوت وتبليغ کار اوکړم! حضرت ورته اوفرمائيل آياته دې مرتبې ته رسيدلې ئې چه مبلغ جوړشې. هغه اووئيل ها توقع  خو مې شته دې،حضرت ابن عباس رضی الله عنه ورته اوفرمائيل کچرې تاته دا يره نه وی چه دقرآن پاک درې آيتونه تالره رسوا کړی نو په شوق سره ددين دتبليغ کارکوه. هغه سړې اووئيل: حضرت هغه کوم درې آيتونه دی.

حضرت ابن عباس رضی الله عنه اوفرمائیل : اول آیت دادې :

اَتَاْمُرُوْنَ النَّاسَ بِالْبِرِّ وَتَنْسَوْنَ اَنْفُسَكُمْ [البقره:٤٤]

”آیاتاسو خلقوته دنیکئ تلقین کوئ او خپل ځانونه مو هیر کړي دی“.

دویم آیت : لِمَ تَقُوْلُوْنَ مَا لَا تَفْعَلُوْنَ [الصف:٢]

”تاسو هغه خبره ولې کوئ چه کوې ئې نه“.

دریم آیت :

مَا اُرِيْدُ اَنْ اُخَالِفَكُمْ اِلٰى مَا اَنْهٰكُمْ عَنْهُ [ہود:٨٨]

حضرت شعیب علیه السلام دخپل قوم خلقو ته اووئیل) دکومو بدو خبرو نه چه زه تاسو لره منع کوم هغې لره دې زۀ پخپله اوکړم زما داخواهش نه دې.)بلکه زه خو ددې خبرو نه ډیر لرې اوسیږم.

حضرت عبدالله ابن عباس اوفرمائیل : اووایه! ته په دې آیت باندې به ښه طریقې عمل اوکړې هغه سړی اووئیل نه. نو حضرت ورته اوفرمائیل: لاړشه اوخپل ځان ته دنیکئ حکم اوکړه او دبدو نه منع شه.

١١: مونځ لره دهغې دپوره آدابو او شرائطو سراو شوق سره ادا کړئ. دنوافلوهم اهتمام کوئ. دالله تعالی سره د ژور تعلق قائمولو نه بغیر ددې دعوت وتبلیغ کار ممکن نه دې. او الله تعالی سره د وابستګئ پیدا کولو یقینی ذریعه مونځ دې چه پخپله الله تعالی خپل بندګانو ته خودلې دې.
نبی صلی الله علیه وسلم ته خطاب کولو سره الله تعالی فرمائی :

يَا اَيُّهَا الْمُزَّمِّلُ - قُمِ اللَّيْلَ اِلَّا قَلِيْلًا - نِصْفَهٗ اَوِ انْقُصْ مِنْهُ قَلِيْلًا - اَوْزِدْ عَلَيْهِ وَرَتِّلِ الْقُرْاٰنَ تَرْتِيْلًا - اِنَّا سَنُلْقِيْ عَلَيْكَ قَوْلًا ثَقِيْلًا - [المزمل:١تا ٥]

”اې څادر اغوستونکیه! په شپه کښې قیام کوه.خو څه حصه

دشپې،نیمه شپه یاددې نه څه کم یا څه زیاته او قرآن په مزه مزه سره لولئ. مونږ ډیر زر په تاسو باندې د یو درووند فرمان(ذمه داری) اچوؤنکی یو".

د درووند فرمان دذمه دارئ نه مراد دحق دین تبلیغ دې او حقیقت دادې چه دا ذمه داری ددنیاپه ټولو ذمه داروکښې زیاته درنه او ګرانه ده او ددې عظیمې ذمه دارئ حق ادا کولو دپاره ضروری ده چه تاسو په مونځ سره قوت حاصل کړئ او دالله تعالی سره تعلق مضبوط کړئ.

۱۲: قرآن شره شوق پیدا کړئ او په پابندئ سره ددې تلاوت اوکړئ.
په مونځ کښې هم په انتهائی توجه سره تلاوت اوکړئ او دمونځ نه بهر هم په ذوق اوشوق سره په مزه مزه ئې لوله. د زړه د لګیدو سره او دطبیعت د حاضرئ سره چه کوم تلاوت کولې شی په دې سره په قرآن باندې په پوهیدو او غووفکر کولو کښې مدد ملاویږی او په ذوق وشوق کښې هم اضافه کیږی. قرآن پاک د هدایت او عبرت واحده سرچشمه ده.دا هم په دې وجه سره نازل شوې دې چه ددې په آیتونو باندې غور اوکړې شی او ددې دتذکیر اونصیحت نه فائده اوچته کړې شی، لهذا په دې کښې دغور وتدبرعادت واچوئ او په دې عزم سره ددې تلاوت اوکړئ او هم په دې رهنمائې کښې د خپل ژوند تعمیر کول دی او هم ددې هدایت مطابق معاشرې لره بدلول هم دی. د الله دین هغه خلق قائمولې شی چه دخپل غوروفکر مرکز او دخپل دلچسپو محور قرآن پاک جوړ کړی.او ددې نه بې نیازه کیدو سره خو نه په دین باندې قائمیدل ممکن دی او نه د دین د اقامت په کوشش کښې د حصې اخستو څه امکان شته. تلاوت کوؤنکو ته هدایت کړې شوې دې:

كِتٰبٌ اَنْزَلْنٰهُ اِلَيْكَ مُبٰرَكٌ لِّيَدَّبَّرُوْٓا اٰيٰتِهٖ وَلِيَتَذَكَّرَ اُولُوا الْاَلْبَابِ۔ [ص:۲۹]

"کتاب چه کوم مونږ تاسو طرفته لیږلې دې ټول دبرکت نه ډک دې دې دپاره چه خلق په دې آیتونو کښې غوروتدبر اوکړی او دعقل خاوندان ددې نه نصیحت حاصل کړی".

او هدایت کړې شوې دې:

"او قرآن په مزه مزه سره لولئ". [المزمل:٤]

د نبی علیه السلام ارشاد دې:

"دا زړونه زنګ کیږی،څنګه چه اوسپنه زنګ کیږی کله چه په دې باندې اوبه اچولې شی،تپوس اوکړې شو اې د الله رسوله! بیا د زړونو نه د زنګ لرې کولو دپاره څه څیز دې؟ وې فرمائیل: "د زړه زنګ داسې لرې کیږی کله چه سړې مرګ لره په کثرت سره یادوی او دویم داچه د قرآن تلاوت کوی".[مشکوة]

۱۳: په هرحال کښې دالله تعالی شکر ادا کړئ او دشکر جذبه پیدا کولو دپاره په هغه خلقو باندې نظر اوساتئ چه په دنیاوی شان وشوکت او مال او دولت کښې ستاسو نه کم وی.

د نبی علیه السلام ارشاد دې:

هغه خلقو طرفته اوګورئ چه ستاسونه په مال او دولت او په دنیاوی مرتبه کښې کم دی(نوپه تاسو کښې به د شکر جذبه پیدا شی) او هغه خلقو طرفته مه ګورئ چه ستاسو نه په مال او دولت او دنیاوی سازوسامان کښې زیات وی دې دپاره چه کوم نعمتونه تاسوته ملاؤ شوې دی چه هغه ستاسو په نظر کښې سپک نه وی،(ګنی د الله د ناشکرئ جذبه به پیدا شی).

۱٤: د عیش وعشرت نه بچ شئ او دحق داسې سپاهی جوړ شئ چه هروخت په ډیوټۍ باندې ئې او څه وخت هم وسله نه کوزئ. د نبی علیه السلام ارشاد دې:

”زه د عیش اوسهولت ژوند څنګه تیرکړم! هرکله چه اسرافیل شپلئ په خله کښې نیولې غوږ ایخودلې،سرټیټ نیولې انتظار کوی چه کله به چه دشپلئ وهلو حکم کیږی“.

او په قرآن پاک کښې مؤمنانوته خطاب کولو سره الله تعالی ارشاد فرمائی :

وَاَعِدُّوْا لَهُمْ مَّا اسْتَطَعْتُمْ مِّنْ قُوَّةٍ وَّمِنْ رِّبَاطِ الْخَيْلِ تُرْهِبُوْنَ بِهٖ عَدُوَّ اللّٰهِ وَعَدُوَّكُمْ وَاٰخَرِيْنَ مِنْ دُوْنِهِمْ ۚ لَا تَعْلَمُوْنَهُمْ ۚ اَللّٰهُ يَعْلَمُهُمْ ۗ وَمَا تُنْفِقُوْا مِنْ شَيْءٍ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ يُوَفَّ اِلَيْكُمْ وَاَنْتُمْ لَا تُظْلَمُوْنَ۔ [الانفال:٦٠]

”او تاسو خلق کله پورې چه ستاسو وس وی،د زیات نه زیات طاقت او تیار (زین) تړلې اسونه دهغوی دمقابلې دپاره تیارساتئ دې دپاره چه دهغې په ذریعه دالله تعالی دشمنانو او او خپلو دشمنانو لره او هغه نور ددین دشمنانو لره اویروئ . په کوم چه تاسو نه پیژنئ، او الله تعالی پوهیږی. دالله تعالی په لاره کښې چه کوم څه تاسو خرچ کوئ. دهغې پوره پوره بدله به تاسو ته ملاویږی ستاسو په حق کښې به ذره برابر هم کمی نه کیږی“.

۱٥: ددین په خاطر هرقسمه قربانی ورکولو او ضرورت راتلو باندې سدخپل خوږ وطن نه د هجرت کولو دپاره هم بچپله ځان آماده اوساتئ او خپل ځان هم تله چه کوم حده پورې په تاکښې دا جذبه قوت نیسی.

په قرآن کښې دحضرت ابراهیم علیه السلام دهجرت واقعه بیانولو سره دهجرت ترغیب او قربانو دپاره د تیار اوسیدو تلقین دارنګه کړې شوې دې:

وَاذْكُرْ فِي الْكِتٰبِ اِبْرٰهِيْمَ اِنَّهٗ كَانَ صِدِّيْقًا نَّبِيًّا۔ اِذْ قَالَ لِاَبِيْهِ يٰاَبَتِ لِمَ تَعْبُدُ مَا لَا يَسْمَعُ وَلَا يُبْصِرُ وَلَا يُغْنِيْ عَنْكَ شَيْـًٔا۔ يٰاَبَتِ اِنِّيْ قَدْ جَآءَنِيْ مِنَ الْعِلْمِ مَا لَمْ يَاْتِكَ فَاتَّبِعْنِيْٓ اَهْدِكَ صِرَاطًا سَوِيًّا۔ يٰاَبَتِ لَا تَعْبُدِ الشَّيْطٰنَ ط اِنَّ الشَّيْطٰنَ كَانَ لِلرَّحْمٰنِ عَصِيًّا۔ يَآ اَبَتِ اِنِّيْٓ اَخَافُ اَنْ يَّمَسَّكَ عَذَابٌ مِّنَ الرَّحْمٰنِ فَتَكُوْنَ لِلشَّيْطَانِ وَلِيًّا۔ قَالَ اَرَاغِبٌ اَنْتَ عَنْ اٰلِهَتِيْ يَآ اِبْرٰهِيْمُ ج لَئِنْ لَّمْ تَنْتَهِ لَاَرْجُمَنَّكَ وَاهْجُرْنِيْ مَلِيًّا۔ قَالَ سَلٰمٌ عَلَيْكَ ج سَاَسْتَغْفِرُ لَكَ رَبِّيْ ط اِنَّهٗ كَانَ بِيْ حَفِيًّا۔ وَاَعْتَزِلُكُمْ وَمَا تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللهِ وَاَدْعُوْا رَبِّيْ صلے عَسٰٓى اَلَّآ اَكُوْنَ بِدُعَآءِ رَبِّيْ شَقِيًّا۔ [مريم:٤١تا ٥٨]

”او په دې کتاب کښې دابراهیم علیه السلام د قصې نه نصیحت حاصل کړئ. بې شکه هغه یو رښتونی نبی وو(خلقو ته دهغه وخت ذکر واوروئ) کله چه هغوی خپل پلارته اووئیل. باباجانه! تاسو ددې څیزونو عبادت ولې کوئ؟ کوم چه نه اوریدل کولې شی اونه لیدل کولې شی او نه ستاپه څه کار راتلې شی،باباجانه! ماسره هغه علم دې کوم چه تاسره نشته،نه زما په ویناباندې اوچلیږه،زه به تاپه صحیح لار باندې روان کړم، باباجانه! ته دشیطان بندګی مه کوه،شیطان خو درحمان لوې نافرمان دې، باباجانه! ماته یره ده چه(که ته په دې طریقه باندې پاتې شوې نو)د رحمان عذاب به تالره راونیسی او ته به دشیطان ملګرې جوړشې“.

پلارورته اووئیل ابراهیم علیه السلام!ایا ته زمونږ د معبودانو نه اوړیدلې ئې؟ که ته منع نه شوې نو زه به تالره په کاڼړو ویشتو سره هلاک کړم، او لاړشه همیشه دپاره مانه لرې شه. ابراهیم علیه السلام اووئیل تاسو ته زما سلام دې.زه به دخپل پروردګارنه دعا کوم چه هغه ستابخښنه اوکړی. بیشکه زما رب په ماباندې ډیر مهربان دې. زه ستاسو خلقو نه هم ډډه کوم او دهغه هستو نه هم کوم لره چه تاسوخداې پریځوستې دې او هغه رابلې،زه خو به خپل پروردګار

رابلم.ماته پوره امید دې چه زه خپل رب لره رابللو سره هرګز به نامراده نه شم.

۱٦: د الله تعالی په لاره کښې د وتلو درد،په ځان اومال سره دجهاد کولو جذبه او دهغه په لاره کښې د شهادت پاکیزه تمنا پیدا کړئ.واقعه دا ده چه جهاد دایمان معیار دې او دچا په زړه کښې چه ددې تمنا نه وی هغه د ایمان او هدایت نه محروم یو بې رونقه او ویران کهنډردې. د جهاد میدان ته د رسیدو توفیق او دالله په لاره کښې د ځان او مال قربانولو موقعه موندل واقعی ډیر لوې سعادت دې،خو که داسې حالات نه وی چه تاسو داسې موقع اوموموئ یا وسائل او ذرائع نه وی چه تاسو میدان جهاد ته رسیدو سره د ایمان جوهر اوښایئ نوبیابه ستاسو شمار په هغه مجاهدینو کښې کیدې شی،چه څوک د الله په لاره کښې شهیدشی یاغازی جوړیدو سره واپس شی په شرط ددې چه ستاسو په زړه کښې دالله په لاره کښې د وتلو درد وی او ددین په لاره کښې د قربانیدو جذبه وی،او د شهادت تمناوی.په دې وجه چه دالله تعالی نظر دهغه دزړه په جذباتو باندې وی چه د مجاهدانه کارنامو دپاره سرې بې چینه کوی. د غزوه تبوک نه چه کله نبی علیه السلام واپس کیدو نو په لاره کښې نبی علیه السلام خپل ملګروته خطاب کولو سره فرمائیلې وو:

”په مدینه کښې څه خلق داسې دی چه تاسو کوم سفر هم دې او کوم دغرونو سفرمو وهلې دې هغوی برابر تاسو سره شریک دی.“ دنبی صلی الله علیه وسلم ملګرو په تعجب سره تپوس اوکړو: آیاپه مدینه کښې پاتې کیدو باوجود؟ وې فرمائیل: ها مدینه کښې پاتې کیدو سره، ځکه چه هغوی مجبورئ ایسار کړې دی هغوی په خپله ایساریدو والا نه وو“.

په قرآن پاک کښ هم الله تعالی دداسې خلقو تعریف فرمائیلې دې چه دجذبې ساتلو باوجود په جهاد کښ دشرکت نه محرومه پاتې شو اوپه خپله دې محرومۍ باندې دهغوی د سترګو نه اوښکې بهیدلې :

وَلَا عَلَى الَّذِينَ إِذَا مَا أَتَوْكَ لِتَحْمِلَهُمْ قُلْتَ لَا أَجِدُ مَا أَحْمِلُكُمْ عَلَيْهِ تَوَلَّوْا وَأَعْيُنُهُمْ تَفِيضُ مِنَ الدَّمْعِ حَزَنًا أَلَّا يَجِدُوا مَا يُنْفِقُونَ۔ [التوبه:۹۲]

”او نه په هغه(بې سروسامان) خلقو باندې الزام دې چه کوم پخپله نبی علیه السلام ته راغلل چه هغوی دپاره د سورلو بندوبست اوکړه اوکله چه نبی علیه السلام اوفرمائیل چه زه ستاسو دپاره دسورلو انتظام نه شم کولې نو هغوی په دې حال کښ واپس شول چه دهغوی دسترګو نه اوښکې بهیدلې په دې غم کښ چه دوی سره په جهاد کښ دشریک کیدو دپاره دخرچ کولو څه موجود نشته.“

او نبی علیه السلام اوفرمائیل :

”کوم سړې چه دالله تعالی په لاره کښ دجهاد کولو نه بغیر مړشو.اودده په زړه کښ ددې تمنا هم نه وی نو هغه دنفاق په کیفیت باندې مړ شو.“ [مسلم]

حقیقت دادې چه دالله تعالی په لاره کښ د جنګیدو او ځان اومال قربانی پیش کولوجذبې نه چه کومه سینه خالی ده هغه دمومن سینه نه شی کیدې.

## د دعوت اوتبلیغ آداب:

۱: په دعوت وتبلیغ کښ دحکمت او سلیقې پوره پوره خیال اوساتئ او داسې طریقه کار اختیارکړئ چه په هرلحاظ سره مناسب،د وقار نه ډک،دمقصد نه ډک او په مخاطب کښ شوق او ولوله پیدا کوؤنکې وی.د قرآن پاک ارشاد دې: اُدْعُ إِلَىٰ سَبِيلِ رَبِّكَ بِالْحِكْمَةِ وَالْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ وَجَادِلْهُم بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ۔ [النحل]

"دخپل رب لارې طرفته دعوت ورکړئ په حکمت سره او په ښه نصیحت سره اومباحثه اوکړئ نو په داسې طریقې سره چه انتهائی ښه وی."

د قرآن پاک ددې جامع آیت نه درې اصولی هدایات ملاویږی:

۱: دعوت حکمت سره ورکړې شی.

۲: نصیحت او پوهول په ښه انداز سره اوکړې شی.

۳: مباحثه په ښه طریقه سره اوکړې شی.

په حکمت سره ددعوت ورکولو مطلب دادې چه پخپله تاسو ته دخپل دعوت دتقدس او عظمت پوره پوره احساس وی،او تاسو دې ګران قیمت دولت لره په نادانئ سره هسې بې ځایه بې ځایه مه خوروئ بلکه تاسو دموقع اومحل هم پوره لحاظ اوساتئ او دمخاطب هم،هرې طبقې،هرې ډلې او هرفرد سره دهغه دفکر،استعداد،صلاحیت او ذهنی کیفیت او سماجی حیثیت مطابق اوکړئ او دې اهل اندازو لره په خپل مینځ کښ د افهام اوتفهیم او دعوت بنیاد جوړکړئ په کوم کښ چه خپل مینځ کښ اتفاق وی او کوم چه دقربت او قبولیت دپاره لاره برابروی.

د ښه نصیحت کولو مطلب دادې چه تاسو په دې سوز، خیرخواهئ او دنیت په خلوص سره نیکو جذباتو لره راواچت کړئ چه مخاطب دشوق او رغبت په جذباتو سره مست شی او دین سره دهغه تعلق صرف د ذهنی اطمینان حده پورې پاتې نه شی بلکه دین دده د زړه آواز ،د روح غذا او دجذباتو تسکین جوړ شی.

په تنقید اومباحثې کښ دښه طریقې اختیارولو مفهوم دادې چه ستاسو تنقید تعمیری وی،د دلسوزئ او د اخلاص دآئینې په شان

پرقیږی او داسې زړه راخکوونکې او ساده وی چه په مخاطب کښې ضد،نفرت،هټ دهرمی،تعصب او د حمیت جاهلیت جذبات راوچت نه شی بلکه واقعی په ښه سوچ کولو باندې مجبوروی،اوپه ده کښې دحق طلب پیداشی او چرته چه دا کیفیت پیداکیدونکی په نظرراتشی تاسوخپله ژبه بنده کړئ او دمجلس نه پاسئ لاړشئ.

۲: په هرحال کښې ددین دعوت ورکوئ او په خپله پوهه سره په دې زیاتې کمې مه کوئ. د اسلام دعوت ورکوونکو ته دا حق هیڅ کله نشته چه هغه د خپل صوابدیدمطابق دهغې څه اجزاء پیش کړی او څه پټ کړی. دالله تعالی ارشاد دې:

وَإِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ آيَاتُنَا بَيِّنَاتٍ قَالَ الَّذِينَ لَا يَرْجُونَ لِقَاءَنَا ائْتِ بِقُرْآنٍ غَيْرِ هَٰذَا أَوْ بَدِّلْهُ ۚ قُلْ مَا يَكُونُ لِي أَنْ أُبَدِّلَهُ مِنْ تِلْقَاءِ نَفْسِي ۖ إِنْ أَتَّبِعُ إِلَّا مَا يُوحَىٰ إِلَيَّ ۖ إِنِّي أَخَافُ إِنْ عَصَيْتُ رَبِّي عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيمٍ۔ قُلْ لَوْ شَاءَ اللَّهُ مَا تَلَوْتُهُ عَلَيْكُمْ وَلَا أَدْرَاكُمْ بِهِ فَقَدْ لَبِثْتُ فِيكُمْ عُمُرًا مِنْ قَبْلِهِ ۚ أَفَلَا تَعْقِلُونَ۔ فَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرَىٰ عَلَى اللَّهِ كَذِبًا أَوْ كَذَّبَ بِآيَاتِهِ ۚ إِنَّهُ لَا يُفْلِحُ الْمُجْرِمُونَ۔

[یونس :۱۵ تا ۱۷]

”او کله چه هغوی ته زمونږ واضح آیتونه اورولې شی نو کوم خلق چه زمونږ دملاقات یقین نه لری هغوی وائی،چه ددې قرآن په ځاې څه بل قرآن راوړئ یاپه دې کښې څه تغیراوتبدیلی اوکړئ. نبی علیه السلام تاسو ورته اووایئ چه زه دخپل طرف نه هیڅ کله په دې کښې څه تبدیلی نه شم کولې. زه خو بخپله ددې وحی تابعداریم کومه چه ماطرفته رالیږلې شی.کچرې زه دخپل رب نافرمانی اوکړم نو ماته د یو لوې دردناک عذاب یره ده او ورته اووایه چه که الله تعالی دانه غوښتل چه زه تاسوته قرآن واوروم نومانه شو اورولې او نه مې تاسو لره ددې نه واقف کولې شوې.آخر ددې نه مخکښې مایو عمرستاسو په مینځ

کښې تیرکړې دې. آیاتاسو دعقل نه کارنه اخلئ؟ بیابه ددې نه زیات ظالم څوک وی چه یودروغ خبره دځان جوړولو سره الله تعالی طرفته منسوب کوی یا دالله تعالی (واقعی) آیتونو لره دروغ اوګرځوی. یقینًا مجرمان خلق کله هم کامیابی نه شی موندلې."

حالات چه څومره هم ناسازګار وی دداعی کار بهرحال دادې چه دین په خپل اصل اومکمل حالت کښې پیش کړی،د الله په دین کښې کمې زیاتې او دحالاتو دتقاضو لاندې په خپله پوهه سره په دې کښې تغیراوتبدل ډیر لوې ظلم دې.او دداسې خلقو دنیا هم تباه کیږی او آخرت هم. اسلام دهغه الله تعالی رالیږلې شوې دین دې دچا علم چه پوره کائنات لره راګیر کړې دې چه د ازل نه تر ابده پورې یقینی علم لری اودچا نقطه نظر چه دغلطئ نه قطعًا پاک دې،چه دانسانی ژوند د آغاز نه هم واقف دې او د انجام نه هم او د چا د مشیت(ارادې) لاندې چه په انسانی معلوماتو کښې ورځ په ورځ حیرت انګیزوسعت پیداکیږی او په انسانی ژوند کښې غیرمعمولی ترقئ ښکاره کیږی،دبل چادپاره خو پریږده دچا دڅه کمې زیاتې به څه ګنجائش وی هرکله چه د اولی داعی مقام دا اوخودلې شو چه دیو مثالی فرمانبردار په شان دهغه دین تابعداری اوکړی او دنافرمانئ دتصور نه رپیږی.

۳: دین لره ددې حکمت سره په فطری انداز کښې پیش کړئ چه هغه غیرفطری بوج محسوس نه شی او خلق ترینه د یریدو او متنفره کیدو په ځاې دهغې په قبلولو کښې سکون او راحت محسوس کړی، او ستاسو نرمی، شرین زبانی اوپه حکیمانه طرزِدعوت سره خلق په دین کښې غیرمعمولی کشش محسوس کړی،حضرت معاویه بن حکم رضی الله عنه فرمائی : یوځل ما دنبی علیه السلام سره مونځ کولو چه یو

سړی ته انتروشکي راغلو،ماپه مونځ کښ "يرحمك الله" وئيلو سره د انتروشی جواب ورکړو. خلقو ماته برندبرند اوکتل. ماورته اووئيل چه الله دي تاسو سره ښه اوکړی ماته ولې برندبرند ګورې نو خلقو ماته دخاموشه کيدو اشاره اوکړه. زه خاموش شوم. کله چه نبی عليه السلام د مونځ نه فارغ شو. زما مورپلار دې په نبی عليه السلام باندې قربان وی، ما داسې بهترين تعليم اوتربيت ورکولو والا نه ددې نه مخکښ ليدلې وو او نه روستو،نبی عليه السلام خو نه زه اورټلم. نه ئې اووهلم اونه ئې راته بدرد اوئيل.صرف دا ئې راته اووئيل :

"اوګوره! دا مونځ دې.په مونځ کښ خبرې اترې کول مناسب نه دی. مونځ خو نوم دې دالله تعالی د پاکئ او لويئ بيانولو.دهغه د لويئ بيانولو او دقرآن دلوستلو".

٤: په خپل تحرير اوتقرير او دعوتی خبرواترو کښ هميشه د اعتدال اهتمام اوساتئ چه په اوريدونکو باندې د اميد کيفيت هم خورشی او د يرې هم. نه خو په يره باندې داسې مبالغه آميز زور ورکړئ چه هغه د الله تعالی د رحمت نه مايوسه شی او خپله اصلاح او نجات هغه ته نه صرف مشکل بلکه محال په نظر راشی اونه دالله تعالی د رحمت او بخښنې داسې تصور پيش کړئ چه هغه بالکل بې باکه او غيرذمه دار جوړ شی او دالله تعالی د ډير رحمت او بخښنې سهارا اخستوسره نافرمانو ته ملا اوتړی. حضرت علی رضی الله عنه فرمائی :

"بهترين عالم هغه دې چه خلقو ته (په داسې انداز کښ الله طرفته دعوت ورکوی چه) دالله تعالی نه ئې نه مايوسه کوی او نه دالله تعالی دنافرمانئ دپاره هغوی ته رخصتونه ورکوی او نه د الله تعالی د عذاب نه هغه بې يرې جوړوی."

۵: په دعوتی کوششونو کښې دوام او تسلسل پیداکړئ او کوم پروګرام چه جوړ کړئ هغې لره په استقلال او ذمه داریٔ سره برابر دچلولو کوشش اوکړئ. پروګرامونو لره نیمګړئ پریخودلو او د نوې نوې پروګرامونو جوړولو عادت پریږدئ. لږ کار کوئ خو مسلسل کوئ.

دنبی علیه السلام ارشاد دې:

"بهترین عمل هغه دې چه مسلسل کولې شی،خواه هغه څومره لږه ولې نه وی."

٦: ددعوت اوتبلیغ په لاره کښې راتلونکی مشکلات،تکالیف،او آزمائشونو په خوشحاله تندی سره استقبال اوکړئ او د صبر او استقامت اوښایئ په قرآن کښې دی:

وَأْمُرْ بِالْمَعْرُوفِ وَانْهَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَاصْبِرْ عَلَىٰ مَا أَصَابَكَ ـ [لقمان:١٧]

"او د نیکئ حکم ورکړئ،او د بدئ منع کول کوئ اوپه دې لاره کښې چه کوم مصیبتونه راځی هغې لره په استقلال سره برداشت کوئ".

د حق په لاره کښې مصائب او مشکلات راتلل ضروری دی،د آزمائش منزلونو نه تیریدو سره په ایمان کښې قوت راځی اوپه اخلاق او کردارکښې پوخوالې راځی. همدا وجه ده چه الله تعالی خپل بندګانولره ضرور آزمائی چه څوک د ایمان دعوی کوی اوڅوک چه په خپل دین او ایمان کښې زیات پوخ وی دهغه آزمائش هم په دې لحاظ سره سخت وی.

د الله تعالی ارشاد دې:

وَلَنَبْلُوَنَّكُمْ بِشَيْءٍ مِنَ الْخَوْفِ وَالْجُوعِ وَنَقْصٍ مِنَ الْأَمْوَالِ وَالْأَنْفُسِ وَالثَّمَرَاتِ ط وَبَشِّرِ الصَّابِرِينَ ـ الَّذِينَ إِذَا أَصَابَتْهُمْ مُصِيبَةٌ قَالُوا إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ ـ أُولَٰئِكَ عَلَيْهِمْ صَلَوَاتٌ مِنْ رَبِّهِمْ وَرَحْمَةٌ وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْمُهْتَدُونَ ـ[البقرة:١٥٥ـ١٥٧]

”اومونږ به ضرورستاسو د یرې او لوږې او دځان اومال په نقصاناتو او د آمدنوکښې په تاوان کښې مبتلاکیدو سره به ستاسو آزمائش کوو. په دې حالاتو کښې چه کوم خلق صبر اوکړی او کله چه څه مصیبت راشی نووائی چه ”مونږ د الله تعالی یو الله تعالی طرفته مونږ له واپس کیدل دی“ هغوی ته خوشخبری ورکړئ. او په هغوی باندې دهغوی درب د طرف نه مهربانئ وی. دهغه درحمت به په هغه باندې سیورې کوی او داسې خلق په صحیح لار باندې دی.“

حضرت سعدرضی الله عنه دنبی علیه السلام نه تپوس اوکړو: یارسول الله صلی الله علیه وسلم! د ټولو نه سخت آزمائش به دکوم سړی وی. نبی علیه السلام اوفرمائیل :د انبیاؤ بیا چه په دین او ایمان کښې هغوی ته زیات نزدی وی او بیا چه دوی ته نزدې وی. دسړی آزمائش دهغه د دین په اعتبار سره کیږی،بس کوم سړې چه په خپل دین کښې پوخ وی دهغه آزمائش به سخت وی اوځوک چه په د ین کښې کمزورې وی دهغه آزمائش به سپک وی او دا آزمائش برابر کیږی تردې پورې چه هغه په زمکه باندې په دې حال کښې ګرځی چه په هغه باندې دګناه اثر نه پاتې کیږی. [مشکوٰة]

او نبی علیه السلام خپل حال بیانولو سره اوفرمائیل: مالره دالله تعالی په لاره کښې دومره تکلیفونه راکړې شوې دی چه هیڅ یو انسان لره هم دومره نه دې کړولې شوې اوزه دالله تعالی په لاره کښې دومره یرولې شوې یم چه کله هم یو قوم دومره نه دې یرولې شوې او په مونږ باندې دریرش( ۳۰ ) شپې ورځې داسې تیرې شوې دی چه زما او دبلال رضی الله عنه د خوراک دپاره داسې څه څیز نه وو چه هغې لره څه ساه لرونکې ئې اوخوری سِوا دهغه مختصر توښې چه دبلال رضی الله عنه په ترخ کښې وه. [ترمذی]

او نبی علیه السلام ارشاد اوفرمائیلو:

"چه کوم سړې دصبرکولو کوشش اوکړی الله تعالی به ورته صبر ورکړی او دصبرنه زیات بهتر او ډیرو ښیګړو لره راغونډونکې بخشش نورځه نشته." [بخاری ،مسلم]

په اصل کښې آزمائشونه تحریک ته قوت ورکوؤنکی او د مخکښې بوتللو لازمی ذریعه ده. د آزمائشونو د منزلونو نه تیریدو نه بغیر هیڅ یو تحریک کله هم نه شی کامیابیدې. خصوصًا هغه تحریک چه په انسانی عالم کښې دیو لوې انقلاب دعوت ورکوی او پوره انسانی ژوند ته په نوې بنیادونو باندې د تعمیرکولو منصوبه لری.

په کومه زمانه کښې چه دمکې سخت زړونو والاخلق، نبی صلی الله علیه وسلم او دنبی علیه السلام ملګرو باندې ډیر زیات ظلم وستم کولو دهغه ورځو یو واقعه حضرت خباب بن الارت رضی الله عنه بیانوی:

نبی علیه السلام دبیت الله په سیوری کښې څادر اغوستې آرام فرمائیلو. مونږ نبی علیه السلام ته شکایت راوړلو سره راورسیدلو. یارسول الله صلی الله علیه وسلم! تاسو زمونږ دپاره د الله تعالی نه مدد نه غواړې. نبی علیه السلام ددې ظلم دخاتمې دپاره دعا نه کوله.(آخر داسلسله به کومه پورې اوږده وی او کله به دا دمصیبتونو دورختم شی؟) نبی علیه السلام دې اوریدلو سره اوفرمائیلو: تاسو نه مخکښې داسې خلق تیرشوې دی چه په هغوی کښې به بعضو لره کنده اوکنستلې شوه. بیابه هغه په کنده کښې اودرولې شو، بیا به آرا راوړلې شوه او دهغوی بدن لره به څیرلې شو تردې چه دهغوی بدن به دوه ټکړې کولې شو.بیابه هم هغوی دخپل دین نه نۀ اوړیدل او دهغوی بدن په د

اوسپنو په ګومنزو سره ګومنز کولې شو چه دغوبښې نه به تیریدو سره هډکو او پټهو ته اورسیدلو خو هغه دالله بنده به دحق نه بیاهم نه اوړیدلو.قسم دې په الله باندې دا دین به غالب کیږی. تردې چه په سورلئ سور به(دیمن د دارالخلافې) صنعاء نه حضرموت پورې سفرکوی او په لاره کښې به دالله تعالی نه سیوا دبل چا یره نه وی.البته شپونکو ته به صرف د شرمخانو یره وی چه چرته چیلئ رانه اوچته نه کړی خو افسوس دې چه تاسو جلتی کوئ." [بخاری]

حضرت معاویه رضی الله عنه فرمائی : ما د نبی علیه السلام نه دا ارشاد اوریدلې دې چه :

"زما په امت کښې به برابر یوه ډله داسې موجوده وی چه د الله تعالی ددین محافظ به وی. چه کوم خلق دهغوی سره نه یوځاې کیږی اوچه کوم خلق دهغوی مخالفت کوی هغه به دوی لره نه شی تباه کولې تردې پورې چه د الله تعالی فیصله راشی او ددین محافظ خلق به په خپل دې حالت باندې قائم اوسی." [بخاری ومسلم]

۷: بې ځایه رواداری،مداهنت او د اصولو قربانی ورکولو سره په سختئ سره پرهیز اوکړئ. په قرآن کښې دمومنانو په تعریف کښې وئیلې شوې دی:

اَشِدَّآءُ عَلَى الْكُفَّارِ

"دوی به په کافرانو باندې سخت وی."

یعنی دوی به دخپل دین او اصولو په معامله کښې انتهائی سخت وی. دوی په هیڅ حال کښې هم دخپلو اصولو په معامله کښې څه مصالحت یا مداهنت نه کوی. هغوی هرڅه برداشت کوی خو ددین او اصولو قربانی نه شی ورکولې. مسلمانانو ته الله تعالی دنبی علیه السلام په واسطې سره هدایت ورکړې دې:

فَلِذٰلِكَ فَادْعُ وَاسْتَقِمْ كَمَا أُمِرْتَ وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَآءَهُمْ [الشوریٰ :۱۵]

”بس تاسو دې دين طرفته دعوت ورکړئ اوڅنګه چه تاسو ته حکم درکړې شوې دې.په هغې باندې په مضبوطياسره ټينګ اوسئ او دهغوی په خواهشاتو پسې مه ځئ.“

ددين په معامله کښې مداهنت،بې ځايه رواداری اوباطل سره مصالحت هغه خطرناکه کمزوری ده چه دين او ايمان لره تباه کوی.

دنبی صلی الله عليه وسلم ارشاد دې:

”کله چه بنی اسرائيلو دالله دنافرمانو کارونه شروع کړل نو دهغوی علماؤ هغوی لره منع کړل خو هغوی منع نه شول(نو دهغوی علماء دهغوی نه دبائيکاټ کولو په ځاې) دهغوی په مجلسونو کښې ناسته پاسته کوله او هغوی سره به ئې خوراک څکاک کولوکله چه داسې اوشول نو الله تعالی د هغوی ټولو زړونه يوشان کړل اوبيادحضرت داؤدعليه السلام او حضرت عيسی عليه السلام په ژبو باندې الله تعالی په هغوی(بنی اسرائيلو) باندې لعنت اوکړو“.

دا په دې وجه چه هغوی دنافرمانئ لار اختيار کړه او په دې کښې مخکښې تلل .ددې حديث راوی عبدالله بن مسعودرضی الله عنه فرمائی چه نبی عليه السلام ټيک وهلې وو ناست وو بيانيغ کيناستلو او وې فرمائيل : نه په هغه ذات باندې قسم دچاپه قبضه کښې چه زما ساه ده تاسو ضرور دنيکو حکم ورکوئ او دبدو نه منع کول کوئ او دظالم لاس نيسئ او ظالم دحق مخې ته ښکته کړئ کچرې تاسو داسې نه کوئ نوستاسو ټولو زړونه به هم يوشان شی اوبيا به الله تعالی تاسو دخپل رحمت او هدايت نه لرې اوغورزوی څنګه چه بنی اسرائيلو لره ئې محروم کړل.

۸: خپل بچو لره د اصلاح وتربیت او هغوی لره د دین داقامت دفریضې سرته رسولو دپاره تیارول ستاسو اولین فرض هم دې اوستاسو دسرګرمو فطری میدان هم .دې میدان لره پرېښودلو سره خپل تبلیغی او اصلاحی کوششونو دپاره صرف بهرمیدان تلاش کول غیرحکیمانه او غیرفطری عمل دې او ډېره لویه کوتاهی او تیخته ده. ددې مثال داسې دې چه تاسو دقحط په زمانه کښې خپل کوروالو لره اوږې ترږې او ترقیدونکې پرېږدئ او بهر ضرورت مندو لره تلاش کولو سره دغلې تقسیمولو دسخاوت مظاهره کوئ. ګویا نه خو تاسوته د د لوږې تندې او قرابت او محبت احساس شته او نه د غلې د تقسم په حکمت سره ستاسو ذهن آشنادې. په قران کښې مومنانو ته هدایت ورکړې شوې دې:

يَآ اَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا قُوْٓا اَنْفُسَكُمْ وَاَهْلِيْكُمْ نَارًا

”مؤمنانو! بچ کړئ خپل ځانونه او کوروالو لره دجهنم د اُور نه.“

او نبی علیه السلام دهغې تشریح په دې الفاظو کښې فرمائیلې ده :

”په تاسو کښې هریو نګران او ذمه دار دې،او په تاسو کښې به دهریونه دهغه خلقو متعلق تپوس کیږی چه دهغه په نګرانئ کښې دی. حاکم نګران دې دهغه نه به دهغه د رعیت په باره کښې تپوس کیږی او خاوند د خپل کوروالو نګران او ذمه دار دې په تاسو کښې هریونه به دهغه خلقو په باره کښې تپوس کیږی کوم چه دهغه په نګرانئ کښې ورکړې شوې دی.“ [بخاری ومسلم]

۹: دخپل ګاونډیانو او محلې والو د اصلاح او تعلیم هم فکرکوئ او دې لره خپل فریضه ګڼړئ.نبی علیه السلام یوه ورځ خطبه ورکړه په هغې کښې ئې دځه مسلمانانو تعریف اوکړو. بیائې اوفرمائیل :داسې ولې ده چه ځه خلق په خپل ګاونډیانو کښې دین پوهه نه پیداکوی او

هغوی ته دین نه ښائی او هغوی ته ددین نه د ناواقفه کیدو عبرت ناک نتائج نه ښائی. اوهغوی د بدو کارونو نه نهٔ منع کوی. په الله قسم! خلق خپلو ګوانډیانو ته لازمًا ددین تعلیم  ورکړئ. هغوی کښې ددین پوهه پیداکړئ. هغوی ته نصیحت اوکړئ،هغوی ته ښه خبرې اوښایئ او هغوی لره د بدو خبرو نه منع کړئ دارنګه خلقوته پکاردی چه لازمًا خپلو ګوانډیانو ته دین زده کړی،ددین پوهه پیداکړی اودهغوی نصیحتونه قبول کړی ګنی زه به هغوی ته ډیر زر سزا ورکړم. بیا نبی علیه السلام دمنبرنه ښکته راکوزشو او تقریر ئې ختم کړو:

په اوریدونکو کښې بعضې خلقو دنورو نه تپوس اوکړو،دا کوم خلق وو چه دکومو خلاف د نبی علیه السلام تقریر اوفرمائیلو؟ نورو خلقو ورته اووئیل چه دنبی علیه السلام اشاره دقبیله اشعر خلقو طرف ته وه.دا خلق ددین والا خلق وو. او دهغوی سره په ګوانډکښې په چینو باندې اوسیدونکی جټ خلق دی.کله چه ددې تقریرخبر اشعری خلقو ته اورسیدو نوهغوی دنبی علیه السلام په خدمت کښې حاضرشول او وې وئیل : اې د الله رسول صلی الله علیه وسلم! تاسو په خپله خطبه کښې دڅه خلقو تعریف اوکړو او په مونږدې غصه اوفرمائیله نو اوفرمایئ چه زمونږ نه څه قصور شوې دې؟ نبی علیه السلام اوفرمائیل: د خلقو فرض دې چه هغوی خپل ګوانډیانو ته ددین تعلیم ورکړی،او هغوی ته وعظ ونصیحت اوکړی،د ښه خبرو تلقین اوکړی او دبدو خبرو نه ئې منع کړی،دغه شان دخلقو دا هم فرض دی چه هغوی د خپلو ګوانډیانو نه ددین علم حاصل کړی،او دهغوی نصیحتونو لره قبول کړی او په خپل ځان کښې ددین پوهه پیدا کړی ګنی ډیرزر هغه خلقو ته به په دنیاکښې سزا ورکړم.“

دې اوريدو سره د قبيله اشعر خلقو اووئيل : اې دالله رسول صلى الله عليه وسلم! آيامونږ په نورو خلقو کښې پوهه پيدا کړو؟ نبى عليه السلام اوفرمائيل: جى ها داستاسو ذمه دارى ده." نو دې خلقو اووئيل: اې دالله رسول صلى الله عليه وسلم مونږ ته يو کال مهلت راکړئ، نو نبى عليه السلام هغوى ته يو کال مهلت ورکړو. چه په هغې کښې هغوى په خپل ګاونډيانو ته دين اوښائى او ددين پوهه پکښې پيدا کړى. ددې نه پس نبى عليه السلام دا آيتونه تلاوت اوفرمائيل :

**لُعِنَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ عَلٰى لِسَانِ دَاوٗدَ وَعِيْسَى ابْنِ مَرْيَمَ ۭ ذٰلِكَ بِمَا عَصَوْا وَّكَانُوْا يَعْتَدُوْنَ ۔ كَانُوْا لَا يَتَنَاهَوْنَ عَنْ مُّنْكَرٍ فَعَلُوْهُ ۭ لَبِئْسَ مَا كَانُوْا يَفْعَلُوْنَ ۔**

[المائده:۷۸]

"دبنى اسرائيلو په کفر کوؤنکو باندې لعنت اوکړې شو د داؤد عليه السلام او عيسى بن مريم عليه السلام په ژبه باندې دا لعنت په دې وجه اوکړې شو چه هغوى دنافرمانۍ لار اختيار کړه او برابر ئې دالله تعالى حکمونه ماتول. دوى په خپل مينځ کښې يوبل دبدو خبرو نه نه منع کول. بيشکه دا حرکت ډير بد وو."

۱۰: دکومو خلقو په مينځ کښې چه تاسو ددعوت وتبليغ خوشګوار فريضه ادا کوئ،دهغوى دمذهبى معتقداتو او دجذباتو احترام او لحاظ اوکړئ. مه دهغوى مشرانو او مقتداؤ لره په بد نوم سره يادکړئ.په مثبت انداز کښې په حکمت سره خپل دعوت پيش کړئ او په تنقيد کښې هم مخاطبينو لره د راوچتولو په ځاې د زړه په درد سره دهغوى په زړه کښې د خپلې خبرې کوزيدو کوشش اوکړئ. په دې وجه چه په جذباتى تنقيداو په توهين آميز خبرو اترو سره په مخاطب کښې دخه ښه تبديلۍ توقع نه وى.البته دا يره وى چه چرته دحميتِ جاهليت او د تعصب په

لهجه کښې هغه د الله او ددين په شان کښې ګستاخي اوکړي او دين ته د نزدې راتلو په ځاې ددين نه نور هم لرې شي.

د قرآن هدايت دې :

وَلَا تَسُبُّوا الَّذِينَ يَدْعُونَ مِنْ دُونِ اللهِ فَيَسُبُّوا اللهَ عَدْوًا بِغَيْرِ عِلْمٍ ۔ [الانعام:۱۰۸]

"اې مومنانو! داخلق د الله تعالی نه سيوا چالره چه رابلي هغوی ته کنځل مه کوئ داسې نه وی چه دوی دشرک نه مخکښې لاړ شي دجهالت په بناء باندې الله تعالی ته کنځل اوکړي."

۱۱: داعی الی الله جوړيدو سره ددعوت فريضه اداکړئ. يعنی صرف دالله تعالی طرفته ته دعوت ورکوؤنکې جوړ شئ.د الله تعالی بندګانو لره دالله تعالی نه سيوا بل يو څيز طرف ته هيڅ کله مه رابلئ،نه وطن طرف ته نه قوم او نسل طرف ته،نه کومې ژبې طرفته دعوت ورکړئ،نه کوم جماعت طرفته،دمؤمن نصب العين صرف دالله تعالی رضا ده هغه نصب العين طرفته دعوت ورکړئ او ددې يقين پيدا کولو کوشش اوکړئ چه دبنده کار صرف دادې چه هغه دخپل خالق ومالک بندګی اوکړي، په خپله انفرادی ژوندکښې هم او په کورنی کښې هم،په معاشرتی ژوندکښې هم، او په ملکی معاملاتو کښې هم، غرض داچه په پوره ژوند کښې دخپل مالک او پروردګار په ويناباندې اوچليږی او د هغه دقانون مخلصانه تابعداری اوکړي.دهغه نه سيوا څه څيز داسې نشته چه هغې لره مسلمان خپل نصب العين اوګرځوی. او هغې طرفته دعوت ورکړي. مومن چه کله هم دالله تعالی د هدايت نه مخ واړوی دالله تعالی د رضانه علاوه بل څيز لره خپل نصب العين اوګرځوی.په دواړه جهانونو کښې به ناکامه او نامراده وی.

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِّمَّنْ دَعَا إِلَى اللهِ وَعَمِلَ صَالِحًا وَقَالَ إِنَّنِي مِنَ الْمُسْلِمِينَ ۔ [الانعام]

"دهغه سړی دخبرې نه دچا خبره ښه کیدې شی چاچه د الله تعالی طرفته دعوت ورکړو، او نیک عمل ئې اوکړو او وې وئیل چه زه دالله تعالی فرمانبرداراو مسلمان یم."

**د نظمِ جماعت آداب:**

۱: ددعوت وتبلیغ فریضه ادا کولو دپاره مضبوط تنظیم په وجود کښې راولئ او ددین داقامت دپاره اجتماعی جدوجهد اوکړئ.

وَلْتَكُنْ مِنْكُمْ أُمَّةٌ يَدْعُونَ إِلَى الْخَيْرِ وَيَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ۔

[العمران]

"او په تاسو کښې یو جماعت داسې ضرور کیدل پکار دی چه خیر طرفته دعوت ورکوی،دښو خبرو حکم کوی او دبدو خبرو نه منع کول کوی."

"الخیر"نه مراد هرهغه فطری ښه کاردې کوم لره چه همیشه انسانی فطرت ښه کارګڼرلې دې اودکوم چه د ښه کارکیدو شهادت آسمانی کتابونو ورکړې دې،ددې ټولو ښه کارونو اوخوبیانو یوجامع او مرتب شکل دالله تعالی رالیږلې شوې دین دې چه په هردور کښې دالله تعالی پیغمبرئې راوړی چه دهغې آخری،مستنداومحفوظ شکل هغه کتاب وسنت دې چه دنبی صلی الله علیه وسلم امت ته ورکړې شوې دې. هم دغه خیر طرفته دعوت ورکولو اودښو کارونو دپاره دنیالره دمالا مال کولو دپاره ضروری ده چه مسلمان جماعت جوړیدو سره په منظم طورباندې دې کارلره سرته ا ورسوی او د ژوندپه هرمیدان کښې په باطل باندې غلبه حاصلولو دپاره مضبوط اجتماعیت په وجود کښې راولئ اوانتهائی منظّم کوشش اوکړئ. الله تعالی دمومنانو دهغه مضبوط اجتماعیت او اجتماعی محنت نقشه راښکلې ده او هغې لره ئې خپل محبوب ګرځولې ده.

اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الَّذِيْنَ يُقَاتِلُوْنَ فِيْ سَبِيْلِهٖ صَفًّا كَاَنَّهُمْ بُنْيَانٌ مَّرْصُوْصٌ۔

"بیشکه هغه خلق دالله تعالی محبوب دی چه په دې لاره کښې په همت سره صف تړلې جنګیږی ګویاچه هغه د فولادو جوړ شوې عمارت دې."

نبی صلی الله علیه وسلم د اجتماعی ژوند اهمیت او جماعت جوړیدو سره د ژوند تیرولو تلقین کولو په باره کښې ارشاد اوفرمائیلو: "درې کسان چه یو ځنګل کښې اوسیږی،دهغه دپاره جائزنه دی مګر داچه په خپل مینځ کښې یو کس لره امیرمنتخب کړی." [شعبی]

او هغوی دا ارشاد هم اوفرمائیلو:

"کوم کس چه دجنت په مینځ کښې خپل کور جوړول غواړی هغه لره د "الجماعت" سره یوځاې کیدل پکاردی.په دې وجه شیطان دیوسړی سره وی اوکله چه دوه شی نوهغه لرې تختی." الجماعت نه مراد دمسلمانانو داسې منظّم اجتماعیت دې،کله چه اقتدار د مسلمانانو په لاس کښې وی، او مسلمان خلیفه اسلامی احکام اوقوانین نافذ کوی او ټول اهل اسلام دده په قیادت او رهنمایئ باندې متفق وی، په داسې حالت کښې دچامسلمان دپاره قطعًا څه ګنجائش نشته چه هغه دجماعت نه نه جدا کیدو سره ژوند تیرکړی او کله چه دا الجماعت موجود نه وی نو دامت فرض دی چه هغه منظّم کیدو سره داجتماعی کوشش په ذریعه دې الجماعت لره په وجود کښې راوستلو کوشش اوکړی.

۲: د اتحاد وتنظیم بنیاد صرف دین لره جوړکړئ. اسلامی تنظیم هغه دې چه دهغې بنیاد دالله تعالی دین وی. دالله تعالی دین لره پریخودو سره په بل څه بنیاد باندې دمسلمانانو اتحادواتفاق، هغه اتحاد

نه دي دکوم حکم چه اسلام ورکړې دې او داسې تنظيم وجماعت په حقيقت کښې هغه اسلامی تنظيم نه دې.په مسلمانانو کښې حقيقی رشته د رورولئ او اتحاد صرف دين دې. ددين نه سوا چه کوم څيز لره هم دې دخپل اتحاد بنياد جوړوی دمتحد کيدو په ځاې به منتشر کيږی او دالجماعت جوړيدو په ځاې ډله اوفرقه به جوړه شی. جماعت جوړکړیٔ نوصرف په دې وجه چه دالله تعالی دين قائمول ستاسو نصب العين وی اوستاسو ټول تګ و دؤ صرف ددې په خاطر وی.

وَاعْتَصِمُوْا بِحَبْلِ اللّٰهِ جَمِيْعًا وَّلَا تَفَرَّقُوْا ۠ وَاذْكُرُوْا نِعْمَتَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ اِذْ كُنْتُمْ اَعْدَآءً فَاَلَّفَ بَيْنَ قُلُوْبِكُمْ فَاَصْبَحْتُمْ بِنِعْمَتِهٖۤ اِخْوَانًا۔ [آل عمران :۱۰۳]

”او تاسو ټول په يوځاې دالله تعالی رسیٔ لره په مضبوطیٔ سره اونيسیٔ، او جدا جدا فرقې مه جوړيږیٔ او د الله تعالی هغه احسان لره يادکړیٔ چه هغه په تاسو باندې کړې دې،تاسوديوبل دشمنان وئ الله تعالی ستاسو زړونوکښې محبت واچولو اوتاسو دهغه په فضل سره رونړه رونړه جوړ شوئ“.

د الله تعالی درسیٔ نه مراد د الله تعالی دين، اسلام دې دقرآن په نزد دمسلمانانو وحدت واجتماعيت بنياد همدا دين دې.ددې نه سيوا يو بنيادهم مسلمانانولره يوځاې کولو والا نه دې بلکه جدا جدا کوؤنکی دی.

۳: دحق ددعوت کارکنانو سره د زړه نه محبت اوکړیٔ او دې رشتې لره د هرې رشتې نه زيات اهم او قابل داحترام اوګنړیٔ. په قرآن کښې دمومنانو په تعريف کښې وئيلې شوې دی:

لَا تَجِدُ قَوْمًا يُّؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ يُوَآدُّوْنَ مَنْ حَآدَّ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ وَلَوْ كَانُوْۤا اٰبَآءَهُمْ اَوْ اَبْنَآءَهُمْ اَوْ اِخْوَانَهُمْ اَوْ عَشِيْرَتَهُمْ۔ [المجادله:۲۲]

”تاسو به دې ډلې لره چه په الله او په ورځ د آخرت ایمان لرى د هغه خلقوسره محبت او الفت کوؤنکى اونه وينې کومو چه دالله او دهغه د رسول صلى الله عليه وسلم دشمنئ ته ملاتړلې وى، خواه د هغه خپل پلار ياخپل ځوې ياخپل رور يا دخپل خاندان والا ولې نه وى.-

٤: دجماعتى ملګرو د نصيحت اوخيرخواهئ اهتمام کوئ او جماعتى ژوند کښ په خپل مينځ کښ د تلقين جذبې لره بيداره ساتئ.په دې وجه چه همدا د کاميابئ ضمانت دې:

وَالْعَصْرِ۔ اِنَّ الْاِنْسَانَ لَفِىْ خُسْرٍ۔ اِلَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ وَتَوَاصَوْا بِالْحَقِّ ۙ وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ۔ [سورۃ العصر]

”زمانه ګواه ده چه انسان په نقصان کښ دې سيوا دهغه خلقو نه کومو چه ايمان راوړو او نيک عمل کوى،او کوم چه يوبل ته دحق وصيت کوى او د صبر وثبات تلقين کوى“.

٥: دجماعتى نظم پوره پوره پابندى کوئ او دې لره صرف د جماعتى استحکام ذريعه مه ګنړئ،بلکه دينى فريضه ئې تصور کړئ. دالله تعالى ارشاد دې:

اِنَّمَا الْمُؤْمِنُوْنَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ وَاِذَا كَانُوْا مَعَهٗ عَلٰٓى اَمْرٍ جَامِعٍ لَّمْ يَذْهَبُوْا حَتّٰى يَسْتَاْذِنُوْهُ اِنَّ الَّذِيْنَ يَسْتَاْذِنُوْنَكَ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ يُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ۔ [النور: ٦٢]

”مومنان خو په حقيقت کښ هغه خلق دى چه الله او دهغه رسول صلى الله عليه وسلم لره د زړه نه اومنى اوکله چه د څه اجتماعى کار په موقع باندې درسول الله صلى الله عليه وسلم سره وى، نو دهغه نه اجازت اخستو نه بغير دې نه ځى، حقيقت دادې چه کوم خلق دنبى عليه السلام نه اجازت اخلى هم هغه دالله او دهغه درسول صلى الله عليه وسلم منونکى دى.“

دنظم جماعت پابندی او دخپل قائداطاعت وفرمانبرداری صرف یو قانونی معامله نه ده بلکه یوه اهمه شرعی معامله ده اوقرآن پاک دهغه خلقو دایمان د رښتونوالی ګواهی ورکړې ده چه دنظم جماعت پابند وی او دیوجماعتی ډیوټۍ نه هغه وخت روستو کیږی کله چه دخپل سرابره (امیر) نه اجازت حاصل کړی.

٦: په جماعتی ژوندکښ دنیکۍ چه کوم کارونه کیږی،د زړه په خلوص سره په هغې کښ تعاون اوکړۍ او څه چه کولې شۍ دهغې نه مه روستوکیږۍ. خودعرضی،مطلب پوره کول او خودپرستۍ په شان ګنده جذباتو نه خپل اخلاقی لمن پاکه اوساتۍ. په قرآن کښ هدایت دې:

وَتَعَاوَنُوْاعَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوٰى

"او دنیکۍ او خداپرستۍ په کارونو کښ دیوبل مدد کوۍ."

۷۔ د ملګرو سره تعلقات ښه ساتۍ اوکله چه مو د چاسره اختلاف شی نو فورًا صلحه اوکړۍ او زړه د کینه څخه پاک کړۍ

فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاَصْلِحُوْا ذَاتَ بَيْنِكُمْ

"بس دالله نه اویریږۍ،اوخپل مینځ کښ تعلقات لره ښه ساتۍ."

۸: د اسلامی جماعت دامیر د زړه په خوشحالۍ سره اطاعت اوکړۍ او دهغه خیرخواه او وفادار اوسۍ. د نبی علیه السلام ارشاد دی:

"مسلمانانو لره دخپل ذمه دار خبره اوریدل او منل ضروری دی،خواه هغه حکم په خپل طبیعت ښه لګی یاښه نه لګی په شرط ددې چه هغه دالله دنافرمانۍ حکم نه وی ها! کله چه دالله دنافرمانۍ حکم ورکړې شی نوهغه خبره نه اوریدل پکاردی او نه منل پکار دی. [بخاری ومسلم]

حضرت تمیم داری رضی الله عنه فرمائی چه نبی علیه السلام اوفرمائیل:

"دین دمخلصانه خیرخواهۍ او وفادارۍ نوم دې".... درې ځله نبی علیه السلام داخبره اوکړله. مونږ تپوس اوکړو "دچاخیرخواهی او وفاداری"ارشاد ئې اوفرمائیلو: دالله تعالی،او دهغه درسول صلی الله علیه وسلم،دهغه دکتاب،دمسلمانانو د ذمه دارو او دعام مسلمانانو وفاداری۔ [مسلم]

۹: جماعتی عصبیت، تنګ نظری او د فرقه بندۍ نه پرهیز اوکړئ.

په فراخه زړه او ښکلې اخلاقو سره دهریو سره تعاون اوکړئ اوکوم خلق چه هم ددین کار کوی دهغوی قدر اوکړئ. دهغوی سره خیرخواهی او داخلاص سلوک اوکړئ او هغوی لره خپل دسفرملګرې او په کار کښې تعاون کوؤنکې اوګڼړئ. د دین کار کوؤنکی په حقیقت کښې ټول دیوبل ناصر اوحامی دی. دټول مطلوب دین دې او ټول دخپل خپل پوهې مطابق ددین خدمت کول غواړی. په اخلاص سره د افهام وتفهیم په ذریعه دیوبل غلطۍ واضح کول او صحیح طرزفکر او دعمل نشاندهی کول خو یو ډیر مبارک عمل دې او دا کیدل پکار دی.البته خپل مینځ کښې نفرت،جهګړې بغض وعناد،یوبل لره لاندې کول اودیوبل خلاف پروپیګنډه کول،هغه طرز عمل دې چه په هیڅ طریقه هم د دین داعیانو د شان لائق نه دی او ددې خلقو لمن د داسې داغونو نه بالکل صفا کیدل پکار دی چه څوک واقعی د زړه د کُمې دا غواړی چه خپل قوتونو اوصلاحیتونو لره دالله په لار کښې اولګوی اوپه ژوند کښې دالله دین څه خدمت اوکړی.

## دقیادت آداب:

۱: داسلامی جماعت دقیادت دپاره او رهنمایئ دپاره داسې سړی لره منتخب کړئ چه په خداترسئ او پرهیزګارئ کښې دټولو نه وړاندئ وی،په دین دمشرئ معیار نه مال اودولت دې نه خاندان بلکه په دین کښې هغه سړې افضل دې چه دټولو نه زیات د الله تعالی نه یریدونکې دې.

دقرآن پاک ارشاد دې:

يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ اِنَّا خَلَقْنٰكُمْ مِّنْ ذَكَرٍ وَّاُنْثٰى وَجَعَلْنٰكُمْ شُعُوْبًا وَّقَبَآئِلَ لِتَعَارَفُوْا ۭ اِنَّ اَكْرَمَكُمْ عِنْدَ اللّٰهِ اَتْقٰىكُمْ۔ [الحجرات]

"اے انسانانو! مونږ تاسو لره دیوسړی او یوې ښځې نه پیدا کړې. او ستاسو خاندان اوقبیلې مو جوړې کړې دی دپاره چه تاسو په خپل مینځ کښې یو بل اوپیژنئ. بیشکه په تاسو کښې دټولو نه زیات معزز او مکرم هغه دې چه په تاسو ټولو کښې زیات متقی او پرهیزګاره دې."

۲: دقیادت انتخاب لره یو خالص دینی فریضه اوګڼړئ اوخپلې رائې لره دالله امانت ګڼړل او صرف دهغه سړی په حق کښې استعمال کړئ کوم لره چه تاسو واقعی ددې ګران بوج اوچتولو او د حق ادا کولو لائق ګڼړئ. دالله تعالی ارشاد دې:

اِنَّ اللّٰهَ يَاْمُرُكُمْ اَنْ تُؤَدُّوا الْاَمٰنٰتِ اِلٰٓى اَهْلِهَا۔ [النسا:۵۸]

"بیشکه الله تعالی تاسو ته حکم کوی چه تاسوخپل امانتونه هغه چاته حواله کړې چه ددې اهل دی."

دایو اصولی او جامع هدایت دې چه په هرقسمه امانتونو باندې حاوی دې اوپه سلسله بیان کښې دامانتونو نه مراد د اسلامی جماعت

ذمه داریانې دی یعنی د اسلامی جماعت قیادت او رهنمایئ دپاره دخپلې رائې او امانت هغه اهل سړی ته حواله کړئ چه واقعی دې بوج لره د اوچتلو اهلیت اوصلاحیت لری،په دې معامله کښې دجانب داریٔ یادبې ځایه رواداریٔ اودغه شان د نورو عواملو نه متاثره کیدو سره رائې ورکول خیانت دې چه دهغې نه دمومن لمن پاک کیدل پکار دی.

۳: کچرې تاسودمسلمانانو د جماعت ذمه داری سنبهال کړئ او د خپل فرائضو پوره پوره شعور اولرئ او په کامل دیانت،محنت او احساسِ ذمه داری اوخپل ځان ورکولو سره خپله ډیوټی سرته اورسوئ. دنبی علیه السلام ارشاد دې:

”چه کوم سړې دمسلمانانو د اجتماعی امورو ذمه دار وی او هغه هغوی سره خیانت اوکړی نوالله تعالی به په ده باندې جنت حرام کړی.“ [بخاری،مسلم]

اونبی علیه السلام دا هم ارشا د اوفرمائیلو:

”چه کوم سړی دمسلمانانو د اجتماعی معاملاتو ذمه داری قبوله کړی بیاهغه دهغوی سره خیرخواهی اونکړی او دهغې په ادا کولو کښې خپل ځان ستړی نکړی څنګه چه هغه خپل ذاتی ضرورت دپاره ځان ستړی کوی نو الله تعالی به هغه کس لره جهنم ته اُلټه اوغورزوی.“ [طبرانی]

٤: خپل ماموررانو سره نرمی،شفقت،انصاف او ښه سلوک اوکړئ دې دپاره چه په فراخه زړه سره تاسوسره تعاون اوکړی او الله تعالی ستاسو جماعت ته دخپل دین دخه خدمت توفیق ورکړی. په قرآن کښې دنبی علیه السلام تعریف داسې کړې شوې دې :

فَبِمَا رَحْمَةٍ مِّنَ اللّٰهِ لِنْتَ لَهُمْ وَلَوْ كُنْتَ فَظًّا غَلِيْظَ الْقَلْبِ لَانْفَضُّوْا مِنْ حَوْلِكَ ۔ [العمران]

"دا دالله تعالی رحمت دې چه تاسو ددې خلقو دپاره نرم زړه والا ئې او کچرې ته سخت مزاج او سخت زړه وې نوداټول به ستاخوا نه لرې تختیدل."

او هغوی ته تاکید کړې شوې دې :

وَاخْفِضْ جَنَاحَكَ لِمَنِ اتَّبَعَكَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ [الشعراء]

"او تاسو دخپل شفقت متې خورې کړئ دهغه مومنانو دپاره کوم چه ستاسو تابعداری کوی."

حضرت عمربن خطاب رضی الله عنه یوځل تقریرکولو وې فرمائیل : اې خلقو! زمونږ په تاسو باندې حق دې چه پټی شا، زمونږ سره مخلصانه خیرخواهی کوئ او دنیکئ په امورو کښې زمونږ مدد اوکړئ. بیائې ارشاد اوفرمائیلو: اې دحکومت ذمه دارانو د مشر ښه سلوک او د نرمئ نه زیات فائده ورکوونکی د الله تعالی په نزد زیات خوښ نور هیڅ خوښ څیز نشته. دغه د مشر ناپوهی او جذباتیت او بغیر د سوچ اوپوهې نه کارکولو سره زیات نقصان ورکوونکې او ناخوښه بله نادانی اوبدسلیقګی نشته.

۵: دخپل ملګرو اهمیت محسوس کړئ. دهغوی دجذباتو احترام اوکړئ، د هغوی د ضرورتونو احساس اوکړئ او دهغوی سره د رورولئ سلوک اوکړئ چه هغوی تاسو لره دټولو نه زیات خیرخواه اوګڼړی ـ

حضرت مالک بن حویرث رضی الله عنه وائی،چه یوځل مونږ خپل هم عمر ځوانان دنبی علیه السلام خدمت کښې پاتې کیدو دپاره اورسیدو او دنبی علیه السلام په خدمت کښې شل شپو پورې پاتې شو،واقعی دالله تعالی رسول ډیرنرم زړه او رحیم وو. کله چه رسول الله صلی الله علیه وسلم دا محسوسه کړه چه اوس مونږ ته د کور خلق

یادیږی نو زمونږ نه ئې تپوس اوکړو چه تاسو روستو کور کښې څوک څوک پریخودې دی او راغلې یئ؟ مونږ ورته تفصیل اوخودلو نو وې فرمائیل : چه ښه ده اوس تاسو خلق خپل کورونو ته واپس شئ او هغوی سره اوسیږئ او کوم څه چه تاسو زده کړل هغوی ته ئې اوښایئ او هغوی ته د نیکو خبرو تلقین کوئ او فلانې مونځ په فلانی وخت باندې کوی اوفلانې په فلانی وخت او کله چه دمونځ وخت راشی نو په تاسو کښې دې یو کس آذان اوکړی اوڅوک چه په تاسو کښې دعلم او کردار په لحاظ سره دټولو نه زیات وی هغه دې مونځ ورکړی.

٦: د خپلو ملګرو قدر اوکړئ او هغوی لره خپل سرمایه ګڼړلو سره په پوره توجه سره او د زړه په درد سره دهغوی تربیت اوکړئ دوی لره نادار او مفلس ګڼړلو سره هغه خلقو ته په پسخیدلوسترګو سره مه ګورئ چاته چه الله تعالی دنیوی شان وشوکت او مال اواسباب ورکولو سره مهلت ورکړې دې.

وَاصْبِرْ نَفْسَكَ مَعَ الَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ رَبَّهُمْ بِالْغَدٰوةِ وَالْعَشِيِّ يُرِيْدُوْنَ وَجْهَهٗ وَلَا تَعْدُ عَيْنٰكَ عَنْهُمْ ۚ تُرِيْدُ زِيْنَةَ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۚ [الکهف:۲۸]

"اوخپل ځان لره دهغه خلقو سره مطمئن ساته چه دخپل د رضا طالب جوړیدو سره سره سحرماښام هغه رابلی او هغوی لره نظرانداز کولو سره د دنیوی شان وشوکت په طلب کښې خپل نظرونه مه زغلوې."

په حقیقت کښې ددینی جماعت اصل سرمایه هغه خلق دی چه د سراومال په قربانئ سره ددین په تبلیغ واشاعت کښې لګیدلې دی. د جماعت د قائد فرض دی چه د هغوی د اهمیت احساس اوکړی اوخپله ټوله توجه دهغوی په تربیت او تیارئ باندې اولری.

۷: دجماعت ټول اهم کارونه د ملګرو په مشورې سره مقررکړئ او سرته ئې اورسوئ او دملګرو د مخلصانه مشورو نه فائده اخستو سره دجماعتی کارونوسره دهغوی شوق او جذبه زياته کړئ. دمومنانو صفت الله تعالى داهم بيان کړ ې دې چه دهغوی معاملات خپل مينځ کښې په مشورو سره مقررېږی.

وَاَمۡرُهُمۡ شُوۡرٰى بَيۡنَهُمۡ ۔[العمران]

”او د هغوی معاملات په خپل مينځ په مشورو سره مقررېږی.“

وَشَاوِرۡهُمۡ فِى الۡاَمۡرِ ۔[العمران]

”او په خاص معامله کښې دهغوی سره مشوره کوئ.“

۸: په جماعتی معاملاتو کښې هميشه د زړه فراخئ اوقربانئ نه کار اخلئ اوخپل ځان اوخپل کوروالو ته بالکل ترجيح مه ورکوئ بلکه هميشه د قربانئ اوسخاوت سلوک کوئ دې دپاره چه ملګرى د زړه په خوشحالئ سره دهرې قربانئ دپاره ځان پيش کوی او په هغوی کښې دجماعت نه زړه بديدل او بې تعلقی نه پيدا کيږی او نه خودغرضی او نه د مطلب پوره کولو جذبات راوچت شی. حضرت ابوبکرصديق رضی الله عنه يوځل حضرت عمررضی الله عنه ته اووئيل:

”اے دخطاب ځويه! ماپه مسلمانانو باندې ته په دې وجه سره منتخب کړې ئې چه ته دهغوی سره مشفقانه برتاؤ اوکړئ. تا د نبی عليه السلام سره په صحبت کښې وخت تير کړې دې،تاليدلې دی چه نبی عليه السلام مونږ ته څنګه په خپل ځان باندې او زمونږ کوروالو ته په خپل کور والو باندې ترجيح به ورکوله. تردې چه مونږ ته څه دهغوی دطرفنه ملاويدل. په هغې کښې څه بچ کيدل نومونږ به هغه دنبی عليه السلام کور والو ته هديه ليږله“.[کتاب الخراج]

۹: د جانب دارئ نه هميشه بچ اوسئ او بې ځايه مروت او

رواداريځ نه هم پرهيز اوکړئ.حضرت يزيد بن سفيان رضی الله عنه وائی کله چه ابوبکرصديق رضی الله عنه ماله سپه سالار جوړکړو اوشام طرف ته ئې روان کړم نو هغه وخت ئې دا نصيحت اوکړو:

”اې يزيد! ستاخه عزيزان او رشته داران دی کيدې شی چه ته هغوی ته څه ذمه داريځ ورکولو کښ ترجيح ورکړئ. ستادپاره زمونږ په نزد د ټولو نه زياته داندېښنې او يرې خبره داده .“

نبی عليه السلام اوفرمائيل چه کوم سړې دمسلمانانو د اجتماعی امورو ذمه دار وی او هغه په مسلمانانو باندې صرف درشته داريځ په بناءيا صرف ددوستيځ په وجه سره چالره حکمران جوړکړی نو الله تعالی به دهغه دطرف هيڅ يوه فديه قبوله نه کړی تردې چه جهنم ته به ئې واچوی. [کتاب الخراج]

۱۰: دجماعت نظم لره د زياتو نه زيات د مضبوط ساتلو کوشش اوکړئ اوکله هم په دې معامله کښ د بې ځايه نرمئ او مهلت نه کار مه اخلئ.

د الله تعالی ارشاد دې:

فَإِذَا اسْتَأْذَنُوكَ لِبَعْضِ شَأْنِهِمْ فَأْذَنْ لِمَنْ شِئْتَ مِنْهُمْ وَاسْتَغْفِرْ لَهُمُ اللَّهَ [النور:٦٢]

”اوکله چه هغوی دخپل څه خاص کار دپاره دنبی عليه السلام نه اجازت اخلی نو نبی عليه السلام چاته چه اوغواړی اجازت دې ورکړی،او د هغه په حق کښ دې دالله نه استغفار اوکړی.“

يعنی کله دجماعت ملګری دڅه اجتماعی ضرورت دپاره راجمع وی او بياڅه خلق د خپل ضرورت او معذوريانو په وجه سره اجازت اوغواړی نو د جماعت د امير فرض دی چه هغه دنظم جماعت د اهميت پيش نظردې صرف هغه خلقو ته اجازت ورکړی چه دهغوی ضرورت واقعی ددې اجتماعی دينی کار په مقابله کښ زيات دترجيح قابل وی يا د چا معذوری چه واقعی شرعی معذوری وی او دهغې قبلول ضروری وی.

## باب: ۵

# وجهاد داعی او کارکن به څنګه وی؟

ددعوت وجهاد تحریک سره وابسته داعیان او کارکنان اکثر په خپل تحریر و تقریر کښې دخلافت اوامارت،دهغې دقیام اودهغې دبرکاتو فائدې ذکر کوی. کچرې مونږ په امارت اسلامی باندې خبرې اترې کول غواړو نو ددې دوه معنې راوځی:

۱: یوداچه د امارت اسلامی بالفعل قیام وی او امارت اسلامی موجود وی نو دهغې طریقه کار څه وی.او هغې لره څنګه چلول پکار دی؟

۲: د امارت اسلامی په دې زمکه باندې او زمونږ ددې خطې دپاسه بالفعل وجود نشته نوبیامونږله کومه طریقه اختیارول پکار دی؟ چه آخر امارتِ اسلامی قائم شی. او دالله تعالی کلمه اوچته شی او دالله په زمکه باندې دالله حکم نافذ شی.

زمونږ د خبرواترو تعلق د آخری ذکرکیدونکی معانې سره دې. زمونږ دخبرو اترو تعلق اوس دهغه خبرې سره دې چه په دې صورت حال کښې مونږ له څه کول پکار دی؟ او خصوص په کوم نظم او کومې طریقې سره تلل پکار دی؟؟ چه آخر د الله په زمکه باندې دالله کلمه او قانون جاری شی؟ داخبره ذهن ته کوزول پکار ده چه زمونږ دعوت صرف داسلامی حکومت په قیام باندې منحصر نه ده چه ترڅوپورې اسلامی حکومت قائم شوې نه وی نو مونږ به دعوت باقی کارونو لره پریږدو، یابه دې لره ختم کړو څنګه چه زمونږ بعضې نادان رونړو

ددين مقصد صرف انقلاب يا دحکومت تبديلي جوړه کړي ده او صرف په دې يو مقصدکښې انحتلي دى. نو ياد ساتئ! دا د انبياؤ فکرنه دې او نه دا زمونږ دعوت دې،زمونږ دعوت او دټولو انبياؤ فکردادې چه مونږ د الله کريم شو، اودهغه عبادت لره په خپل نفس او خپله معاشر باندې.... د صحيح پوهې او شعور سره قائم کړو. دالله تعالى توحيداو او د رسول الله صلى الله عليه وسلم يو يو سنت لره په خپل انفرادى او اجتماعى ژوند کښې دنافذ کولو دپاره خپل ټول صلاحيتونو لره په کار راولو. کله چه عملي صورت داسې شي نوبياتاسواوګورئ چه اسلام په حکومت کښې دننه هم او د عام سړى په ژوندهم هرځاې کښې صحيح نافذپه نظر راځى......

د الله دا وعده ده:

هُوَ الَّذِيْٓ اَرْسَلَ رَسُوْلَهٗ بِالْهُدٰى وَدِيْنِ الْحَقِّ لِيُظْهِرَهٗ عَلَى الدِّيْنِ كُلِّهٖ۔

[الفتح:۲۸/٤۸]

"الله تعالى خپل پيغمبر لره هدايت او حق دين ورکولو سره راليږلې دې، دې دپاره چه دې حق دين لره په ټولو دينونو باندې غالب او اوچت کړى."

وَكَفٰى بِاللّٰهِ شَهِيْدًا او الله تعالى په دې خبره باندې ګواه دې. پوهيږى او خبردارد‌ې چه دالله تعالى دين لره څنګه غالب کول دى. نو ددې نه پس راتلونکى آيت مبارک کښې الله تعالى هغه طريقه خودلې ده دکومې په ذريعې سره چه محمدصلى الله عليه وسلم او دهغه صحابه کرام رضوان لله عليهم اجمعين دې دين لره په دې دنيا کښې په ټولو باطلو دينونو باندې غالب کړو اومونږ له په حيثيت د نبى عليه السلام د وراث کيدو او دصحابه کرامو د وارث کيدو همدا طريقه اختيارول

پکار ده.نو دټولو اول چه دکوم جماعت یا افرادو دپاره دستوری حیثیت لری هغه داده چه کومه لاره ده چه په هغې باندې تلو سره دالله تعالی دین لره غالب کړې شی.نو هغه دمحمدصلی الله علیه وسلم لاره اوطریقه ده. کچرې مونږته مسلمانان وئیلې شی خو خپل انفرادی ، اجتماعی یاسیاسی معاملاتو کښې دمحمدرسول الله صلی الله علیه وسلم پیروی نه کوو. نوم داسلام اخلو،خو نافذکوو بل نظام لره. نومونږ دنبی علیه السلام په راوړلې شوې حق دین باندې نه شو پاتې کیدې.

**خپل قانون او نظام صرف کتاب وسنت لره جوړکړئ:**

هغه جماعت دکوم په ذریعه سره چه الله رب العزت دین لره غالب کوی، دهغوی دپاره دا ضروری ده چه دهغوی آئین او دستورپه رسول الله صلی الله علیه وسلم باندې نازل شوې وحی وی. په وحی کښې دننه صرف دوه څیزونه راځی، یو قرآن مجید او بل د رسول الله صلی الله علیه وسلم سنت. په قرآن کښې به په څو ځایه تاسوته ددې څیز صریح حکم ملاویږی.

اِتَّبِعُوْا مَآ اُنْزِلَ اِلَيْكُمْ مِّنْ رَّبِّكُمْ ۔ [الاعراف:۳/۷]

”چه کوم څه ستاسو د پروردګار دطرف نه نازل شوې دی د هغې تابعداری اوکړئ.“

زمونږ دپروردګار د طرف نه کوم څیز نازل شوې دې؟ آیا هغه دوه،څلور یا لس دی یا ددې نه هم زیات..... نه! دا صرف او صرف دوه څیزونه دی،چه د{مَآ اُنْزِلَ} مصداق دی. یو د الله قرآن دې او دویم دمحمدصلی الله علیه وسلم سنت دی. په دې وجه هغه جماعت او هغه خلق چه دالله تعالی په ټولوباطل دینونو باندې غالب کول غواړی، په هغوی باندې دټولو نه مخکښې دا فرض کیږی چه هغوی صرف وحی او

نظام رسالت صلی الله علیه وسلم لره، او په نورو الفاظو کښې قرآن اوسنت لره، خپل دستور اوخپل قانون جوړ کړی.دکتاب وسنت نه سیوا نور څیزونو لره خپل قانون جوړنکړی، نه سوشلزم لره،نه جمهوریت لره،او نه کمیونزم لره. زمونږ قانون او نظام صرف کتاب وسنت او شریعت دې، ددې نه سیوا هیڅ هم نه .

اوس چه کله مونږ په دې پوهه شو چه زمونږ دین اوزمونږ قانون صرف کتاب وسنت دې، نو اوس به مونږدې لره په خپل انفرادی او اجتماعی ژوندباندې د نافذ کولو دپاره په دې پوهیدل پکار وی چه ددې دپاره هغه کومې تقاضې او مطالبې دی چه مونږ ته پوره کول دی. اوګورئ ښخپله درسول الله صلی الله علیه وسلم د راتللو چه کوم مقصد الله تعالی بیان کړې دې:

هُوَالَّذِیْ بَعَثَ فِی الْاُمِّیّٖنَ رَسُوْلاً مِّنْهُمْ یَتْلُوْا عَلَیْهِمْ اٰیَاتِهٖ وَیُزَکِّیْهِمْ وَیُعَلِّمُهُمُ الْکِتَابَ وَالْحِکْمَةَ۔ [الجمعة:۳/۶۲]

”چه ددې رسول درالیږلو مقصد دادې چه خلقو ته دکتاب او حکمت تعلیم ورکړی اودهغوی پاکوالې اوکړی.“

د کتاب نه مراد قرآن مجید او دحکمت نه مراد څه دی؟ امام شافعی رحمه الله په ”الرسالة“ کښې دننه فرمائی چه : زه څومره اهلِ علمو سره ملاؤ شوې یم. څومره هم چه علماء کرامو او اصحابِ فقه سره زما ملاقات شوې دې،هغه ټولو لره ماپه دې خبره باندې متفق موندلې دی چه دحکمت نه مراد دمحمدرسول الله صلی الله علیه وسلم سنت دی. نو ددې نبی د رالیږلو مقصددادې چه هغه خلقوته دکتاب وسنت تعلیم ورکړی.

**هريو داعی دې دکتاب وسنت ضروری علم زده کړی:**

د پاس ذکرشوی آيت نه واضح کيږی چه کوم خلق د اسلام منونکی دی،دهغوی سره دکتاب وسنت علم کيدل ضروری دې. په دې لحاظ سره چه کوم خلق ددعوت او جهاد او خلافت وامارت داعيان دی(چه په خلقو کښې ددعوت کار کوی)،دهغوی دپاره ددې خبرې اهميت نورهم زياتيږی.

زما رونړو......!دټولو نه مخکښې مونږ داعی افرادو لره پکاردی چه هغوی کتاب وسنت لره زده کړی. صرف دا يوه خپله نعره جوړه نه کړی چه "چه مونږ به کتاب وسنت لره نافذ کوو" او دې لره به نافذ کوؤنکی اوسو، وينه به ورکوو،دابه کوو هغه به کوو،دا صرف دنعرې حده پورې محدود نه وی، بلکه بالفعل مونږ له دقرآن مجيد او محمدرسول الله صلی الله عليه وسلم سنت ته کتل پکار دی. په عام طورباندې مونږ دا ګڼړو چه دا دعلماؤ کار دې او ددې دينی مدراسو دطلباؤ کار دې چه اته کاله پورې خپل ژوند وقف کوی. خو ماته داخيز خوبنې نه دې. اوګورئ! دکتاب وسنت دومره علم او دومره تعليم چه په هرسړی باندې فرض د ې. دومره قدرې زده کول په هرکس باندې لازم دی،خواه جاهل وی ياعالم وی، دکوم تعلق چه دهغه دعمل سره وی،په دومره مقدار کښې علم حاصلول په هرسړی باندې لازم دې. رسول الله صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل :

طَلَبُ الْعِلْمِ فَرِيْضَةٌ عَلٰى كُلِّ مُسْلِمٍ. [ابن ماجہ]

"علم حاصلول په هرمسلمان باندې فرض دی"

دلته دمسلمات لفظ په دې وجه نه دې راغلې چه په صحيح احاديثو کښې دا لفظ نشته. دلته مطلق لفظ مسلم دې چه درسول الله

صلی الله علیه وسلم نه ثابت دي،یعنی علم حاصلولو په هرمسلمان باندې فرض دي.څومره علم فرض دي؟ اوس که مونږ دا اووایو چه قرآن مجید د علماؤ دپاره دې طلباؤ دپاره دي،دسنت زده کول هم د علماؤ او دینی مدارسو د طلباؤ دپاره دي. زمونږ دپاره کوم یو کورس دې؟ کوم یو نصاب دي؟ دجماعت هر یو کس ته په دې پوهیدل پکار دی چه د قرآن مجید دومره علم او د رسول الله صلی الله علیه وسلم دسنتو او د فقهې دومره علم د کوم تعلق چه د هر سړی د اعمالو،د هغه د ذاتیاتو او د هغه دکردار سره دي،چه د څلیریشتو ګهنټو احکامو لره زده کړی. کم نه کم دومره علم د کتاب وسنت کیدل ډیر ضروری دی. او د جماعت مشرانو ته پکار دی چه یو نصاب مقرر کړی چه د قرآن مجید او د محمدرسول الله صلی الله علیه وسلم د احادیثو او دفقهې نه منتخب کړې شوې وی.د هر فرد دپاره د دې زده کول او دې لره حاصلول ضروری وی.

## خپله تزکیه په شرعی طریقه با ندې اوکړئ:

دویمه خبره زما رونړو! الله تعالی په قرآن مجید کښ ارشاد فرمائی :

يُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَيُزَكِّيهِمْ۔ [البقرہ: ۱۲۹/۲]

د نبی علیه السلام د راتلو مقصد دي.{يُزَكِّيهِمْ }دخلقو تزکیه کول او تزکیه څه ته وائی؟ نو تزکیه صرف قرآن وسنت ته کتلو سره نه حاصلیږی یا قرآن مجید حفظ کولو سره نه حاصلیږی. دا تزکیه داسې حاصلیږی چه انسان خپل ځان لره، خپل پوره ژوند د کتاب وسنت مطابق په سانچه کښ واچوی. د هغه شکل وصورت او د هغه اوسیدل، د هغه کورنې ژوند، د هغه معاشرتی ژوند او د هغه تجارتی ژوند، یعنی په

شپه او ورځ دهغه په ژوند کښ د کتاب وسنت واضح چهاپ په نظر راځی. دا معنی ده د {وَيُزَكِّيهِمْ} اويادساتئ دا تزکیه په کتاب وسنت سره کیږی بل کوم یو څیز سره نه. تاسو دا مه ګنړئ چه د زړه څه مخصوص تزکیه وی، څه خاص وظیفه وی یاڅه چله یا څه خاص کورس دې، یا څه جوړې شوې طریقې دی، د غلط صوفیانو په خود ساخته طریقو سره د زړه تزکیه هیڅ کله نه کیږی. د زړه د تزکیې او د انسان د تزکیې واحده طریقه ده چه په خپل ژوند باندې، او پخپل کور باندې،او خپله معاشره باندې صرف او صرف کتاب وسنت لره بالفعل نافذ کړی، هم په دې سره د انسان تزکیه کیږی اوهم په دې سره په انسان کښ ښائست پیدا کیږی. البته د الله والو خلقو صحبت او رهنمائی ضروری ده.

## همیشه په جیب کښ وړوکې قرآن مجید ساتئ:

ما د افغانستان په محاذونو باندې خصوصًا په عربو مجاهدینو کښ دا ډیر ښه عادت نوټ کړو چه د هغوی په جیب کښ به همیشه وړوکې غوندې قرآن وو. هرکله چه زمونږ جماعتونو ته اوګورئ نو صورت حال دا وی چه کله دوه منټه موقع ملاؤ شی،د لسو منټو موقع ملاؤ شی مسلسل خبرې کوو،ګپونه لګو،خواه جماعتونه وی یا اجتماعات وی یابل کوم ځاې وی. خو ما عرب رونړو لره دجهادپه دروان کښ د افغانستان په زمکه هم په عربو کښ هم لیدلې دی چه دهغوی په جیب کښ یو وړوکی غوندې قرآن ضرور وی،د ټولو نه زیات شوق د هغوی قرآن مجید سره وی کله چه هم هغوی ته لږ وخت ملاویږی هغوی قرآن مجید کهولاوهی کینی او دهغې تلاوت کوی. دایو تعلق دې د قرآن مجید سره،خو اوس ماته پته نشته چه ددعوت اوجهاد ددې کاروان سره دمنسلک رونړو دا التزام کړې دې چه دوی سره یو قرآن مجید وی،کله چه هغوی ته موقع ملاویږی په فارغ وختونو کښ،

دې قرآن مجيد لره کهولاؤ کړی... تلاوت اوکړی. يادساتئ! ترڅو پورې چه دا څيزونو مونږ په خپل ځان کښ پيدا نکړو دومره وخته پورې به د دې جماعت په افرادو کښې نه شامليږو. د کوم په ذريعه سره چه الله رب العزت خپلې کلمې لره غالب کول غواړی.

## دَاَشِدَّآءُ عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَآءُ بَيْنَهُمْ صفت پيدا کړئ:

زما رونړو! ددې نه پس څلورم صفت چه مونږ کښ دننه پيدا کول پکار دی هغه داچه :

د دين ددعوت کارکوؤنکی د {اَشِدَّآءُ عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَآءُ بَيْنَهُمْ} ”په کافرانو سخت او په خپلو باندې رحم دله او نرمی کوؤنکی وی“نمونه وی. [الفتح:۲۹/۴۸] د صحابه کرام رضی الله عنهم اجمعين پاکيزه ژوند د دې آيت مبارکه عملی تفسير دې چه هغوی د اسلام په دشمنانو باندې خو سخت مګر په خپلو(ملګرو) باندې رحمدل وو. کله چه د بعضو وجوهاتو په بناء باندې د حضرت علی رضی الله عنه او حضرت معاويه رضی الله عنه په خپل مينځ کښ تعلقاتو باندې خفګان او ناراضګی پيدا شوه نو د روم باچا اوکتل چه د مسلمانانو کښې خپل مينځ کښ د خفګان نه فائده اوچته کړی او هغه په دوی باندې دحملې کولو اراده اوکړه. خو کله چه سيدنا اميرمعاويه رضی الله عنه ته ددې خبر اوشو نو هغه د روم باچا ته داسې خط اوليکلو: کچرې تا خپله اراده (سيدنا علی رضی الله عنه باندې دحملې) پوره کولو کړې وی نو زه قسم کوم چه خپل ملګری (سيدناعلی رضی الله عنه) سره به صلح اوکړوم او ستاخلاف چه د هغه کوم لښکر روان شی دهغې په اوله دسته کښ به شامل کيدو سره قسطنطنيه لره سوزولو سره کوئله جوړه کړم او ستا حکومت لره د ګاځرو مولو په شان کټ کولو سره اوغورزوم.

[تاج العروس]

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلي دی:

مَنْ اَبْغَضَ لِلّٰهِ وَاَحَبَّ لِلّٰهِ وَاَعْطٰی لِلّٰهِ وَمَنَعَ لِلّٰهِ فَقَدِ اسْتَکْمَلَ اِیْمَانَهٗ۔ [ابوداؤد]

چه په چاکښې دننه دا څلور څیزونه پیدا شی یعنی

محبت وی د الله دپاره

د چاسره د شمنی وی،نفرت اوبغض وی نو د الله دپاره

چاله ورکول وی نو دالله دپاره

که چاله نه ورکول وی نو داهم دالله دپاره

کله چه دا څلور څیزونه پیدا شی نو هغه خپل ایمان لره مکمل کړو، د دین د تکمیل دپاره ضروری ده چه یو کس دعوت سره منسلک دي او ستا د فکر حامل دي او ته هغه لره خپل رور ګنړئ په اصل کښې هم هغه ستاحقیقی رور دې،هغه سره ستامحبت کیدل پکار دی، ستاتعلق هم دهغه سره کیدل پکار دی، په هغوی کښې ستا رشتې کیدل پکاردی. دغه شان تاسو دا ثابت کړئ چه د هغه خلق دی چه د یو دین او یوې عقیدې حامل دی. د یو دعوت او پیغام داعیان دی.

## د الولاء والبراء د صفت نه مونږ محرومه ولې یو؟

زما رونړو! افسوس دا دې چه د الله دپاره محبت او د الله دپاره چانه برأت اودشمنی،دا داسلام او ایمان بنیادی عقیده ده کومې لره چه مونږ پریخودلې ده او دا داسې عقیده او اهم فرض وو. د کوم متعلق چه الله رب العزت فرمائی :

اِلَّا تَفْعَلُوْهُ تَكُنْ فِتْنَةٌ فِی الْاَرْضِ وَفَسَادٌ كَبِيْرٌ۔ [الانفال:۸/۷۳]

کچرې تاسو د الله دپاره محبت نه کوئ،که تاسو د کافرانو سره دشمنی نه ساتئ،دخپل مومنانو رونړو سره تعاون او د هغوی سره محبت طریقه اختیارنکړئ، نو بیا به په دې دنیا کښې فساد او فتنه خوره شی.

دا د حق جماعت صورت به په نظر نه راځی. دا کوم خلق دی؟ چه د یو دین او یوې عقیدې قائل او حامل دی. تاسو صحابه کرام رضی الله عنهم اجمعین ته او ګورې. سیدنامعصب بن عمیر رضی الله عنه د مدینې د ټولو نه اول داعی او معلم دې. د مدینې په کوڅو کښې د هغه په دعوت سره د اسلام نور خور شو. په جنګ بدر کښې د هغه یو حقیقی رور قیدی شو د یو انصاری لاس ته راغلو، سیدنامعصب رضی الله عنه تیریدو نو وې کتل چه په رسو باندې تړلې شی. سیدنامعصب رضی الله عنه او فرمائیل: ده لره لږ مضبوط اوتړئ، دده مور ډیره مالداره ښځه ده، کله چه هغې ته پته اولګی چه زما ځوې په ډیر تکلیف کښې دې نو هغې به ډیرو پیسو او زیاته فدیه ورکولو سره خلاص کړو. د سیدنا معصب رضی الله عنه رور چه دا واوریدل نو وې وئیل چه معصب رضی الله عنه! آیازه ستاحقیقی رور نه یم؟ ستامور او ستا پلار زما مور پلار نه دی. تالره پکار وو چه دهٔ ته دې نصیحت کړې وې چه ما باندې آسانی اوکړی. تاسو دهٔ ته اُلټه د سختې نصیحت کوئ! نو د سیدنا معصب رضی الله عنه جواب واورئ. وې فرمائیل چه : دې وخت کښې که زما رور وی نو دا نصاری مسلمان دې همدې زما د اسلام او اخوت رور دې. [سیرة ابن ہشام: ۲/۳۰۰،۲۹۹]

زما رونړو! په غزوه بدر کښې آسمان اولیدل چه پلار او ځوې په یو بل باندې توره اوچتوی. یو مؤمن دې او بل کافر دې دواړه ددې دپاره د یو بل ښت کټ کولو دپاره تیاردی چه یو مؤمن دې اوبل کافر دې دواړه نزدې رشته دار په دې وجه د یو بل د جان د شمنان وو. داخبره ده: اَشِدَّآءُ عَلَی الْکُفَّارِ رُحَمَآءُ بَیْنَهُمْ ،خو افسوس دادې چه اوس همدا بغض او حسد څومره چه زمونږ خپلو رونړو سره وی د نور چا سره نه

وی. زه تاسو ته څه اووایم :

وَالْكَاظِمِينَ الْغَيْظَ وَالْعَافِينَ عَنِ النَّاسِ۔ [آلعمران: ۳/۱۳۴]

"چه دا خلق غصه ښکته کوؤنکی او خلقو لره معاف کوؤنکی دی."

دا او د دې په شان ټول په ټوله آیتونه زمونږ په نزد عملاً منسوخ شوې دی. زمونږ ټول زور، دولت او ټول صلاحیتونه د خپل رور په لاندې کولو او د خپلو خلقو په ختمونو کټ کولو کښ خرچ کیږی. خپل رونړو لره مجروح کولو، عجیب وغریب الزامات، بهتان او په هغوی باندې قسما قسم الزام لګول،مونږ ته په خاص طور باندې خوشحالی حاصلیږی. داسې معلومیږی چه په دنیا کښ واحد دشمن زمونږ هم عقیده خلق دې. څوک بل څوک به نه وی. دا صورت حال داسې دې چه چا زمونږ د جماعت په افرادو کښ یو نظم لره پیداکیدو ته پرې نخودلو، یو منظم جماعت لره مونږ پیدا نه کړې شو. پکارخو داوه چه زمونږ په خپل مینځ کښ دومره محبت او تعلق وې او دومره همدردی او د زړه فراخی وې چه دنورو دپاره مونږ یو قوت جوړیدې او خپلو خلقو دپاره مونږ نرم زړه والا کیدې، دچا شدیده او غلیظه خبرې مونږ قبلولې او هغه لره مونږ معاف کولې. زمونږ د قربانۍ خبره دا کیدې چه مونږ خپل جائز حق هم خپل رور ته معاف کولې، خو افسوس دا دې چه کله شدت پیداکیږی نو نور ملګری هم خپل لستونړی راکاږی او هغوی هم دا ګڼړی چه مونږ د ده جواب ورکړو او زمونږ پوره قوت چه د دعوت په کار کښ خلقو لره د شرک نه راویستلو کښ او د بدعت او جمهوریت د زنځیرونو ماتولو کښ لګول پکار وو، هغه ټول په ټوله صلاحیتونه د یو بل خلاف ضائع کیږی. خو د دعوت الی الله او جهاد

فی سبیل الله کوونکی رونړه چه د خپلو رونړو روزانه د نوي نوي الزاماتو ښکار کیږي، هغوی له دې آیت لره یاد ساتلو سره صبر کول پکار دی چه الله رب العزت فرمائي :

اِنَّ الَّذِيْنَ جَآءُوْ بِالْاِفْكِ عُصْبَةٌ مِّنْكُمْ لَا تَحْسَبُوْهُ شَرًّا لَّكُمْ بَلْ هُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ۔

[النور: ۱۱/۲۴]

"تاسو مه ګڼړئ چه دا الزامات او تهمتونه به تاسو ته نقصان دراورسوی، تاسو دوی لره د ځان دپاره بد مه ګڼړئ، بلکه دا ستاسو دپاره بهتر دی."

په دنیا کښې به هم الله تعالی ستاسو دفاع اوکړی او دقیامت په ورځ هم، او د دین په کار بندیز اچونکو خلقو له به سخت عذاب وی.

زما رونړو !دا یو ضروری اصول دې:

د اَشِدَّآءُ عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَآءُ بَيْنَهُمْ،چه د دې جماعت په افرادو او د دین د دعوت په کار کوونکو داعیانو کښې کیدل پکار دی.

## د رهبان بالليل وفرسان بالنهار ماحول جوړ کړئ:

الله رب العزت د تقوی اختیارولو طرف ته اشاره کولو سره فرمائي :

تَرَاهُمْ رُكَّعًا سُجَّدًا يَبْتَغُوْنَ فَضْلًا مِّنَ اللّٰهِ وَرِضْوَانًا۔ [الفتح:۴۹/۲۹]

چه دا خلق چه د یو امام په قیادت کښې د الله دین لره غالب کوونکی دی، دا خلق ښنګه دی؟ تاسو دوی لره او ګورئ نو تاسو ته به د رکوع او سجدې په حالت کښې د الله رضا او خوشحالی تلاش کوونکی په نظر راشی. تاسو د قرآن کریم اسلوب(طرز) اوګورئ!.... دا ئې اونه وئیل چه اَقَامُوا الصَّلٰوةَ دا ئې اونه وئیل چه {اٰتُوا الزَّكٰوةَ} دلته ئې یو عجیب طرز اختیار کړې دې. آیا تاسو دوی لره وینئ چه دوی په

سجده کښې پراته دی، یا رکوع کښې دی. دا طرز صرف د مونځونو پابندئ سره نه شی اختیارولې بلکه د دې سره سره هغه نوافل او نور مونځونه هم په دې کښې راځی، دې دپاره چه دا مصداق مخې ته راشی. تَرَاهُمْ رُكَّعًا سُجَّدًا د اصحاب محمدصلی الله علیه وسلم صفت همدا دې چه: رُهْبَانٌ بِاللَّيْلِ وَفُرْسَانٌ بِالنَّهَارِ چه د شپې هغوی په مصلّو باندې ولاړ وی د الله په مخکښې ژاړی، دوی تهجد کوی، نوافل ادا کوی او د دوی په ژوند کښې هر وخت د مونځ کیفیت په نظر راځی. هر کله چه د ورځې هغوی د اسونو په ملاګانو باندې سوریدو سره د جهاد دپاره اوځی.

نو دې دپاره زما رونړو! هغه به څنګه سړې وی کوم لره چه تاسو مؤحد ګنړئ، د مؤحد جماعت یو فردئې ګنړئ، خو هغه دې بیلمازه!!..... او کله چه زمونږ څه رونړه د رکن سازئ مهم چلوی نو په هغې کښې دا سوچ نه کوی چه څوک مونځ کوی یانه کوی....څوک سود خوری یا نه خوری ..... د ده په کور کښې د شرعی پردې انتظام شته یانشته..... دده په مخ باندې د محمدصلی الله علیه وسلم سنت شته یانشته......د ده چال چلن څه دې؟ خو دا رونړه په ټولو باندې فارم ډکوی.ولې چه رکن سازی کیږی. جی زمونږ په جماعت کښې یو نیم سل کسان دی، چه د دې حق جماعت افراد(داعی) دی د چا په ذریعه چه به الله دې دین لره غالب کوی. زما رونړو! یادساتئ! داسې کسانو لره راجمع کولو سره به څه فائده هم نه کیږی،بلکه داسې کسان ځان سره کړې چه دچا تزکیه شوې وی، هغوی دمونځ پابند وی د رُحَمَآءُ بَيْنَهُمْ وو. دا أَشِدَّآءُ عَلَى الْكُفَّارِ مثال وی او دکتاب وسنت صحیح حامل وی،چه د دنیا هیڅ یو طاقت هغوی لره نه شی اخستلې، نه د هغوی سرونه لاندې کولې شی اونه د دنیا څه لالچ هغوی لره دهغوی د موقف نه لرې کولې شی.

دلته زمونږ عجیبه قسم تربیت دې، عجیبه قسمه تزکیه ده، تاسوبه د کعب بن مالک رضی الله عنه واقعه اوریدلې وی چه د تبوک په غزوه کښې د صحابه رضی الله عنهم اجمعین نه روستو پاتې کیدو په وجه سره دهغه نه د هغه د ټولو نه عزیز ترین او محبوب ترین هستی محمدرسول الله صلی الله علیه وسلم ناراضه کیږی نو کله چه هغه خپل د ټولو نه نزدې رشته دار د تره ځوی ابو قتاده رضی الله عنه ته ځی نو هغه ورته د السلام علیکم جواب نه ورکوی. په دې رد عمل کښې چه کله هغه دده نه تپوس کوی چه : روره زما څه غلطی یا خبره اوښایه؟ نو جواب ورکوی! اَللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ اَعْلَمُ الله پوهیږی او د الله رسول صلی الله علیه وسلم پوهیږی. وائی چه : ماته د دې ډیر افسوس اوشو زه بیا مایوسه کیدو سره واپس شوم. د مدینې په کوڅو کښې یو سړې وینم چه هغه دخلقو نه تپوس کوی چه کعب بن مالک رضی الله عنه چرته دې؟ خلقو ورته اووئیل چه دا راروان سړې دې. همدا کعب بن مالک رضی الله عنه دې په اصل کښې دوی د غزوه تبوک نه روستو پاتې شوې وو. یعنی د غزوه تبوک په جنګ کښې د جنګیدو نه پاتې شوې وو. هغه سړی حضرت کعب رضی الله عنه ته د غسّان د باچا یو خط ورکړو. خط ئې چه اولوستلو،نو په هغې کښې ئې لیکلې وو "اِنَّ صَاحِبَكَ قَدْ جَفَاكَ" مونږ ته پته لګیدلې ده چه ستاسو صاحب محمدصلی الله علیه وسلم تاسو نه خفا شوې دی.

وَلَمْ يَجْعَلْكَ اللّٰهُ بِدَارِ هَوَانٍ وَلَا مُضِيْعَةٍ فَالْحَقْ بِنَا نُوَاسِيْكَ۔ [متفق علیہ]

الله تعالی تاله یو ذلیل انسان نه دې جوړکړې. په تاسو کښې خو ډیر لوې صلاحیتونه دی. ستاسو جماعت او ستاسو خلق خو ستا صلاحیتونو لره نه استعمالوی. اوګورئ دا لالچ څنګه وی؟ زمونږ څوک

رور چه ډېر لوئ عالم وی، پوهه وی، او هغه ته د جماعت څه عهده ملاؤ نه شی یا هغه چه څنګه مقام غواړی هغه په څه وجه سره ورته ملاؤ نه شی، نو نور جماعتونه راځی او راکاږی ئې چه ستاسو د مقام او مرتبې مطابق خو تاسو ته ځاې ملاؤ نه شو، تاسو خو د دومره اعلی صلاحیتونو مالک ئې او، تاسو خو ئې څه هم جوړ نکړې، مونږ ته راشه زمونږ جماعت یاتنظیم کښې شامل شه. نو مونږ لیدلې دی چه زمونږ هغه رونړه چه مؤحد ورته وئیلې شی په نور سیاسی جماعتونو کښې خپل خدمتونه خرچ کوی د چاچه نه څه دین شته نه څه عقیده شته، نه د هغوی څه مذهب شته او هغوی د دین اسلام نه ډېر لرې دی. دا رونړه په هغه جماعتونو کښې صرف په دې وجه سره کار کولو دپاره لاړل چه په مونږ کښې خو ډېر اعلی صلاحیتونه وو، مونږ خو څه ذلیل نه وو، اوس دا هغه ستېج دې چرته چه مونږ کار کوو.

زما رونړو!...... د غسّان باچا په خط کښې خو دا لیکلې شوې وو چه ته خو څه د کم مرتبې سړې نه ئې چه تاسو لره نظر انداز کړې شی. تاسو مونږ لره راشه، مونږ به ستا دلجوئی اوکړو او قدر اوکړو، خو د محمدصلی الله علیه وسلم دصحابه رضی الله عنهم اجمعین د کوم چه نبی علیه السلام تربیت کړې وو، چه صرف د کتاب وسنت حامل نه وو بلکه د هغوی تزکیه شوې وه او د "تَرَاهُمْ رُكَّعًا سُجَّدًا يَبْتَغُونَ....الخ" صحیح مثال په نظر راتلل. نو هغه څه جواب ورکړو؟..... واورئ! کعب بن مالک رضی الله عنه دې خط لره اونیولو او د دینی حمیت او غیرت په جذبې سره ئې په تنور کښې واچولو.....او په هغه حال کښې په زبان حال سره ئې وئیل چه ستاسو وزارتونه ستاسو لالچ، د دنیا حکومتونه زه دیکه کوم، خو د محمدصلی الله علیه وسلم سره ملګرتیا لره نه پریږدم.

زما رونړو!...... کله پورې چه زمونږ د جماعت افراد د داسې کردارونو مالکان نه جوړيږی، هغوی به په خپل موقف باندې دومره قدرې مضبوط او ټهوس نه قائميږی چه دوی ته څومره هم پريشانئ راشی څومره هم مشکلات راشی، کله پورې چه هغه خپل ايمان او عقيدې لره مخې ته ايخودلو سره په ثابت قدمئ سره اودريږی نه. دومره وخته پورې به دوی د الله دين لره څنګه غالب کولې شی! يَبۡتَغُوۡنَ فَضۡلاً مِنَ اللهِ وَرِضۡوَانًا دا صفت دې د هغه خلقو د چا په ذريعه سره چه الله تعالی دين لره غالب کول غواړی. زما رونړو!...... دا صفت ډير اهم دې بلکه تاسو دا ګنړئ چه د پوره په پوره دين مدار په دې صفت باندې دې يَبۡتَغُوۡنَ فَضۡلاً مِنَ اللهِ وَرِضۡوَانًا چه کوم خلق د دين د دعوت کار کوی، د دين داسلام د قائمولو دپاره کار کوی، خپل ځان ومال پيش کوی د هغوی مخې ته صرف او صرف که څه مقصود و مطلوب وی نو هغه صرف د الله تعالی رضا مندی وی، خپل شهرت او نموديا رياکاری نه وی. امام ابن جوزی رحمه الله فرمائی: که يو سړی مسجد جوړکړو او په هغې باندې ئې اوليکل چه فلانی صاحب مسجد جوړونکې دې. فَقَدۡ اَبۡطَلَ عَمَلُه هغه خپل عمل لره برباد کړو. په دې وجه چه دهغه کار د يَبۡتَغُوۡنَ فَضۡلاً مِنَ اللهِ وَرِضۡوَانًا دپاره نه وو. بلکه د خپل نوم او شهرت دپاره وو او دا شهرت هغه ته په دنيا کښې ملاؤ شو، په آخرت کښې به هغه ته دخپل عمل څه فائده نه وی. زما رونړو!...... علماء کرام، طلباءکرام او نور چه کوم سخی اومالدار حضرات دی، ټول رونړه دې حديث لره مخې ته کيږدئ چه محمدرسول الله صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل :

”د ټولو نه مخکښې به هغه سړې د جهنم اُور کښې سوزولې شی يعنې د هغې په ذريعې سره به جهنم لره ګرمولې شی. په هغې کښې به د ټولو نه اول د قرآن کريم قاری او عالم وی، او دويم هغه سخی او دريم د

الله په لاره کښې به جهاد کوؤنکي مجاهد وی." [ مسلم: کتاب الامارة]

حالانکه د هغوی دا ټول عملونه ښه دی خو په دې عملونو کښې دننه يَبۡتَغُونَ فَضۡلٗا مِّنَ ٱللَّهِ وَرِضۡوَٰنٗا نه وو. يو د خپل شهرت دپاره جهاد کړې وو چه ماته خلق لوې بهادر اووائی، بل خپل ځان ته د سخی وئيلو دپاره خپل نوم ليکلې وو چه دا حاجی صاحب د دې مسجد جوړونکې دې. دريم خپل ځان لوې عالم او لوې قاری (داعی اومبلغ) وئيلو دپاره خلقو ته قرآن مجيد اوروليې وو. زما رونړو! .....يَبۡتَغُونَ فَضۡلٗا مِّنَ ٱللَّهِ وَرِضۡوَٰنٗا داسې صفت دې چه هر وخت مونږ له خپل مخې ته ايخودل پکار دی. زمونږ خو حال دا دې چه دې وړوکې غوندې جماعت کښې کار اوکړو نو بيا زمونږ دپاره مسئله پيداکيږی، مونږ سمدست د کريډټ دپاره غمژن کيږو، چه مونږ خو لس کاله کار کړې دې آته کال کار کړې دې، دومره محنت مې کړې دې مونږ ته څه کريډټ ملاؤشو؟ زمونږ د اخلاص دا حالت وی چه کچرې چا عالم ته د يو مسجد يامدرسې نه جواب ملاويږی نو د هغه پوره کوشش دا وی چه مسجد هم وران شی او مدرسه هم برباده شی، ترڅو پورې چه زه په دې مسجد کښې يم يا مدرسه کښې يم په هغې کښې کار کيږی، زما شهرت کيږی، کله چه زه د دې ځاې نه اوځم نو يو هلک(طالب علم) به هم په دې کښې پاتې نه شی، د دعوت کار دې اودريږی، دلته نه به د داعی وتل بند شی.

زما رونړو!.....دا د يَبۡتَغُونَ فَضۡلٗا مِّنَ ٱللَّهِ وَرِضۡوَٰنٗا } کارنه دې.تاسو په دې خبره باندې ښه غور اوکړئ او په دې باندې پوهه شئ چه داسې قيمتی افراد به څنګه پيداکيږی؟.....مونږ ته چه نن کوم خپل حالت په نظر راځی، داخو مونږ ته داسې په نظر راځی چه صفتونه بالکل اُلټه په هغوی کښې موندلې شی.

## د نعرو د سیاست نه ځان اوساتئ او د دین د دعوت کار اوکړئ:

یوه خبره بله د غور قابله ده چه داسې جماعت تیارولو دپاره دنعرو ضرورت نشته دې. خلقو لره په جلسو او کانفرنسونو کښې راجمع کولو سره تاسو داسې جماعت نه شې تیارولې. تاسو په یویاځلور کاله کښې دننه داسې جماعت نه شې تیارولې بلکه :

كَزَرۡعٍ اَخۡرَجَ شَطۡـَٔهٗ فَاٰزَرَهٗ فَاسۡتَغۡلَظَ فَاسۡتَوٰى عَلٰى سُوۡقِهٖ يُعۡجِبُ الزُّرَّاعَ لِيَـغِيۡظَ بِهِمُ الۡكُفَّارَ۔

[الفتح:٤٨/٢٩]

څنګه چه انګور راخیژی، هغه بالکل کمزورې وی بیا هغه لږ مضبوط شی او تنا اونیسی، بیائې ښاخونه راوځی بیا پرې میوه لګی آیا دا ټول کارونه سمدست کیږی؟ صرف په نعرو سره کیږی، یا یو جلسې سره ټول کار کیږی. یا یو جلوس وتلو سره دا ټول په ټولې مرحلې وهلې کیږی؟؟ نه، هیڅ کله نه! د دې دپاره خو یو اوږده موده پکار ده چه کوم سړې وائی چه زه د اسلامی امارت کار، د اقامت دین کار، د حکومت الٰهیه د قیام کار یا د واحد الله دین لره د غالب کولو کار د دعوت الی الله په صرف نعرو سره کیدلې شی، په شپږ کاله کښې کولې شې.... هغه سړې په لویه غلط فهمئ کښې مبتلا دې. دا خبره سراسر غلطه ده، بلکه که تاسو بل ځاې ته راشې نو الله رب العزت داسلام مثال د کهجورې د اُونې سره ورکړې دې او په صحیح بخاری کښې یو حدیث دې په هغې کښې د یو مؤمن مثال رسول الله صلی الله علیه وسلم د کهجورې سره ورکړې دې آخر په دې کښې حکمت څه دې؟ په دې کښې لوې حکمتونه او څو مشابهتونه دی، په خپل مینځ کښې څو مناسبتونه دی.

اول تخم کرلې شی، بیا پانړې راوځی.... غرض دا چه دا ټول په ټوله مرحلې وهلو سره اته لس کاله پس تاسو د دې نه میوه اخستلې شې.

زما رونړو! کچرې مونږ دا غواړو چه مونږ داسې یو جماعت لره تیار کړو چه د الله تعالی د دین د او چتوالی دپاره کار کوی نو مونږ له پکار دی چه مونږ دا اصول مخې ته کیږدو، دا طریقه اختیارکړو کومه چه محمد صلی الله علیه وسلم اختیار کړې وه بیا به د دې جماعت دوه کارونه وی. یو د الله د دین دعوت ورکول. کله چه مونږ د دعوت دپاره اوځو د الله د دین د دعوت کار کوو نو بیابه (خلقوسره) سره ټکراؤ پیدا کیږی. نو داسې څښتونه به اوچت په نظر راځی چه خلقو لره به د خالص توحید نه د رسولو نه منع کوی. اوچت شوې لاسونه به په نظر راځی چه د الله کلمې لره مخکښې رسولو ته به نه پریږدی. نو د هغوی لاس کټ کول د هغوی اوچت شوې څښتونه کټ کول، دا هغه دی کوم ته چه تاسو جهاد (قتال) وائې.......دا د دعوت کار ډیر ګران دې. دا د انبیاءعلیهم السلام کار دې، چه زمونږ د تقریر او تدریس نه هم مشکل کار دې. زمونږ د تبلیغ د کار یو انداز دا وی چه کله چرته جلسه اوکړو، چرته تقریر دپاره لاړ شو نوکه چرته د څه قسم مخالفت یره وی نو مخکښې نه مسلح کیدو سره ځو دې دپاره که معمولی غوندې مخالفت یا پریشانئ سره مخ هم شو نو د خختې جواب په به کانړی سره ورکوو.

زما رونړو!..... د رسول الله صلی الله علیه وسلم د تبلیغ انداز دا وو چه هغه خلقو ته د دین د دعوت ورکولو دپاره به روان وو نو دګلونو باران به پرې نه کیدو! زمونږ د پاسه خو د ګلونو باران کیږی، د تقریر نه مخکښې په زرګونو منه ګلونو راغورزیږی، د تقریر کولونه مخکښې زمونږ په شان کښې څومره وخته پورې نعرې او القابات اوچتیږی. دا مبلغ"توحید" بیا نولو دپاره ځی او د پاسه پرې د ګلونو باران کیږی! خو محمدصلی الله علیه وسلم به چه د توحید دعوت ورکولو دپاره تللو او د

الله قرآن اورولو دپاره تللو نو دپاسه به پرې دکاڼو باران کيدو..... بيابه په جواب کښې نبی عليه السلام دا رد عمل نه کولو چه اوس خو مونږ زخميان شو اوس خو مونږ مجروح شو، نه! دا ټول تکليفونه به ئې برداشت کول او د نبوت په ژبه به ئې فرمائيل :

اَللّٰهُمَّ اهْدِ قَوْمِيْ فَاِنَّهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ۔ [بخاری: کتاب احاديث الانبياء]

"اې الله! زماقوم ته هدايت اوکړې دا خلق مانه پيژنی، دې خلقو ته خو پته نشته."

کله چه مونږ باندې زخمونه اولګی،مونږ ته تکليفونه اورسی، نو ثابت قدم او د عزم او استقلال والا خلق به هله پيدا شی. کله چه مونږ د دعوت کار کولو سره خپل ځان په مصيبت کښې واچو او بيا د الله کلمې لره اوچتولو دپاره موقع راشی نو مونږ توره به هم په لاس کښې راخلو، نو د دې مرحلو نه پس به دوه صورتونه مخې ته راځی:

۱: ياخو به تاسو د الله په لاره کښې شهادت داسې قبول کړئ چه :

يٰۤاَيَّتُهَا النَّفْسُ الْمُطْمَئِنَّةُ ارْجِعِيْۤ اِلٰى رَبِّكِ رَاضِيَةً مَّرْضِيَّةً فَادْخُلِيْ فِيْ عِبٰدِيْ وَادْخُلِيْ جَنَّتِيْ۔

[الفجر:۸۹/۲۷تا ۳۰]

سرټيفکيټ اخستو سره خپل ځان لره به جنت ته داخل کړئ.

۲: دويمه نتيجه به داوی چه د دې کوشش په نتيجه کښې به الله رب العزت په دنيا باندې خپله کلمې لره اوچته کړی او د امارت اسلامی قيام به په وجود کښې راشی.... ان شاء الله.

## د يو جماعت لاندې اوسئ او د امير اطاعت کوئ:

زما رونړو!..... دا ټول کار د مؤحدينو دې، د چا سره چه دين دې. د کومو خلقو سره چه دين نشته تاسو د هغوی نه دا توقع کوئ، او اميد ساتئ چه دا خلق به د الله دين لره نافذ کړی، دا ممکن نه ده. دا د

اسلافو طريقه کار لره دخپلونکی خلقو کار دې، د توحيد والو کار دې، دا د انصارالسنة کار دې، مونږ خپل ځان کښې اخلاق پيدا کړو، خپل ژوند لره د کتاب وسنت مطابق جو کړو او يو جماعتی نظم کښې دننه راشو. اوګورئ ځانله ځانله کيدو سره داکار نه کيږی. د امارت نظم دې. سيدناعمربن خطاب فرمائی :

لَاجَمَاعَةَ اِلاَّبِاَمَارَةٍوَلَاۤاَمَارَةَاِلاَّبِاِطَاعَةٍ [سنن دارمی:۱/۲۹]

چه دجماعت وجود د امير نه بغير نه وی او امارت بغير د تابعدارئ ممکن نه دې.

نو د جماعت دپاره ضروری ده چه ددې يو امير وی او هغه امير دې جماعت لره چلوی. هغه باصلاحيت سړې وی او د هغه دينی خدمات وی، هغه پوهيږی چه کتاب وسنت څه څيز دې؟ او د الله دين لره اوچتولو دپاره ماله څه څه کارکول دی. جهاد هم کول دی، دعوت هم ورکول دی(او د دعوت دين کار لره وسيع نه وسيع تر کول دی) او دې پوره جماعت لره د کتاب وسنت مطابق چلول هم دی. مونږ دا بحثونه کوو چه د انظام به څنګه چليږی؟ نو روره د الله په فضل سره ټولې خبرې په مونږ باندې واضحه دی. خبره داده چه مونږ په اخلاص سره دعمل ابتداء اوکړو او د رسول الله صلى الله عليه وسلم سيرت لره مخې ته ايخودلو سره خپل ژوند لره بدل کړو.بيابه مونږ د ټولو جهګړو نه خلاصې بياموموو او مونږ به يو مثالی جماعت جوړيدو سره په دنيا باندې د کلمة الله په اوچتوالی کښې کامياب شو. ان شاء الله. الله تعالى دې مونږ ته ددې توفيق راکړی.آمين

## باب: ٦

# ددعوت د ناکامۍ اسباب او د هغې حل

څوک هم چه د دې مختصر تحریرنه فائده اوچتول غواړی د هغه دپاره ضروری ده چه هغه دې کتاب لره په سنجیدګۍ سره مطالعه کړی دې دپاره چه د هغه روح زمونږ د روح سره آشنا شی. او د هغه زړه د هغه ټولو داعیانو رونړو سره ملاؤ شی چه د دنیا په مختلفو حصو کښ د دین د دعوت فریضه ادا کوی. خبره صرف د لوستلو د حده پورې پاتې نه شی بلکه کوم څه چه اولولی د هغې مطابق دعمل کولو اراده هم لری.

دا خبر د شک او شبهې نه اوچته ده چه اصل مقصود فی الواقع کلام نه دې او مونږ هم د نورو خلقو په شان.....خامخا اوږد بحثونو لره بیکارګڼړو او مونږ ته د دې هم احساس دې چه په قوم باندې یوه اوږده زمانه تیره شوې ده په کوم کښ چه صرف بحثونه وو، او اوس دا ملت او قوم د بحثونو نه ستړې شوې دې، په دې وجه اوس په علمی طور باندې هم څه نه څه کول پکار دی، خو د څه خبرې پیش کولو دپاره د افهام وتفهیم ضرورت دې او بغیر د دې نه مونږ خپله خبره نورو ته نه شو رسولې، په دې وجه دا کتاب اولیکلې شو. همدا وجه ده چه څوک نبی هم یا صاحب د فکر داسې نه دې تیر شوې چه هغه د خپل دعوت شروع په تحریروتقریر نه وی کړې. تردې پورې چه څه خلق هغه قبول کړی او د هغه تابعدارۍ لره خپل شعار جوړ کړی او د هغه په تبلیغ واشاعت باندې خپل ټول محنت خرچ کړی.

دویمه خبره داده چه انسانیت کش تهذیب چه نن صبا په ذهنونو باندې خور شوې دې او دهغه زیاته سرمایه زمونږ د دشمنانو دکیمپونو نه رالیږلې شوې ده، د هغې استیصال او د هغه بالکلیه اصلاح ډیره ضروری ده. مونږ اکثر و بیشتر د خپل دین، عقیدې، وطن او تهذیبی وراثت په سلسله کښې مدافعانه رویه اختیار وو. حالانکه دا یو داسې معامله ده چه په دې خاموش کیدل مونږ ټولو دپاره ډیر بربادونکې ده. د دې غیر اسلامی تهذیب بعضې لاندې ذکرشوې ښکاره اثرات زمونږ مخې ته دی:

☆ نشاة ثانیه خاص طور د دینی بیدارئ طرف نه عمومی مایوسی پیدا شوې ده.

☆ غفلت او لاپرواهی او د خالق نه ویزاری عام شوې ده.

☆ پوره امت په عیش وعشرت او په آسانئ کښې غرق شوې دې او د غیرونه مرعوب او د هغوی د تهذیب وثقافت خوښونکی دې

☆ په دنیوی معاملاتو کښې د ډله بازئ او جداوالی درزونه پیدا شوې دی دې څیز زمونږ کمزورئ لره دوچنده کړې ده

دریمه خبره داده چه د اسلام داعیان جامد مقلد جوړشوې دی. نوې لارې راویستل اوپه نوو طریقو سره د دعوت کارکول د هغوی د وس خبره نه ده. هغوی د دعوت فریضه په داسې طریقه ادا کوی چه د هغوی د فرائضو یو جز دې چه په مسلمانانو اچولې شوې دې اودکوم په ذریعه سره چه هغوی د کامیابئ په ځاې صرف د آخرت د ثواب توقع ساتی. او د هغې په خاطر هرمشکل لره آسان او هر قربانئ لره محبوب او هر لرې نه لرې فیصلې لره د خپلو تمناګانو په حصول کښې نزدې ګنړی او په دنیاکښې د دین د غلبې په هغوی کښې څه درد نه وی.

دا په دې وجه چه که کوږوالې اوبې لارې کيدلو لره صحيح کول دی. د دين د رموزو ښکاره کول دی د دين احکام کوم چه ختم شوې دی هغه دسر نه واپس ژوندی کول دی او په امت کښې د فکر بيداری پيدا کول دی نو علی الاعلان د دين د دعوت فريضه به سرته رسول وی.

## د دعوت د ناکامۍ اسباب:

ډير په افسوس سره وئيلې کيږی چه د ډيرې مودې نه د حق د داعيانو غلط مرّوجاتو لره بدلول، او د دين عظمت ښکارکول او خلقولره د هغې د خير و برکت نه ډېره کولو کښې څه مؤثر او قابل د ذکر رول ادا نه کړې. زمونږ په خيال د دې لاندنی اسباب دی:

### ۱- د اقتدار نه محرومی:

داعی صرف د تقرير او تحرير دپاره پاتې شو اوکه هغه د تربيت طرفته هم څه توجه کوی نو ډير په محدوده پيمانه باندې.... د دې وجه ياخو د وسائل او ذرائعو کمی وی، بيا د عوامی تائيد فقدان پاتې شو، يا هغه په دائره کښې محدود پاتې کيدو سره پاتې شو، چه د هغې راخکوؤنکی د اسلام د شمنان وو..... د دې نه مخکښې په مونږ باندې يو داسې دور هم تير شوې دې چه وعظ کوؤنکې به د قوم سردار يا قاضی وو او د وخت حکومت به دده کفالت کولو. خو نن دا حالت شو چه شايد هغه کس خپل ځان لره ډير خوش قسمته تصور کوی که هغه د سلطنت د آزمابښتونو نه بچ شی.

### ۲- د علم ناقدری:

کله چه د ماديت سيلاب پوره راوختلو او خلق دخپل دين نه بې فکره شول په خپله دنيا جوړولو کښې مصروف شول نو هغوی علماؤ لره

بالکل هیر کړل او بیچاره علماء د احساسِ کمترئ ښکار شول، او په هغوی کښې اکثر پخپل ځان او نورو باندې بوج شول او د هر قسمه توهین وتذلیل نښه جوړه شوه تر دې چه په قصو او کهانیانو کښې هم د هغوی د نوم (تضحیک وتذلیل دپاره) اخستل شروع شو دغه شان هغوی په عوامو کښې بالکل بې اثره پاتې شول او اوس د حکومت وسائل او ذرائع هغوی لره د فقروفاقې په ژوند تیرولو باندې مجبوره کړل دې دپاره چه هغوی د تنقید نه بچ شی.ځکښې داسې وه چه عوامو به پخپله د هغوی مدافعت کولو خو هغوی هم د دوی دطرف نه سترګې بندې کړې.

## ۳- د دین د داعیانو غلطیانې:

د داعیانو اکثریت په روستو صدو کښې د هغه پریوتې طریقو او طرزونو لره اختیارولو باندې اصرار اوکړو چه په هغې سره عوام نورهم د مذهب نه لرې شول. بیا په هغوی کښې د فکر اوچتوالې هم نه وو او هغوی داسې طریقې سره دین د خلقو مخې ته پیش کړو چه دا نوئ اوسرکش نسل د هغې اوچتولو طاقت نه شو لرلې او د دین نه د هغوی نفرت زیات شو. هرکله چه نن په معاشره کښې لهوولعب عام شوې دې او ځوانانو لره په خوږ خوب باندې د اوده کیدو دپاره ډیر ذرائع موجود دی، د سهولت پسندئ او زینت وآرائش نور سامان بغیر د څه خاص کوشش او محنت نه هرځای ملاویږی، مونږ ته د دې هم اعتراف دې چه بعضې علماؤ د الله په فضل سره په معاشره کښې خپل ډیر اثرات پریخې دی او په معاشره کښې قابل ذکر اصلاحات کړې دی، خو داسې اصحاب خال خال تیر شوې دی د هغې مثال د بجلئ د پړق په شان دې چه په یو آن کښې پړقیدو سره غائب کیږی. رسول اللهﷺ رښتیا فرمائیلې دی:

لَاتَزَالُ طَائِفَةٌ مِنْ اُمَّتِیْ ظَاهِرِیْنَ عَلَی الْحَقِّ لَایَضُرُّهُمْ مَنْ خَالَفَهُمْ حَتّٰی یَأْتِیَ اَمْرُاللهِ۔

[مسلم ،کتاب الا مارة]

”همیشه به زما په امت کښې داسې ډله موجوده وی چه په صحیح دین باندې به قائم وی د مخالفینو مخالفتونه به د هغوی هیڅ هم نه شی ورانولې تردې چه د الله تعالی فیصله راشی.“

د دې مطلب هیڅ کله دانه دې چه مونږ د نورو صالحینو د تعمیری کارنامو انکار کوو یا د هغه حامل توحید باعمل علماؤ خدماتو لره فراموشه کوو چه هغوی په مختلف میدانونو کښې ادا کړی دی فَجَزَاهُمُ اللهُ خَیْرَ الْجَزَآءِ بلکه د دې نه مقصود صرف دا دې چه د اسلام کار کوؤنکو دپاره یو نوې نسل راوچت شی چه ټهوس علمی حقائقو لره خپلولو سره د دعوت اسلام د نشرواشاعت کار ادا کړی او په دې کښې د هغه مقصود صرف دالله رضا وی دې دپاره چه هغه ددې په ذریعې سره دین لره اوچت کړی او په دې زمکه باندې هیڅ فتنه باقی پاتې نه شی او ټول اطاعتونه او وفادارئ صرف الله تعالی دپاره خاص شی.

واضحه دې وی چه دلته په دې کتاب کښې د دین اسرار ورموز نه دې بیان کړې شوې ځکه چه دالله په فضل سره په دې میدان کښې ډیر کار شوې دې بلکه دلته صرف دومره خودل دی چه داعی به خپلې ذمه دارئ څنګه ادا کوی چه د دې نه بهترینې نتیجې راوځی.

**د کامیابئ شرائط:**

د الله دین..... چه د هغې آخری شکل نن د اسلام په صورت کښې زمونږ مخې ته موجود دې کوم لره چه خاتم النبیین محمدصلی الله علیه وسلم دې دنیاته راوړې وو. په مخ دزمکه هغه صرف په دې وجه

سره غالب نه شو چه هغه د الله راليږلې شوې دين دې، يا دا چه مونږ هغې لره ټهيک خلقو ته اورسولو يا دا چه هغې لره الله تعالى جبرًا نافذ کړې څنګه چه د کائنات طبعي قوانين هغه جوړ کړى دى. په پاس ذکر شوې شکل اختيارولو سره دين نه شي قائميدې... بلکه د دې نفاذ صرف په دې وجه سره کيدې شي چه د انسانانو يو جماعت ددې د قائمولو بيړې اوچته کړى.

چه په الله باندې يقين لرى او د خپل وس مطابق په دې باندې ثابت قدم وى، کوم چه (خپل ځان لره داسلام په سانچه کښې اچولو سره) د نورو په زړه او دماغو کښې او د هغه په ژوند کښې هم د هغې د نافذکولو دپاره کوشش کوى. د رب ذوالجلال والاکرام د دې قول پوره مصداق وى:

وَلْتَكُنْ مِّنْكُمْ اُمَّةٌ يَّدْعُوْنَ اِلَى الْخَيْرِ وَيَاْمُرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ۔ [آل عمران: ۳/۱۰٤]

"په تاسو کښې يو جماعت داسې ضرورى کيدل پکار دى، چه نيکو طرفته رابلل کوى، د ښو خبرو حکم کوى او دبدو نه منع کول کوى او يقينًا داسې خلق به کاميابې مومى."۔

بيا د خپل ټولو صلاحيتونو سره د دې مقصد په حصول کښې فناشي. دارنګه د انسانى کمزورو او نفسانى خواهشاتو خلاف په جهاد کښې مصروف شي، بيا هغه ټولو سره مخ شي کوم چه دخپلو مفادو او خواهشاتِ نفس په بناء د دعوت په لاره کښې ديوال جوړ شوې دى. او د دې مقصد د حصول دپاره تردې حده پوره محنت کوى چه څومره د انسان په وس کښې دى.... او څومره قدرې وسائل او ذرائع چه هغه ته ميسر وى هغه په دې لاره کښې قربان کړى او د خپل دعوت شروع د

دې نقطې نه اوکړی چه عملاً دهغه دپاره مفید وی او دهغه د ضرورتونو او د ژوند د تقاضو نه کله هم غافل نه وی دې دپاره چه دا دعوت په فطری رفتار سره مخکښې لاړشی.

دغه شان دا جماعت کله به هم د فتح او کامیابۍ سره مخ کیږی اوکله کله به دماتې سره هم مخ کیږی. او د دې دارومدار دده د اختیارکړې شوې ذرائع او دهغه په خرچ شوی کوششونو باندې وی او د دې انحصار په دې خبره هم دې چه هغه د خپل سیرت وکردار او معاملاتو کښې څومره حده پورې د دې هدایاتو نمائندګی کوی. دغه شان د دې دعوت کامیابی ، دفن او د حکمت د کارنامو، د جهاد او د قربانۍ د برکتونو او د اجتماعی کوششونو په مقدار باندې منحصر دې.

## د کامیابۍ کنجی:

د بعضې حکماؤ خیال دې چه د معاشرې د موجوده صورت حال بهترین عکاسی څه مشکل څیزنه دې بلکه کمال په دې خبره کښې دې چه هغې ته بهترین رخ ورکړې شی حالانکه اصل کمال خو دا دې چه د هغې مستقبل لره د حال نه زیات روښانه کیدو کوشش اوکړې شی..... بیاچه کله مونږ د کوم تحریک داعیان یو هغه د تعمیروترقۍ په صحت مند اصولو باندې قائم دې،خلقو ته د ذاتی اصلاح ترغیب ورکوی، د تنقید او مسلسل احتساب په ذریعې د هغې تشکیل سیرت کوی، او دبدو خلاف دجهاد دعوت ورکوی، دغه شان داصلاح او تربیت په بنیاد د انسان دننه تبدیلی ده او د هغې په ذریعه په معاشره کښې هم تبدیلی ښکاره کیږی، او د دې په نتیجه کښې د تاریخ یو نوې انقلاب راځی.

د مسلمانانو ذمه داری صرف دومره نه ده چه هغوی بس حق لره اوپیژنی اونه داده چه د حق په حمایت په غاړه ولاړ وی او د طوفان دچپو تماشه کوی، ښکه چه د اشراقیو او د صوفیانو یوه ډله کوی. بلکه د دوی همیشه همدا مطالبه ده چه په دلائلو سره د خلقو د مطمئن کولو کوشش اوکړې شی او په دې سلسله کښې د حکمت، د زړه د فراخئ، لوې ظرف، روښانه فکر او د نورو د غلطو نه سترګو پټولو په شان رهنما اصولو لره اختیارکړې شی.

د دعوت پیش کولو همدا یوه مناسب طریقه ده چه د انسانی فطرت آشنا دې. رسول الله صلی الله علیه وسلم په مکه کښې دیارلس کالو پورې صبراوثابت قدمئ لره خپل شعار جوړ کړې وو. او سرکش طبیعتونه به ئې د الله تعالی طرفته رابلل او د دې خبرې ئې قطعی پرواه اونکړه چه د دې اثرات به کله ښکاره کیږی. حضرت نوح علیه السلام نهه نیم سوه کاله پورې خلقو ته د الله د بندګئ پیغام رسولو، دغه شان د حضرت ابراهیم علیه السلام دمسلسل سخت کوششونو باوجود صرف لوط علیه السلام ایمان راوړو اوڅومره انبیاء خو دغه شان دعوت ورکولو ورکولو د دنیا نه رخصت شو او څه قابل ذکر نتیجه هم ښکاره نه شوه، نو په دې سره د هغوی په قدرومنزلت کښې څه فرق هم واقع نه شوځکه چه هغوی د خپل وسعت مطابق خپل فرائض ادا کړل ... په دې وجه د دعوت کارکوؤنکو ته زمونږ درخواست دې چه هغوی اول خپل نیت خالص کړی او د دې نه پس صبرجمیل سره مسلسل د دعوت کار اوکړی او د هرڅیز نه اول هدف د انسانی نفوسو پاکی وی

## د دعوت انداز:

- ددعوت مناظرانه انداز خواه هغه مؤثر دلائلو نه ډک ولې نه وی مخاطب لره دحق قبلولو نه منع کوی،په دې وجه د مخاطب سره په نرمئ سره خبرې اترې کول پکار دی ځکه چه اهم دانه ده چه تاسو هغه لره په بحث کښې چهپ کړو بلکه کمال دادې چه تاسو په خپل حکمت عملی سره دهغه زړه اوګټلو.
- ستاسو یومنزل متعین دې ترکوم پورې چه تاسوته رسیدل دی،د هغې دپاره دې هغه لار اختیارکړې شی چه منزل ته زر رسوؤنکې او یقینی وی. ځکه چه بعضې کلمات دومره جامع او مختصر وی چه د نورو اوږدو کلماتو نه بې نیازه کول کوی.
- د هرې معاشرې خپل یو معیار وی چه هغې لره د دعوت د وسیع ترمفادو دپاره خپلول ضروری وی، خو دې سره سره د الله تعالی نه یرې لره په ټولو څیزونو باندې اولیت حاصلیدل پکاردی.
- د څه خبرې فورًا جواب ورکول یاپه تریو تروش انداز کښې تنقیدکول....دا د جاهلانو د تعلیم او تربیت دپاره مفید نه بلکه ضروری دی چه هغوی لره د الوهیت او نبوت د بنیادی حقائقو او دهغې دخصوصیاتو نه خبرداروول اوکړې شی. په دې سلسله کښې د لاندینی کارونو نه بالکلیه پرهیز اوکړې شی چه انسانی صلاحیتونو لره خرابوی.
- وړو وړو خبرو لره بنیاد جوړ نه کړې شی، یاپه څه معامله کښې بالکل لاحاصل بحثونو نه پرهیز اوکړې شی.
- په ضعیف روایاتو باندې اعتماد اونکړې شی

- په څه متعین څیز باندې بې ځایه اصرار اونکړې شی.او نه موضوع نه اخوا بحث سره داسې خبرو لره اوچهیړلې شی په کومو سره چه عوام متنفرشی.
- دالله سنت دې چه ژوند بصیرت والو ته ملاویږی ړندو نه.
- چه کوم خلقو ته مال ودولت ورکړې شوې دې او هغوی په اصلاح وتعمیر کښې مؤثررول هم اداکولې شی، ډیر کم داسې کیږی چه دوعظ ونصیحت په محفلونو کښې شریک وی او د الله کور لره آباد کړی. په دې بناء باندې حرکت او کوشش د دین د داعیانو په سخت فرائضو کښې شامل دی، د دې دپاره چه کوم خلق تاسو ته نه راځی هغوی مه ملامته کوئ بلکه د ملامت کولو قابل خو تاسو ئې چه د هغوی سره مو رابطه قائم نه کړه.
- دنشې څوقسمونه دی او د ټولو نه لویه نشه نفس پرستی او بې ځایه نصیحت دې.
- په پیوند لګیدلې جامو سره د سیدناعمررضی الله عنه په قدروعزت کښې څه فرق رانغللو خو د حریروديباج زرق برق جامو رستم لره دشکست نه بچ نه کړې شو.
- د داعی به دا لویه غلطی وی کچرې هغه دا خیال اوکړو چه ده څه تقریر اوکړو یا د څه رائې اظهار ئې اوکړو او د عوامو فکروخیال لره ئې بدل کړو.
- د دعوت دکار دمقبولیت مختلف عوامل دی. چه په هغې کښې اهم ترین دادی:

(۱)د الله کريم دمخلوق سره محبت اوکړې شی (۲) وخت لره قربان کړې شی (۳)او ذاتی مفادو لره نظرانداز کړې شی.... دلته نه توفيق ايزدی ملاويږی.

اهم دانه دی چه په علمی اعتبارسره تاسو ډير مخکښ ئې بلکه خاص خبره داده چه په تاکښ دننه د اصلاح جذبه څومره قدرې ده. اوکله کله خو داسې هم کيږی چه تالره په حقه ګنړلو سره هم خلق ستاخبره نه منی.

ثُمَّ بَدَا لَهُمۡ مِّنۢ بَعۡدِ مَا رَاَوُا الۡاٰيٰتِ لَيَسۡجُنُنَّهٗ حَتّٰى حِيۡنٍ‏

[يوسف:۱۲/ ۳۵]

"بياهغه خلقو سوچ اوکړو چه د يو مودې دپاره ده لره قيد کړې حالانکه هغه (د ده پاکدامنی او بڅپله د خپلو ښځو د بدو عادتونو) ښکاره نښې ليدلې وې."

خپل مخاطب لره هميشه ذهين او عالم تصور کړئ. تاسو څه داسې خبره مه کوئ په کومې چه نيول کيږی او نورو خلقو لره دحقائقو نه خبردار کولو کښ په اوږدو بحثونو سره پريشانه کړئ.

د نورو عيبونه او د هغوی خرابيانو لره د خپل تقرير مواد مه جوړوئ، تردې پورې چه که سخت ضرورت پيښ شی او د دې نه بغير مخاطب په خبره نه پوهيږی او خپل تقريرونو کښ واقعات او کهانو لره دومره مقدار کښ بيان کړئ، څومره قدر چه په خوراکونو کښ د مصالحو وی. خلق ستاسو په سلسله کښ دا ګمان لری چه هم ته

دعوت ئې خو داسې نه وی چه د خلقو دې حسن ظن ته په څه معامله کښې تکليف اورسی، په دې وجه دقول او فعل د تضاد نه بالکل پرهيز اوکړئ. د داعی حيثيت د انجينئر او دګلکاروی. هغه څوک ايکټر او فنکار نه دې چه په سټيج باندې عوامو لره خوشحاله وی. څنګه چه څوک فنکار صرف دخلقو دتسلئ څيزونه پيش کول خپل مقصد جوړوی.

هغه معاشره چرته چه خلق د دعوت نه يره کوی هلته په ډير مهارت سره دې لره سرته اورسوی څنګه چه پسمانده ملکونو لره په ترقئ کولو کښې دسخت مشکلاتو سره مخ کيدل پريوځی. د دين ديو اړخ پيش کولو نه پرهيز دې اوکړې شی هسې نه چه د دين بل اړخ پټ پاتې شی ځکه چه دين يو مکمل د ژوند دستور دې.

د ماضی د تحريکاتو باندې نظرساتلو نه بغير هيڅ يو تحريک مخکښې نه ځی.پوهه شئ چه ژوند د ماضی، حال، مستقبل نه عبارت دې. په ثابت شده او متفقه اموروکښې دخل مه ساتئ. څومره اهمې خبرې چه ستاسو وئيل دی هغې لره د هغې داهميت په لحاظ سره مرتب کولو سره پيش کړئ. په څه چه تاسو پوهيږئ ضروری نه ده چه او ئې وائې. دهرې خبرې پيش کولو يوه موقع وی.

خلقوته هغه خبرې اوښايئ کوم ته چه عملی جامه اچول ممکن وی. صرف په خيال کولو سره خبره نه جوړيږی..... د الفاظو وئيلو نه مخکښې تول کول پکار دی،ځکه چه غلطيانې يادساتلې شی اوښه خبرې خلق هيروی. دعوت د کاميابئ ته هغه وخت ورغاړه اوځی

هرکله چه نفس د موضوع دصحت سره دهغې د پيش کولو انداز هم صحيح وی. کچرې تاسو چاته نصيحت کولو سره دا اووائې چه "جهګړا مه کوه" نو هغه ستاسو خبرې لره په عقلی طور باندې خو اومنی خو جذباتو کښې راتلو سره به هغه تاسو لره هم ديکه کړی هغه ستاسو خبرې لره هم،ځکه چه هغه تاسو لره دخلقو په مخکښې بسپيمانه کړو حالانکه داسې خبرې په ځانله والی کښې د وئيلو وی.

د خلقو مرتبې د هغوی د عهدو او اجتماعی منصبونو په لحاظ سره وی. همدا پيمانه نن صبا رائج ده خو داصحيح نه ده، په دې وجه چه داسې سړې هم عهدې ته رسی چه د دې بالکل اهل نه وی او په معاشره کښې ښکاره مقام هغه سړې هم حاصلوی چه د هغه دپاره غلط طريقه اختياروی. صحيح پيمانه د زړه نرمی، د عقل سلامتی او دالله دپاره په مخلوق باندې رحم کول څنګه چه الله تعالی فرمائی :

اِنَّ اَكۡرَمَكُمۡ عِنۡدَ اللّٰهِ اَتۡقٰكُمۡ [ حجرات:۱۳/۴۹]

"په حقيقت کښې د الله په نزد په تاسو کښې د ټولو نه زيات عزت والا هغه دې چه په تاسوکښې دټولو نه زيات پرهيزګار دې."

## باب: ۷

# انفرادي دعوت

**مفهوم:**

په انفرادي دعوت کښې خبرې اترې د يو فرد ياڅو افرادو سره کيږي. په هغې کښې څه اکثريت ته خطاب نه شي کولې، او بعضې وخت دا د مخکښې نه بغير د څه مقرر شوې پلان لاندې سر ته رسي، مثلاً اتفاقي ملاقاتونو کښې په مجلسي خبرو اترو يا د دوستانو سره په نشتونو کښې په انفرادي طور باندې د هغې مواقع ملاويږي.

**خصوصيات:**

دا طرز دعوت خپل ځان کښې مختلف قسم خصوصيات لري چه په هغې کښې لاندينې ډير واضح دي:

**الف۔** دا بار بار پيش راتلونکې څيز دې او هر سړی ته روزانه څو څو ځله د دې موقع ملاويږي.

**ب۔** په دې د څه محنت اوکاوش څه خاص ضرورت نه راځي بلکه اکثر خو دا د نورو کارونو سره سره کولې کيږي په دې وجه چه په دې کښې څه خاص وخت هم نه خرچ کيږي مثلاً چالره د تعزيت په موقع باندې يا د چامريض د پوښتنې په موقع يا د چاکره د ماشوم پيدائش باندې د تحنيک دپاره تلل د دې دپاره موقعه راوستلې شي.

**ج۔** په دې کښې آسانئ وی،د دومره دماغو خوړلو ضرورت نه وی څومره چه په عمومي جلسويا مذاکراتو وغيره کښې کيږي اوپه دې کښې داعی د هر قسمه تنقيدی بندشونو نه هم آزاد وی.

**د۔** دا ډيرآسان دې نو په دعوت باندې ايمان ساتلو والا هر سړې په

دې کښې حصه اخستې شی خواه هغه جاهل یا ان پړ ولې نه وی اوپه دې کښې څه مهارت نه لری. دغه شان دا طریقه د دعوت د دعوتی کار دپاره د مشق و ممارست یو بهترینه جولانګاه هم ده په کوم کښې چه د صلاحیتونو معلومولو دپاره کافی موقعې وی.

ه۔ نو دا دعوت په پټه طریقه باندې سرته رسی اوپه دې کښې داعی د هر قسم ریا او نمود نه هم محفوظ وی، د څکه چه ډیر کرته په کتوکښې راځی چه لوې لوې مقررین او ددعوت تبلیغ کارکوؤنکی افراد د "لاؤډاسپیکربیماری" او "دصدارت مرض" کښې مبتلا وی.

و۔ په دې کښې د غوروفکر نوې نوې لارې کھلاویږی څکه چه په دې کښې هرسړی لره دخپل خپل نقطه نظر داظهار موقعه ملاویږی. نو په ډیر وختونو کښې د دې مخې ته نوې نوې خبرې راځی او د دې په تعلق سره دهغه په زړه کښې سوالانه پیدا کیږی. او په عام مجمع کښې څوک د ده د سوالانو جواب ورکولو والا نه ملاویږی. نو د هغه جواب حاصلولو دپاره برابر کوشش کوی تر دې پورې چه هغه د دې سوال جواب مومی.

ز۔ بیا په آزادانه ماحول کښې چه کومې خبرې اترې کیږی په هغې کښې سړې خپل شکوک وشبهات په کافی آزادئ سره پیش کوی او خپل مینځ کښې د تبادله خیال په ذریعې هغې لره ختموی. په دې کښې شک نشته چه د خبرو اترو دا طرز ډیر مفید او فائده ورکوؤنکې دې او دغه شان خبرو اترو کښې د اخوت او رورولئ فضا پیدا کیږی.

ح۔ د دې لارې کله هم نه بندیږی، دا دعوت په سخت ترین حالاتو او مشکلاتو کښې دننه هم روان وی اوپه پوره سرګرمئ سره مخکښې روان وی. د اقتدار خاوندان چه دې لره څومره د دباوهلو کوشش کوی

نو دومره په تیزئ سره رواچتیدو سره روان وی ځکه په داسې حالاتو کښې د ټولو زړونو آواز یو وی او د خلقو مسائل او مشکلات تقریبًا یوشان وی.دا هغه دور وی چه په هغې کښې دظلم و زیاتې خبرې په بده طریقې سره ناکامه کیږی

ط۔ په دې کښې د نبوت برکتونه هم وی ځکه انبیاء علیهم السلام دخپل دعوت ابتداء هم داسې کړې ده اوپه پوره ژوند کښې د هغوی دا طریقه وه.

**اثرات:**

په شروع کښې داسې محسوسیږی چه د انفرادی دعوت اثرات ډیر سست او د دې نتیجه ډیره کم ثابتیږی. ویونکې دا هم وائی چه په دې عظیم الشان معاشره کښې د څو سوؤ یا څو زره کسانو د وس خبره نه ده چه هغوی د خپل محدود دعوت په ذریعې سره متوقع فائده حاصل کړی. د یو حده پورې د هغوی اعتراض صحیح هم دې او دا امر تسلیم شده دې چه اسباب میسر وی نو عوامی دعوت (اجتماعی دعوت) هم په خپل ځاې ډیر اهم دې خو د یو اوږدې مودې د کامیابئ دپاره انفرادی دعوت هم د بنیاد کار کوی، او هغه خلق چه د انفرادی دعوت په نتیجه کښې د اطمینان حاصلولو سره نزدې راځی هم هغه د هر دعوت اصل سرمایه ثابتیږی. او همداسې خلق په تیرې شوو صدو کښې خوریدونکې اصلاحی تحریکاتو کښې اهم رول ادا کړې دې. د هغوی مثال د انبیاء علیهم السلام د ملګرو او د مصلح قائدینو د تابعدارو په شان وی دغه ګویا د انفرادی دعوت مثال دهغې بنیاد په شان دې په کوم چه دعمارت تعمیر کولې شی او دا دواړه د یو بل نه بې نیازه کیږی نه.

بیا دا څه ضروری نه ده چه د انفرادی دعوتونو اثرات په هرحال کښې محدود به وی. د دې خلاف کله کله هم داسې کیږی چه انفرادی دعوت د عوامی دعوت نه زیات د اثر والا او د ناکامو نه لرې کیږی.

## د دعوت آداب:

په تیر شوو کرښو کښې مونږ دا خبره کړې ده چه انفرادی دعوت حد درجه نازک وی په دې وجه چه په دې کښې د دعوت تعارف کول زیات ګران وی دهغې دبدو نتیجونه تختیدل هم ډیر مشکل وی.

داعی هغه وخته پورې غلطی کوی کله چه هغه ته دا خیال اوشی چه هغه خپل مخاطب لره ښه پوهه کړو..... هغه له هیڅ کله مطمئن نه دی کیدل پکار ځکه چه ضروری نه ده چه چاله د مدعا د اظهار بهترین صلاحیت ورکړې شوې وی هغه دې خپل خیالاتو لره په بهترین انداز کښې پیش هم کړی، او دا هم ضروری نه ده چه چاچپله خبره په بهترین انداز کښې پیش کړې ده هغه مخاطب لره به مطمئن هم کړی. بیاداهم څه ضروری نه ده چه هغه چالره په مطمئن کولو کښې کامیاب شوې دې د هغه د طرف نه د څه ښه نتیجه اظهار هم وی.ځکه چه د انسان د فکر وعمل ټولو صلاحیتونو لره د خیر طرفته رااړولو کار ډیر ګران وی. د دې وجه داده چه انسانی فطرت نورو لارو طرفته دتختیدو کوشش کوی او انسان دخپل دننه جذباتو نه داسې متاثرکیږی څنګه چه د خپل عقل نه متاثره کیږی. په دې وجه مونږ په دې سلسله کښې د لاندینی څیزونو نشاندهی کوو:

## حلم وبردباری:

داعی لره د دعوت کار په بهترین طور سره سرته رسولو دپاره ضروری ده چه هغه په حلم او بردبارئ سره کار اوکړی. او چونکه د

نورو شخصیتونو نه هغه د مخکښ نه نا واقفه وی په دې وجه ضروری ده چه اول هغوی په ښه طریقه باندې پوهه کړی او د خیر اوشرد طرف نه د هغوی د میلاناتو پته اولګوی.

د دعوت د کار کولو دپاره د دې واقفیت ډیرضروری دې. هغه داسې سمدست څه خبره نه کوی چه دهغې نتیجو هغه ته علم نه وی......جی ها! د داعی سره یو داسې پیغام وی چه د معاشرې اکثر خلقو دپاره بالکل نابلده (نوې) وی او د هغوی دپاره په هغې کښې څه کشش هم نه وی، نه په هغوی کښې دهغې د بوج اوچتولو طاقت وی. په دې وجه کله هم د هغوی د طرف نه اختلاف کیدل مشکل نه دی. په دې وجه زمونږ زمه داری ده چه مونږ په پټی کښې د تخم اچولو نه مخکښې د هغې خاصیت هم معلوم کړو ځکه چه بعضې زمکې بالکل بنجر وی چه په هغې کښې د رازرغونولو صلاحیت نه وی.

فَذَكِّرْ إِن نَّفَعَتِ الذِّكْرَىٰ ‎[الاعلیٰ:۹/۸۷]

”بس تاسو نصیحت کوئ که نصیحت نافع وی.“

## دمخاطب د جذباتو احترام:

دویم څیز چه د هغې لحاظ کول ضروری دی هغه داچه دمخاطب د جذباتو پوره پوره احترام ملحوظ اوساتلې شی هغه ستامخالف ولې نه وی.په دې وجه په رائې ورکولو کښې اختلاف مشکل نه دې او داڅه داسې څیز نه دې چه دهغې په بناء باندې په خپل مینځ کښې تعلقاتو لره خراب کړې شی. په دې وجه ضروری ده چه تاسو د نورو خبرو لره هم داسې واورئ څنګه چه خپلو خبرو لره خلقو ته اوروول خوښوئ. خپل ناقد پخپله جوړشئ او برابر سوچ کوئ چه په تاکښې څه خرابیانې دی. ته زیاتې خبرې خو نه کوې؟ .... د خبرواترو په دوران

کښې آواز خو نه اوچتوئ؟... ستاد خبرو اترو انداز جارحانه خو نه دې؟ په خپل علم باندې ناز دې تاته؟ د الفاظو جرنده خو نه چلوې؟

بیاکه تاسوته دا احساس اوشی چه ته په غلطئ باندې ئې نو بغیر د څه یرې نه دحق لار اختیارکړئ خواه تا ته معذرت کول اوشی. یو آئیډیل انسان جوړ شې دې دپاره چه مخالفین چه همیشه ستاسو غلطیانې تلاش کوی هغه په تاباندې خاورې نه اچوی او د اصل موضوع نه اخوا ذاتیاتو طرفته مه اوړه چه په هغې کښې به دمال ومنال او جاه ومرتبې سهارا اخستل پریوځی بیا دا معامله حکومت اوعدالت ته اورسی دغه شان شیطان ته د قدم لګولو موقع به ملاؤ شی.

د هغې خلاف که ته په ابتداء کښې بهتره لار اختیار کړې نو ستاسو بحث به ښه او ښائسته وی. د علماؤ ادب واحترام ملحوظ اوساتې نو خپل مینځ کښې به د اختلاف څه لاره نه ملاویږی. اوس به تاسو سره د اختلاف رائې ساتلو والا په مخکښې دوه لارې وی یاخوبه ستا خبره اومنی یا په ښه طریقه سره به ستا نه جدا شی، ستاسو شکر ګزار به وی یا به تاسو سره معذرت کوی او ستاسو د خبرو اترو د طرز نه متاثره کیدو سره دا هم ممکن ده چه په دویم ځل په خپله هم د ملاقات خواهش مند وی،چه د دې خبرې دلیل به وی چه تاسو په خپل مقصد کښې دڅه نه څه حده پورې کامیاب دې.

## دحالاتومطالعه:

الله تعالی د زمکې په ټولو حصوکښې دعلم وحکمت دریابونه بهیولې دی او هر قوم ئې دعلم د دولت نه مالا مال کړې دی .

حدیث نبوی صلی الله علیه وسلم دې:

وَعِنْدَ كُلِّ قَوْمٍ عِلْمٌ "دهرقوم سره یو علم دې".

او د یو قوم د حالاتو په لحاظ کولو سره چه کوم علم ډیر ضروری دې هم هغه علم د نورو قومونو د حالاتو په لحاظ سره بالکل غیر ضروری وی.

په دې کښې شک نشته چه علم د مشکلاتو دحل پوړۍ ده خو بځپله د علم ارتقاء هم ډیرمشکلات پیداکوی ، په دې وجه د داعی دپاره ضروری ده چه هغه دې فن لره زده کړی، خلقو سره رابطې اوساتی او د هغوی خیالاتو باندې پوهه شې. د شکوک وشبهاتو په مینځ کښې حقیقی معرفت لره تلاش کوی او کله چه هغه ته په نوې ماحول کښې د کار کولو موقع ملاؤشی نو د صبر و سکون سره د څه ورځو پورې دې ماحول باندې د پوهیدلو کوشش اوکړې، په دې کښې زیات وخت هم خرچ کیږی او کم هم. تردې پورې چه هغه دې ماحول باندې ښه ځان پوهه کړی. بیاچه کله په دې ماحول کښې د کارکولو سلیقه هغه ته راشی نوبیاکار شروع کړې. او دې ماحول باندې د پوهیدو نه بغیرکه چرې هغه کار شروع کړو نو هغه ته به ډیر پریشانۍ وی چه بځپله به د ده او د دعوت په لاره کښې رکاوټونه پیدا کولو سبب جوړیږی.

## په بنیادی اصولوبا ندې توجه :

د انسانی فکر څه بنیادی اړخونه وی اوممکن ده چه د لارې مختصر کیدو باوجود دې اړخ باندې په ځان پوهولو کښې کافی وخت اولګی. په دې کښې څه خرج نشته ځکه چه کله داعی دبحث بنیادی اصولو باندې پوهه شی نو بیا به هم د هغه دپاره دا ممکنه وی چه بځپله هم فائده اوچته کړی اونورو ته هم فائده اورسی. مثال په طور باندې که تاسو چاسره داسلام په موضوع باندې خبرې اترې کول غواړې اوددې بحث بنیادی نکات، ایمان باللّٰه،ایمان بالغیب،دمنقولاتو تصدیق او د

معقولاتو ادراک دې. اوکه مخاطب په بنیادی څیزونوباندې ایمان نه لری نو هغه سره دا بحث ختمول پکاردی. او په نورو اړخونو باندې خبرې اترې کول پکاردی. دغه شان د هغه سرې معامله هم ده چا چه یوکس لره ئې خپل لیډرجوړکړې وی او دهغه په محبت کښې هغه ته د حق او د مصلحت عامه هم څه پرواه نه وی نواوس که داعی ددې نه واقف دې نوهغه له پکاردی چه هغه سره په دې انداز کښې خبرې اترې اوکړې چه دهغه په محبوب لیډرباندې د اعتراض کولو نه بغیرپه مزه مزه سره هغه لره خپل مقصدته راولې.

داعی لره همیشه د څه داسې موقع منتظر کیدل پکاردی په کوم کښې چه هغه خپل مخاطب لره د حق د خوند نه خبر کړی، په دې دوران کښې د هغه محبوب لیډرسره څه تغرض نه دی کول پکار. کچرې هغه داسې اوکړل نو ګویا چه د هغه د زړه په در باندې ئې دستک ورکړو اوس د دې نه پس هغه ته به پوره موقعه ملاوشی چه په حکمت او صبر سره کار اوکړې په هغه کښې دننه دحق تخم واچوې او د باطل پخپله راختلې اونې ترې اوباسې.

## دحق اعتراف:

د دعوت په آدابو کښې داخبره هم راځی چه داعی یوفراخه زړه والا او د لوې ظرف والا انسان وی. دهغه دپاره دا مناسب نه دی چه هغه د مخکښې نه خبره مقررکړی چه دهغه خبره مناسب او ټهیک ده او مخالف،کافر،جاهل اوګناهګاردې. داسې هیڅ کله هم نه دی ګڼړل پکار بلکه دبحث بنیادپه حقائقو باندې ایخودل پکاردی اوڅنګه چه داعی ته دخپل موقف دکمزورې احساس وی هغې لره په ضدباندې د اودریدلو مظاهرې کولو نه بغیر دمخاطب خبره منل پکار دی اوپه بل څه اړخ باندې خپله خبره پیش کول پکار دی.

د فقهې او شریعت په مینځ کښې فرق کول هم مشکل دی ځکه چه شریعت هغه اصل بنیاد دې چه دهغې صحت دهرشک او شبهې نه اوچت دې. پاتې شوه فقه نو دا هغه څیز دې کوم لره چه پخپله مونږ د شریعت نه زده کړې ده. دې لره خلقو ته پیش کول دهغې داحکامو مطابق فیصله کول دا ټول اجتهادی څیزونه دی، چه په کښې دخطا اوصواب دواړو احتمال دې. داعی دپاره په بعضې معاملاتو کښې شکست قبلول یاکم نه کم دهغه وخت مظاهره کول په خپله خبره باندې د پوهولو دپاره ډیر زیات فائده مند دی. بیاهغه سره بحث کول هغه وخت پورې هیڅ کله نه دی کول پکارترڅوپورې چه هغه دبحث دبنیادی نکاتو نه ښه واقف نه شی اوپه دې پوهیدل چه هغه په کومو دلائلو سره خپل مخاطب لره قائل کول دی. معلومه شوه چه داعی چرته مخاطب ته ډیرڅه ورکوی دهغه نه ډیر څه اخلی هم.

## په متفقه امورو کښې خپل مینځ کښې تعاون:

د حکمت په تقاضو کښې داخبره هم راځی چه داعی کله په بحث او خبرو اترو کښې یو نتیجې ته اورسی نو هغه له کوشش کول پکاردی چه هغه مخاطب لره عملی تقاضو طرف ته متوجه کولو کوشش اوکړی ځکه چه نفس بحث مطلوب نه دې بلکه دا بحث خو دیو بل څیز پورې ده مقصود ترینه عمل دې.

بیا د حکمت تقاضا دا هم ده چه داعی مخاطب سره خپله فکری رشته د تعلقاتو په بنیاد اوتړی دې دپاره چه راتلونکو ورځو کښې همدا څیز په خپل مینځ کښې د تعاون بنیاد جوړ شی مثلاً : دا یوڅیز ستا مخاطب قومی نقطه نظر سره صحیح ګڼړئ او هغه لره په دینی بنیاد باندې صحیح ګڼړې. هدف د دواړو یو دې، دواړه هم د یو دشمن نه

خلاصي حاصلول غواړي. په داسې صورت کښې په خپل مينځ کښې تعاون سره ددې دشمن نه د نجات حاصلولو کار فی الواقع د فروعی اختلافاتو نه زيات هم دې. په دې دائره کار کښې په تعاون باندې اتفاق ته څه بل څيز مانع نه دې پرېخودل پکار.

## دحرص نه پرهيز:

ډير کرته داعی د خپلو خبرو اترو په دوران کښې جذباتی ياسياسی موقف اختيار کړی اوخپلې خبرې لره حق ګنړلو سره د حريصانه جذباتو لاندې د نورو په جذباتو هم کله سپک او کله ژور زخم او لګوی. په دې سره اکثر نقصان کيږی ځکه چه په دې طرزخطاب کښې دنورو د زړونو رعايت نه وی حالانکه همدا د هغه زړونو رعايت هغه څيز دې چه دې لره مطمئن کولوسره پوره شخصيت لره ښائسته کول ممکن کيږی. په دې سلسله کښې مخلصانه بحث او قربانی ورکول دا هغه دوه وسلې دې چه نورو لره متاثره کوی. په دې وجه دې داعی دپاره داخبره ښه نه ښکاری چه هغه دخپل مخاطبو په زړونو کښې دنفرت جذبات راوچت کړی، دهغه سره مناظره شروع کړی،هغه له ددې هم کوشش نه دی کول پکارچه مخاطب دده خبره اومنی. د داعی دپاره دا ډيره بې مناسبه ده چه په کوم يو سټيج باندې هم د حريصانه جذباتو لا ر واخلی، د دعوت کار صرف د الله تعالی دپاره کولې شی اوهغه دټولو نه بې نيازه دې.

## باب : ۸

# اجتماعی دعوت

په دې کښې د داعی پیش نظر د انسانانو یو جماعت وی د کومو چه ژوند بدلول یو مقصود وی. واضحه دې وی چه خطابت یو زوړ فن دې چه دهغې آغاز دانسانی نسل دابتداء نه کیږی اوددې اهمیت ددې وجې نه دې چه اوریدلې خبره د لوستلې خبرې نه زیات متاثره کوؤنکی وی ځکه چه په دې کښې ژوند،حرارت او متاثره کوؤنکی خصوصیت ښکاره وی.

## حقیقت او اهمیت:

انبیاء او رسولانوته عوامی داعی وئیلې شی ځکه چه هغوی خپل دعوت لره دداسې عواموپه مخکښې پیش کوی چه د هغوی خواهشات اوجذبات د جدا جداقسم وی دارنګه ددې دعوت په نتیجه کښې بعضې دهغوی نه ددباؤ،ظلم او جبرسره مخ شوې دی اوځه لره شهید کړې شو. خودا ټول په ټوله کامیاب به ګڼړلې شی ځکه چه کوم احکامات او تعلیمات هغوی راوړل د سوؤنو کلونو تیریدو نه پس نن هم په امتونو او ډلو کښې په څه نه څه شکل کښې موجود دی.

حکماء او مجددینوته هم داعی وئیلې شی ځکه چه همدا هغه خلق دی چاچه د انبیاؤ تعلیماتو لره په مجموعی حیثیت سره دعوامو مخې ته پیش کړل اوپه دې نتیجه کښې په دوی کښې ډیرو لره دظلم او جبر نشانه جوړ کړې شو، اوهغوی په پهانسئ اوخیژولې شو. خو دهغوی افکار ژوندی دی اونسلاً بعد نسل مونږ ته رامنتقل شو. خو هغه علم چه د صفاتو د لمن پورې محدود پاتې شو دهغې اکثرحصه ختمه شوه

اوکه څه باقي پاتې هم ده نو په هغې کښې هغه تاثیرنه دې پاتې چه سینه په سینه علم کښې وی ددې برخلاف د هغوی بهترین افکار،قیمتی خیالات او د زرین فکر حاملینو تعدادپه هردور او هرزمانه کښې لاتعداد وو هغوی دې لره دځان نه روستو نسلونوته رسولو دپاره حیرت انګیز طریقې اختیارکړې. مثلاً : داچه که سل کسانو څه خبره واوریده او دې لره هریو صرف پنځو سړو ته اورسولونو په اوله مرحله کښې داتعداد پنځه سوؤ ته اورسیدو اوکه دې پنځو مزیدپنځه نورو افرادو ته اورسوله نوپه دویمه مرحله کښې داخبره دوه نیمه زره افرادو ته منتقل شوه. ددې نه اندازه لګولې شی که چرې داخبره مسلسل یوې صدۍ پورې په خلقوکښې خوریږی نوڅومره خلقوته به اورسی.

د دعوت کار په صحیح طور باندې کولو دپاره داهم ضروری ده چه داعی کوم فکر طرفته خلقولره رابلی په هغې باندې دهغه خپله هم پوخ یقین وی،زړه او دماغ په دې باندې مطمئن وی ددې د حدودو ددې د صحت اوددې د اثر کولو نه هغه ښپله هم خبر وی اوددې خبرې سخت خواهش مند وی چه په نورو کښې هم دا خوبیانې پیداشی. دا خوبیانې به څنګه پیدا شی؟ دې لره په یومثال سره داسې ګنړل پکار دی چه دوه مقررین تقریرونه کوی،خو دیو په تقریرسره سامعین متاثرکیږی او ددویم دتقریر څه اثرنه وی، اوریدونکی په یو غوږ واوری په بل غوږ ئې اوباسی.

دا ډیره ضروری ده چه داعی نورو لره د مطمئن کولونه مخکښې ښپله مطمئن شی او دعمل نه مخکښې داخلاص جوهر په دهٔ کښې موجود وی. نوکله چه الله تعالی موسی علیه السلام لره فرعون ته او دهغه قوم ته د دعوت ورکولو دپاره اولیږلو نوهغوی دې مهم لره د پوره کولو دپاره

د الله تعالی نه دکوم څیزونو درخواست اوکړو هغه دا وو:

۱: اوله خبره خودا ده چه د رسالت حق اداکولو دپاره الله تعالی د هغه زړه کهولاؤ کړی او هغه ددې لائق شی چه ددې لارې مشکلاتو لره برداشت کړې شی، نو فرمائی:

رَبِّ اشْرَحْ لِي صَدْرِي ۔ [طٰه :۲۰/ ۲۵]

"پروردګاره! زما سینه کهولاؤ کړې."

۲: دویم څیز دکوم چه ئې درخواست کړې وو هغه دا وو چه د نبوت کار دهغه دپاره آسان کړې او ددې پریشانئ لرې کړې، نو وې فرمائیل :

وَيَسِّرْ لِي أَمْرِي ۔ [طٰه :۲۰/۲٦ ]

"او زماکار لره مادپاره آسان کړې."

دې مختصرجملې د زړه نرمی،رقت، د لارې مشکلات او سختوالی لره د دفع کولو التجا او د دشمنانو د مخفی چالونو نه حفاظت لره دې ټولو لره راګیر کړل.

۳: دریم درخواست داچه د هغه (دموسیٰ) د ژبې غوټه هم کهولاؤ کړې اودهغه په کلام کښې فصاحت او تاثیرپیدا کړې دې دپاره چه د رسالت کارلره سرته رسولو کښې د ژبې اوبیان څه مشکل پیش رانه شی، نو وې فرمائیل :

وَاحْلُلْ عُقْدَةً مِّنْ لِسَانِي يَفْقَهُوا قَوْلِي ۔ [طٰه:۲۰/۲۸،۲۷]

"او زما د ژبې غوټه کهولاؤ کړې دې دپاره چه هغوی زما خبره باندې پوهه شی."

۴: څلورم درخواست داچه زما دخاندان یوملګرې او معاون هم راکړې چه قابل داعتماد او امین وی. وې فرمائیل :

وَاجْعَلْ لِّيْ وَزِيْرًا مِّنْ اَهْلِيْ هٰرُوْنَ اَخِي اُشْدُدْ بِهٖٓ اَزْرِيْ وَاَشْرِكْهُ فِيْٓ اَمْرِيْ

"او زما دپاره زما د خاندان نه يو وزير مقرر کړې، هارون چه زما رور دې دده په ذريعې سره زما لاس مضبوط کړې او ده لره زما په کارکښ شريک کړې."

**۵:** بيا هغوی په خپله دعا کښ ددې هم وضاحت اوکړو چه هغه په خپل رب باندې ايمان لری او د هغه د رضا طالب دې.

كَيْ نُسَبِّحَكَ كَثِيْرًا وَّنَذْكُرَكَ كَثِيْرًا

"دې دپاره چه مونږ ستاښه پاکی بيان کړو او ستاښه ذکر اوکړو."

دغه شان هغوی د الله تعالی په سلسله کښ دخپل هغه علم هم اظهار اوکړو چه هغه د زړونو راز باندې هم پوهيږی، دې دپاره چه په دعوت کښ اخلاص او ښه اطاعت هم ضروری دې.اِنَّكَ كُنْتَ بِنَا بَصِيْرًا۔ **[طٰہٰ:۲۰/ ۳۵]**

"ته هميشه زمونږ په حال باندې نګران ئې."

دعوامی دعوت کارکوؤنکو دپاره ضروری ده چه په هغوی کښ داسې صفات موندلې شی دکومو په ذريعې سره چه هغوی دعوامو محفلونو ته تلوسره د هغوی ذهنونه د دعوت حق طرفته واړوی او د هغوی فکرونو ته صحيح رخ ورکړی. دا صفتونه خو څه فکری وی: مثلاً: دا چه هغوی ته کتو سره يره محسوسه نه کړی،آواز اوچت وی په حرکت اوعمل باندې ورته قدرت حاصل وی.... ددې څيزونو نه علاوه څه نورڅيزونه هم دی چه په تعليم وتربيت سره ترقی کوی مثلاً : داچه خوش اخلاقه وی،نرم زړه والا وی، دفهم اوفراست او قوتِ استنباط ملکه لری.

## عبادتی امور سره متعلق خطبې:

د یو مسلمان داعی دپاره داهم ضروری ده چه هغه په اصولِ دین او عباداتو او معاملاتو کښې ژور دینی بصیرت لری اوکله چه هم دداسې قسمه څیزونو سره واسطه راشی نو په ښه طریقه ئې ادا کوی. داسې هیڅ نه دی کول پکار چه که هغه د اخترخطبې یا داستسقاء مونځ دپاره راوبللې شی نو هغه په ښه طریقه سره دې فرض لره سرته نه رسوی.(یوداعی له پکاردی چه فرضی ونفلی مونځونو، اخترونو، جنازه، د کسوف مونځ، استسقاء، د جمعې مونځ دنکاح مسنون طریقې او په خطباتو کښې مهارت حاصل کړی .په دې وجه چه دا موقع په عوامو کښې د دعوت الی الله رسولو دپاره بهترین او موزون وی. دغه شان د نمرتندرنیولو، سپوږمۍ تندرنیولو او په خطبه کښې هم دهغه پاس ذکرشوې موقعو متعلق د شریعت مطهره نه په فهم کښې راتلونکې رهنمایۍ باندې پوره عبور لری چه په وخت دضرورت عواموته دقرآن وسنت په رڼړا کښې مکمل رهنمائی فراهم کولې شی. او ددې موقعو نه فائده اوچتولو سره په عوامی اجتماعاتو کښې دعوت رسولو سردبهترینو نتائجو حاصلولو کوشش اوکړی).

## په شرعی تقریرونو کښې قابل دلحاظ امور:

اول څیز د کوم چه لحاظ ساتل ضروری دی هغه داچه تقریرونه زیات اوږده نه وی چه هغې سره په اوریدو اوریدو باندې سامعین تنګ شی،خطبې هم هغه ښه وی کومولره چه عام مسلمانان په یوځاې کښې دپاکۍ په حالت کښې په خاموشۍ، سکون او رضا ورغبت سره واوری. ددې لحاظ په دې وجه هم ضروری دې چه په دې کښې ښځې،ماشومان،بوډاګان او کمزورې ټول وی. چه دهغې رعایت بهرحال

ضروری دي. دویم داچه دموسم هم لحاظ اوساتلي شی،کله سخته یخنی وی کله سخته ګرمی نوپه دې حالتونو کښې په سکون سره څه څیز اوریدل لږ مشکل وی.

دویمه خبره چه د هغې لحاظ ساتل ضروری دی هغه داچه مقرر په خپل تقریرکښې کوم فرد یا جماعت لره هیڅ کله د مجروح کولو کوشش اونکړی،اونه دچاپه تعریف کښې دمبالغې دحدنه تیرشی،ځکه چه دداعی کار خو د الله تعالی یره ورکول دی البته که څه اهم معامله وی نو په دنیاوی موضوعاتو باندې هم خبرو اترو کښې څه حرج نشته دې.

دریمه خبره داده چه هسې خو عام مقریرینو له مکمل تیاری کولو سره تقریرکول پکاردی خوکه یو خطیب په فی البدیهه وینا باندې قادر وی او وخت اوموضوع لره د تقریر په دوران کښې نه هیروی نوپه دې صورت په فی البدیهه وئیلوکښې څه حرج نشته.

داعی له همیشه دخلقو په مخکښې د ښو اخلاقو مظاهر کول پکاردی او خشوع اووقار لره براقرار ساتل پکاردی، ځکه چه دداعی حیثیت په دین کښې د پیشوا وی.

**موثرې خطبې:**

د دعوت همدا طریقې په عواموکښې زیاتې مقبولې دی او په دې سره په عوامو کښې جوش او ولوله او یوعملی تحریک پیدا کیږی.

خطابت څه آسان فن نه دې چه دې لره ډیرکم خلق په بهتر طریقه سره کوی. په دې وجه ضروری دی چه په تعلیمی ادارو کښې او بخپله په جماعتی سطح باندې په خاص طور باندې ددې ټریننګ اوکړې شی ځکه چه دا په اهم کارونوکښې یو دې په کوم چه زمونږ ددعوت انحصار دې.

د يو ښه خطيب زړه دهغه ددماغو سره تړلې شوې وی. په دې وجه د داعی دعوت هغه وخت مؤثروی کله چه دهغه په زړه کښې د جذباتو ګرمی او په دماغو کښې د معلوماتو خزانه وی،په دې دواړوکښې په يوڅيزکښې کمې د ناکامۍ او نامرادۍ سبب جوړيږی.

په راتلونکو صفحوکښې مونږ به ديو ښه مقرردبعض قابل لحاظ خوبيانو طرفته اشاره کولو کوشش کوو. دخوبيانو دا تقسيم صرف خبرې لره د آسان جوړولو په غرض سره ده ګنی فی اصل داټولې خوبيانې يو کل دې دې لره په اجزاؤ کښې تقسيم کول صحيح نه دی.

# د عوامی دعوت آداب

**(۱) حسن انتخاب:**

مقررله پکاردی چه هغه د بهترينو مضامينو انتخاب اوکړی او په دې سلسله کښې لاندينی څيزونه قابل دلحاظ دی:

**دموضوع انتخاب:**

د مقرر دپاره ضروری ده چه هغه د دې موضوع انتخاب اوکړی چه سامعينو لره بادب، مهذب او سليقه مند جوړولوکښې ممدومعاون ثابت شی. دمثال په طور باندې لاندينی موضوعات اوګورئ: په خبرواتر او خاموشئ، معاملاتو کښې مشوره، د رازونو حفاظت، صبر اوبې صبری، خندا مذاق،مروت پاسداری،دعلم طلب يامعاشرتی آداب مثلاً: خوړل څکل،سلام دعا، د نورو خدمت، وضع قطع. دخلقو سره دتعلقاتو نوعيت وغيره يامثلاً: تهذيب اوسليقه مندی،اعلی اخلاق،رښتيااو دروغ، حياء،خاکساری وتکبر،ښه اخلاق،ددين داصولو فهم، د دوست حقوق، صحت وفراغت، دعمل موقعې،همدردی او غم خواری،عقل اونفس پرستی، ددعوتِ تبليغ طريقه،دکار او کارکن اهميت،په مالدارانو باندې

دمال حقوق، د عقائدو اصلاح،دغیراسلامی خیالاتو نه واقفیت،سنت وبدعت، د افرادو په ژوندکښ د شریعت اهمیت وغیره. چه کومې ادارې مسلسل د اجتماعاتو انعقاد کوی، بهتره داده چه هغوی دسالانه او ششماهی لحاظ سره یو نقشه جوړه کړی چه په هغې کښ د انسانی ژوندپه مختلف حصو او اړخونو باندې دکار او نفع ورکوؤنکې مذاکرې او تقریرونه وغیره اوکړې شی. ددې مذاکراتو موضوعات داسې کیدل پکار دی.اجتماعی خدمت،د طب د فن وسعت،دمختلف ملکونو مسائل یاتاریخی، دینی جغرافیائی موضوعاتو باندې بحث ومباحثه ، عجیب و غریب مخلوقات،د نوې دور ایجادات واکتشافات،اسلامی معیشت و تجارت، جدیدمعاملات،جدیدمسائل،د اسلام نفاذ عدل، د نفاذ شریعت فوائد،داسلام نظام حیات وغیره په شان موضوعاتو باندې اظهارخیال کول پکاردی. ددې دپاره بهترین مقررینو لره راوغوښتلې شی. اسپیکر کلب قائم کړې شی،دمقررینو دپاره وخت مقررکړې شی او په سلیقه سره دې لره CONDUCT کړې شی.

## د الفاظو او جملو انتخاب:

د تقریر دا ډیر اهم جز دې په دې وجه داعی ته دداسې الفاظو انتخاب کول پکاردی. چه آسان وی او دمخاطب دپاره مانوس وی. دثقیل او غیر مانوس الفاظو استعمال کول صحیح نه دی،داهغه څیز دې چه دهغې لحاظ بخپله قرآن مجید کړې دې. په دې وجه دداعی دپاره د دې لحاظ کول ډیرضروری دې. هسې خو د دې میدان ډیر وسیع دې.خو مختصرًا مونږ دې طرفته اشاره کوو.

خطیب لره آسان او واضح او وړې وړې جملې استعمالول پکار دی. د عبارتونو ښائسته کول ضروری نه دی دې سره خبره ګول مول

شی اوڅه اوریدونکی په دې کښې تحریف کولو سره غلط معنی ورته اغوند وی، بعضې تحریفونه په ښه نیت سره هم کیږی. خو اکثرخلق غلط تاویلونه کوی،په دې وجه خبره دو ټوکه کول پکار دی او داسې الفاظ استعمالول پکار دی کوم ته چه غلطه معنی اغوستلې کیدې نه شی. بیاهغه مسائل چه د عوامو په نزد متفق علیه دی که په دې کښې څه شرعی قباحت نه وی نوبغیرڅه وجې په دې کښې اختلاف هم نه دی کول پکار،عوامو لره په اختلافی مسائلو کښې اخلول چه هغوی لره په ډلوکښې تقسیم کړی بالکل غیرمناسب دی. الله دې نکړی که دچرته داختلافاتو اُور بل کړې شی نودهغې دمړ کولو پوره کوشش پکاردې چه فرقه بندئ او ډله بازئ لره ختمولوسره هم دخلقو په مینځ کښې دمینې محبت تخم اوکرلې شی. اودخلقو په مینځ کښې مینه محبت پیدا کول دارنګه هغوی (دقرآن وسنت په تعلیماتو باندې متفق کولوسره) په یوپلیټ فارم باندې جمع کول زمونږ ددعوت اهم مقصددې. بیاداهم ضروری نه ده چه داعی دمانوس الفاظو او مروجه محارو استعمال هم اوکړی. داعی خو نوې نوې الفاظ جدیداستعارات او تشبیهات او د ادبی کنایاتو استعمالول هم ضرور کول غواړی بلکه زمونږ مشوره خو داده چه په مناسب موقعو باندې دمخکښې نه تیاری کولو سره تقریر کول پکار دی. په داسې موقعو باندې دنبی کریم صلی الله علیه وسلم ماثور دعاګانې چه نبی علیه السلام د ژوندمختلف اړخونو لره مخې ته ایخودلو سره غوښتلې وې یادساتل پکار دی مثلاً دتعزیت اوتهنیت دعاګانې د واده ښادئ په موقعو باندې کړې شوې دعاګانې دباران دعا وغیره. دغه شان ادبی الفاظ،بهترین اشعار،دقرآن کریم آیتونه او د نبی علیه السلام احادیث هم یادساتل پکاردی دې دپاره چه د ضرورت په وخت دهغې نه استدلال اوکړې شی.

## د مناسب وخت انتخاب:

د ښه مقريرينو يو خصوصيت داهم دې چه هغه دخپلې خبرې کولو دپاره د يو داسې وخت او موقعې انتخاب اوکړی چه د سامعينو دپاره د مشقت نه ډک او ګران وی،دامناسب نه دی چه دجمعې خطبه په کوم کښې چه خلق د زر واپس کيدو دپاره بې چينه وی يو اوږد تقرير شروع کړې يادسختې يخنۍ يا سختې ګرمۍ په موسم کښې وعظ شروع کړې يامثلاً : چاته جلتی ده هغه د مړی په تجهيزوتکفين کښې مرسته کول يا ګاډې نيسی هغه لره اونيسې خپل دتبليغ شوق پوره کول شروع کړې.

## دمناسب ځاې انتخاب:

کله کله داسې هم کيږی چه څه ځايونه د مجلس دانعقاديا اجتماع وغيره دپاره موزون نه وی مثلاً دکارخانوسره نزدې چرته چه هر وخت هنګامه غوندې وی ياداسې ځاې چرته چه د اجتماع سره نزدې خلقوته تکليف وی ياداسې ځاې چرته چه د ګډا او ډول سرونا محفلونه وی ياداسې ځاې چرته چه دوه ليډران يوبل ته بدرد وائی چه دخپل ليډر د اوچت ښکاره کولو په چکر کښې وی يادڅه داسې ځاې انتخاب چه دآبادۍ نه لرې په يوغيرآبادمقام باندې وی دداسې ځايونو انتخاب صحيح نه دې.

## (۲) حکمت عملی:

## حاضر جوابی :

يو څيز چه اکثر او ډير کرته داعی او خطيب ته راپيښيږی هغه حاضرجوابی ده هغه داچه اچانک په څه راپيښه شوې مسئله کښې په خوشحالۍ سره څنګه بری الذمه شی.کله کله مخاطب دمخکښې نه په

خپل ذهن کښې څه سوالات تیارساتی دې دپاره چه ددې په ذریعه د خطیب خاص رجحاناتو لره اوګورم اوکله سوالات دداسې څیزونو په باره کښې وی چه ددې نه غیر متعلق او د بحث د دائرې نه خارج وی یوښه خطیب لره په دې پوهیدل پکاردی چه په داسې موقعو باندې څه اوکړی چه دتقریرتسلسل هم ختم نه شی او جواب هم غلط نه وی.

زه یو داسې سړی نه واقف یم کوم ته چه دفن تقریر امام وئیلې شی. یوځل دتقریرپه دوران کښې یو سړې پاسیدو او وې وئیل ''چه ستاداخبره غلطه ده'' مقرر پوهه شو چه هغه ده لره تنګول غواړی.هغه سمدست دهغه خبره کټ کړه چه داصرف ستارائې ده اوخپله خبره ئې جاری اوساتله.

دغه شان د یو استاد په نګرانئ کښې یو طالب د ''تدریسی تربیت'' trainingcorse teaching سبقونو امتحان ورکوو یو طالب علم اودریدو او سوال ئې اوکړو چه د هغه جواب هغې ته معلوم نه ووخو طالب حاضر جواب وو، هغه سمدست اووئیل په بله ګهنټئ کښې تپوس اوکړئ کله چه بل ګهنټئ اوغږیده نوټول طلباء دکلاس نه بهراووتل او په صحن کښې په منډو شو په دې شور شغرب کښې سائل طالب علم خپل سوال هیرکړو. په دې باندې استاذ لاندینې نوټ اوخیژولو ''طالب علم ډیر هوښیار اوحاضرجواب دې.''

## مباحثه:

داعی له با ادب او سیلقه مند او خوش معامله کیدل پکاردی ددې څومثالونه دادی:

- دخپلې حافظې داسې تربیت اوکړئ چه هغه دخلقو نومونه نه هیروی خصوصًا د داسې خلقو چه صاحب مرتبه وی. د داعی په ژوند

کښې د مسلسل منډو ترړوپه وجه سره دګنړو خلقو سره ملاقاتونه کیږی. ډیر خلق هغه لره پیژنی او د هغه نوم اخستوسره هغه ته آواز کوی، په دې وجه دداعی دپاره مناسب نه دی چه د هغه نوم هیرکړی هرکله چه ددې نه مخکښې هغه خپل تعارف کړې وی. دچانوم لره یادساتلو سره هغه ته دخپل تشخص احساس کیږی.

- د مخاطب خبرې لره داسې په توجه سره واوره څنګه چه خپله خبره باندې توجه غواړې. ددې بهتر شکل دادې چه کله مخاطب خبرې اترې کوی نو هغه خاموش شی داسې معلومه وی چه ګویاهغه په پوره توجه سره دهغه خبره اوری.
- د ځان نه مخکښې د تیرشوومقررینوخبرې بطوراستدلال نقل کړی ځکه چه دې سره د ذهن دحاضرئ اندازه کیږی او د خاکسارئ اظهارهم کیږی
- د خلقوچه کوم څیزونه قابل دتعریف وی دهغې تعریف هم اوکړی ځکه چه دا فطری څیزدې چه کوم سړې تعریف کوی هغه به ده سره محبت کوی.البته تحسین بې ځایه نه دی کول پکار.

## د اختلافاتو نه ځان ساتل:

د یو بهترین خطیب دپاره دا هم مناسب نه دی چه هغه د خپل تقریر ابتداء د نورو درایو سره اختلاف او په ذهنونو کښې پراتو خیالاتو او معتقداتو باندې د تنقید نه اوکړی.که اختلافات نامناسب وی نو د نورو خبرولره نقل کړه اوبخپله داسې معلوم وی لکه چه بخپله هم ددې نه ناواقف دې. په بعضې ځایونو باندې ډیر نور جماعتونه او تنظیمونه موجود وی په داسې موقع باندې د یو طرفداری کولو سره په نورکښې دده نه نفرت پیدا کیږی.

بیا دا هم ټولو ته معلومه ده چه د مناظرې او مباحثې نه څه بهتر نتیجه نه راوځی، په دې وجه متکلم چه کله درجه په درجه ذهنونو لره دخپلې خبرې دپاره هموار نه کړی نوهغه پورې هغه له دمخاطب په مخکښ خپل خبره نه دی ایخودل پکار.مثلاً د دوؤ ډلو په مینځ کښ د ترجیح ورکولو مسئله ده، همیشه د خبرې ابتداء دهغه موضوعاتونه کول پکار دی چه داختلافی امورو نه بالکل ځانله وی.

## مخاطب لره په تنګې کښې مه اچوئ:

دحرج مطلب دلته دادې چه مونږ خپل دعوت پیش کولو سره مخاطب لره په څه داسې مسئله نه راګیروو د کوم نه چه وتل دهغه دپاره ناممکن وی او په هغې باندې په زړه زړه کښ غمژن کیږی. د داعی خپل مخاطب لره په داسې مسائلو کښ راګیرول مناسب نه دی. مخاطب ته دځه کار دپاره زحمت ورکول یادځه قربانۍ مطالبه کول هغه وخته پورې مناسب نه ده. کله پورې چه هغه دې لره دخپل ځان دپاره مشقت او دروندبوج ګنړی. اوددې دکولو دپاره په هغه کښ آمادګی نشته یا د هغه په زړه کښ ددې دپاره پوره تائیدوتصدیق موجود نشته دې. دغه شان دیوې غلطۍ مشاهده مونږ په یوکلی کښ اوکړه چرته چه مریضانو ته دطبّی سهولیات ورکولو دپاره یوه اجتماع منعقد شوه چه په هغې کښ ډیرو مقررینو دخپل لیاقت مطابق اظهار خیال اوکړو. یو مقررصاحب استیج ته راغې اوهغه د خپل زړه دا خبره اوکړه چه فلانی صاحب ددې نیک کار دپاره دومره زمکه وقف کړې ده. په اتفاق سره هغه صاحب دچاپه باره کښ چه دا خبره وئیلې شوې وه هغه هم هلته موجود وو. هغه واوریدل نو حیران شو. ځکه چه هغه داسې څه خبره مقررصاحب ته نه وه وئیلې. کله چه جلسه ختمه شوه نو دکمیټۍ

کسان د مذکوره صاحب خوا ته چندې اخستلو دپاره اورسيدل نوپه دې باندې هغه سرې غصه شو او هغه خلقو ته ئې ښه بدرد اوئيل .....دلته دمقررحسن نيت نه قطع دارنګه خبره کول ډيرغلط وو. نو مجبور شو او معذرت ئې اوغوښتو.

**د اوږدوالی نه پرهيز**:

د مبلغينو او مقررينو د ټولو نه لوئ آفت اوږدوالې دې حالانکه په دې سره د دعوت د فائدې په نسبت نقصان زيات کيږی په دې وجه چه هغه لره دهغه په خاميانو اوخرابيانو خبردارول ضروری دی. لاندې به مونږ ددې متعلق خبرې اترې کوو.

مقرر اوږد تقرير په لاندينی وجهو سره کوی.

- مقرر د خپل ځان په باره کښې دخوش ګمانئ ښکارکيږی او د دې ورته دا احساس کيږی چه هغه څه وائی دخلقو دپاره نوې دی دې تصورته هغه وخت نور قوت ملاويږی کله نور د ده په تعريف کښې زمکه او آسمان يوکوی، او ددې بل نوم کبر وغرور دې.
- د شهرت پسندئ او تعريف ئې خواهش وی، دا د ريا قسم دې، داعی لره ددې شرک خفی نه بچپله ځان ساتل پکار دی.
- ډير کرته د غفلت او نسيان ښکارکيږی او د نورو مفاد دهغه مخې ته نه وی اوکله کله دا خوش ګمانی هم د اوږدوالی سبب جوړيږی چه متکلم ګڼړی چه د ده تقرير د حد درجې فائده مندثابتيږی. اوکله کله په خپله موضوع هم داسې وی لکه په مختصر الفاظو کښې راغونډول ناممکن وی.

په پاسنو وجهو کښې څه وجه هم وی خو داعی ته داګڼړل پکاردی چه امت ديوې اوږدې زمانې نه په اوږدو بحثونو او لاحاصله مناظره بازئ

کښ راګیرديږ. په دې وجه اوس د هغوی په مخکښ اوږده اوږده تقریرونو کولو سره څه فائده نه کیږی.
فائده که وی نوصرف ددې نه چه :
۱: د اوږد او بې فائدې تقریرونو په ځاې مختصراو فائده مند تقریردې اوکړی څکه چه دسړی فطرت هم داسې وی چه هغه ډیر وخته پورې هم یوځیزباندې متوجه نه پاتې کیږی.
۲: نو عمومًا د خلقو ذهنی قوت ډیر کم وی په دې وجه مسلسل د پنځلس منتونه زیاته توجه کول عمومًا ناممکن وی څکه چه ددې نه پس یاخو ذهن ستړې شی یاطبیعت تنګیږی او څه آرام کول زړه غواړی. بیاپه څه دینی موضوع باندې خبرې اترې کول په عام طور باندې خلقودپاره نوې وی اوهرهغه سړې چه دهغه عمر د دیرشوکالو نه زیات وی نوهغه په لس لس کرته په دې موضوعاتو باندې تقریرونه اوریدلې وی. دې باندې پوهیدل پکاردی اوکوشش کول پکاردی چه هغه پخوانۍ خبرې کومو لره چه مخاطب پیژنی بیا بیانه دی وئیل پکار بلکه په دې کښ څه نوې خبرې هم وی اوکله چه نوې خبرې تلاش کولو سره وائې نوخبره به مختصر هم وی او جامع هم.
۳: بعضې خلق دې وئیلو سره چه "که د اوږدوالی یره نه وې نو....." دې غیر فطری ځیز لره به ئې د جائز کولو کوشش کولو کوم ته چه په څه طریقه هم ښه نه شی وئیلې.
٤: د دې نه خلاف بعضې خلق دې ګنړلو سره چه چرته په تقریرکښ د اوږدوالی عیب خو جوړنه شی نو هغه خپله خبره نیمګړې پریږدی چه په هغې سره د هغه خبره یو پیچیده جوړه شی داطریقه هم صحیح نه ده،په دې وجه بهترداده چه دمخکښ نه وخت او موضوع

متعین کړې شی اوهم ددې خیال کولو سره خپله خبره خلقوته مخې ته ایخودل پکاردی.

## د مسائلو ادراک:

د دنیا بدل شوې حالاتو ډیر داسې حالات او مسائل پیدا کړې دی چه هغې د انسان په ذهن او فکرباندې خپله قبضه اچولې ده او ددې نه علاوه هغه ته دنورڅه سوچ کولو موقع نه ملاویږی. داعی له پکاردی چه هغه دغه شان پیدا کیدونکی دټولو سوالانو تسلی بخش جواب ورکړی ځکه چه هغه هم د انسانانو نه یو فرد دې او پخپله دهغه هم داسې قسم مسائلو سره مخ کیدل وی. په دې وجه کله چه څه نوې مسئله دهغه مخې ته کیخودلې شی نو په هغې غورکول پکاردی چه په دې باندې به دمخاطب په ذهن کښې څنګه څنګه سوالونه راپیداکیږی او هغه به څنګه مطمئن کولې شی مثلاً داچه په متعلقه مسئله باندې د سوچ کولو انداز څه داسې وی.دمخاطب په ذهن کښې به په دې باندې څنګه څنګه سوالونه راپیداکیږی؟ ددې تسلی بخش جواب څه کیدې شی؟ بیاداچه په دې جواباتو هم څه اعتراض خو نه واردیږی که کیږی نو د هغې وضاحت څنګه اوکړې شی؟

د سوچ کولو انداز ذهنونو لره مطمئن کوی او د متکلم ذهانت اومشکلاتو حل کولو کښې د غیرمعمولی صلاحیت پته ورکوی، بیاپه دې سره وخت هم بچ کیږی.

د داعی دپاره په ماضی کښې تیر شوې د اهم اهم تنظیمونو نه په ښه شان واقف کیدل هم ضروری دی بیادې دې مطالعې لره جاری هم اوساتی دې دپاره چه دې تحریکاتو په دنیا باندې نیک اوبد چه کوم اثرات پریخې دی دهغې نه خبر وی، په دې وجه ضروری دی چه هغه

داخباراتو او رسائلو مطالعه هم کوی او خبرونه هم اوری او د یو واقف په شان د دې تجزیه هم کوی. په څه معامله کښې څه سرسری او سطحی رائې دې نه قائموی د څه رائې قائمولو نه مخکښې دې د دوستانو او د شمنانو ټول څیزونه دې په ښه شان سره اولولی. دغه شان توقع ده چه هغه دخپل علم تنده ماته کړی او د دعوت کار په بهترطریقه باندې ادا کړی.

بیاداهم واضح کیدل پکار دی چه کوم خلق په دې میدان کښې کارکوی د هغوی به دداسې مخالفتونو سره هم مخ کیدل راځی چه دې دعوت لره د ویخ نه د ویستلو سره د غورزولو کوشش کوی ځکه چه د دې دعوت د شروع نه د مخالفتونو سره مخ کیدل شوې دی. او دا مخالفتونه کله دپټ چالونو په شکل کښې وی اوکله د اقتدار د خاوندانو د طرف نه اوکله د ظلم او زیاتی او د زور په شکل کښې کولې شی. بیا دومره خبره هم هیڅ کله کافی نه ده چه ته صرف تخم واچوې او دهغه آفاتو او مصیبتونو نه لا پوهه شې چه عمومًاد دعوت په لاره کښې پیښیږی او د هغې په ترقې کښې مزاحم ثابتیږی. دانکته ډیر تفصیل غواړی دلته صرف په اشاراتو باندې اکتفاء کوو.

**د معلوم نه نامعلوم طرفته لاړشئ:**

په چاباندې خبره منلودپاره ضروری ده چه تسلیم شده حقیقتونو لره واخلې درجه په درجه خپله خبره په ذهن کښې کینوې مثلاً کله چه ته خپل مخاطب ته د دعوت ذمه داریٔ یادول غواړې نوداسې اووایه چه الله تعالی مونږته د عقل په شان نعمت راکړې دې اوپه نورو ټولو مخلوقاتو باندې ئې مونږ ته فضیلت راکړې دې.دغه دعظیم نعمت په لحاظ سره مونږته داسې عظیمې ذمه داریٔ هم راکړې

دی او اوس زمونږ فرض دي چه مونږ ددې احسان قدر کولو سره دحق معرفت حاصل کړو او خلق د هغې طرفته راوبلو.

**په وړو وړو خبروباندې نظرساتئ:**

یاد ساتل پکاردی چه د داعی مثال د یو کشتئ دمانړګی په شان دې چه د هغه کشتئ په چپو کښې ګیره شوې وی او لږ شان غفلت پخپله د هغه او په کشتئ د سورو د هلاکت سبب جوړیدې شی.په وړو وړو خبرو په کومو چه توجه کول مشکل وی په هغې کښې څه دادی:

- په داعی کښې داسې څه خبره اونه موندلې شی چه غیرفطری وی.
- که څوک څه خبره د پوهې دپاره دکفارو یا منافقینو په مثال سره بیانول وی نو دجماعت افرادو لره په طور د مثال دې پیش نه کړی.
- د معاشرې داسې اجتماعی عادتونه چه په ذهنونوکښې ناست وی په هغې باندې بې ځایه تنقید نه کوی.
- دهغه لباس،طورطریقه چال چلن داسې نه وی کوم لره چه په عام طورباندې ناخوښه نظرسره کتلې شی.
- د معاشرې علماءؤ ته جاهلان اوعقل مندو ته بې وقوف مه وایه او خپل ځان دنورو نه لوې مه ګڼړه.
- دا ټول څیزونه اګرچه ډیرسپک دی خو دداعی دپاره دهغې لحاظ کول ډیرضروری دی.

**(۳) حسن ادا:**

د دې عنوان لاندې د مقررډیرڅیزونو لره شامل کولې شی، دلته صرف د قابل لحاظ څیزونو تدکره به کوو.

**شروع د الله تعالی د نوم نه وی:**

د داعی ټول کار صرف او صرف دالله تعالی دپاره وی ځکه چه الله دهرڅیز مرجع او منبع دې، په دې وجه کوم یو کار کولو سره کچرې مونږ د دې شروع د الله تعالی د نوم نه نه کوو نو دا به زمونږ سخته غلطی وی. په دې لحاظ سره ضروری ده.

**د موادو استحضار:**

د دې نه پس د ټولو نه اهم څیز د کوم د کولو چه مونږ خطیب ته مشوره ورکوو هغه دادې چه موضوع دهغه په ذهن کښې په ښه شان سره حاضره کیدل پکار دی بلکه داحتیاط تقاضا خو داده چه بنیادی مسائلو لره د مخکښې نه یو وړوکی کاغذ باندې اولیکه دې دپاره چه د ضرورت پیښیدو په وخت فورًا هغه ګورې ګنی ددې یره ده چه دتقریرپه دوران کښې یاخو به هغه هیرکړی یابه اخلې یابه کړې شوې خبره بیابیاکوی. دا ټول څیزونه تقریر لره بې جانه کوی. په دې وجه ددې لحاظ کول ډیر ضروری دې بیاچه کله مقررخپله خبره اوکړی نود تقریر اورېدولو نه بهتر دا دی چه هلته نه ئې ختم کړی.

**پرکشش آغاز:**

بعضې مقررین د مخاطبو شوق او دلچسپئ لره په عجیبه مهارت سره راوچتوی او د خپلې خبرې کولو دپاره ډیر مناسب تمهید تړی مثلاً کله د تقریر شروع د یوې زړه راخونکې واقعه نه کوی او کله شروع د یو حیرانونکې نکتې پیش کولو سره دمخاطب دشوق اُورلره راوچتوی. دا د تقریر کولو ډیر ښه طرز دی،په دې وجه داعی لره دتقریر په شروع کښې قرآنی آیاتونه او د احادیث نبوی صلی الله علیه وسلم دارنګه چانړ کړې ملغلرې پش کول پکاردی. دغه شان چه کله اوریدونکی

ته د مقرر دخلوصِ نیت او د هغه دبې حده کوششونو او محنتونو علم وی نو د هغه په زړه کښې به د دې قدر او منزلت نورهم زیاتیږی.

یاد ساتل پکاردی چه هغه داعی چه خپل دعوت په خالص عربئ کښې صرف د عربو دپاره پیش کوی اوهغه داعی چه بحث لره عقلی اونقلی دلائلو سره ثابت کولو نه پس ددې نه یونتیجه راوباسی بیا ددې په تائید کښې قرآنی آیتونه او د احادیث نبوی صلی الله علیه وسلم نه استدلال کوی، نو په دې دواړو کښې دزمکې او آسمان فرق دې.

## وقاراوسنجیدګی:

د ښه اداء په ضمن کښې یوه خبره دا هم راځی چه مقرر د تقریر په دوران کښې د ایکټرانو په شان زیاتو اشارو کولو او شاشاته اخوا دیخوا کتلو نه ځان اوساتئ، اشارات هغه ښه لګی کوم چه د وقارنه ډک او سنجیده وی. او که چرې مخکښې تلو سره څه خبره کول وی نوپه چال کښې ځانګیدل نه دې راتلل پکار. ددې خبرې کوشش کول پکاردی چه په ټولو حاضرینو باندې نظر وی داسې نه وی چه یو کس ته نیغ نیغ ګورې او د نورو طرفته نظر صرف اتفاقًا اوچتیږی.

د خبرې مؤثر جوړولو دا طریقه هیڅ کله نه ده چه دتقریر په دوران کښې خو مقرر د ډیر ګرم مزاجئ او اشتعال انګیزئ مظاهر اوکړی خوچه کله د ژوند نورو میدانونو ته لاړشی نوخلق هغه لره په لهولعب کښې مشغول مومی او په لوبو ټوقو باندې خپل ژوند تیروی، په دې سره د خبرې اثر ختمیږی. ضروری ده چه داعی دخپلې کړې شوې خبرې نمونه وی او د ذمه داریئ احساس په ده کښې د سخت نه سخت وی، د دې نه علاوه که د هغه د خندا او مزاق والا مزاج وی نو هغه به ګفتار غازی خو جوړیدې شی خو دکردارنه.

د داعی دپاره دا هم ډیر ضروری دی چه هغه د خپل ظاهرداریٔ لحاظ د عوامو د متوسط طبقې په شان کوی، جامې پاکې صفاستره وینځلې شوې وی او په ښه انداز کښې ئې اغوندی.داسې جامې نه اغوندی کومو لره چه عام طورباندې خلق نا خوښوی یادهغې نه د مغربیت بُوئې راځی.

## په آواز کښې اعتدال:

خپله خبره زر زر کولو کښې داسې هیڅ کله نه دی کول پکار چه مقرر خپله خبره د غلط او بیکاره څیزونو نه ډکه کړی او نه تکلف کولو سره د ربړپه شان خوره شی په دې سره دمخاطب ذهن پریشانه کیږی په دې وجه په تقریر کښې زیاته جلت بازی کول یا د حد نه زیات په مزه مزه وئیل غیر مناسب دی او اوریدونکې ددې نه قطعًا نه متاثره کیږی.

بعضې مقررین عجیبه لهجه اختیاروی څه وخته پورې خو هغه په مزه مزه او په معتدل انداز کښې تقریر کوی او بیا درجه په درجه آواز په مزه کوی اوبیا یوه چغه اووهی او دغه شان لهجه بدلولو سره خپل تقریر پوره کوی. او د بعضو معامله داوی چه په شروع کښې خو په ډیر پرسکون انداز کښې کوی بیا په کښې جوش او ګرمی راځی او څه وخت پس د هغه آواز شلیږی اومرئ ئې هم خرابه شی اوکله چه تقریر ختمولو نه پس لاندې راشی نو په خولې باندې تربتروی اودهغه دا عادت برابر وی.

تقریر همیشه په معتدل لهجه کښې کول پکاردی او د هغې دپاره د ښه تربیت ضرورت وی بیامخکښې تلوسره د تقریرکولو طرز پیدا کیږی۔

**د موادو تقسیم:**

د موادو د تقسیم مطلب دادې چه مقرر اوریدونکو لره په ښه شان سره د پوهولو دپاره تقریر لره په څو جزونو کښې تقسیم کړی (مثلا: دیوې مسئلې وضاحت کولوسره داسې اووائی چه ددې مسئلې درې بنیادونه دی یاداسې اووائی چه نن به مونږ څلور خبرې غرض کوو اوله خبره دا د چه ......) او دې تقسیم لره په نظر کښې ساتلو سره تقریر شروع کړی.

د دې طریقې خصوصیت دادې چه که مخاطب د خبرې پوره تفصیل نه شی یاد ساتلې نو دې بنیادی څیزونو باندې به ضرور پوهه شی او د خپل عقل موافق په دې کښې به دهریو وضاحت هم اوکړی. دارنګه خبرې په ذهنونو کښې به محفوظ شی اودضائع کیدو یره به هم پاتې نه شی ځکه چه څه خبرې لره څه دائره کښې د راګیرولو یاهغې لره په جزونو کښې په تقسیم کولو سره خبره باندې زر پوهیږی ددې نه خلاف که د اخودیځوا خبرې یوځاې کیدو سره بې ترتیبه څه خبره اوکړې شی د کومې چه څه سر اوخپې نه وی نودهغې اول او آخر ټول هیریږی.

**د تاریخ نه استدلال:**

خلقو ته تیر شوې واقعات یادول او هغوی د تاریخ ژور والی ته بوتللو سره څه فائده هم نه کیږی. تاریخ لره په دې غرض سره بیانول پکار دی دې دپاره چه مونږ د تیر شوو واقعاتو نه سبق واخلو او خپله اصلاح اوکړو، په دې وجه نه چه هغې لره د وعظ او تقریر موضوع جوړه کړو.

واضحه دي وی چه دهرې معاشرې او هرکلی اصلاح جدا جدا طریقې سره کیږی دا طریقه د وخت او ماحول په اختلاف سره بدلیږی رابدلیږی. په دې وجه تاریخی قصولره محض د قصې حیثیت سره بیانول او دا توقع ساتل چه په دې سره دمعاشرې اصلاح به اوشی غیرممکن ده.

د تاریخی قصو بیا نولو نه زیات دا کتل پکار دی چه په دې زمانه کښې ټپله زمونږ په مخکښې څومره داسې واقعات دی چه دهغې په پیش کولو سره د خلقو دپاره د عبرت اړخ راوتلې شی اودکومې په ذریعه سره چه  د مستقبل کرښې متعین کولې شی.که ددې صلاحیت په تاسو کښې شته نوته دیو مصلح وئیلو مستحق ئې.

**د نفسیاتی او منطقی علومو نه استفاده:**

په منطقی دلائلو سره استدلال کولو دپاره ضروری ده چه داعی د تقریر د هغه اندازونو نه واقف وی د کوم په ذریعه سره چه خپلو خیالاتو لره منظّم او مربوط کړی ځکه چه د دی انسانی علومو مطالعه د معلوماتو د پاره نوې نوې حصه فراهم کوی او نورو لره په خپلو ګنړلو کښې ممدومعاون ثابتیږی.

**(٤) دقرآن کریم بهترین تلاوت:**

د دې دپاره دي باید چه داعی نظر په قواعدو، لغت،تفسیر،تجوید او د ټولو نه زیات دقرآن کریم په روح باندې وی. هغه دجمله انشائیه او جمله خبریه په مینځ کښې تمیزکولې شی.چرته سوال کولې شی اوچرته دکومې خبرې تائیدکیږی په دې ټولو خبرو  باندې پوهیږی.

ډیرخلق داسې هم دی چه دقرآن کریم تلاوت خو کوی خو په هغې سره هغوی ته ذره برابر هم فائده نه کیږی بلکه ددې نه پس نورهم

پیچیدګی محسوس کوی.چرته وقف کول دی اوچرته یوځاې کول دی هغه په دې نه پوهیږی.

## د احادیثو په خپل محل کښې استعمال:

په دې سلسله کښې د اصطلاحات حدیث نه واقفیت او د غلط ملط روایاتو نه د صحیح احادیثو د انتخاب علم بې حده ضروری دې. دهغې یو شکل خوداکیدې شی چه حدیث لره په پوره سندسره نقل کړې شی څنګه چه په صحاح ستّه کښې کړې شوې دی یابیاصرف دصحابی رسول حواله نقل کړې شی مثلاً داسې اووئیلې شی چه په صحیح مسلم کښې د سیدنا انس رضی الله عنه نه روایت دې چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل :

"په دین کښې احادیثوته لوې اهمیت حاصل دې. دځه څیز دحلت و حرمت حکم هم ددې نه مستنبط کولې شی،په دې وجه د هغې د صحت پوره اهتمام کول پکاردی او موضوع روایاتو نه د صحیح روایاتو چانړ کولو پوره پوره اهتمام کول پکاردی."

بچپله د نبی کریم صلی الله علیه وسلم ارشاد مبارک دې:

مَنْ كَذَبَ عَلَيَّ مُتَعَمِّدًا فَلْيَتَبَوَّأْ مَقْعَدَهُ مِنَ النَّارِ۔ [ بخاری: کتاب العلم، مسلم: مقدمہ]

"چاچه قصدًا زمونږ طرف ته د دروغ خبرې نسبت اوکړو دهغه د اوسیدوځاې جهنم دې."

## مجلس لره قابوکول:

په دې سره زمونږ مراد دادې چه دمتکلم لب ولهجه او د تقریر انداز داسې وی چه عوام د ده تقریرپه پوره دلچسپئ او انهماک سره واوری. شور وهنګامه بالکل نه وی او حاضرینو لره دخاموش کولو دپاره د تلاوت قرآن مجید یاد جلسې صدریابل چاته حکم کول یارټلو بالکل

ضرورت باقي پاتې نه شي،مقرر لره داسې کيدل پکاردي چه ځانله د خپل شخصيت او د خپل تقرير په وجه پوره مجلس لره په خپل کنټرول کښې اخستل،د دې دپاره مقررلره کافي مشق او تقريري لب ولهجه پيدا کولو ضرورت دې.

## دآواز پورته کول او ښکته کول:

مقرر لره د موقعې مناسبت سره دخپل آواز خيال ساتل هم بې حده ضروري دي. ځکه چه د مخاطب ذهن لره د بيدارساتلو ياهغې لره په ستړې کولو کښې د آواز ښکته والي او اوچتوالي ته هم ډير دخل دې. په دې وجه ضروري ده چه آواز خو نه زيات په مزه وي چه نه اوريدلې کيږي او نه زيات اوچت وي آواز صرف دومره قدرې کيدل پکاردي چه اوريدونکي ئې په آسانئ سره واوري اوهغوی ته څه مشکلات نه وي. البته په دې کښې څه حرج نشته دې چه د تقرير په دروان کښې چرته چه دآواز اوچتولو ضرورت محسوسيږي هلته په آواز کښې ګرمي پيدا کړې اوچرته چه د نرمئ او لاندې کولو ضرورت وي هلته په نرم انداز کښې خبرې اترې اوکړې شي دې دپاره چه ددې په ذريعه سره هغه داوريدونکو مړ جذبات رابيدار کړي. د داسې لب ولهجې اختيارولو نه ځان اوساتئ چه د اوريدونکو ذهن لره پريشانه کړي.

## زيرئ:

مقرر له داسې خبرې د اوريدونکو په مخکښې کول پکاردي چه د هغې اوريدو سره د اوريدونکو مخ باندې خوشحالي ښکاره شي او اوريدونکي ورپوې ښه توقعات اوتړي. هغه ته دا هيرول نه دي پکار چه هغه دنذير سره بشير هم دې او خلقولره صرف يرول نه بلکه هغوی لره مطمئن کول هم دهغه کار دې،په دې وجه قرآن کريم په هرځاې

کښې د انذار و تبشیراو د وعدو او وعیدونو تذکره یوځاې کړې ده. نوالله تعالی نبي صلی الله علیه وسلم لره مخاطب کولو سره فرمائي :

اِنَّآ اَرْسَلْنٰكَ شَاهِدًا وَّمُبَشِّرًا وَّنَذِيْرًا وَّدَاعِيًا اِلَى اللّٰهِ بِاِذْنِهٖ وَسِرَاجًا مُّنِيْرًا۔

[ الاحزاب:۳۳/۲۶،۲۵]

"اې نبي صلی الله علیه وسلم! مونږتاسو لیږلې ئې ګواه جوړیدو سره، زیرې ورکوؤنکې او یرؤنکې جوړولو سره، دالله تعالی په اجازت سره د هغه طرفته دعوت ورکوؤنکې جوړولو سره، او روښانه ډیوه جوړولوسره."

ښکاره ده چه داخوبي صرف د نبي کریم صلی الله علیه وسلم سره مخصوص نه ده بلکه د قیامت پورې راتلونکې هرهغه سړې له په دې خوبئ سره متصف کیدل پکاردی چه د هغه مثال اختیارولوسره خلقوته د دین دعوت ورکړی.

اَلدُّعَاةُعُمَّالُ الدِّيْنِ "داعی ددین خادم دې( خدائی فوجی نه دې)."

**د معقولاتو دعلم نه استفاده:**

په ډیرو مسلمانانو کښې د عقلي او نقلي لارو په اختیارولو کښې سخت کشمکش موندلې شي. حالانکه د نورو دینونو په مقابله کښې زمونږ دین په دې لحاظ سره هم ممتاز دې چرته چه هغه د منقولاتو تابعداریځ لره لازم ګرځوی، هلته د معقولاتونه هم استفادې لره هم لازم ګرځوی، په دې وجه د یو مسلمان نه اول دایمان بالغیب مطالبه کولې شي او ایمان بالغیب مثلاً دالله تعالی موجود کیدل، قیامت، دوزخ، جنت دا ټول څیزونه دی چه دانسانی حواسو دګرفت نه بهردی. البته کومو څیزونو کښې چه اسلام متعین احکام نه دی ورکړې یاهغه څیزونه چه په انسانی ګرفت کښې راځی دهغې په ذریعه سره د کائنات

رازونه ښکاره کیږي،دې ټول څیزونو لره دانسان په عقل باندې پرېخودلې شو.ځکه که چرې داسې نه کیده نود انسانیت یوقدم هم د ترقۍ منزلونه نه شو وهلې.

د دې نه معلومه شوه چه یومسلمان نه خو ملحد کیدې شي چه د هر نامعلومه څیز نه انکار اوکړي او نه حیوان دې چه عقل او ذهن نه کارنه اخلي. دومره ضروري ده چه عقل لره معبود نه جوړوي،په دې سره هغه فیصلې کوي چه دده دشان سره وي. دعقل اصل کار د مخلوقاتو حقیقت معلومول دي نه چه دخالق حیثیت متعین کول.

د مخکښني بحث په رڼړا کښې دا خبره کهلاویدو سره مخې ته راغلې ده چه داعي ته دخلقو دظرف مطابق دهغوی سره خبره کول پکاردي اوداسې دلائل د هغوی په مخکښې بیانول پکار دي په کوم سره چه خلق مطمئن شي. هغه خبرې اترې چه خلقو لره مطمئن کړي دهغې مثال دهغه خوراک په شان دې چه زر هضمیږي او بدن ته فائده ورکوي.

د داعي اوخطیب دپاره ضروري ده چه خبره په دې انداز باندې دخلقو په مخکښې پیش کړي چه عام فهم وي او په دې کښې څه مشکل نه وي اوکه په څه داسې څیز کښې اختلاف کوي چه دهغې تعلق ټول د ذهن اوعقل سره دې نو په هغې لعنت وملامت مه کوئ.

## تلخیص:

په تلخیص سره زما مراد دې چه دې ټولو خبرو لره کوم لره چه مقرر وئیلې وي په آخر کښې په ډیر اختصارسره دهغې خلاصه بیان کړي. دا طریقه د اورویدونکو دپاره ډیر فائده منده،ځکه چه په دې سره هغه ټولې خبرې کومې چه هغه وئیلې دي یو ځل بیا د اوریدونکو غوږ ته رسول دي،په دې سره دهغه په علم کښې اضافه هم

کیږی او هیرشوې ځیزونه دوباره ذهن ته هم راځی. د یو تقریر خلاصه بیان کولو سره مقررله داسې وئیل پکاردی مونږستاسوپه مخکښ په فلانئ موضوع باندې تقریر اوکړو، په هغې کښ مونږ داخبرې کړې دې او دهغې نتیجه دا راوځی. په هغې کښ څلور نکات راوځی نمبر:۱، نمبر:۲، نمبر:۳، نمبر:٤ بیا د اوریدونکو شکریه ادا کولو سره خپل تقریر دې ختم کړی.

## د تقریر نه پس:

د تقریر ختم کولو نه پس چه اول کوم سوال پیداکیږی هغه دا دې چه کوم حده پورې د هغې نتائج په سامعین باندې مرتب کیږی.

د مصلحینو متعلق یو خبره ډیره مشهوره ده چه د هغوی په قول او فعل کښ تضاد وی او هغه کلمه چه د هغوی په مینځ د نقطه اتصال حیثیت لری په هغه کښې د دې نیشتوالې وی. همدا وجه ده چه د دعوت خاطر خواه اثرات په زړونو باندې نه مرتب کیږی. ګنی څه وجه ده چه مسلمانانو سره په زرګونو مسجدونه دی په کوم کښ چه هر هفته یا هره میاشت په سوؤنو سرو ته تبلیغ کولې شی او هغوی ته په مواعظ حسنه سره نمانځلې شی دا ټول د مقرر خبرو سره متفق کیږی هم، خو ډیر کم خلق داسې وی چه په دې باندې عمل کوی . داسې ولې؟؟؟ ددې دوه وجهې کیدې شی. یو خو دا چه د داعی په قول وفعل کښ تضاد وی. دویم داچه په مسلمانانو کښ د اتحاد او یووالی روح ختم شوې دې د دوی حیثیت د شګو د خورو ذرو نه سیوا څه هم نه دې پاتې شوې. په دوی کښ څوک هم د محتاجو مدد کوؤنکې او د مظلومانو دا درسی کوؤنکې نه ملاویږی.نه د تقریرنه مخکښ اونه دتقریرنه پس.

ظالم د تقرير نه مخکښې هم ظلم کوی او د تقرير نه پس هم څوک هم د هغه لاس نيولو والا نه وی. آيا د اسلامی سوسائټئ مزاج همداسې وی او د الله تعالی او د هغه د رسول صلی الله عليه وسلم مرضی همدا ده؟ داسې هيڅ کله نه ده. په دې حالاتو کښې امربالمعروف په ذريعې سره د دې بدو بنديز کولې شی چه کوم نن صبا زمونږ په معاشره باندې خور شوې دې د دې غلطو اصلاح کولې شی چه د نفس د بندګئ پيداوار دې.

معلوم شوه چه امر بالمعروف سره نهی عن المنکر هغه وسله ده چه د کوم په ذريعې مونږ د معاشرې نورو ګندګو لره ختم کولې شو دغه شان د امربالمعروف حيثيت د ډهال دې او د نهی عن المنکر په معاشره کښې د خورو شوو بيمارو علاج دې. په داسې ماحول کښې داعی چه کوم طرز عمل اختياروی په هغې کښې څو نمونې هم لاندينې ورکوو:

۱: کوم چه مجلس ته نه شی حاضريدې د هغوی خير خيريت معلومول هغوی ته تلل يا سلام ورته ليږل.

۲: د کار د خلقو نه تعارف حاصلول. د دې آسانه طريقه داده چه د دعوت په باره کښې د خلقو تاثرات معلوم کړې شی او بچپله هغه ته د مقرر نه د جواب حاصلولو موقعې او غوښتلې شی او کوم خلق چه په دې سلسله کښې پيش رفت اوکړی د هغې نه واقف شی او د ملاقات موقعې حاصلې کړی دغه شان د هغوی په مينځ کښې د روروليْ فضا پيدا شی.

۳: حسن سلوک..... مثلاً طلباؤ ته د کورس دخيزونو اخستلوکښې د هغوی مدد کول يا د هغوی نګهبانی کول. ديوې طبقې افرادو په مينځ

کښې ازدواجی رشته قائمول، د تحفو تحائفو تبادله، یو آقاته په خپل ماتحتو باندې د نرمې نصیحت، په تجارتی معاملاتو کښې صلحاؤ او اتقیاؤ ته ترجیح ورکول، دغه رنګه هرښه کار بقدرې امکان کول.

٤: د نزاعی معاملاتو تصفیه.....خپل مینځ کښې اختلافاتو لره حل کولو کښې څه کمیټۍ لره تشکیل کړې شی. دا کارد ډیر اهمیت حامل دې. په دې کښې اګر چه وخت او مال زیات خرچ کیږی خو د دوؤ نفرت کوؤنکو په مینځ کښې رورولی او محبت پیداکیږی.

٥: منصوبه بندی.....اکثر داسې کیږی چه د قبیلې والو خلقو په مینځ کښې رورولی خو کیږی خو د دوی په مینځ کښې داسې ربط او تعلق نه وی چه دې رشتې لره قائمه کړی. دغه شان په مزه مزه دا تعلق ختمیږی او په رشتو کښې کمزوری پیداکیږی خو چه کله واضحه منصوبه او سوچا سمجها پلان وی نو په دې کښې د هغوی د صلاحیتونو زیاتیدو ته یو فراخه میدان ملاویږی او دې تعلقاتو ته به رنړا ملاویږی دغه شان به د خلقو معاشرتی تعلقات خوش ګوار او د مسرت نه ډک شی. د مسجد، مدرسې، شفاخانو او ریلیف کمیټیانو قیام په دې ضمن کښې راځی. د دې څیزونو نه علاوه ټکپله انفرادی او شخصی حیثیت سره هم په دې کښې ډیرې فائدې پټې دی ځکه چه په دې سره د خلقو په خپل مینځ کښې تعلقات ښه کیږی او خپل مینځ کښې د تعاون جذبه پیداکیږی. دغه شان دیونه پس بله منصوبه جوړیږی چه دمخکښې نه زیات فائده مند وی.

**توسیعی لیکچرز:**

په دې کښې په څه متعین موضوع باندې د هغې سره متعلق معلومات په ترتیب سره جمع کولې شی. دا یو علمی څیز وی چه د جوش

او جذباتونه بالکل خالی وی. دې لره کله خو بخپله مضمون نګارو سامعینو ته لوستلو سره اوروليې شی او کله بل څوک دهغه په ځایې ئې لولی. او په آخر کښې سامعینو ته د سوال و جواب او بحث ومباحثې پوره آزادی وی. په دې کښې مقاله نګار موضوع باندې ليکلي شوې بنیادی مباحثو لره په ښه طریقه لولی، د دې نه د دعوت په سلسله کښې څو قسمه کار اخستلې کیږی. کله د څه پټ څیز وضاحت کولې شی. کله په حق باندې د کیدونکی اعتراضاتو دفاع کولې شی او کله د دې وهمونو او خرافاتو پرده لرې کولې شی چه په حق باندې خوریږی. مختصر دا چه په دې کښې دهغه ټولو څیزونو لحاظ کولې شی چه دهغې پوره تفصیل د تقریرونو په ضمن کښې شوې دې.

د پاسنو خصوصیاتو نه علاوه په لیکچرو کښې څه نورې خو بیانې هم کیدل پکاردی چه دادی:

۱: حواله جات صحیح وی. ځکه چه په لیکچر کښې د تحقیق او تنقید عنصر غالب وی او د هغې اکثر حصې دوه ټوکه وی، په دې وجه مقاله نګارلره پکاردی چه د کوم څیزونو هغه حواله ورکوی هغه ته په دې باندې مکمل اعتماد وی.

۲: سپکې غوندې جملې وی. ښه مقاله دګرانو الفاظو او د درنو جملو نه پاکه وی، د تصنع نه ډک الفاظ او د اوږدو جملو استعمال په مقاله کښې د څه خوبئ پیدا کولو په ځایې په هغې کښې عیب پیدا کوی.

۳: د متعین نکاتو پابندی کول پکار دی. د دې په مرتب کولو کښې مقاله نګار ته د سخت محنت او دماغ خورئ نه کار اخستل وی، ځکه چه په دې کښې دبې تکلفئ څه موقع نه وی، د دې نه خلاف

چاڼ کولو سره د داسې الفاظو او جملو استعمالول وی چه د مدعا په اظهار کښې بالکل واضح وی.

٤: قرآن مجید، احادیث نبوی او د بزرګانو اقوال صحیح صحیح اولیکلې شی.

٥: د اصل موضوع سره تړلې وی. د مقالې ټول جزونو کښې یو مقصدی ربط کیدل پکاردی ځکه چه داعی د داسې موضاعاتو انتخاب هیڅ کله نه کوی چه صرف د تفریح په طور باندې وی چه خلقو لره په ټپولو ټپولو سره اوده کړی. د مقالې مقصد یا خو د حق مدافعت وی یا د اسلافو دمیراث حفاظت وی یا معروف اوخیر طرفته رهنمائی وی.

٦: د مقاله نګار دپاره ضروری ده چه هغه حلیم، فراخه زړه والا، خود اعتماده او د لوې ظرف خاوند وی، په خپل مقاله باندې د اوچتیدونکو اعتراضاتو په ډیر تحمل سره جواب ورکولې شی.

**بحث ومباحثه:**

خبرې اترى کله په مرتب انداز کښې وی او کله په غیر مرتب انداز کښې یعنی کله بغیر د څه سابق تیارئ نه مونږ چاسره خبرې اترې کوو څنګه په عام طور باندې په انفرادی او شخصی ملاقاتونو کښې وی اوکله کله د مفکرینو لاندې عناوینو باندې تیاری کولو سره خبرې اترې کوی.

د خبرو اترو په هر دې دوه حالتونو کښې مونږ داعی ته لاندینی نصیحتونه کوو:

١: د موضوع ښه تیاری اوکړئ او هغه ټولو دلائلو لره په ښه شان سره په ذهن کښې کینوئ په کوم سره چه مونږ خپله خبره په ښه شان

سره پوهول کولې شو. په داسې خبرو اترو کښې دا مناسب نه دی چه کله هم موقع ملاؤ شی نو اودریدو سره تقریر شروع کړې. خصوصًا په نزاعی موضوعاتو باندې اظهار خیال نه کول هم بهتروی.ځکه چه زمونږ کارپه مثبت انداز کښې د دعوت اشاعت دې او د نور مناظره باز مقررینو په شان اختلافاتو ته هوا ورکول نه دی.

۲: د سوالونو په جوابونو ورکولو کښې احتیاط اوساتئ..... ځکه چه داعی د عوامو یو فرد وی په دې وجه د ژوند په منډه کښې هغه لره د هغوی سره ملګرتیا هم کول وی. نور دا چه هغه به د دې خبرې هم خیال ساتی. چه چرته هغه د دنیاوی لذتونو نه متاثره کیدو سره څه غلطی خو اونکړی. د غلطیانو نه دبچ کیدلو مناسب طریقه داده چه دسوالونو جوابونه ورکولو سره صرف دنفس سوال نه تعرض اوکړې، بغیر د څه وجې نه د تفصیلاتو نه ځان اوساتې. د دې فائده دا وی چه د څه څیز په باره کښې د حکم لګولو نه مخکښې د دې دباریکئ او ژوروالی سره د مطالعې او مشاهدې کولو عادت ګرځی او په دې د سامعینو په زړونو کښې د داعی احترام کیږی.

د دې نه علاوه په کوم څیز کښې چه داعی ته کامل مهارت نه وی د هغې دحل کولو بیړې دې داعی نه اوچتوی که د دې جواب ورکول ضروری وی نو صرف د هغې بنیادی اړخونو طرفته اشاره کول پکار دی او ورسره د دې وضاحت هم ضرور اوکړی چه هغه د مسئلې د نوعیت د تفصیلاتو نه واقف نه دې.

۳: صلاحیت اوهوښیارتیا.....د داعی دپاره دجذباتو تابع جوړیدو سره دچا مقرر سره بحث ومباحثه او مجادله او مناظره باندې ټینګیدل هم ډیر خطرناک دی، هسې خو صفاوینا ډیر ښه څیزدې خو ددې هم

یوه موقع وی. د کوم چه لحاظ کول هم ضروری دی ځکه چه په عوامی مجلسونو کښې د صفا وینا لړه زیاته مظاهره کول ښه نه معلومیږی هسې هم د چا خبره کټ کول نه دی پکار دې دپاره چه هغه خپله خبره ختمه کړی نو بیا ته خپله خبره اوکړه.

د مخاطب خبره ښه په غور او توجه سره اوریدل پکار دی، که په هغې کښې د فائدې څه اړخ وی نوچه هغه حاصل کړې شې. اکثر داسې لیدلې شوې دی کله مونږ خبره شروع کوو نو د مخاطب په معلوماتو کښې اضافه نه کوی. دخپلې خبرې سره سره د مخاطب هم خبره واورئ دې دپاره چه خپله په ښه شان سره پیش کړې شې.

خیال ساتل پکاردی چه د چا سره خبرې اترې کولو سره خپل علم او جذباتو لره په کنټرول کښې اوساتلې شی ځکه چه خبرې اترې کول یو قسم جنګ دې په کوم کښې چه هر فریق د خپلې کامیابۍ خواهش مند وی په دې وجه کله هم دځه بحث موقعه ملاؤ شی نو د مجلس په دې شان نه دې پاسیدل پکار چه په کوم سره دا محسوسه شی چه ستاسو دواړو په مینځ کښې د نفرت او دشمنې دیوال حائل شوې دې.

٤: احترام او حسن سلوک.....په داسې موقعو باندې تاسو ته د مخاطب په وړاندې د اوچتو اخلاقو او د نرم زړه والا یوه نمونه پیش کول پکاردی. د دې طریقه دا ده چه تاسو هغه لره په ښه نوم سره مخاطب کړئ. د هغه د معیارلحاظ ساتلو سره د هغه سره خبرې اترې اوکړې او احساس ورته ورکړئ چه هغه سره ملاویدو باندې تاسو ته ډیره زیاته خوشحالی اوشوه. اختلاف رائې لره خپل مینځ د مودت او خلوص د خرابیدو ذریعه نه دی جوړول پکار.څنګه چه مونږ مخکښې

ددې تذکره کړې ده بيا دا هم خيال اوساتلې شی چه څه اختلافات داسې دی په کوم کښې چه د محبت اثر هم موجود وی او ډيرې دشمنئ صرف د خپل ذات دپاره وی.

۵: نتيجې ته رسيدل.....په بحث کښې د ټولو نه اول خواهش ستاسو دا کيدل پکار دی چه تاسو د بحث پيش کولو کوشش اوکړئ. کچرې تاسو اووينئ چه بحث په صحيح رخ باندې روان دې نوصحيح ده ګنی ستا فرض دی چه د پوره هوښيار توب نه کارواخلې بحث لره داسې طرف ته يوسی چه د مخاطب په مخکښې د هغې خلاصه او نتيجه ېچپله راشی په بې فائدې اولا حاصله بحثونو کښې وخت ضائع کول مناسب نه دی. عقل مند هغه خلق وی چه د بحث نتيجې ته زر ترزره د رسيدو کوشش کوی. او د بحث په دوران کښې دخامخا خبرو لره په کوم سره چه د جهګړې پيدا کيدو يره وی هغې ته لار نه ورکوی. په دې سلسله کښې تاسو ته يوه واقعه اوروم:

مونږ ته په دمشق کښې منعقدشوې يوکانفرنس کښې دشرکت موقعه ملاؤ شوه. چرته چه د قراردادو په تفصيلاتو باندې بحث کولو سره کافی وخت ضائع شو. کله چه خبره ډيره اوږده شوه نو يوممبر په خپله په يو کاغذ باندې دقراردادو نکات اوليکل او په کانفرنس کښې ئې د ټولو شريک حضراتو نه په دې نکاتو باندې رائې واخسته. خلقو زرتر زره د خپلو رائو اظهار اوکړو او د معمولی تغير سره ټولو په دې باندې د ستخط اوکړو. دغه شان په خپل مينځ کښې په اتفاق رائې سره هغه قرارداد منظور شو او که اتفاق سره داسې نه کيدو نو د ماسخوتن مونځ او د ماښام خوراک ټول ضائع کيدل.

## په خبرو اترو کښې څو نمونې:

لاندې مونږ د داسې خبرو اترو څو نمونې نقل کوو کوم سره چه د اکثر داعیانو مخامخ کیدل راځی. یو مستشرق دیو اسلامی تنظیم دڅو افرادو سره ملاقات اوکړو اسلام خوښونکی ځوانان د ده نه په ښه شان سره واقف وو چه د مشترقینو سره خفیه تعلقات وی او د دوی ډیرې سرګرمۍ وی. د مستشرق او یو اسلام پسند ځوان لاندینې خبرې اترې اوشوې.

مستشرق : تاسو خلق د دې تنظیم دپاره دځان قربانولو پورې محنت کوئ.

ځوان: دجناب دحُسن ظن شکریه .

مستشرق : خوستاسو آمدن خو ډیرکم محدود معلومیږی.

ځوان: څه اوکړو د تنظیمی دستور په حدکښې اوسیدو سره مونږ ته خپل کارکول دی.

مستشرق : آیا تاسو دپاره به دا فائده مند نه وی چه تاسو خپل ذرائع او وسائلو لره وسیع کړئ دې دپاره چه ستاسو سرګرمو دپاره وسیع میدان ملاؤ شی.

ځوان: داهم کیدې شی چه بغیردمال د اضافې نه زمونږ د سرګرمو دپاره میدان ملاؤ شی.

مستشرق : تاسوخلق خو صوفیان ممعلومیږئ.

ځوان: مونږصرف مسلمانانو یو،هسې خو مونږ خپل څادروینو نو خپې خورَوو په دې وجه دچا محتاجی نه پاتې کیږی او د مغربی تهذیب پرورده همیشه دخپل حیثیت نه زیات خواهش مند وی په دې وجه هغه همیشه محتاج وی.

**دویمه خبره اتره** : نورې خبرې اترې دیوداعی او ذمه دار افسر دی.

ستاسودادعوت هسې خو ډیر ښه دې،خو په خپل جماعت کښې صرف داسې خلقو لره شامل کړئ چه د څه امتیازی حیثیت حامل وی.

داعی : مثلاً کوم افراد .

افسر: لکه د ښارمعززین،دحکومت افسران او دقوم مالدار

داعی : ضروری نه ده چه دا خلق دڅه قابل امتیاز حیثیت حامل هم وی ځکه چه داخلق دی کومو ته چه اکثر شکوه وی. دویمه خبره داده چه مونږ هغوی ته دعوت هم ورکړې دې خو هغوی قبول نه کړو.

افسر: بیاخو تاسوله پکاردی چه ددې لاندې طبقې خلقو نه لاس واخلې دچاپه ذریعه چه ستاسو خپل وقار مجروح کیږی.

(مسکې کیدوسره) جناب زمونږ دتنظیم مثال دڅه کارخانې دهغه حصې دې. چرته چه د څیزونو اصلاح کیږی یا هغه کسوټئ دې په کوم کښې چه د کهرا کهوټه تلل کیږی اوکوم ته چه ته ذلیل وائې هم هغه ددې کارخانې اصل جوهر دې که مونږ دوی اوباسو نودا تنظیم به خپل بنیاد ورک کړی.

**دریمه خبره اتره:**

یوته اووئیلې شو چه ستا دا دعوت هغه وخت پورې دکامیابۍ مخ نه شی لیدلې ترڅو پورې چه داسې شفاخانه کهلاؤ نه کړې چرته چه بیمارعوام خپل علاج کوی داعی جواب ورکړو فرض کړه که پوره قوم په بدنی طورباندې صحت مند او تندرست شی نودهغوی نورمسائل به هم حل شی؟ هغه اووئیل نه،دتعلیم نشرواشاعت هم ضروری دې، داعی جواب ورکړو فرض کړه که ټول خلق تعلیم یافته شی لکه د

سوئزرلینډ خلق دی نو آیاپه دې سره دهغوی مشکلات به حل شی. هغه اووئیل اکثرخو به حل شی دباقی دپاره به داسې کمیټۍ جوړې شی چه خلق یوبل باندې داحسان کولو او زکوة ادا کولو تعلیم ورکړی. داعی جواب ورکړو آیاستاخیال دې که په خلقو کښې تعلیم عام شی خلق مالدارشی په بدنی لحاظ سره کافی صحت مندشی نوآیا هغوی به دخپل دشمن دغلبې نه خلاصې اوموی.

هغه اووئیل جی ها! ماته ددې پوره یقین دې، داعی جواب ورکړو زما د دې پسمانده او بې لارې شوې قوم د ترقۍ او ددوی په مړ بدن کښې د روح اچولو صرف هم یوه طریقه ده. هغه طریقه دکوم تعلیم چه انبیاؤ او رسولانو ورکړې دې دا ټول درې څیزونه دی.

۱۔ خلقوته دین رسوَل،په صحیح شکل کښې هغوی ته اسلامی تعلیمات رسوَل.

۲۔ په خلقوکښې دهغې دپاره اخلاص پیدا کول اودهغې مطابق د هغوی تربیت کول.

۳۔ دهغې د دوباره حاصلولو دپاره دهغوی سره تعاون کول.

همدا هغه اهم عناصر دی کومو لره چه اختیارولو سره مونږ د الله د نصرت مستحق کیدې شو، او په د شمنانو باندې غلبه حاصلولې شو.

**څلورمه خبره اتره:**

دوه ځوانان د کوم تعلق چه د دوؤ مخالفو پارټو سره وو په خپل مینځ کښې په جهګړا شو یو په بل باندې الزام لګولو سره اووئیل چه ستاسو د پارټۍ صدر په فلانې طریقې سره لس زره ډالره غبن کړې دی. دویم اووئیل څه حرج دې؟ ستاسو دپارټۍ لیډر خو شل زره غبن کړې

دی . اولنی اووئیل دا سراسر دروغ او بهتان دې. آیاته دې لره ثابتولې شې دویم اووئیل ستاخبره هم دروغ اوبهتان دې. آیاته به دې لره ثابت کړې شې؟ دغه شان دا بحث ختم شو.

په دې کښې څه شک نشته چه دا د ذکر کولو قابل خبرې نه دی په بنیادونو کښې اختلاف ضرور دې خو د خبرو اترو دا ټیکنیک هم د فائدې نه خالی نه دې. داعی لره همیشه وار زغمل نه بلکه وارکول هم پکار دی. دا چه خلق الزام تراشی برابر کوی او مونږ صرف انکار کوو. آخر کله پورې به انکار کوو. کله کله پخپله حمله کول هم بهترین دفاع وی.

**پنځمه خبره اتره :**

یو صاحب د اسلامی تنظیم د څو افرادو نه سوال اوکړو چه په پوهه کښې نه راځی چه تاسوخلق واعظان ئې؟ تاجران ئې؟ فوجیان ئې؟ سیاسی قائدین ئې؟آخرڅه ئې؟

داعی جواب ورکړو په دې کښې د تعجب څه خبره ده تاسو خو هم زمیندارئې، دین پسندئې، سیاست دان ئې، تاجرئې، او پته نشته څه څه به ئې. هغه اووئیل زما د وئیلو مطلب دادې چه تاسو ته څه یوه طریقه اختیارول پکار وو کوم باندې چه عوام پوهه شی. داعی جواب ورکړو. روره مونږ خو صرف یوه طریقه اختیارکړې ده. هم هغه طریقه کومه چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم اختیارکړې وه. هغه پخپله هم په یو وخت کښې د اوچتې پائیې هادی او رهنما وو، د سیاست ماهر هم وو اود اخلاقو معلم هم ددې نه مخکښې هغه یو تاجر او ګډو چیلو څرولو والا(شپونکې) هم وو. هسې خو خبره ستاټهیک ده خو زړه ئې نه منی. داعی اووئیل : زما روره په زړه کښې د نه کیناستو څو پورې چه

خبره ده چه ته د یو داسې فکر نه متاثره ئې چه یو غیر اسلامی دې، ستاسوپه ذهن کښې دا خبره اچولې شوې ده چه دین او سیاست دوه جدا جدا څیزونه دی حالانکه که سیاست دعملی ژوندنوم دې نو پوهه کښې نه راځی که دا دټولو خلقو دپاره جائز وی نو صرف ددین پسندو دپاره ناجائز ولې دې.

**شپږمه خبره اتره:**

یو داعی خپل یو رشته دارې زنانه ته لاړو، هغه زنانه ورته دخپل خاوند متعلق شکایت اوکړو او ورته ئې اوئیل چه هغه غواړی چه زه د هغه د دوستانو په محفل کښې شریک شم اوخپل سراو دواړه متې ښکاره ساتم، هغه ئې دخاوند نه ددې متعلق تپوس اوکړو. خاوندئې اووئیل: څنګه نور خلق کوی هغسې زه هم کول غواړم په دې کښې دناراض کیدو څه خبره ده.داعی دهغه نه تپوس اوکړو دا راته اوښایئ چه د خلقو خبره منل پکار دی یاچه کومه خبره حق ده هغه منل پکار دی. خاوند ئې ورته جواب ورکړو کومه چه په عام طور باندې خلق اختیاروی هم هغه حق وی. داعی ورته اووئیل ښه دا راته اووایه چه خلق غلاګانې کوی ته به هم غلا کوې نو د خپل دې دلیل استعمالولو سره به ته د سزا نه بچ شې. په دې باندې هغه خاوند په خندا شو او وې وئیل چه تاپه خپلو خبروکښې دقَالَ الله او قَالَ الرَّسُوْلُ ﷺ حواله رانکړه څنګه چه عام واعظان کوی. داعی ورته اووئیل چه ددې موقعه به په بل ملاقات کښې ان شاء الله راځی.

**اوومه خبره اتره:**

یو ځل په یو مجلس کښې یو ځوان د یو داعی نه لاندینې سوال اوکړو. اُستاذ ته به راته د دې وئیلو زحمت اوکړې چه تاسو خپلې ګیرې

غټولو ته ولې پرېږدئ. داعی د جواب ورکولو په ځاې په خپله سوال اوکړو، او تا دا خرئيلې ولې ده.؟

ځوان : زه د خپلې مرضۍ مالک يم.

داعی : زه هم د چا پابند نه يم.

ځوان : بيا هم ګيره غټولو سره سړې څه بدصورته غوندې ښکارى.

داعی : هيڅ کله نه بد صورتی خو ددې په خرئيلو کښ ده ما خو دا د غټولو دپاره پرېښې ده چه څه د اعتراض قابل خبره نه ده. البته ستانه د دې د صفا کولو په بابت کښ ضرورځه تپوس کول غواړم.

ځوان : د بدن ټول ويښته د غټولو دپاره نه شی پرېښودلې څه داسې ضروری وی چه د هغې کټ کول ضروری دی.

داعی : مثلا .

ځوان : صرف د سر ويښته داسې دی چه هغه دغټولو دپاره پرېښودلې شی باقی صفا کولې شی.

داعی : نو ټهيک ده زه هم د اغواړم چه زما مخ زما د سر په شان وی. په دې باندې ټول حاضرين په خندا شو او هغه ځوان شرمنده کيدو سره واپس شو.-

## باب: ۹

# دعوت د کتابونو نه

### تصنیف وتالیف:

په دنیا کښې د کتابونو کمې نشته په هر کور کښې بلکه په یو وړوکی غوندې مکتب کښې هم د کتابونو لائبریری موجوده وی .دچهاپه خانې حیرانکوؤنکی ایجاد، د کاغذ صنعت دارنګه دچهاپ کولو سهولت او د کمپیوټر ایجاد دې فن ته نوره هم ترقی ورکړې ده. هغه دور ختم شو کله چه به په موم باندې لیکل کیدل یا د کاغذ جوړیدل به په محدود پیمانه باندې وو. دا یو ترقی یافته دور دې، نن روزانه په زرګونو او لکهونو تعداد کښې کتابونه د پریس نه راوځی. د کتابونو په انبار کښې فحش لټریچرې او د جنسیاتی رسالو نمبر بغیر د اختلاف نه مخکښې دې. د دې نه پس د روزنامو هفت روزو او ماهنامو نمبر دې. د دې نه پس د افسانو کهانو دارنګه د جاسوسی کتابونو نمبر راځی او د ټولو نه په آخری مرحله کښې دینی کتابونه دی.

په هر هغه ماده پرست او سیکولر معاشره کښې د کتابونو همدا منطقی ترتیب دې. د کوم چه دین سره څه واسطه نه وی...... بغیر د څه شبهې نه د جدید دور دا فکر غذا د لویو او وړو دپاره یوشان ضرر رسونکې ده.

موجوده صورت حال ته کتلو سره دوه څیزونه د داعیانِ دین دپاره ډیر زیات اهم دی:

۱- موجوده وسائل او ذرائعو لره په بهتر طریقې سره استعمالول دکوم په ذریعه سره چه مونږ د شخصیت تعمیر اوکړو او د نوې نسل په بهترطریقه تربیت اوکړو.

۲ـ دکتابونوپه دې بازارکښ چه ظاهرى کومې خاميانې دى دهغې اصلاح اوکړو.

**د تاليف کتب دوه اړخونه :**

۱ـ د ضخيم او مفيد کتابونو تلخيص کول. په هغه بابونو کښ تقسيمولو سره په بهترانداز کښ ترتيب ورکولو سره دوباره د هغې چهاپ کول دى دې دپاره چه په بې ساخته دهغې لوستلو لره زړه اوغواړى.

۲ـ داسې کتابونه مرتب کول چه په هغې کښ صحت منداو مفيد معلوماتو لره د دې جديد دور په لحاظ سره مرتب کړې شوې دى چه په علمى اعتبارسره ډير ترقى يافته دى خو دتهذيب او روحانيت په اعتبارسره ډير روستو دى.

**د موجوده مذهبى کتابونو خاميانې:**

د کتابونو په دنيا کښ نن صبا داسې بې شماره کتابونه موندلې شى چه دهغې موضوع مذهبى او دينى ده، خوچه کله مونږ په دې باندې نظر اچوو نو ډير کم کتابونه په نظر راځى چه دلاندينو خاميانو نه پاک وى

**تکرار:**

چونکه دکتابونو په مينځ کښ څه ربط نه وى په دې وجه دسړى په زړه کښ چه څه راځى نو ليکى ئې.

**د علمى معيارپستى:**

د تصنيف دفن نه نا واقفيت او دعدم مطالعه فقدان(يعنى د کمپيوټر ايجاد داسې مصنيفين هم پيدا کړل چه دتصنيف دفن نه بالکل لاعلمه دى او دهغوى مطالعه هم وسيع نه وى. بس چه په کومه

موضوع باندې ئې په زړه کښې راغلل په پنسل ئې اوليکل او کمپيوټر کښې ئې واچول او بله ورځ ئې دهغې پرنټ حاصل کړو مصنف جوړ شو. داسې دکمپيوټر ايجاد هسې دنوم ډېرمصنفين پيدا کړل.

## د چهپائې خاميانې:

مثلاً دا چه حروف وران شوې وی د غلطيانو کثرت وی او د ترتيب نيشتوالې وی.

## ناقص موضوعات:

د مطلوبه بحث کمی مثلاً د دين د ژوند سره ربط يا د باطلو افکارو نظرياتوعلمی مطالعه وغيره.

د تصنيف وتاليف دې عظيمې ذمه دارې سنبهالولو دپاره هغه خلقوته چه د اسلامی دعوت د احياء اونفاذدپاره انفرادی يااجتماعی طور باندې محنت کوی زما مشوره داده چه هغوی په لويه پيمانه باندې يوتحقيقی وتصنيفی بورډ تشکيل کړی چه د هغوی کارداسلامی کتابونو اشاعت وی او بغير د څه معاوضې نه د هغې اشتهار وی په شرط ددې چه دمقامی خلقو په دې باندې څه تسلط نه وی او څه حرج نشته چه ددې دپاره متعين فيس هم ورکړې شی چه هغه ددې کميټۍ احترام کوی او په خپل کتابونو باندې ددې کميټۍ نوم ورکړی دې دپاره چه هغه دزياتو نه زيات د عوامو اعتمادحاصل کړی.دارنګه ددې کميټۍ به داهم ذمه داری وی چه کوم مسودات دشائع کولو دپاره هغوی ته راشی هغه په ښه طريقه اوګوری او بيا ليږونکی ته خپله رائې ياتبصره هم اوليږی. په دې کښې هغه داقسم خبرې اوليکی:

- په دې موضوع باندې فلانی فلانی کتابونه شائع شوې دی. او د فلانی کتاب شائع کول ددې دشائع کولو نه بهتر دی.

- یاداچه کتاب د خپلې موضوع په لحاظ سره نوې دې، داشاعت مستحق دې مناسب به وی کچرې تاسو په دې موضوع باندې داشان په دې طرزباندې اظهارخیال اوفرمائې.
- یا دا چه په دې کښې لاندینی ابوابو اضافه ضروری ده او د دې نه پس دراتلونکو تفصیلاتو تذکره اوکړې یا دا چه فلانی ابواب ترې حذف کول پکاردی او د هغې فهرست ورکړې.
- یا دا اووائې چه د هغې سائز وړوکې وی، یا دومره لوې کړې شی وغیره.

په دې سره توقع ده چه د کتابونو خامیانې کومې چه اکثر زمونږ په مشاهده کښې راځی هغه لرې شی او قابل د اعتماد لیکلو والو یو جماعت به پیدا شی. او کله کله خو په دې سره نورې هم فائدې حاصلې شی. او دا هم ممکنه ده چه کله به د ناکامئ سره مخ کیدل راځی، خو په دې سره همت نه دی بائیلل پکارځکه چه هم مسلسل عمل د کامیابو ضامن دې.

**داعی او تصنیف وتالیف:**

په دې کښې شک نشته چه په دینی موضوعاتو باندې مشتمل د تحریکی او دعوتی کتابونو چه کومه خلاء ده د هغې پوره کول څه آسان کار نه دې. میدان وسیع او کهلاؤ دې او ضرورت صرف د صبر او احتیاط دې.

د دې خلاء پوره کولو دپاره ضروری ده چه مونږ په دین کښې ژور بصیرت حاصل کړو او په څه موضوع باندې لیکلو سره ددې خبرې کوشش اوکړو چه مونږ په دې کښې داسې مواد جمع کړو کوم لره چه د دې نه مخکښې چانه وی جمع کړې. کتاب لره بازار ته د راوړلو نه

مخکښ دا هم ضروری ده چه په دې مسئله باندې مونږ دخپلو علماؤ او محققینو نقطه نظر لره هم اوپیژنو دې دپاره چه زمونږ او زمونږ دې کتاب لره نکته چین حضرات او ارباب اقتدار دطرف نه دتنقید او اعتراضاتو هدف جوړ نه شی. ددې خیال ساتل پکاردی چه مونږ د تصنیف اوتالیف داسې مواد جمع کړو چه ددعوتی ذمه دارو د ادا کولو په سلسله کښ معاون ثابت وی، ددې سره سره عام فهم وی،دمعلوماتو نه ډک وی او دفهم او تدبر صلاحیت هم پیدا کولې شی.

څه څیز لیکلو سره د پاسنو څیزونو خصوصی خیال ساتل پکار دی او کچرې یوکس د تصنیف او تالیف په کارونو کښ مهارت نه لری یا هغه ته فرصت نه ملاویږی نوهغه له پکاردی چه کومه خبره نوې یا دا سکیم په ذهن کښ وی هغه دې بل کس ته اووائی چه دکوم مقالاتو یا کتابونو نه رهنمائی ملاویدې شی دهغې دې هم نشاندهی اوکړی یا د کومو څیزونو نه چه احتراظ کول پکار دی دهغې دې هم وضاحت اوکړی...... ان شاء الله د دې نیت به ورته کامل ثواب ملاویږی.

غرض دا چه داعی حضراتو ته پکاردی چه هغوی د اسلام، عقائد صحیحو، توحید وسنت او مختلف دینی موضوعاتو باندې د مستند کتابونو په ذریعې سره د دعوت کار جاری اوساتی. خپل متعلقینو باندې د کتابونو مطالعې کوی او د هغې دپاره دې یو ترتیب وضع کړی.

## صحافت:

د صحافت د فن په اهمیت کښ په عالمی پیمانه باندې ورځ په ورځ اضافه کیږی خصوصًا هغه ملکونه چرته چه د فکر او عمل پوره آزادی ده هغوی په دې میدان کښ د ټولو نه مخکښ دی. د هغې د

اهمیت اندازه د دې نه لګولې شی چه که یو ادیب ته د صحافت پرېښودو په بدله کښې منصب د وزرات ورکولې شی نو هغه به ورته لته ورکړی خو یو وزیر داسې نه شی کولې. د دې وجه داده چه یو کامیاب صحافی پوره قوم بلکه کله کله د نورو قومونو هم قیادت کوی او یو وزیرصرف خپل حدودو کښې کار کولې شی.

کامیاب داعی هغه ته نه وائی د چا په بدن چه جبه او په سر باندې اوچته پګړئ وی او په مسجد کښې ولاړ وی خلقو ته وائی چه مونځ فرض دې. کامیاب داعی هغه ته هم نه وائی چه په منبرولاړ وی د مستضعفینو په مخکښې د دین د سختو احکامو وضاحت اوکړی او د هغوی د اوښکو خراج حاصل کړی، په دې سره دهغه کمزوری نوره هم زیاتیږی. د کامیاب داعی وئیلو والا هغه سړې مستحق جوړیدې شی چه د عقل سیلم نه کار واخلی دخلقو په مخکښې ددین د استطاعت تبلیغ اوکړی دارنګه په هغوی کښې اعلی سیرت اوکردار پیدا کړی. خو دا څنګه ممکن کیدې شی هر کله چه نن په منبر و محراب باندې اکثر داسې خلق قابض دی دچاچه نه خو علم سره څه مطلب وی نه عمل سره. د دین په داعیانو باندې فرض دی چه د دنیا ګوټ ګوټ کښې خواره شی او داسې جوړشی چه په خلقو کښې دننه دهغوی په خپله ځاې پیدا شی دې دپاره چه هغه خلقو کښې خپله خبره په ښه شان سره خوره کړی.

## صحافتی مقالې:

دلته دفن مقالې په تفصیلاتو باندې د رڼرا اچولو دپاره ګنجائش نشته دې، د موضوع ژوروالی سره مطالعه اوکافی مشق وممارست دارنګه د دې فن ماهرینو په نګرانئ کښې د ښه مقالې په شرائطو کښې دی. دا

رنګه د مقاله نګار لره په خپله مقاله کښې داسې رخ اختیارول پکار دی چه هغې لره د نورو مقالو نه ممتاز کړی. په مقاله کښې د لیکلې شوؤ څیزونو لحاظ کولو سره هم امتیاز پیدا کیږی:

**د ادب فروشول نه ممتازوی:**

کوم چه تلاش کوی چه په بازار کښې د کوم څیز چلن او رجحان عام دې کوم څیز د خلقو دپاره عجیب وغریب کیدې شی، په تجارتی نقطه نظرسره کوم څیز کښې فائده ده. هغه دڅه دینی مصلحت، اصلاحی نقطه نظر او اخلاقی بر تری قطعًا لحاظ نه کوی.

**د پیشه وارانه اورجامد واعظانو نه پرهیز:**

د وعظ اجزاء دې خپل مینځ کښې تړلې وی، د ژوند په څه متعین موضوع باندې دې خبرې شوې وی.دخلقو په احساساتو او خیالاتو کښې دترقی ورکولو کوشش دې کړې شوې وی اوپه دې سلسله کښې د هغوی دجذباتو هم لحاظ وی.

د عام طریقو نه جدا یعنی دا چه د عقل ونقل په دلائلو سره مزین وی. داسې نه وی چه صرف معقولات یا منقولاتو نه استدلال کړې شوې وی. ځکه چه زمونږ دین د عقل هم احترام کوی په شرط د دې چه هغې لره اله جوړ نکړې شی او منقولات هم اخلی په شرط ددې چه چه دهغې په اختیارولو کښې د کمال د رجې بصیرت نه کار اخستې شوې وی.

**دموضوع انتخاب:**

داعی ته د داسې موضوعاتو انتخاب کول پکار دی په کوم کښې چه د قارئینو د ضرورتونو لحاظ کړې شوې وی. د ژوند په مسائلو سره بحث کړې شوې وی، په عوامو کښې دخورۀ شوو بدعاتو او

خرافاتو اصلاح کړې شوې وی. په عبارتونو کښې ربط وی طرز ئې زړه راخکوؤنکې وی په لهجه کښې راغوښتل وی او د خلقو نه دداسې څیز مطالبه نه وې کړې شوې چه د هغې تکمیل د خلقو دپاره سخت وی.

په یو مقاله کښې لاندینی خصوصیات موجود وی نو داسې مقاله به په قارئینو باندې اثر اچوی او خلق به ستا د دعوت نه متاثروی.

د صحافت په میدان کښې راتلل څه مشکل کار نه دې. تردې چه رسائل او جرائد چه د هغې په باره کښې عام خیال دا وی چه دا غیرمعیاری دی، د هغې سره هم کار کولې شی،ځکه چه عیب په دې رسالو کښې نه وی بلکه په هغه خلقو کښې وی کوم چه په دې کښې کار کوی. صحافت خو یو آله ده. دې ته وسائل او ذرائع پکار دی. که ستا مقاله د صحت مند قدرونو حامل ده، موضوع مناسب ده او مواد بهتر دی نو د دې داشاعت ګنړې موقعې ملاویدې شی اویو کار به د بل کار دپاره ضامن جوړیږی. د ټیلی ویژن او لوې لوې آلاتو د نشرواشاعت د هغې په مخکښې هیڅ به هم نه وی ځکه چه د بهترین څیزونو پیش کولو والایقینًابه کامیاب وی.

دا هم یاد ساتل پکاردی چه داسې نه وی چه د یو ځل ناکامی د دویم ځل د کوشش کولو نه منع کوی. کوشش برابر کول پکاردی هر کله چه عزم صادق وی نو د منزل نشانات به راوچتیږی.

**تنقید**:

دلته د تنقید نه زمونږ مراد ادبی تنقید نه دې. د دې اهمیت هم په خپل ځاې باندې مسلم دې. ځکه چه دا د اوچت پایې علمی څیز وی او د یو داعی سره په داسې قسم څیزونو کښې د لګیدو وخت نه وی.

دلته په تنقید نګاری سره زمونږ مقصود د هغه کتابونو جواب ورکول دی په کوم کښ چه اسلامی قدرونو لره غلط ډهنګ سره پیش کړې شوې وی. خواه د دې تعلق د عقائد وعباداتو سره وی یا احوال او معاملاتو سره وی. د هرمسلمان دپاره چه کوم نهی عن المنکر لره خپل د ژوند فریضه ګڼړی ضروری ده چه هغه د دې جاهلانو او د حق نه منحرف خلقو جوابات اولیکی اوچرته چه هم داسې قسمه څیز ملاویږی فورًا قلم کاغذ راویستل او هغې جواب لیکل او دا څیزونه هغه رسالو کښ د چهاپ کولو دپاره لیږل د کوم نه چه توقع وی چه هغوی به داسې مضامینو لره چهاپ کړی. که داسې قسم رسالې کمې وی نوپه خپله رساله کښ ئې چهاپ کړه په دې کښ څه حرج نشته چه خواه د خپل نوم وضاحت اوکړې یا نه کوی، اهمیت صرف د دې څیز چه غلطی کوؤنکو په مخکښ د هغه غلطی واضح شی دې دپاره چه ته د الله تعالی په مخکښ د جواب ورکولو نه بچ شې،ګنی مقلب القلوب خو صرف الله تعالی دې.

بالکل د خاموش کیدو دویم نوم مرګ دې،په دې وجه په هغه خلقو اعتماد کول چه په دین کښ ژور بصیرت لری په دې کښ څه حرج نشته بالکل خاموش کیدو سره کیناستل دا د یو مسلمان دشان سره مناسب نه دی.

که تاسو په خپل ځان کښ دجواب لیکلو قدرت نه لرې نو نور دفن علماؤ او خاص خاص خلقو ته درخواست اوکړئ چه هغوی ددې جواب اولیکی که چرې تاسو داسې اوکړل نو ګویا ته قابل معافی به شی.

د یو مسلمان یو منکر لره لیدو سره خاموش کیدل د اسلام دشمنانو دپاره لاره کهلاوهی چه د هغې صفا مطلب دا دې چه هغوی

به د اسلام عمارت لره نړوی او د دې به څه پرواه نه وی،حالانکه زمونږ په موجودګئ کښ داسې نه شی کیدلې چه د اسلام عمارت لره اونړوی او مونږ ورته ګورو.

**رسائل او خطونه:**

رساله کله خو په یو متعین موضوع باندې یوه کتابچه وی او کله یو بل کس ته خطاب کولو سره څه لیکی دې ته خط وائی. بهر حال دا یو بهترین فن دې ددې اهمیت خو دومره قدرې دې چه دا د مفاداتو په حصول کښ،د مرګ په وخت،دغلامئ نه آزادئ دپاره او په ډیرو اهمو معاملو کښ د دې نه مدد اخستلې کیږی.

په اولنو صدو کښ د دې فن خاص اهمیت وو، تر دې چه کامیاب رسالو لیکلو والا ته د وزرات منصب هم ملاؤ شوې دې. د لږ شان کوشش او مشق نه پس مونږ ورېږ لوې رسالې په بهترین انداز کښ مرتب کولې شو. دغه رنګه د نورو خلقو د خطونو جواب هم ډیرښه طریقې سره ورکولې شو. ځکه چه د خطونو جواب نه ورکول مناسب نه دی. امام شافعی رحمه الله فرمائی:

"ستاسو خپل رورته خط لیکل ګویا د هغه سره ملاقات کول دی نو په دې سره ملاقات لره خوش ګوار جوړ کړئ."

چاته خط لیکلو سره د لاندینو څیزونو لحاظ کول پکاردی:

- د صحت او صفایئ اهتمام او په قدر د ضرورت کاغذ استعمالول ځکه چه دا څیزونه د ذوق په پاکوالی باندې دلالت کوی.
- د لیږلو والا نوم او پوره پته سره د تاریخ پوره وضاحت سره درج کول پکاردی د موضوع ترتیب بهتر کیدل پکار دی، په دې کښ څه قسمه ابهام او پچیدګی نه دی کیدل پکار، ځکه چه دارنګه تحریرونو

باندې پوهیدلو دپاره کافی محنت او کوشش کول وی، په دې وجه براه کرم قاری لره د دې زحمت نه معاف کړئ.

- لفافه په کافی اهتمام سره ډاک ته حواله کول دمرسل او مرسل الیه پوره پته صفا لیکل. که دچا دخط جواب ورکوې نو ددې څیزونو هم لحاظ کول پکاردی.
- د خط د ملاوید اطلاع په تاریخ سره.. که په جواب ورکولو کښې تاخیر اوشی نو د هغې معذرت کول پکاردی.
- د خط رالیږونکی د هر سوال جواب اولیکئ بلکه مناسب خو دا ده چه د کوم سوال جواب ورکوې د هغې حواله هم ورکړئ.
- د خپلې غلطئ اعتراف کولو کښې جهجهک مه محسوسوئ. د غلطی اصلاح کوؤنکو خلقو افرادو شکریه ادا کړئ.

د بعضې علماؤ خطونه مونږ کتلې دی هغه چه کله چاته خط لیکی نو کافی اهتمام کوی اوکله چه هغه خط لیکی نو د هغوی د اهتمام دا حال وی ګویا چه هغه د څه کتاب تصنیف کوی. په دې علماؤ کښې د مصر یو جلیل القدر عالم دارنګه دشام شیخ محمدالحامدخو زه په ښه شان سره پیژنم. د هغوی د خطونو خو ډیرځل د کتلو موقع ملاؤ شوې ده یو خط مونږ ته هم داسې نه دې ملاؤ شوې چه دشریعت د احکامو تفهیم دارنګه دخلقو په مینځ کښې د مروجه غلطیانو اصلاح نه خالی وی. هغه د خلقو په ذهن کښې د پیدا شوؤ سوالونو جوابونه ورکول بیاخه قصه یانکته به ئې په دې انداز سره بیانوله چه په هغې سره به د خط د اهمیت اعتراف کیدلو. بیا په آخر کښې به ئې د الله تعالی تقوی اختیارولو تلقین کولو سره خط ختمولو. دغه شان د خطونو څو نمونې لاندې نقل کولې شی:

د حسن ابن وهبؒ،ابن اسحاقؒ د ځوی په مرګ باندې تعزیت کولو سره په خپل خط کښې لیکی:

"امیر محترم پخپله د دین او شریعت نه ښه واقف ئې په دې وجه د نصیحت ضرورت نشته او په دنیاوی معاملاتو کښې د ټولو نه مخکښې دې ځکه چه تاسو د دې دپاره پیدا شوې ئې. الله تعالی دې په دنیا وآخرت کښې ستا او ستا د ځوی حامی او مدد ګار وی." والسلام

همدا عالم دین د خپل یوحق غوښتلوسره لیکی :

"ما د تقاضې د زحمتونو نه معاف کړه ځکه چه زه ستانه بار بار تقاضه کول نه غواړم او د هغې په ادا کولو کښې جلتی اوکړئ، ځکه چه څوک بل به ستاسو نه پس دې حق لره پوره نه کړی په کوم سره چه به ستاتلافی اوکړې شی."

يحيې ابن خالد دقید خانې نه هارون رشیدته لیکی:

"امیرالمؤمنین که زما ګناه پټه ده نودهغې سزا مه عام کوه ځکه چه دالله تعالی فرمان دې چه هیڅ یو کس به د بل بوج نه اوچتوی."

مالک ابن المنذرخپل ځامنو ته وصیت کوی:

"زما بچو! ما د ژوند ۱۶۰سپرلی لیدلې دی،خپل ژوند کښې ما چرته خیانت ګر سره لاس نه دې ملاؤ کړې، د یو بدکارې نه بدکارې ښځې هم زما په مخکښې د سرنه لوپټه نه ده اوچته کړې، ما د خپل راز نه خپل څوک دوست هم نه دې خبر کړې، زه د شعیب علیه السلام د دین تابعدار یم، زما او د اسد ابن خزیمه نه علاوه نور څوک هم ددې متبع نشته. زما وصیت یاد اوساتئ! دعزت مرګ د ذلت د ژوند نه بهتر دې."

داعی لره د متروک الفاظو سهاره نه دې اخستل پکار د خپلې مدعا واضح کولو دپاره دې هغه خواږه او آسان الفاظ انتخاب کړی.

## علمي او تحقيقي رسالې:

د علومو وفنونو په نشرو اشاعت کښې د داسې رسائلو يو ممتاز مقام دې. د دعوتي کار دپاره دا رسائل ډير کامياب ثابت شو، په دې کښې ډير فوائد دی. خبرې لره مختصر خو د وقار نه ډکې طريقې سره پيش شی. د دې سره په دې کښې د اوږدو بحثونو نتيجې، د تجربو نچوړ او نور ډير په کار راتلونکی څيزونه هم پيش کولې شی. ډير داسې داعيان دی چه هغوی ته د تحريکی کارونو نه دومره وخت هم نه ملاويږی چه څه علمی کار اوکړی خو هغوی په خپل مختصر وختونو کښې هم څه وخت راويستو سره دا شان رسالې ليکی.

هر کله چه شيخ الاسلام احمدبن تيميه رحمه الله قيدکړې شو په دې باندې هغوی ته کاغذ او قلم هم بند کړې شو نو هغوی د کوئلې په ټکړو سره ليکل شروع کړل، چه د هغې پته د هغوی د وفات نه پس د هغوی په ترکه کښې ملاؤ شوه. په دې سره معلوميږی چه يومثالی داعی په هرحال کښې د دعوت په کارکښې مشغول اوسی او خپله هره هره لمحه د دعوت وتبليغ دپاره وقف کوی. دقرآن کريم په دې آيت باندې نظر اوساتئ.

يَاأَيُّهَا الرَّسُولُ بَلِّغْ مَا أُنْزِلَ إِلَيْكَ مِنْ رَّبِّكَ [مائده:٦٧/٢٧]

"اې پيغمبرصلی الله عليه وسلم! کوم څه چه ستاسو د رب دطرف نه په تاسو نازل کړې شوې دی هغه خلقو ته اورسوئ."

## ټيپ ريکارډنګ:

په موجوده دور کښې څه داسې نادرالوجود څيزونه په وجود کښې راغلل چه په هغې سره د دعوت دين په سلسله کښې کافی مدد اخستلې کيدې شی. د مختلفو پروګرامونو کيسټې د دنيا په بې شماره لائبريرو

کتب خانو او تعليمي ادارو کښې مونډلې شي،چه په هغې سره معذور، نابينا او سترې ستومانه دارنګه مصروف افراد هم استفاده کوی.

دجديد دور ايجادات، دټيپ سهولت او د نسخو اضافه کولو کښې کافی معاون ثابتيږی. دا خبره دحد درجې آسانه شوه چه قرآن کريم د بهتر تلاوت سره د ټيپ په کيسټو کښې محفوظ کړې شو هغې لره چه چرته غواړې په آسانئ سره ليږلې شې.

په يوه کتب خانه کښې مونږ يو ملازم اوليدلو چه هغه دهر ملک نه راتلونکی ميلمه نه دهغه دملک په حالاتو باندې کيدونکې خبرواترو لره ريکارډ کولې ځکه چه اخبارات او رسائل او نور ډير وسائل د نشر و اشاعت او خبر رسا ايجنسيانې نا کافی ثابت کيږی.

يو داعی د ټيپ ريکارډ نه دومره فائده ضرور حاصلولې شی چه هغه د خپلو بچو دپاره د قرآن کريم څه سورتونه ټيپ کړی او بعضې تقريرونه او مذاکرو لره ټيپ کړی هغې لره نور ځايونو ته اوليږی دې دپاره چه نورخلق هم د دې نه فائده واخلی. ډير خلق قيتمی نصيحتونو، تجاويزو او سيمنارو لره ټيپ کوی او د مواقع مطابق هغه اوری او دا څيزونه ډير عام شوې دی.

مونږ په دې مختصر غوندې بحث کښې د ټيپ ريکارډ فائدو طرفته څه اشارې اوکړې اوس په قارئينو باندې ده چه هغوی ئې په کوم فائده مند کارونو کښې غواړی استعمال کړی. د کتابونو په شان داعی حضرات د کيسټو او سی ډيانو په ذريعه هم خپل دعوت لره عام کولې شی. ددې نه غفلت نه دی کول پکار.

## باب: ۱۰

# دعوت.....په کردار سره

### د داعي کردار:

صوفی کی طریقت میں صرف مستی احوال
ملا کی شریعت میں صرف مستی گفتار
وہ مرد مجاہد تو نظر آتا نہیں مجھ کو
ہو جس کے رگ وپے میں فقط مستی کردار

[اقبال]

د داعیانِ دین تاریخ مطالعه کولو والا ښه پوهیږی چه هغوی د عوامو په مینځ کښې د خپلو اخلاقو وعاداتو او مضبوط کردار په وجه سره مثالی وی. د عوامو سترګې د دین د داعیانو په کردار باندې لګیدلې وی. دکردار ژبه د ټولو نه زیاته مؤثره وی.

بقول شاعر د ـــه

تقریر سے ممکن ہے نہ تحریر سے ممکن
جو کام کہ انسان کا کردار کرے ہے

په کومه معاشره کښې هم نیک عناصر خال خال وی په دې وجه کله چه هم عوام مثالی شخصیت اووینی نو بې اختیاره د هغه طرف ته ورځی او هغه سره د تعلق پیدا کولو خواهش مند وی.

د عوامو جذبات خارجی اثراتو لره قبلولو کښې بالکل د اوبو په شان وی چه د یخنۍ او ګرمۍ قبلولو صلاحیت لری. دغه شان داجذبات ډیر په مزه مزه سره متحرک کیږی. شاید دا د تاریخ دهغه واقعاتو تفسیر

دي د کومو سره چه انبياء کرام عليهم السلام او ټول مصلحين په مختلف زمانو کښې په مخامخ کيدل.

کله چه خلقو ته حق پيش کړې شو نو ابتداءً هغوی مخ واړولو، د هغوی تکذيب ئې اوکړو، د هغوی نه ئې انکار اوکړو، تردې چه مصلحينو ډير تکليفونه او د مشقتونه اوچت کړل. ربنتياوئيلي دی الله تعالى :

**اَفَكُلَّمَا جَآءَكُمْ رَسُوْلٌ بِمَا لَا تَهْوٰۤى اَنْفُسُكُمُ اسْتَكْبَرْتُمْ فَفَرِيْقًا كَذَّبْتُمْ وَفَرِيْقًا تَقْتُلُوْنَ۔** [البقرہ:۲/۸۷]

”بياداستاسو عادت دې چه کله هم يو رسول ستاسو دخواهشاتو خلاف څه څيز تاسو ته راوړې نوتاسو د هغې په مقابله کښې سرکشی اوکړه، د چامو تکذيب اوکړو، اوچالره مو قتل کړو.“

خو د وخت تيريدو سره سره د هغوی خيالات هم بدل شو او د هغه انبياء او مصلحينو د وفات نه پس هغوی ته د خپلو غلطو احساس اوشو. بيا هغوی په هوش راغلل او په مخکښنو غلطيانو باندې ستومانه شو. د دې نه پس ئې هغه مصلحينو ته خراج عقيدت پيش کول اوغوښتل. په دې وجه هغوی مختلف طريقې خپلې کړې او په غلو کښې مبتلا شول او آخر دا چه هغوی ته ئې د الوهيت (خدايئ) درجه ورکړه. دغه شان د يوې نوې غلطې ښکار شول.

زمونږ د وئيلو مطلب دادې چه د کردار د پاکوالی نه زيات څه بل څيز دومره قدرې متاثر کيدونکی نه شی کيدې. د ګفتارغازی کيدل هم يو بهترين فن دې خو دې فن لره څومره چه نيک خلق استعمالولې ی دغسې دورغژن، مکار او مداری خلق هم کوی. دغه شان د نيک او بد په دې ميدان کښې څه تخصيص نشته دې.

الله تعالی دمنافقینو په باره کښ فرمائی :

وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يُّعْجِبُكَ قَوْلُهٗ فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَيُشْهِدُ اللّٰهَ عَلٰى مَا فِيْ قَلْبِهٖ وَهُوَ اَلَدُّ الْخِصَامِ۔ [بقره: ۲/۲۰۴]

"په انسانانو کښ څوک خو داسې شته چه د هغوی خبرې د دنیاپه ژوند کښ تاسوته ډیرې ښې معلومیږی او په نیک نیتئ باندې باربار الله تعالی لره ګواه کوی خو په حقیقیت کښ هغوی د حق بدترین دشمنان وی."

په دې وجه په یو داعی باندې د ټولو نه اول ذمه داری دخپلې ذات اصلاح ده . د تهذیب او طرز جوهر نه مخکښ پخپله مالا مال وی. که هغه خپله اصلاح اوکړه نو توقع کیدې شی چه هغه د نورو اصلاح اوکړې شی.

د یوې مودې پورې د دعوت کار کوؤنکو سره پاتې کیدو سره ماچه کوم څه زده کړې دی په هغې کښ دا هم دی چه"د نورو په ځاې دټولونه اول خپله اصلاح کول پکاردی"او په دې باب کښ به مونږ د دې نکتې تفصیل پیش کولو کوشش کوو.

سړې د امتیازی صفتونو حامل جوړیدو سره د ممتازه خلقو په فهرست کښ راځی او یو سړی ته نیک هغه وخت وئیلې شی هر کله چه په هغه کښ د ښه والی اړخ ښکاره وی او یو سړی ته بد هغه وخت وئیلې شي هرکله چه په هغه کښ د بدئ اړخ ښکاره وی.داعی په صحیح معنوکښ هغه سړی ته وئیلې شی چه دالله تعالی دې ذمه دارئ لره خپل سیرت او کردار او دعاداتو اطوارو بلکه دخپلو ټولو صلاحیتونو په ذریعه سرته اورسوی. الله تعالی فرمائی :

ثُمَّ اَوْرَثْنَا الْكِتٰبَ الَّذِيْنَ اصْطَفَيْنَا مِنْ عِبَادِنَا ۔[فاطر ۳۵/۳۲]

"بیامونږ ددې کتاب وارثان جوړکړل هغه خلقو لره چالره چه مونږ (د وراثت دپاره) په خپل بندګانو کښې چانړ کړل."

داعی هغه سړی ته وئیلې شی چه د دې درونډ بار ذمه دارئ لره دسنبهالولو دپاره خصوصی تیاری اوکړی.څنګه چه انبیاء علیهم السلام دې لره سرته اورسولو. ځکه چه دا ډیره عظیمه ذمه داری ده. خو د ذمه دارئ دا احساس هغه سړی لره چه د حق نه واقف وی، هغه لره د دعوت وتبلیغ نه نه شی منع کولې. دلته مونږ دداسې خلقو سره مخاطب یو دعوت حق چه دچا د ژوند مقصد او نصب العین وی. لاندې مونږ دهغه صفتونو وضاحت کوو په کومو سره چه متصف کیدل دیو حق د داعی دپاره ضروری دی.

**پاکیزګی اورقربانی:**

د یو داعی دپاره د خلقو د مال و دولت طرف ته نظر نه دی اوچتول پکار دې دپاره چه هغه دخلقو په نظرکښې باعزت او اوچت پاتې شی او د کوم څیز چه هغه خلقوته دعوت ورکوی بغیر دځه یرې نه اوکړې. په چاباندې د ده احسان نه وی په کوم سره چه دهغه لاس منع شی او ژبه بنده شی غرض داچه داعی لره دومره حده پورې دتقوی او پاکې صفات په خپل مینځ کښې پیدا کول پکاردی څومره حده پورې چه ممکن وی.

داعی له د ذاتی اختلافاتو نه ځان لرې ساتل پکار دی. هغه لره په غیرت مند او عامو مفادو باندې خپل ذاتی مفادو لره قربانول پکاردی. صرف دا نه بلکه هرمسلمان رور لره دې په خپل ځان او خپل خاندان باندې ترجیح ورکړی، نبی کریم صلی اللّٰه علیه وسلم د قربانئ بهترین عملی نمونه وه.

سیدنا ابو سعیدخدری رضی الله عنه نه روایت دې چه د انصارو څه خلقو د نبی علیه السلام نه څه اوغوښتل نبی علیه السلام هغوی ته څه ورکړل. بیا ئې اوغوښتل بیائې ورکړل دغه شان ئې کول تردې چه ټول مال ختم شو نو نبی علیه السلام اوفرمائیل:

"زمونږ سره چه څومره مال دې مونږ هغه ستاسو نه پټولو سره نه جمع کوو. چه څوک دحرص نه محفوظ شو الله تعالی به هغه ته نور هم ورکړی.اوڅوک چه د بې نیازۍ طالب وی الله تعالی به هغه بې نیازه کړی اوڅوک چه صبر کوؤنکې جوړیدل غواړی الله تعالی به هغه لره د صبر په نعمت سره مالا مال کړی. "بیائې اوفرمائیل : "او د صبرنه زیات نعمت بل نشته دې چاته چه ورکړې شی." [بخاری:کتاب الزکاة]

## د زړه فراخی او اعلیٰ ظرف:

د زړه فراخی هغه صفت دې چه داعی لره ممتاز کوی. نو هغه پوهیږی چه د هر انسان نه خطاء کیدې شی او الله تعالی دخپلو بندګانو توبه قبلوی، په دې وجه دا ښنګه مناسب دی چه بندیګان په خپل مینځ کښې په غلطیانو باندې معذرت قبول نه کړی.(معذرت هم توبه ده) بیا د یو مصلح کار دا دې چه د خلقو په مینځ کښې د مینې محبت تخم اوکری دې دپاره چه خپل مینځ کښې اتحاد بر قرار پاتې شی او د مومنانو په صفونو کښې مضبوطی پیدا شی. بیا د دې خلقو په سلسله کښې د دې صفت اظهار ولی نه لازم کیږی چه د معاشرې نیک خلق دی.

د اختلاف بنیاد همیشه یاخو د څه غلط فهمۍ یا د خپل ذات په سلسله کښې د تنګ نظرۍ په وجه وی په دې وجه اختلافاتو لره د ختمولو طریقه د یو داعی په نزد همیشه همداسې پاتې شوې ده چه د

خلقو په سلسله کښې د زړه فراخۍ، د نورو په غلطو باندې سترګو پټولو صفت پیدا شي.

د داعي په عظیم مقصد باندې نظر اچولو سره ضروري دی چه هغه خپل ځان کښې د وړو وړو غلطو نه سترګې پټولو صفت پیدا کړي چه د یوې قافلې د مسافرو نه کیږي. الله تعالی خپل نبیؐ لره مخاطب کولو سره فرمائي:

وَدَعْ اَذَاهُمْ وَتَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ وَكَفٰى بِاللّٰهِ وَكِيْلاً ۔ [احزاب: ۳۳/۴۸]

"اوځه پرواه مه کوه د هغوی د تکلیف رسولو اوبهروسه کوه په الله باندې. او الله هم د هغه دپاره کافی دې چه سړې خپل معاملات هغه ته اوسپاري."

او عام مسلمانانو لره مخاطب کولو سره فرمائي :

وَاذْكُرُوْا نِعْمَتَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ اِذْ كُنْتُمْ اَعْدَآءً فَاَلَّفَ بَيْنَ قُلُوْبِكُمْ فَاَصْبَحْتُمْ بِنِعْمَتِهٖٓ اِخْوَانًا۔

[آل عمران: ۳/۱۰۳]

"د الله هغه احسان لره یاد کړئ چه هغه په تاسو باندې کړې دې، تاسو د یو بل دشمنان وئ. هغه ستاسو زړونو لره یوځاې کړل، د هغه په فضل وکرم سره تاسو رونړه رونړه شوئ."

ځوک عقل مند سړې څه لوې او فائده ورکوؤنکې څیز لره هغه وخته پورې نه ختموی چه په دې کښې څه خرابي راغلې ده بلکه د ټولو نه مخکښې هغه د دې خرابو د اصلاح کوشش کوی دې دپاره چه دا غټ څیز بیکاره نه شي. دغه رنګه بهترین او نیک عناصر په دې معاشره کښې ډیر کم وی په دې وجه که د هغوی نه غلطیانې اوشي نو د یوې لویې فائدې په امید کښې په هغې باندې سترګې پټول پکار دی.

په قرآن مجيد کښې دي:

فَاعْفُ عَنْهُمْ وَاسْتَغْفِرْ لَهُمْ وَشَاوِرْهُمْ فِي الْأَمْرِ [آل عمران: ۱۵۹/۳]

"د هغوی قصور معاف کړه، د هغوی په حق کښې د مغفرت دعا اوکړه او د دين په کار کښې هغوی لره هم په مشوره کښې شريک کړه."

د دعوت اسلامی دا خصوصيت دې چه اتحاد لره خوښوی او افتراق او انتشار لره نه خوښوی د محبت تخم کری او د بغض بيخ کنی کوی. لږ قربانوی او ډير حاصلوی. څوک چه په دې څيزونو باندې پوهه شی هغې ته عملی جامه واچوی په صحيح معنو کښې هغه په صراط مستقيم دې.

## قربانی او د هغې ګنړ شکلونه:

داعی يو داسې قائد وی چه خلقو لره د ځان او مال په قربانی کولو باندې تيار وی دې دپاره چه هغه د معاشرې مطلوبه مساواتو لره برقرار اوساتی او هغه لره فقروغنی، قوت وضعف او د علم وجهل د افراط و تفريط نه بچ کړی، په دې وجه ضروری ده چه په قربانی ورکولو کښې هم هغه د خلقو دپاره نمونه ثابت شی.

* د وخت قربانی ځکه چه وخت ژوند دې.
* دمال قربانی،خواه کم وی يازيات دې دپاره چه د ضرورت مندو ضرورت پوره کړې شی او د فقر لارې بندې کړې شی.
* د تکليف ورکوؤنکی څيزونو برداشت کولو قربانی. د الله تعالی فرمان دې:

وَلَتَسْمَعُنَّ مِنَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ مِنْ قَبْلِكُمْ وَمِنَ الَّذِينَ أَشْرَكُوا أَذًى كَثِيرًا وَإِنْ تَصْبِرُوا وَتَتَّقُوا فَإِنَّ ذَٰلِكَ مِنْ عَزْمِ الْأُمُورِ [آل عمران: ۱۸۶/۳]

"د اهل کتابو او مشرکانو نه به ډير تکليف ورکوؤنکې خبرې

واورې کچرې په دې حالاتو کښې ته صبر اوکړې او د الله نه یریږې نو دا د لوې حوصلې کار دې."

دا خبره معلومه ده چه دې مصیبتونو لره د نه زغملو په وجه سره ډیر خلق د حق طرف ته راتلو نه ځان ساتی.

* د متوقع فائدې قربانی،ځکه چه دهغه معامله الله تعالی سره ده چه دنفع اونقصان مالک دې اودبندګانو زړونه د هغه په لاس کښې دی.په دې وجه داعی له د څه داسې څیز حرص نه دی کول پکار کوم چه فانی دی. هغه له دخپلو ټولو تعلقاتو مرکز الله او صرف الله جوړول پکاردی.

آخری قربانی دا ده چه هغه همیشه د شهادت په شوق مست وی. او د الله تعالی نه توقع ساتی چه هغه ده لره د شهادت مرګ ورکړی، د الله په مخکښې په زاریٔ سره دعا اوکړی چه اې الله! مونږ ته د شهیدانو درجه راکړه..... او کله چه دهغه دا خواهش پوره شی نو دا څیزونه به پخپله د هغه درجې اوچتې کړی او د نورو دپاره به د لارې نشان ثابت شی.

**د نیکانو سره تعلق:**

د یو داعی ممتاز ترین صفت دا دې چه هغه په خپل دعوتی میدان کښې د سفر د ملګرو خوښونکې وی. د هغوی سره همیشه ښه تعلقات ساتی، د هغوی سره ملاقاتو نه کوی او د هغوی د احوالو نه واقفیت حاصلوی. ځکه چه داخپل مینځ کښې روابط په خپل عمومی شکل کښې، پخپله د انسانی فطرت آواز دې. الله تعالی فرمائی :

وَجَعَلْنَاكُمْ شُعُوبًا وَّقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوْا۔ [الحجرات: ۴۹/۱۳]

"او مونږ ستاسو قومونه او رورولۍ جوړې کړې دې دپاره چه تاسو یوبل اوپیژنئ."

په دې وجه د یو بل سره تعلقات او خپل مینځ کښې د تعاون کولو جذبه خصوصًا د دعوت کار کوؤنکو دپاره ډیره ضروري ده.

تصور اوکړئ چه په یو ښار کښې شل عالمان د دین اوسیږي خو د هغوی په خپل مینځ تعلقات ټهیک نه وی نه کله ملاویږی نه یو بل سره تعاون کوی سوچ اوکړئ د هغوی اوسیدل یانه اوسیدل د ښاروالو دپاره څه فائده مند کیدې شی. د دې نه خلاف هغوی د عوامو د طرف نه د سخت تنقیداتو هدف جوړیږی ځکه چه د هغوی په قول او فعل کښې تضاد دې هغوی د خلقو د اختلافاتو خو ډیر وجهې کیدې شی خو اولیاء الله هغه وی چه په اوریدونکو خبرو باندې غوږ نه ګروی او دجاهلانو په شان دشیطان جال ته نه ننوځی،په زړه کښې د چا خلاف کینه نه ساتی، خپلو رونړو سره خواه څنګه وی په څه لویه یاوړه خبره باندې تعلق نه پریږدی.

ماته یوه واقعه یادیږی چه زه د شیخ محب الدین الخطیب رحمه الله په مجلس کښې ناست وم، په خبرو خبرو کښې د هندوستان د یو جید عالم مولانا سیدسیلمان ندوی رحمه الله ذکر راغلو. زه چونکه د مولانا نه متعارف نه ووم په دې وجه ما اووئیل چه ''چه شاید تاسو د مولانا ابولحسن علی ندوی رحمه الله ذکر کوئ؟''هغوی ماته په تعجب سره اووئیل: تاسو خو د دعوت کار کوئ خو د دومره عظیم داعی نه ناخبره ئې. لاړشئ او دټولو نه مخکښې دهغه خلقو تعارف حاصل کړئ. چه تاسو سره دعمل په میدان کښې سرګرم سفردې بیا د دعوت د نشرواشاعت کار اوکړئ.''

د دې واقعې نن پنځویشت کاله کیږی. خو نن زمونږ په کلی کښې څلورمشائخ موجود دی، زه خو کله کله د الله تعالی نه شرم کولو

سره د هغوی سره د ملاقات دپاره ځم خو نن دوه کاله کیږی چه په هغوی کښ یو هم ماسره د ملاویدو دپاره نه دې راغلې.

اې د دعوت د لارې مسافرو! ذاتی اختلافات پریږدئ ځکه چه دا ټول د دنیا غلاظتونه دی:

وَلٰكِنْ كُوْنُوْا رَبَّانِيّٖنَ بِمَا كُنْتُمْ تُعَلِّمُوْنَ الْكِتَابَ وَبِمَا كُنْتُمْ تَدْرُسُوْنَ۔

[آل عمران: ۷۹/۳]

"بلکه رښتونی د الله عبادت ګزار بندګان جوړشئ څنګه چه د دې کتاب د تعلیم تقاضا ده اوڅنګه چه تاسو لولئ او نورو ته ئې ښایئ."

## د دینی تربیت فن:

ددې دوه طریقې دی: (۱) تعلیم (۲) تربیت

(۱)**تعلیم:** یعنی نورو لره په علم سره روښانه کول.

(۲)**تربیت:** یعنی عقل، جذبات او نور انسانی طاقتونو لره درجه په درجه په یوه نکته باندې مرتکز کول. داعی خپل دعوتی کار لره ددې حدودو نه بهر نه اداکوی یا خو به هغه معلم وی یا به مربي!! او کله چه دا واضحه شوه چه دین او دنیا دواړه جدا جدا څیزونه نه دی او د دینی رازونو ګروه کشائی او د دې نه کماحقه استفاده د دنیاوی علومونه بغیر نه شی کیدې نو د دینی علومو سره سره د دنیاوی علومو اهتمام او التزام هم لازم دې دې دپاره چه دخالق او مخلوق په مینځ کښ ربط پیداشی.

دین د حرکت او عمل نوم دې. په دې وجه د دې مطالعه طلباؤ باندې په دې حیثیت کول پکار دی چه په هغوی کښ د دین روح بیدار شی او په هغوی کښ د دې خبرې صحیح شعور پیدا شی چه په دنیاوی معاملاتو کښ کوم اختیار کړی اوکوم پریخودلې شی او د الله

او رسول محبت د دوی په زړونو کښې کينولې شی. د دې نه خلاف مونږ نن وينو چه طالب علم امتحانات خو په اول نمبر پاس کوی، خو په هغوی کښې دننه د دين، علماؤ او د ټولو ديندارو حضراتو نه نفرت موجود وی. دا يو عظميم جرم دې او يقينًا د دې ذمه دار استاذان دی، ځکه چه که هغوی په طلباؤ کښې د دينی جذباتو پيدا کولو کښې په صحيح معنو کښې خواهش مند وې نو دا ناقابل فهم ده چه طلباء ددې نه نه متاثره کيدې نشی.

د دينی علم زده کولو دپاره ضروری ده چه معلم په دې کښې دپوره زړه او دماغو طاقت خرچ کړی او دوئيلو نه مخکښې پخپله په دې باندې عمل کوؤنکی وی دې دپاره چه په معلّم او متعلّم دواړو کښې دننه د دې علم دپاره شوق رغبت او دزړه تعلق پيداشی. معلم د طلباؤ په مخکښې د دين جوهر او د هغې د روح پيش کولو کوشش اوکړی، ددرس په دوران کښې فقهی اختلافات، بې مغز خبرو او خلافِ وقار طريقې ته لار ورنکړی.

طلباؤ ته چه دکوم څيز حکم ورکړی پخپله دهغې پابند جوړشی دې دپاره چه د طلباؤ په نظر کښې هغه مثالی نمونه جوړه شی ګنی د الله تعالی په لاره کښې رکاوټ اچولو والا او د الله او د بندګانو دواړو به د غضب مستحق وی. په خپلو طلباؤ کښې د تعصب هټ د هرمئ مرض پيداکيدو ته مه پريږدئ چه په يو بل باندې د لويئ اظهار اوکړی. بلکه په هغوی کښې د رحمت و محبت تخم اوکرئ.ځکه چه دين د دعوتِ اخوت او د انسانی زړونو د کينې او د تعصب د بهترين علاج دويم نوم دې.

دينی علومو لره په عملی ژوند کښې تړلو سره پيش کولو کوشش

اوکړئ. او د هغې طريقه داده چه دې څيزونو لره په مثالونو سره د پوهولو کوشش اوکړئ. دا څه مشکل کار نه دې. اوګورئ الله تعالی دنبی کريم صلی الله عليه وسلم ذمه دارئ لره د بيانولو دپاره څومره بهترين پيراګراف اختيارکړې دی:

وَيُحِلُّ لَهُمُ الطَّيِّبَاتِ وَيُحَرِّمُ عَلَيْهِمُ الْخَبَائِثَ وَيَضَعُ عَنْهُمْ إِصْرَهُمْ وَالْأَغْلَالَ الَّتِي كَانَتْ عَلَيْهِمْ فَالَّذِينَ آمَنُوا بِهِ وَعَزَّرُوهُ وَنَصَرُوهُ وَاتَّبَعُوا النُّورَ الَّذِي أُنْزِلَ مَعَهُ أُولَٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ۔

[اعراف:۷/۱۵۷]

"د الله رسول د هغوی دپاره پاک څيزونه حلال او ناپاکه څيزونه حرام کړې دی او د هغوی نه بوج اوچتوی کوم چه په هغوی بارکړې شوې وو، هغه بندش کهلاوهی په کوم سره چه هغوی تړلې شوې وو لهذا کوم خلق چه په هغوی ايمان راوړی او د هغوی حمايت او نصرت اوکړی او د دې رڼړا تابعداری اختيارکړی چه کوم دۀ سره نازله کړې شوې ده هم دوی کاميابی موندونکی دی."

په نصيحت کولو کښې د دې خاص خيال ساتل پکاردی چه هغه مختصر عام فهم او لائق د عمل وی. د نورو اهم ضروورياتو سره متصادم نه وی.داسې هلک چه په هرکار او هره خبره کښې د والدينو او د معلم د نصيحت د زنځيرونو نه آزاد وی د نافرمانئ او بدو اخلاقو مظاهره کوی.

ددې خيال ساتل پکاردی چه د فکرآزادی او د کفر آزادی دوه جدا جدا څيزونه دی. د اسلام په لاره کښې خلق په دوؤ ډلو کښې تقسيم شوې دی:

هُوَ الَّذِي خَلَقَكُمْ فَمِنْكُمْ كَافِرٌ وَمِنْكُمْ مُؤْمِنٌ۔ [تغابن: ۲/۶۴]

"هم هغه دې چاچه تاسو پيدا کړې يئ بيا په تاسو کښې څوک کافردې، څوک مؤمن."

د کافر په سلسله کښې دا حکم دې چه هغه ابدی دشمن دې.د ذمی په سلسله کښې راځی چه هغه د وطن په معامله کښې دوست دې او کله پورې چه هغه د معاهدې شرائط پوره کوی د هغې د حقوقو حفاظت په مسلمانانو باندې فرض دې.

او مسلمان د الله د دین محافظ او د هغه د رضا طالب وی او که هغه د الله د دین نه په بغاوت کولو باندې راشی نو د تورې نه علاوه د هغې بل علاج نشته او د هغوی دا باغیانه حرکت په مسلمانانو کښې فکری او اعتقادی فساد خورولو په شان به ګڼړلې شی.

د دین اساسی تصورات چه په هر زمانه کښې یو شان راروان دی په هغې کښې څه تبدیلی او څه تغیر د زمانې د حالاتو په اختلاف سره پیدا کیدې نه شی، هغه صرف درې دی:

۱: په الله تعالی باندې ایمان.

۲: په آخرت، فرښتو او تقدیرباندې ایمان.

۳: په ټولو انبیاؤ باندې ایمان او د آخری نبی محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم تصدیق، د قرآن او د هغې د ټولو احکامو تصدیق، د الله د رسول مکمل او غیرمشروط اطاعت.

په اخلاقِ حسنه سره ښائسته کیدل او د نافرمانو نه پرهیزکول او د دې نه علاوه نور هغه ټول څیزونه چه اجتهادی امورو سره تعلق لری. په هغوی باندې بحث و مباحثه او د حالاتو او ظروفو په لحاظ سره د هغې اجراء ونفاذ باندې خبرې اترې کولې شی.

کله هم چه په موجوده دور کښې څه اسلامی تحریک ښکاره شوې دې نو خلقو لره د دین سره واقف کولو دپاره عوامی طرز اختیارول او ټولو خلقولره دشریعت بنیادی امورو طرفته متوجه کول اوپه هغوی

کښې سیرت وکردار پیدا کول مشکل دی.خو کله چه مختلفې ډلې ددین
نه واقف شوې نو په هغوی کښې دننه بې عملۍ لار اونیوله اودې سره د
فکرکمۍ او د احساس ذمه دارۍ نیشت والی هم لار اونیوله، نتیجه
داشوه چه په عملی ژوندکښې اسلام چه د کوم مختلفو مسائلو کوم حل
پیش کړې دې دهغې نه خلق ناخبره پاتې شو.

## د عربۍ ژبې اهتمام:

آیا دا څه اتفاق خبره کیدې شی چه الله تعالی د اسلام پیغام
رسولو د پاره نور په زرګونو ژبو لره پریخودو سره صرف دعربۍ ژبې
انتخاب اوکړو.؟ بیا صرف په دومره ئې بس اونکړو بلکه ځاې په
ځاې ئې د دې د اهمیت په مختلف انداز کښې وضاحت اوفرمائیلو:

قُرْاٰنًا عَرَبِيًّا غَيْرَ ذِيْ عِوَجٍ لَّعَلَّهُمْ يَتَّقُوْنَ [الزمر:۳۹/۲۸]

"داسې قرآن چه په عربۍ ژبه کښې دې، چه په دې کښې څه کوږوالې
نشته،دې دپاره چه دوی د بد انجام نه بچ شی."

كَذٰلِكَ اَوْحَيْنَآ اِلَيْكَ قُرْاٰنًا عَرَبِيًّا لِّتُنْذِرَ اُمَّ الْقُرٰى وَمَنْ حَوْلَهَا [الشوریٰ:۴۲/۷]

"ها!داسې اې نبی! دقرآن عربی مونږ ستاطرفته وحی کړې ده دې
دپاره چه ته د کلی مرکز(مکه ښار) او ددې نه ګیر چاپیره اوسیدونکی
خبردارکړې."

ددې آیتونو نه معلومیږی چه قرآن په عربۍ ژبه کښې نازلول
څه اتفاقی معامله نه ده بلکه ددې وجه دا ده چه دڅه څیز دوضاحت
دپاره داسې طرز د بیان اختیارول چه د انسانی عقل په ګرفت کښې په
مکمل طور باندې راشی. د دې دپاره عربی ډیره موزون او مناسب ده.
دا ډیره خوږه ژبه ده، ترکیب ئې آسان او تقریر و تحریر کښې د ایجاز
واختصار نمونه ده .د نازک نه نازک جذباتو د تعبیر دپاره د عربۍ

ژبې لمن ډېره وسيع ده. دغه د ټولو علومو او فلسفود استقصاء دپاره د دې نه بهتره ژبه بله نشته دې.

د ماضی تاريخ او د عصر حاضر مطالعه مونږ ته ښائی چه د اسلام دشمنانو چه کله هم مسلمانانو لره د هغوی د دين نه اړول غوښتلې دی نو هغوی د ټولو نه مخکښ د هغوی د تعلقاتو ختمولو کوشش اوکړو. دې دپاره چه د وحدت ومحبت په هغه تارونو باندې يو بند اولګوی چه کومو دوی لره يو امت جوړکړې دې، دغه شان به دوی د باطل افکار ونظرياتو په سيلاب کښ اوړل ډېر آسان به وی.

دا يو حقيقت دې. نو په افريقه او ايشياء په شان ملکونو کښ نن په سوؤنو مسلمانان د اسلام نه بالکل کټ شوې دی، په دوی کښ ډېرو ته خو کلمه هم يادنه ده او کلمه خو پرېږده هغوی د سلام جواب هم نه شی ورکولې.

د دې اسبابو پيش نظر مونږ داعی لره عربئ ژبې طرفته توجه ورکولو او عام لب ولهجې نه ځان ساتلو وصيت کوو او د نورو ژبو استعمال صرف هغه وخت کوئ کله چه د دې نه بغير تبليغ نا ممکن وی. بس په يو وختی طور باندې نورې موقعې ملاويدو سره وقتی طور دې ژبې لره پرېږدئ او هغې لره هميشه دپاره اختيارنه کړې.

نو کله چه اسلامی انقلاب په تيزئ سره د ترقئ منزلونه وهل هغه وخت عربی ژبه د کامياب قومونو په مينځ کښ د سيوری په شان خوريدله او عوامو به دې ژبې لره زده کوله او په دې کښ خبرې کولې او د خپل ځان دپاره ئې د فخر ذريعه ګڼړله. بيا زمانه بدله شوه او د فاتحينو په استيج باندې استعمار خوښونکی راغلل نو عوام هغوی طرف روان شو او په تيزئ سره ئې د فاتح قومونو ژبې اختيار کړې شوې، ګويا چه د هغې زده کول د هغوی دپاره فرض شو.

نن صبا مونږ په یو داسې دور کښې روان یو په کوم کښې چه مغربیت په بده طریقه باندې شکست خوړلې دې. په دې حالاتو کښې په مونږ باندې فرض کیږی چه د عربئ ژبې د ژوندی کولو دپاره د ځان قربانولو کوشش اوکړو چه همدا کوشش د اسلام د ژوندی کولو تمهید دې.

ډیر ملکونو په خپل ځایونو کښې مقامی ژبو ته د ترقئ ورکولو دا طریقه اختیارکړې ده چه داسې الفاظو طرف ته ئې توجه کړې ده چه په وئیلو او لیکلو کښې آسان او زیات استعمال والا وی او همدا الفاظ د درس وتدریس او تعلیم په نورو ذرائعو کښې استعمالولې شی. څه ښه به وې کچرې مسلمان هم دې عظیم الشان ژبې ته ترقی ورکولو دپاره دغه شان کوشش کولو په کوم کښې چه زمونږ شریعت نازل شوې دې.

## د اجتماعی کارونو اهمیت:

د بعضې اسلامی مفکرینو داخیال دې چه د دعوت الی الله کار کوؤنکو ته په سماجی خدماتو کښې حصه اخستل نه دی پکار او دا چه اسلام کښې د دې څه اهمیت نشته اونه دا داسلام د بنیادی څیزونو نه دی.

د دې برعکس څه نور اسلامی جماعتونه دی چه دې لره په عملی نقطه نظرسره ضروری خیال کوی او د دعوت کار کوؤنکو ته په داسې کارونو کښې د حصې اخستلو ترغیب هم ورکوی او د هغوی په خیال کښې د انقلاب اسلامی د ښکاریدو بلکه زیاده صحیح لفظونو کښې د حکومت اسلامیه د قیام دپاره د سماجی خدماتو په کارونو کښې لګیدل هغه کار دې دکوم دپاره چه هغه خپل ټول کوشش خرچ کول غواړی چه همدا د اصلاح بنیاد دې.

په اجتماعی خدماتو کښ د حصې نه اختستونکو وینا ده چه د داسې قسمه خدماتو پیش کولو مطلب دادې چه مونږ د ظالم حکومت بنیادونه مضبوط کوو او په دې سره به د هغوی په حکومت کښ استحکام راشی او د هغوی زمانه به هم اوږده شی چه په هغې سره به دحکومت اسلامیه قیام د کافی اوږدې زمانې تیریدو نه پس متوقع کیدې شی.

دویم فریق د دې اعتراض جواب په لاندینو دلائلو سره ورکوی:

الله تعالی ټولو مسلمانانو ته دنیکۍ د کار کولو تلقین کړې دې او په دې کښ ئې دژوند ټولو حصو لره شامل کړی دی په دې وجه حکومت او سیاست چه دهغې تعلق د انسانی افرادو سره ډیر ژور دې دې ته صرف نظر کول څه معنی لری.

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا ارْكَعُوا وَاسْجُدُوا وَاعْبُدُوا رَبَّكُمْ وَافْعَلُوا الْخَيْرَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ۔
[الحج:٧٧]

"اې هغه خلقو ! چه ایمان مو راوړې دې، رکوع او سجده کوئ دخپل رب بندګی کوئ، دهغه نه توقع کیدې شی چه تاسوته به کامیابی نصیب کړی."

د انسانانو حاجتونه اوضرورتونه بې شماره دی، په دې وجه دحکومت اسلامیه قائم کیدو پورې دې مسائلو ته صرف نظر کول دداعی دپاره جائز نه دی په مختلفو صورتونو کښ څه دادی . په اوږو باندې خوراک کول، دمریضانو علاج،جاهلانو ته تعلیم،دنیکې لارې طرف ته دهغوی هدایت او د خلقو په مینځ کښ دمینې محبت د جذباتو تخم کرل.

د مقصد په حاصليدو کښې کله کله عمرونه ختم شي او صدئ هم تيرې شي خو مقصد حاصل نه شي نوآيا د انسانيت د غم درد کولو والا دې منع کړې شي او دومره مودې پورې خلقو لره همداسې په غم اوپريشانئ کښې کړيدونکې دې پريښودې شي؟

د پاسنو وجهو په بنياد باندې دا فريق اجتماعي خدماتو لره لازم ګرځوي او دعوت لره دکاميابئ طرفته بوتلو دپاره دارنګه کوششونو لره ضروري خيال کوي. دغه شان په ډېر مسلمان ملکونوکښې دعوامي خدماتو پيش نظر لاندينې ادارې قائم کړې شوې دي اودعوامي خدماتو په نقطه نظرسره ددې ډېر اهميت دې. په دې وجه ددعوت کارکوؤنکي هم په دې سلسله کښې هغوي ته خپل تعاون ورکولې شي.

* ...دمساجدودتعميرکميټياني
* دعام امن کميټياني
* مسافرخانې * د عوامو رهنمائي کميټياني
* خپل مينځ کښې دامدادکميټياني
* دلاوراثه ماشومانو تربيتي ادارې
* دتعليم بالغان شعبې * دقرآن حفظ کولو شعبې
* دصحت او ورزش کلبونه
* صلاحيتونوته ترقي ورکوؤنکي مرکزونه
* دضعيفانو او معذورو د پرورش ادارې
* دښځو انجمني

د دې نه علاوه هم داجتماعي کارونو ډېر اهم ميدانونه دي د چاسره چه کارکول د هر داعي دپاره ضروري دي..........ځکه چه د الله تعالی د رضا حصول او د نواهيو نه ځان ساتل د يو مومن د ژوند نصب العين دې.

## د فلاحي ادارو قيام:

د هغې تذکره په مخکښنو کرښو کښې راغلې ده البته د هغې اړخ تعميری دې.

* د مساجدو او مدارسو دا رنګه د شفاخانو قيام.
* د فيکټريانو بجلۍ پاورهاوسز او د اوبو د ذخيره کولو انتظام.
* د مکتبونو او د مختلف قسم ريليف کميټيانوقيام.
* ددعوت مرکزونه دارنګه د عوامی مهمان خانو تعمير وغيره.

دلته دې خبره باندې پوهيدل پکاردی چه داسماجی خدمات مقصدنه دې بلکه د معاشرې ترقی دارنګه د دوی دغمونو کمولو يوه اهمه ذريعه ده. دې دپاره چه مونږ د امن اوسلامتۍ دعوت لره په مکمل طور باندې غالب اونافذکړې شو.

## عام مظاهر:

په دې کښې شک نشته چه هغه بهترين مظاهر په کوم سره چه رسم ورواج او د دينی افکارو اوخيالاتو ترجمانی کيږی. د دين عوت ته ترقۍ ورکولو کښې د هغوی انتهائی متاثر کن کردار دې. ځومره ښه به وې چه کچرې داسلامی تحريک ملګرو يو داسې ماحول جوړکړې وو چه د رښتونی اسلامی تعليماتو مظهر وې همدا هغه څيزدې کوم طرفته چه قرآن کريم زمونږ توجه ګرځولې ده.

وَلْتَكُنْ مِّنْكُمْ اُمَّةٌ يَّدْعُوْنَ اِلَى الْخَيْرِ [آل عمران: ۱۰۴]

"په تاسو کښې څه خلق داسې ضرور کيدل پکاردی چه د نيکې طرفته رابلل کوی."

ډير مفکرين د صدو نه داسې د يو مثالی معاشرې د تعمير خواهش لری او د دې مقصد پيش نظر هغوی د"المدينة الفاضلة" او د

”المجتمع المثالی“په شان کتابونه هم تصنیف کړې دی. په کوم کښې چه هغوی د یو مثالی معاشرې د قیام فلسفه پیش کړې ده. هسې خو ټول حکومتونه برابر د یو مثالی معاشرې د تعمیر دپاره محنت کوی خو د هغوی خپله یو مخصوص طریقه کار دې.اسلامی طریقو نه د هغوی څه مطلب نه وی.

زمونږ د وینا مطلب دادې چه څنګه دغه شان داجتماعی ادارو او انجمنو قیام د څه مخصوص حالاتو په بنا باندې ناممکن وی نو په داسې صورت کښې مونږ ددین داعیانو ته دا وصیت کوو چه دخپلې دائرې ترحده پورې خپل ځان باندې او د خپل متعلقینو په مینځ کښې د ژوندپه مختلف معاملاتو کښې مثالی طرزعمل خپل کړی. لکه د ژوند څو انفرادی شعبې دا دی:

## د کورنی ژوند او معاشرتی ژوند آداب:

* د تفریحی محفلونو او د سفروحضرآداب
* د تجارت اولین دین وغیره آداب
* د کورونو ښائست او دجامو وضع قطع
* د تربیت او امورخانه داریٔ تعلیم

په دې سلسله کښې مونږ دخپل علماؤ او فضلاؤ او نور دفن خاوندانو ته دعوت ورکوئ چه زمونږ دپاره په ذکرشوو اوچتو میدانونوکښې د تصنیف اوتالیف او دجدید دور دتقاضو مطابق څه داسې مثالی خطونه جوړکړی کوم له چه مونږ دیو چیلنج په حیثیت سره پیش کړې شو اودکوم اختیارول او ورته عملی جامه اغوستل دخلقو دپاره ممکن وی.

**د کردار اثر د شاباش څو نمونې:**

د مصر يو شيخ دې د کوم نه چه زه ښه واقف يم د هغه کردار يو مثالی کردار وو. د هغه عادت وو چه هغه به يو ورځ د خپل ځوانانو طلباؤ سره په دوره باندې ضرور ملاويدو که کله به د ملاقات نوبت نه راتلو نو د ښارپه اجتماعاتو کښې به ئې ملاقاتونه کول.

خپل طلباء به ئې واخستل او اوږده اوږده مونځونه به ئې کول چه په هغې کښې به ئې د اوږدو سورتونو تلاوت کولو بيابه ئې هغوی امامت ته مخکښې کول او دغه شان به ئې د هغوی درجه په درجه تربيت کولو اوپه هغوی کښې به ئې خود اعتمادی پيداکوله بيابه ئې هغوی حفظ او تجويد دپاره مجبور کول، ځان سره به ئې کينول او خوراک به ئې خوړَولو او د خوراک په دوران کښې هغه دعاګانې به ئې هغوی ته يادولې چه د خوراک په باب کښې دحضورصلی الله عليه وسلم نه نقل دی. هغه به د هغوی بدنی تربيت هم کولو اوپه دې دوران کښې غشي ويشتل،په منډې سره مقابله کول اودقوت اوطاقت دارنګه دجهادفضيلت به ئې بيانولو. د هغوی سره به ئې روحانی مجلسونه هم منعقدکول چه په هغې کښې به ذکر و فکر، تلاوت د قرآن پاک، دين طرفته د راغب کولو قصې او بهترين حکايتونه اورول. دې مجلسونوکښې به کيناستو سره دالله ديرې او الله ته ژړا منت زاری به دومره قدرې زياتيده چه زړونه به دموم په شان محسوسيدل. هغه به هغوی دتهجدو دمونځ دپاره پاسول اودهغې اهتمام به ئې په اجتماعی طورباندې هم کولو او په انفرادی طورهم......بڅپله به دهٔولونه مخکښې پاسيدو.

طلباؤ باندې به ئې د دعوت وخطابت د طريقو مشق کولو او ورسره به ئې په يو بل باندې تنقيدهم کولو دې دپاره چه دژبې بندش

کهلاؤ شی او دغه شان هغوی په عوامو کښې خپل کار اوکړې شی.دغه شان ملاقاتونو یا سفرونو کښې د محبت یو عمیق احساس پیداکیږی اویوبل ته د پوهیدو موقع ملاویږی. په طبیعت کښې تهذیب، په زړونو کښې نرمی پیداکیږی او ښائسته یادونو سره سینه معمور کیږی. ددې لازمی اثر دا کیږی چه په خلقو کښې د راتلونکی اجتماع دپاره د شرکت شوق وی او ټولو بهانو لره شاته غورزوی په دلچسپئ سره کار کوی او د پوره جماعت نه نه جداکیږی.

دغه شان د شام د یو شیخ نه ښه واقف یم. د الله تعالی دې په هغه باندې رحمت وی او هغه ته دې په جنت کښې بهترین ځاې ورکړی. دهغه معامله داوه کچرې ستابه د هغه سره ملاقات کیدو نو تاسو به داسې ګنړله چه شاید دصحابه یا د تابعینو د کوم یو فرد سره ملاؤ شوې هغه به خلقو سره داسې اوسیدو چه ګویا د ټولو نه زیات حقیر انسان دې. همیشه به خوشحاله وو د خلقو خدمت به ئې کولو او ټولو خلقو سره به په بې تکلیفئ سره پیش راتلو. او د هغوی خدمت به ئې کولو او د خپل اهل وعیال سره به ئې په کفایت باندې وختونه تیرول، د سادګئ انداز ئې ددې نه اوکړې چه هغه د یو مسجد امامت له دچیف جسټس په شان اهمې عهدې باندې ترجیح ورکړه. داحتیاط په وجه سره به ئې دډیر جائز څیزونو نه هم ځان ساتلو. یو ځل ماهغوی ته آرټ لیدلو ګزار اوکړو زه ئې ځان سره واخستلم لاړو. تردې چه کله نیم کلومیټرفاصله پاتې شوه نوهلته اودریدو او اشاره کولو سره ئې اوفرمائیل "هلته دې که تلل غواړې نو لاړشه زه دلته یم"زه لاړم او لږ وخت پس واپس راغلم او هغوی ته مې اووئیل چه ستاسو هلته دنه تلو سبب ماته معلوم شو هغه اووئیل ها! "هلته هلکانو بربنډ لمبل."

دخپل مشر رور د وفات په بابت ئې مونږ ته وئیل او دهغه دعلم او دینداریځ ئې ډیر تعریفونه هم کول.دهغه نه تپوس اوکړې شو چه دهغه دمشر رور زوجه او د هغه بچی څنګه دی هغوی اووئیل چه زه پرون بل کورته منتقل شوم د دولسو کالونه هغوی ماسره اوسیدل خو ماهغې لره کله هم نه ده لیدلې په کومه ورځ چه زه منتقل کیدم نو خپل مخ ئې بل طرفته اړولې وو او ماته ئې سلام اوکړو.

**دعبرت دپاره:**

په مسجدکښ به د هغوی درس کیدو چه پکښ به خلق شریک کیدل درس، فقه، تفسیر، اصول،نکات ادب او دشعرنه به ډک وو، هلته کیناستوسره خواه ته څومره هم قابل ولې نه وې نوخپل ځان به دې یو طالب محسوسولو. یو ځل د شاګردانو په حلقه کښ ناست ووچه د هغه په غیږکښ یوه کونتره راپریوتله اوډیره په پرسکون انداز کښ پریوتله. دې کتوسره شیخ موصوف په ژړا شو او وې فرمائیل چه زما د محمد ابن حزم سره څه نسبت؟ او بیا ئې دا واقعه بیان کړه چه محمدبن حزم اندلسی په مسجدکښ درس ورکولو یو ورځ ئې درس ورکولو یوې کونترې پسې یو ښکاری شوې وو یریدونکې راغله د هغه په غیږکښ پریوتله ګویا چه د هغه نه پناه غواړی دې صورت حال کتو سره په حاضرینو کښ یو شاعر فی البدیهه دا شعر اووئیلو:

مَنْ عَلَّمَ الْوَرَقَاءَ اَنَّ مَحَلَّكُمْ حَرَمٌ وَاَنَّكَ مَلْجَاُ لِلْخَائِفِ

”کونترې ته چا وئیلې وو چه ستا پناه ګاه حرم دې او دا چه حضرت موصوف د یریدونکو دپاره ملجاده.“

په ”تاریخ الجزائر “ نومی کتاب کښ یوه واقعه نقل ده چه یو فرانسیسی کس به وئیل زه د اسلام دنقوشو ورانولو دپاره راغلې یم یو

ځل هغه د يو شيخ چه د هغه نوم عبدالحميد وو هغه راغوښتلو او ورته ئې اووئيل چه ياخو خپل افکارو لره په خپلو شاګردانو کښې د خورولو نه منع شه ګنی زه به يو لوې لښکر راوليږم چه دې مسجدته تالا اولګوی چرته چه ته زمونږ خلاف زهر خوروې.

شيخ عبدالحميدجواب ورکړو چه اې ظالم حاکمه ستاپه وس کښې دا نشته دې. په دې باندې هغه سخت غصه شو او وې وئيل چه ولې ممکن نه ده؟ هغه جواب ورکړو چه زه کله د وادهٔ يو محفل کښې يم نو هلته ټول خلق زما نه واقف کيږی او کله چه يو تعزيت ته ځم نو ټول شريک کيدونکو ته نصيحت کوم او که زه په يو ريل کښې سفرکووم نو مسافرماپيژنی اوکله چه زه په جيل کښې يم نو ټولو قيديانو ته به داخبرې کووم او که ته ماقتل کړې نو د خلقو جذبات به راوچت شی په دې وجه زما محترم ستا دپاره دامناسب دی چه داسې سړی سره بالکل چهيړچهاړ بالکل مه کوه. د چا دين او د چا ژبه چه د يو امت دين او ژبه جوړه شوې وی.

نزدې نزدې همدا يوه خبره ده کوم لره چه امام ابن تيميه رحمه الله وئيلې وه کله چه هغه د دمشق جيل خانې ته بوتللې شو هغه اووئيل چه قيد زما دپاره خلوت دې او جلاوطنی زما دپاره سياحت دې او قتل زما دپاره شهادت دې.

بيائې د چا شاعر دا شعر اووئيلو:

إِذَا اللهُ أَحْيٰى أُمَّةً لَنْ يَّرُدَّهَا      إِلَى الْمَوْتِ جَبَّارٌ وَّلَا مُتَكَبِّرٌ

"کله چه الله تعالی يوامت لره ژوندې ساتل غواړی نوڅوک سرکش او متکبر د هغه ژوند د هغه نه په زور نه شی اخستې."

یو بل داعی چه د هغه حُسن کردار اوحسن اخلاق مثالی دی د هغه نوم عمرو بن عبیدرحمه الله وو. یو عظیم محدث دې، امام بخاری رحمه الله او امام ابوحنیفه رحمه الله په شان خلقو په استاذانو کښې دې.د هغه نه د حسن بصری رحمه الله په باره کښې تپوس اوکړې شو چه هغه څنګه وو؟ په هغې باندې ئې سوال کوؤنکی ته اووئیل چه تا د داسې سړی په باره کښې تپوس اوکړو د چاچه ملائکې هم اداب کوی.د هغه معامله داوه که دځه کارذمه داری به ئې اخستله نو هغه به ئې کوله اوکه دځه څیز حکم به ئې کولو نو د ټولو نه مخکښې به ئې هغه پخپله کولو اوکه څوک به ئې دځه کارنه منع کول نو د ټولو نه اول پخپله به د هغې نه منع کیدلو، مونږ د یو کس هم ظاهر د هغه د باطن سره او د هغه باطن د هغه د ظاهر سره مشبه نه دې لیدلې څومره چه د بصری رحمه الله وو.

همدا عمرو رحمه الله یوځل دابوجعفرمنصور دخلافت په دورکښې هغه ته لاړو ددې نه مخکښې هغه د ده رفیق او دوست هم پاتې شوې وو. خلیفه منصور هغه خپل ځان ته نزدې کینوو او ورته ئې اووئیل چه ماته نصیحت اوکړئ هغه ورته ډیر دښو خبرو نصیحت اوکړو کله چه پاسیدو نو خلیفه ورته اووئیل چه مونږ تاسو ته د لس زره درهمو درکولو فیصله کړې ده په دې باندې عمرو اووئیل۔

په الله قسم زه دا نشم اخستلې"په دې مجلس کښې مهدی چه د ابو جعفرمنصورځوې وو هغه په تعجب سره اووئیل چه امیرالمؤمنین هم قسم خوری او تاسو هم قسم خورې، دې اوریدو سره عمروبن عبید رحمه الله هغه طرفته متوجه شو او تپوس ئې اوکړو دا ځوان څوک دې؟ چا ورته اووئیل چه دا ولی عهد دې. په دې باندې ئې منصورطرفته مخ

راوړو او وې وئیل. واوره! په الله قسم تا داسې لباس اغوستې دې چه د متقیانو لباس نه دې او د داسې نوم سره دې موسوم کړو چه هغه ددې اهل نه دې. بیا مهدی طرفته متوجه شو او وې وئیل ها! وراره! کله چه ستا پلار قسم اوخوړو نو ستا تره هغه باطل کړو او ستا پلار خو ستا د ترهٔ نه زیات په کفاره ادا کولو باندې قادر دې. بیا منصور هغه نه تپوس اوکړو آیا څه ضرورت شه؟ جواب ورته ملاؤ شو چه ما ته هغه وخته پورې څه مه رالیږه کله پورې چه زه په خپله رانه شم.منصور اووئیل، بیاخو ته ماته هډو راځې نه.هغه ورته اووئیل زه هم دا غواړم دې وئیلو سره لاړو نو ډیر ساعت پورې منصورهغه ته کتل او بیائې اووئیل:

كُلُّكُمْ يَمْشِيْ رُوَيْدَ

كُلُّكُمْ يَطْلُبُ صَيْدَ

غَيْرَ عَمْرَو بْنِ عُبَيْدَ

په تاسو کښې هرسړې په مزه ځی، په تاسو کښې هرسړې د ښکار طالب دې سیوا د عمروبن عبیدنه.

"په مفیدالعلوم"کښې لاندینې روایت ملاویږی.

مشهورمحدث سفیان بن عیینه ناست وو. په دې کښې دهغه ورارهٔ د هغه دلور رشتې غوښتو دپاره راغلو. امام صاحب ورته اوفرمائیل :"جوړه خو ډیر ښه ده کینه." هغه کیناستو نو سفیان ورته اووئیل چه لږ د قرآن کریم لس آیتونه خو راته اووایه هغه اووئیل نه شم وئیلې. بیائې ورته اووئیل چه ښه ده لس حدیثونه راته اووایه هغه اووئیل چه داهم راته یاد نه دی. بیا ئې ورته اووئیل چه لس شعرونه راته اووایه، هغه ورته اووئیل داهم نه شم کولې. هغه ورته اووئیل چه په کوم بنیاد باندې زه د خپلې لور لاس ستا په لاس کښې درکړم د دې

نه علاوه زه تا لره نا کام هم واپس کول نه غواړم بیا هغه ده ته د څلور زرو درهمو ورکولو حکم ورکړو.

اوګورئ خو سهی دې عظیم داعی په څومره قدرې دحکمت او هوښیارتوب د کمال نه کار واخستو هغه ځوان ئې علم وادب زده کولو طرفته آماده کړو ځکه چه هغه یو ښه او نرم زړه والا انسان ووپه دې وجه ئې دا خوښ نه کړل چه ځوان لره خالی لاس اولیږم.

په دې وجه ئې په مال سره دهغه مدد اوکړو دې ته اعلی ظرفی وائی. اسلامی تاریخ د نیکانو د قصو نه ډک پروت دې. د الله تعالی په هغه باندې رحمت وی. دلته مونږ صرف په دې باندې اکتفاء کوو.

باب : ۱۱

# د دعوت رسولو وسائل

خلقوته دعوت رسول د قول په ذریعه هم کیږی او دعمل په ذریعه هم او د داعی دسیرت په ذریعه هم، چه د هغې په وجه سره داعی د نورو د پاره بهترین نمونه جوړیږی هغه خلقو لره اسلام طرفته راکاږی. د دې وسائلو په باره کښې مونږ لاندې د دریو عنواناتو لاندې به خبرې اتر کوو.

1. په ژبه سره د عوت رسوَل
2. په عمل سره د دعوت رسوَل
3. په ښه کردارسره دعوت رسوَل

## دقول(ژبې ) په ذریعې سره دعوت رسول

### د دعوت په رسولو کښې دقول اهمیت:

په دعوت الی الله کښې قول هم اصل بنیاد دې.قرآن کریم چه د دعوت الی الله یو بهترینه ذریعه ده، هغه هم دالله تعالی قول دې کوم لره چه حضرت جبرائیل علیه السلام حضرت محمدصلی الله علیه وسلم ته راوړې دې دپاره چه ددې په ذریعه ددعوت رسولو انتظام اوشی. دالله تعالی ارشاد دې:

وَإِنْ أَحَدٌ مِّنَ الْمُشْرِكِينَ اسْتَجَارَكَ فَأَجِرْهُ حَتَّىٰ يَسْمَعَ كَلَامَ اللَّهِ [التوبة۹: ٦]

”اوکه په مشرکینو کښې څوک سړې پناه غوښتو سره تاسو ته راشی (دې دپاره چه دالله تعالی کلام واوری) نو هغه ته پناه ورکړه تردې چه هغه دالله تعالی کلام واوری.“

رسول الله صلی الله علیه وسلم هم دخپل رب پیغام د قول په ذریعه خلقو ته رسولو. الله تعالی خپل رسول صلی الله علیه وسلم لره مخاطب کولو سره او نبی علیه السلام ته حکم ورکولو سره فرمائی چه خلقوته اووایه :

قُلْ يَآيُّهَا النَّاسُ قَدْ جَآءَكُمُ الْحَقُّ مِنْ رَّبِّكُمْ [يونس۱۰: ۱۰۸]

"اې محمدصلی الله علیه وسلم! اعلان ورکړه خلقو ته! چه تاته دخپل رب د طرف نه حق راغلي دي."

قُلْ يَآيُّهَا النَّاسُ اِنِّيْ رَسُوْلُ اللهِ اِلَيْكُمْ جَمِيْعًا [الاعراف۷: ۱۵۸]

"اې محمدصلی الله علیه وسلم! اووایه اې انسانانو! زه تاسو ټولو طرفته د هغه الله پیغمبر یم."

دغه شان الله تعالی خپل ټولو رسولانو ته حکم ورکړې دې چه خپل قومونو ته دخپل رب پیغام قول مبین سره اورسوئ. الله تعالی فرمائی :

وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا نُوْحًا اِلٰى قَوْمِهٖ فَقَالَ يٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللهَ مَا لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ -
[المومنون۲۳: ۲۳]

"مونږ نوحؑ لره د هغه قوم طرفته اولیږلو. هغه اووئیل: اې زما د قوم رونړو! د الله تعالی بندګی کوئ د هغه نه سیوا ستاسو څوک معبود نشته دې."

وَقَالَ مُوْسٰى يٰفِرْعَوْنُ اِنِّيْ رَسُوْلٌ مِّنْ رَّبِّ الْعٰلَمِيْنَ [الاعراف۷: ۱۰۴]

"موسی علیه السلام اووئیل: اې فرعون! زه د کائناتو درب د طرف نه رالیږلي شوې یم."

نو د یو داعی دپاره جائز نه دی چه د دعوت په رسولو کښې ددې خبرې نه غفلت اوکړی په دې ضمن کښې د "قول" څه مقام دې او د

پاکیزه کلمو په زړونو څه اثر کیږی. په دې وجه خلقو ته د حق په رسولو کښې قول اصل ذریعه ده.

**د خبرو اترو عمومی آداب:**

د خبرو اترو دپاره ضروری ده چه هغه واضح او آسان وی په دې کښې څه ابهام نه وی، سامع دې لره په اوریدو سره پوهه شی. په دې وجه چه د کلام مقصد مطلوبه معلوماتو لره هغه سړی ته رسوَل وی د کوم سره چه خبره کیږی. په دې بناء باندې خبره پوره واضحه کیدل پکاردی. همدا وجه ده چه الله تعالی ټول پیغمبران د خپل خپل قوم په ژبه سره رالیږلې دې، دې دپاره چه د قوم د کوم څیز طرفته دعوت ورکولې شی په هغه باندې پوهه شی. په دې وجه نبی ته هم د هغې خبرې په بیانولو کښې تکلیف نه راځی. دالله تعالی ارشاد دې:

وَمَآ اَرۡسَلۡنَا مِنۡ رَّسُوۡلٍ اِلَّا بِلِسَانِ قَوۡمِهٖ لِيُبَيِّنَ لَهُمۡ [ابراهیم ۱۴: ۴]

"مونږ خپل پیغام ورکولو کښې چه کله هم څه رسول رالیږلې دې،هغه دخپل قوم په ژبه کښې پیغام ورکړې دې دې دپاره چه هغه په ښه شان سره خبره باندې پوهول اوکړی."

الله تعالی د خپل رسولانو کار هم دا ګرځولې دې چه هغوی په کهلاؤ او واضح انداز کښې دې پیغام لره خلقو ته اورسوی، دې دپاره چه په مخاطبینو باندې حجت قائم شی. د الله تعالی ارشاد دې:

وَمَا عَلَى الرَّسُوۡلِ اِلَّا الۡبَلٰغُ الۡمُبِيۡنُ [النور ۲۴: ۵۴]

"د رسول ذمه داری د دې نه زیات څه نه ده چه صفا صفا حکم اورسوی."

د کلام واضح کیدو معیار صرف د داعی او د هغه د فهم او دانش نه دې، په دې وجه چه بعضې وختونو کښې د هغه په حق کښې خو خبره

واضحه کيږی، خو د مخاطبينو په حق کښې هغه غير واضحه وی. نو د واضح کيدو معيار دا ګرځولي شی چه خبره د مخاطبينو دپاره واضح وی.

دا هم هغه خبره ده کوم طرفته چه د الله تعالی دا فرمان اشاره کوی چه :

وَمَآ اَرْسَلْنَا مِنْ رَّسُوْلٍ اِلَّا بِلِسَانِ قَوْمِهٖ لِيُبَيِّنَ لَهُمْ [ابراھیم ۱۴: ۴]

”مونږ خپل پيغام ورکولو دپاره کله چه هم څوک رسول ليږلي دې، هغه د خپل قوم په ژبه کښې پيغام ورکړې دې دې دپاره چه هغوی د ده په خبره باندې پوهه شی.“

نو بيان او وضاحت د هغوی په حق کښې کيدل پکار وو، نه چه د داعی په حق کښې يا فی نفسه د کلام واضح کيدل. په حديث کښې راغلي دی، ام المؤمنين حضرت عائشه رضی الله عنها نه روايت دې چه د رسول الله صلی الله عليه وسلم خبرې به د''فصل''سره، يعنی واضحه اوښکاره وې. دې کلام لره به چه چا هم اوريدلو، نو پوهيدو به پرې.

دا هم ضروری ده چه خبرې اترې د دې نوې الفاظو نه خالی وی په کوم کښې چه د حق اوباطل د صحيح او غلط دواړو احتمال موجود وی. داعی له پکاردی چه هم د هغه الفاظو اهتمام اوکړی کوم چه په قرآن وسنت کښې استعمال شوې دی، يا د مسلمانانو علماء په نزد رائج دی. په دې وجه د دې الفاظو معنی متعين او مفهوم واضح کيږی. په دې کښې دځه غلط معنو ګنجائش نه وی،کوم چه بعضې وخت د مخاطب په ذهن کښې معلق وی. دې د دعوت انداز طرف ته اشاره کولو سره قرآن کريم واضح کړې دی:

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَقُوْلُوْا رَاعِنَا وَقُوْلُوا انْظُرْنَا۔ [البقرۃ۲: ۱۰۴]

”اے خلقو چه ايمان مو راوړې دې! راعنا مه وايئ بلکه انظرنا وايئ.“

د دې وجه دا وه چه د یهودو په ژبه کښې د لفظ راعنا غلطې معنی هم وې او هغوی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته خطاب کولو سره به همدا غلط معنی مراد اخستله. نو الله تعالی مسلمانانو ته حکم ورکړو چه هغوی د دې لفظ استعمال پرېږدی او د لفظ راعنا په ځاې انظرنا اووائی دې دپاره چه یهود د دې نه دلیل اونیسی او د لفظ راعنا په ځاې باندې انظرنا اووائی او په دې هغوی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته دکنځلو او تنقیص کولو موقعه ملاؤ نه شی.اوکه داعی دڅه جدید لفظ په استعمال باندې مجبور وی نو هغه له پکاردی چه په دې سره کوم مفهوم اخستل غواړی دهغې وضاحت اوکړی، دې دپاره چه د خلقو په ذهنونو کښې هغه مفهوم رانه شی چه کوم غلط دې اوکوم چه د دې الفاظو نه ظاهرېږی یاخلق دې لره ګنړی.

## د داعی دپاره د خبرو اترو آداب:

د داعی دپاره ضروری ده چه هغه په سکون سره خبره اوکړی. هغه له د جلت بازۍ نه کارنه دی اخستل پکار بلکه په مزه مزه دې خبره اوکړی دې دپاره چه سامع د هغه دخبرې احاطه کولو سره په هغې پوهه شی. د بخاری شریف په یوحدیث کښې راغلې دی چه نبی علیه السلام چه کله به څه خبره کوله نو هغه به ئې درې ځله کوله،دې دپاره چه خلق پرې پوهه شی.

داعی له پکاردی چه هغه په خبرو کښې د لفاظۍ نه او غټ پن او تکلف نه ځان اوساتی. په یو حدیث کښې رسول الله صلی الله علیه وسلم نه روایت دې چه نبی علیه السلام اوفرمائیل:

هَلَكَ الْمُتَنَطِّعُوْنَ "تَنَطُّعُ کوؤنکی هلاک شو."

داخبره نبی علیه السلام درې ځله اوکړه. **تَنَطُّعُ** نه مراد دا دې چه سړې په خبرو اترو کښې د تکلف اولفاظۍ نه کاراخلی.

په يو بل حديث کښې راغلي دی چه نبی عليه السلام اوفرمائيل :

اِنَّ اَبْغَضَكُمْ اِلَيَّ وَاَبْعَدَكُمْ مِنِّيْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ الثَّرْثَارُوْنَ وَالْمُتَشَدِّقُوْنَ وَالْمُتَفَيْهِقُوْنَ۔

”ماته په تاسو کښې د ټولو نه زيات ناخوښه او د قيامت په ورځ د ټولو نه زيات زما نه به لرې هغه خلق وی چه ثرثار، متشدق او متفيهق وی.“

داعی له د دې خبرې نه ځان ساتل پکار دی چه هغه په خپل مخاطب باندې لوئی ښکاره کړی او هغه سپک اوګڼړی، هغه لره چيلنج کړی په هغه باندې خپل فضيلت ښکاره کړی.

هغه له پکار دی چه خيرخواه او شفيق، مخلص او په متواضع انداز سره خبره اوکړی. داسې خبره چه نورو خلقو ته احساس ورکړی چه د ده دپاره څه مفيد دی او هغه پرې پوهه کړی، داعی له پکاردی چه هغه د هغه مبلغ په شان خبره اوکړی چاته چه د الله تعالی دپيغام ليږلو منصب حاصل دې، نه دهغه سړی په شان چه چاته پخپله څه فضل وکمال حاصل وی.

د داعی دپاره د دې کارونو خيال ساتل ډيرضروری دی. که هغه د دې خيال اونه ساتی او د هغه په خبره او د مخاطب د زړه په مينځ کښې به څه رابطه نه وی او هغه به داعی څه خبرې اوريدو سره نه متاثره کيږی. بلکه مخاطب به دده نه متنفره وی او بيا به هغه دداعی څه خبره نه اوری خواه هغه صحيح ولې نه وی.

داعی له پکار دی چه د هغه په خبره کښې لطف وی. او هغه پخپل کلام اوخطاب کښې داسې خيالات چانړکړی چه په هغې سره د مخاطب شوق د هغه اوريدو طرفته متوجې کړی او د هغې په ذريعه د مخاطب زړه نه د جهالت او نفرت جذبات ختم کړی. په قرآن کريم

کښې ډیر داسې آیتونه دی چه هغه لطف(نرمئ) طرفته اشاره کوی.
دحضرت ابراهیم علیه السلام په باره کښې الله تعالی فرمائی :
اِذْ قَالَ لِاَبِيْهِ يٰٓاَبَتِ لِمَ تَعْبُدُ مَا لَا يَسْمَعُ وَلَا يُبْصِرُ وَلَا يُغْنِيْ عَنْكَ شَيْـًٔا [مریم۱۹: ۴۲]
"او دوی ته لږ دهغه موقعې یادونه اوکړه،کله چه هغه خپل پلارته اووئیل: باباجانه! تاسوولې د هغې څیزونو عبادت کوئ چه نه اوری اونه وینی او نه ستاڅه کار جوړولې شی. ؟"
حضرت ابراهیم علیه السلام په خپل خطاب کښې د ابوّت رشته ذکر کړه چه د هغې شان دا دې چه بچې د پلار د مصلحت دپاره پریشان کوی او پلارله د دې لائق جوړوی چه هغه د ځوی خبره په غورسره واوری.
دحضرت هودعلیه السلام په باره کښې الله تعالی فرمائی :
وَاِلٰى عَادٍ اَخَاهُمْ هُوْدًا قَالَ يٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ مَا لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ اَفَلَا تَتَّقُوْنَ
[الاعراف۷: ۶۵]
"او عاد طرفه مونږ د هغوی رور هود اولیږلو. هغه اووئیل: اې زما قومه! د الله بندګی کوئ، د هغه نه سیوا ستاسو څوک معبود نشته دې. بیا تاسو ولې د غلط روئ نه پرهیز نه کوئ. ؟"
نو حضرت هود علیه السلام خپل قوم ته یا قوم وئیلو سره مخاطب کړو، په دې وجه چه دا خطاب د دې قابل دې چه مخاطب په هغې باندې لبیک اووائی. په دې سره مخاطب ته دا احساس کیږی چه کوم سړې هغه ته خطاب کوی هغه په نسب کښې هغه سره تعلق ساتی او د هغه ښیګړه غواړی.
په سنت نبوی کښې هم داسې واقعات ملاویږی چه زمونږ د خبرې تائید کوی. ابن هشام په خپل سیرت کښې ذکر کړی دی چه نبی ﷺ دبنوکلب

په وادئ کښې چه د بنو عبدالله په نوم سره پیژندلې کیدل،د هغه د کورونو خوا ته لاړو هغوی ته ئې د الله طرفته دعوت ورکړو اوخپل ځان ئې دهغوی په مخکښې پیش کړو.

تردې چه نبی علیه السلام هغوی ته اوفرمائیل :

يَابَنِيْ عَبْدِاللهِ اِنَّ اللهَ عَزَّوَجَلَّ قَدْ اَحْسَنَ اِسْمَ اَبِيْكُمْ۔

" اے بنو عبدالله!الله تعالی ستاسو د پلار نوم ډیر ښه ایخودلې دې."

مطلب دادې چه ستاسو د پلار نوم ډیر ښه دې ستاسوجواب هم ښه کیدل پکاردی او دا چه تاسو په الله او د هغه په رسول ایمان راوړئ.

په دې بنا باندې د داعی دپاره جائز دی چه هغه په خپل خطاب کښې د مخاطبینو جذباتو لره پخپل اطاعت باندې راوچت کړی، دغه رنګه هغوی ته د هغوی نسلی بهتری، خاندانی کرامت او نسبی شرافت طرفته متوجه کړې شی چه د دې امورو په بناء باندې هغوی سره دا خبره نه ښائی چه هغوی د الله تعالی نافرمانو سره روان شی اوپه خواهشاتو او رذائلو کښې لت پت وی. د هغوی نشانی داکیدل پکاردی چه هغوی د بهترین خلقو او د الله د فرمان بردارو سره وی.

دغه شان انداز اختیارول. ان شاء الله. ممنوع به نه وی. په دې کښې مونږ ته څه بدی په نظر نه راځی. البته داده چه په دې داعی مبالغه اونکړی او په دې طرز عمل سره شوق ورکول دی او په اطاعت باندې آماده کول وی، نه چه مداهنت او نفاق اختیارول. دعملونو دارومدار په نیتونو باندې دې.

په خبره کښې د نرمۍ پیدا کولو مطلب دا هیڅ کله نه دې چه داعی د مداهنت او نفاق ښکارشی، یا دا چه هغه حق پټ کړی یا د باطل

تحسین اوکړی، یاپه دې باندې د رضامندئ اظهار اوکړی بلکه دهغه مقصد صرف مخاطب دحق د قبولیت دپاره آماده کول او د هغه په قبولیت کښې د هغه سره تعاون کول دی. د دې مطلب داهم نه دې چه داعی دمخاطب مرض لره پټ کړی. په دې وجه چه د داعی مثال دطبیب په شان دې او طبیب د خپل مریض نه د هغه د بیمارئ علت او د علاج ضرورت پټوی نه. همدا معامله د داعی هم وی حضرت هود علیه السلام په باره کښې الله تعالی فرمائی :

وَيَاقَوْمِ اسْتَغْفِرُوْا رَبَّكُمْ ثُمَّ تُوْبُوْا اِلَيْهِ يُرْسِلِ السَّمَاءَ عَلَيْكُمْ مِدْرَارًا وَّيَزِدْكُمْ قُوَّةً اِلٰى قُوَّتِكُمْ وَلَا تَتَوَلَّوْا مُجْرِمِيْنَ۔ [ھود۱۱: ۵۲]

"او اے د قوم خلقو! د خپل رب نه معافی اوغواړې، بیا د هغه طرفته واپس شئ، هغه به په تاسو باندې د آسمان دروازې کهولاؤ کړی او ستاسو په موجوده وخت باندې به مزید د قوت اضافه اوکړی. مجرم جوړیدو سره (دبندګئ نه) مخ مه اړوئ."

د حضرت صالح په باره کښې او هغوی خپل قوم ته کوم څه چه وئیلې وو دهغې په باره کښې دالله تعالی ارشاد دې:

فَاتَّقُوْا اللهَ وَاَطِيْعُوْنَ، وَلَا تُطِيْعُوْا اَمْرَ الْمُسْرِفِيْنَ، الَّذِيْنَ يُفْسِدُوْنَ فِى الْاَرْضِ وَلَا يُصْلِحُوْنَ۔ [الشعراء۲۶: ۱۵۰-۱۵۲]

"او د الله نه یریږئ او زما اطاعت کوئ، او د هغه بې لګامه خلقو اطاعت مه کوئ چه په زمکه کښې فساد خوروی او څوک اصلاح نه کوی."

## د خبرو اترو قسمونه:

د دعوت رسولو په حوالې سره د خبرواترو څو قسمونه دی: مثلاً خطاب، درس، لیکچر، مباحثه، چالره د هغه په ښه والی باندې راوچتول

او د بدئ نه منع کولو دپاره بحث،خط وکتابت،چه په دې اعتبارسره د خبرو اترو په ضمن کښې راځی چه دا د دعوت رسوَلو ذریعه ده. د هغې اثر هم هغه وی کوم چه د خبرو اترو وی. دا ذریعه هغه وخت استعمالولې شی هرکله چه دداعی دپآره خبرې اترې ممکن نه وی.

**۱- خطاب:**

دا د دعوت رسولو یوه ښه وسیله ده. دا ذریعه په عام طورباندې هلته استعمالولې شی چرته چه څه خلق جمع وی کومو لره چه داعی نه پیژنی یاپه دې کښې بعضو لره پیژنی. د کامیاب خطاب دپاره شرط دادې چه د داعی سره څه متعین معلومات وی کوم لره چه هغه د خلقو په مخکښې بیانول غواړی او د هغوی توجه دې معلوماتو طرفته راګرځول غواړی.

په دې سلسله کښې بهتر دا وی چه دخطاب موضوع داسې وی دکوم چه دخلقو د حالاتو سره هم تعلق وی او د هغې سره د اسلامی عقیدې سره هم ملاویږی. مثلاً که هغه داسې خلقوته خطاب کوی په کوم کښې چه قومی عصبیت موندلې شی نو د هغوی په مخکښې دې بیان کړی چه دقومی عصبیت څه نقصانات دی او په دې باره کښې د اسلام څه حکم دې. یو مومن د خپل رشته دارو مدد کوی نو د هغې وجه دا نه ده چه هغه د ده رشته داردی بلکه په دې وجه چه هغه په حق باندې دې. یو مسلمان له په دې څیز باندې راضی کیدل پکاردی دکوم چه اسلام اجازت ورکوی. د مسلمانانو د اسلام د ورورولۍ په لړۍ کښې پائیلل پکاردی او دجاهلی عصبیت غاړنکۍ او پتۍ د خپل څټ نه ویستل پکاردی. داعی له پکاردی چه په خپل خطاب کښې د لاندینی کارونو لحاظ اوساتی:

۱: د قرآنی آیتونو او نبوی احادیثو نه استهشاد او دنبی کریم صلی الله علیه وسلم، د نورو انبیاء کرامو او د صحابه کرامو د طرف نه د هغې د عملی تطبیق ذکر. د عملی تطبیق په ذکر سره د آیت او حدیث معنی واضحه کیدو سره مخې ته راځی او یو ژوندې حقیقت جوړیږی.

۲: په کتاب وسنت کښې د ذکر شوو قصصو او واقعاتو نه مدد اخستل. په دې کښې څه حرج نشته چه افکار و معانیو سره د قصصو او ضرب الامثالو په شکل کښې پیش کړې شی.څنګه چه په حدیث شریف کښې راغلې دی چه : اَرَاَیۡتُمۡ لَوۡاَنَّ فِیۡ بَابِ اَحَدِکُمۡ نَهۡرًا یَّغۡتَسِلُ فِیۡهِ فِی الۡیَوۡمِ خَمۡسَ مَرَّاتٍ اَیَبۡقٰی مِنۡ دَرَنِهٖ شَیۡءٌ؟ کچرې د چا د کور مخې ته یو نهر وی اوپه دې کښې هغه روزانه پنځه ځله لامبی نو آیا د هغه په بدن باندې به څه خیرې پاتې شی؟ خلقو اووئیل : نه، اې د الله رسول صلی الله علیه وسلم! نبی علیه السلام اوفرمائیل : کَذٰلِکَ الصَّلَاةُ۔ دمونځ همدا معامله ده.

۳: خطاب مختصر وی. په حدیث کښې راغلې دی چه : اِنَّ طُوۡلَ صَلَاةِ الرَّجُلِ وَقِصَرَ خُطۡبَتِهٖ مَئِنَّةٌ مِّنۡ فِقۡهِهٖ فَاَطِیۡلُوۡا الصَّلَاةَ وَاقۡصُرُوا الۡخُطۡبَةَ سړې دې مونځ اوږد او خطبه مختصر اوکړی نو دا د هغه د فقاهت نښه ده. بس تاسو خلق مونځ اوږد او خطبه مختصر کوئ.

دا حدیث د جمعې د خطبې په باره کښې راغلې دې، خو په دې باندې به نورو خطبو له هم قیاس کولې شی. سیوا ددې نه چه چرته اوږد خطاب کولو ضرورت محسوسیږی.

٤: خطابات زیات نه وی دې دپآره چه خلق تنګ نه شی. ددې دلیل دادې چه ابو وائل شفیق بن سلمه وائی: حضرت ابن مسعود به هر زیارت مونږ ته نصیحت کولو. یو سړی هغه ته اووئیل : اې ابو عبدالرحمن! زه غواړم چه تاسو هره ورځ مونږ ته نصیحت کوئ. هغوی

اووئیل : د دې نه ما دا خبره منع کوی چه داسې نه وی چه تاسو خلقو لره تنګ کړم. زه په کله کله نصیحت کولو سره ستاسو خلقو تربیت کوم، څنګه چه به نبی علیه السلام زمونږ تربیت کولو، په دې یره سره چه مونږ تنګ نه شو.

۵: د داعی خبره ساده او واضحه کیدل پکاردی. په دې وجه چه کوم خلق دې لره اوری هغه په خطاب باندې پوهیدو کښې د علم او صلاحیتونو په لحاظ سره په یو سطح باندې نه وی. نو کله چه ساده او واضحه طرز خپل کړی او مختصر جملې استعمالوی نو ټولو ته به فائده وی اوپه خطاب باندې به ټول خلق پوهیږی.

٦: دداعی دپاره فائده مند دی چه هغه دخپلې خطبې شروع داسې اوکړی چه دخلقو په زړونوکښې دخپل رب یاد تازه کړی.خطیب هغوی ته صرف هغه څه بیان کړی چه هغوی داالله نه اویروی. دخطبې مقصدمقابله بازی نه وی. دې دپاره چه خلق دهغه تعریف اوکړی چه دا خولوې عالم او ډیر ښه خطیب دې. اصل مقصددعوت الی الله د معانیو اشاعت دې.نو که ضرورت وی چه یوه خبره کوم چه هغه پخپل مقام باندې بیان کړې وی اوبل ځاې ئې هم بیان کړی نوهغه له پکاردی چه دهغې اعاده اوکړی-

ددې دلیل دادې چه رسول الله صلی الله علیه وسلم به دخپل دعوت باربار تکرار کولو. نبی علیه السلام به خلقو ته وئیل چه دیو الله عبادت کوئ او دهغه نه سیوا چه کوم معبودان دی هغه پریږدئ.دغه شان به دمسلمانانو په مخکښې په خطباتو کښې به نبی علیه السلام دتقوی او آخرت دپآره دعمل کولو اعاده کوله.پخپله په قرآن کریم کښې هم دحضرت موسی علیه السلام واقعه څو ځله بیا بیا

ذکر شوې ده دغه شان د عقيدې هم ډير اصول اومعانيو لره بيا بيا ذکر شوې دی.

۷: د خطيب دپاره مفيد دی چه د خپلې خطبې شروع دداسې خبرې نه اوکړی چه په هغې سره د خلقو توجه د هغه طرفته شی. مثلاً په خطبه کښې د موضوع تعلق د څه حادثې سره ، يا څه قصه ياڅه خيال چه د هغه په زړه کښې راغلې وی. کله چه د خلقو توجه د هغه طرفته شی نو خطيب دې خپل خطاب شروع کړی او په دې کښې په مزه مزه او د شوق نه ډک انداز کښې نصيحت سره د هغوی غوږونو ته اورسوی.

۸: داعی له پکاردی چه هغه پخپل فراست سره دحاضرينو زړه ته او د هغوی ذهنونو ته اوګوری اومعلوم کړی چه په هغوی باندې کومه بيماری غالب ده. دا رنګه که هغوی ته د څه څيززيات ضرورت دې. نو هغه د هغې مطابق خبره اوکړی او د دې بيمارئ تعلق د اسلامی عقيدې سره اوتړی. مثلاً که هغوی ته ضرورت دې چه هغوی ددې خبرې نه اويرولې شی چه هغوی دشريعت مخالف ته ملاتړلې ده اوپه دې کښې نورهم جرأت کوی نو د هغوی په مخکښې هغه آيتونه او احاديث بيان کړی چه د دې مسئلې سره متعلق دی او هغوی د اوږدو ارزوګانو نه منع کړی، او هغوی ته اووائی چه داحتياط تقاضا داده چه دوخت راتلو نه مخکښې توښه تياره کړې شی، او توښه تقوی ده. الله پاک ته دتلونکو مسافرو دپاره بهترينه توښه ده. د الله تعالی ارشاد دې:

وَتَزَوَّدُوْا فَاِنَّ خَيْرَ الزَّادِ التَّقْوٰى۔ [البقرة۲: ۱۹۷]

”او توښه ځان سره واخلئ،او د ټولو نه بهتره توښه پرهيزګاری ده.“

د هغوی مخکښې دې بیان اوکړی چه دګناه خوند چه ډیر مختصر وی، چه روستو دښپیمانتیا تریخ والې راتلونکې دې او د اوږدې مودې پورې د هغې په وجه په عذاب کښې اوسیدل به وی. عقل مند هغه دې چاچه دحرام څیز دخوند نه خپل ځان بچ کړو، ددې مقصد دپاره چه د حلال لذت نه خوند واخلی، چه دائمی دې او ددې مختصر خوند نه بچ کیدو سره د آخرت د همیشه عذاب نه خلاصې اومومی.

که خطیب وینی چه هغه کومو خلقوته خطاب کوی په هغوی باندې د مایوسۍ او نا امیدۍ غلبه ده او الله تعالی طرفته رجوع لره مشکل ګڼړی نو هغوی ته دا تعلیم ورکړۍ چه دالله تعالی رحمت ډیر زیات دې . اوڅوک چه په رښتونی زړه سره توبه کول غواړی نو الله تعالی دهغه توبه قبلوی. او دداسې خلقو په باره کښې الله تعالی فرمائی :

قُلْ يَاعِبَادِيَ الَّذِيْنَ اَسْرَفُوْا عَلٰٓى اَنْفُسِهِمْ لَا تَقْنَطُوْا مِنْ رَّحْمَةِ اللّٰهِ اِنَّ اللّٰهَ يَغْفِرُ الذُّنُوْبَ جَمِيْعًا ۔ [الزمر ۳۹: ۵۳]

اې نبی ﷺ دوی ته اووایه چه اې زما بندګانو، چاچه په خپل ځانونو باندې زیاتې کړې دې. د الله تعالی د رحمت نه مه مایوسه کیږۍ یقینًا الله ټول ګناهونه معاف کوی.

په دې سلسله کښې دهغه سړی قصه بیانولې شی. چاچه سل قتلونه کړې وو چه څنګه یو عالم هغه ته دالله تعالی طرفته د رجوع او یوکلی ته د تللو مشوره ورکړه د کوم خلق چه نیکان اوصالحان وو.

۹: داعی له پکاردی چه هغه آیاتونه او احادیثو لره بیانولو نه احتیاط اوکړی کوم چه عمومًا په پوهه کښې نه راځی د هغې په مفهوم باندې پوهولو دپاره اوږده تشریح کولو وی. د مثال په طور باندې

داحدیث چه: **مَنْ قَالَ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ خَالِصًا مِّنْ قَلْبِهٖ دَخَلَ الْجَنَّةَ**- چاچه دزړه په اخلاص سره **لااله الاالله** اووئیله جنت ته به داخل شی.

که دا حدیث بیانول وی نو داعی له پکاردی چه ددې پوره تشریح اوکړی دې دپآره چه خلق پرې صحیح طورباندې پوهه شی.

۱۰: داعی له پکار دی چه زر زر خبرې نه کوی او د هغه آواز بغیر د ضرور ته اوچت نه وی.

۱۱: بهتر به دا وی چه خطاب زبانی وی، نه چه د کاغذنه وئیلو سره اورول. د تقریر مفهوم د هغه په ذهن کښ وی، یعنی هغه مخکښ نه تیاری کړې وی.

**۲- درس:**

درس عمومًا د قرآن کریم د یو آیت تفسیر یا د رسول الله صلی الله علیه وسلم د حدیث په تشریح باندې مشتمل وی، یا هغه د فقهې دځه مسئلې وضاحت وی. دغه شان په درس کښ دخلقو یو مختصر تعداد موجود وی. هغه په اصل کښ خو د درس اوریدو دپاره راځی خو دا د داعی دپاره یوه بهترینه موقع وی چه هغه د نزدې نه دهغه خلقو سره پیژندګلو پیدا کړی او هغوی سره خپل تعلق مضبوط کړی.

په درس کښ دداعی دپآره ضروری ده چه هغه موضوع د مخکښ نه په ښه شان سره په ذهن کښ کینوی او اصل موضوع لره په مختصر انداز کښ پیش کړی.خبره خامخا اوږده نه کړی په دې وجه خبرې اوږدولو سره اصل موضوع د اوریدونکی د ذهن نه غائبیږی او هغه تنګیږی.

د قرآن د تفسیر په معامله کښ بهتر دا ده چه پخپله دقرآن په ذریعې سره د هغې وضاحت اوکړې شی. په دې وجه چه قرآن څه

خبرې لره يوځاې کښې مجمل بيان کړې ده نو په بل ځاې کښې ئې وضاحت کړې دې.که دځه خبرې نور وضاحت په قرآن کښې نه ملاوېږی نو سنت طرفته رجوع کولې شی.

دغه شان که دحديث تشريح بيانول وی يا د فقهې دځه مسئلې وضاحت کول وی نو بهتر دا ده چه کوم فقهی حکم د ده په نزد وزنی وی هغه بيان کړی. خو دا به هغه وخت ممکن وی هرکله چه هغه په فقهی اقوالو کښې د تميز قدرت لری او په دې کښې وزنی او غير وزنی لره معلومولې شی.که هغه دا نه شی معلومولې نو هغه له پکاردی چه د کوم يو مذهب مطابق حکم وی هغه بيان کړی او په دې مسئله کښې چه کوم اختلافی رائې دی هغه ذکر نه کړی. په دې وجه چه دې اختلاف لره ذکر کول د سامعينو ذهن لره منتشرکوی.

۳- **ليکچر**:

ليکچر عمومًا د يو موضوع د ټولو اړخونو احاطه کوی. په دې کښې د يو موضوع دپاره ځومره دلائل دی هغې لره ذکر کولې شی. ددې موضوع په باره کښې اوسه پورې ځومره څه وئيلې شوې دی دهغې ذکر کولې شی او د هغې په اقوالو کښې چه کومه خبره صحيح وی دهغې تعين کولې شی.

کامياب ليکچر هغه وی د کوم چه يو خاص او متعين هدف وی، کوم لره چه بيانولو والا داسې په واضح طور باندې بيان کړی چه د هغې يو اړخ هم ترې پاتې نه شی او سامع په مکمل طور باندې قانع شی.

کامياب ليکچر ورکوؤنکی له پکاردی چه هغه په خپل کلام کښې د باريکۍ نه کار واخلی او د اټکل نه کارنه اخلی. دارنګه هغه

جذباتي الفاظ او کلمات پيش نه کړي. د جذباتو مقام ليکچر نه دي بلکه خطاب دي. ليکچرې ورکوؤنکي خواه خپل مقصد ته رسولو دپاره سامعينو لره په خپلو خبرو کښې شريک کړي. او د هغې طريقه به دا وي چه هغه تمهيدي خبرې اترې کولو سره د موضوع د نتيجې هغه مقدمات د هغوی مخې ته کيږدي کومو ته چه د خپل تحقيق په دوران کښې د هغه رسيدل کيږي. که هغه په دې مقدماتو باندې سامعينو لره په مطمئنو کولو کښې کامياب شي نو د هغه نتيجې ته رسيدل به آسان شي.

ليکچر ورکوؤنکی ته پکار دی چه هغه کومې نتيجې ته رسيدل غواړي، د هغې دپاره مخکښې څه متعين مقدمات متعين اوساتي، او هغه مقدمات په داسې مسائلو باندې مشتمل وي چه بالکل واضح او مشهور وي.

ليکچرار لره د دقيق مسائلو او د داسې مشتبه خيالاتو نه ځان ساتل پکار دي په کوم کښې چه د اخذ وقبول او ترديد دواړو امکان موجود وي. دغه شان هغه داسې مسائلو لره موندلو دپاره مقدمات نه جوړوي چه په ذاتِ قبول د ثبوت مستحق وي. مثلاً هغه مسائلو لره د خپلې موضوع د مقدماتو په طور باندې پيش نه کړي کوم ته چه په موجوده دور کښې فلسفيانه مسائل وائی.

که ليکچرار غواړي چه بعضې ديني حقائق، يا د عقيدې اصول، لکه بعث بعدالموت وغيره، نو د هغه دپآره به دومره کافي وي چه هغه د خلقو نظر هغه طرفته متوجې کړي چه مونږ د مرګ او د دوباره ژوندی کيدو په حيواناتو او اُونو بوټو کښې په مشاهده کوو نو بيا انسان ته په دوباره ژوندی کيدو کښې څه رکاوټ دې. بيا دې حقيقت لره د هغوی په

ذهن کښې د زيات راسخ کولو دپاره بعضې مثالونه پيش کړو. همدا انداز په قرآن کريم کښې ذکر دې. مثلاً د الله تعالى ارشاد دې:

وَمِنْ اٰيٰتِهٖٓ اَنَّكَ تَرَى الْاَرْضَ خَاشِعَةً فَاِذَآ اَنْزَلْنَا عَلَيْهَا الْمَآءَ اهْتَزَّتْ وَرَبَتْ اِنَّ الَّذِيْٓ اَحْيَاهَا لَمُحْيِ الْمَوْتٰى اِنَّهٗ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ [حم السجدة ۴۱: ۳۹]

"او د الله تعالى په نښو کښې يوه دا ده چه تاسو وينئ زمکه او ده پرته ده بيا کله چه په دې باندې مونږ اوبه راورولې، سمدست هغه تازه شي او راوپړسيږي. يقينًا کوم الله چه دې مړه شوې زمکه له راژوندې کوي هغه مړو ته هم ژوند ورکولو والا دې. يقينًا هغه په هر څيز باندې قدرت لري."

معلومه شوه چه د حيات بعدالموت يو کتونکې حقيقت دې. مړه زمکه هغه وي په کوم کښې چه څه شنه نه وي، نه په هغې کښې د ژوند څه آثار په نظر راځي، الله تعالى په هغې باندې باران کوي هغه زمکه راوپړسيږي او په دې کښې ژوندي اوني بوټي راپيدا شي چه دهغې مختلف رنګونه او مختلف ذائقې وي.

يقينًا هغه الله چاچه دې زمکې له د مرګ نه پس ژوندئ کړه هغه مړو له هم د مرګ نه پس به ژوندي کوي، ځکه چه هغه ده له د نطفې د يو څاڅکي نه پيدا کړې وو. دا څاڅکې کوم له چه مونږ پيژنو او وينو. او دا خبره معلومه او محسوسه ده چه په دويم ځل پيدا کول د اول ځل پيدا کولو په نسبت زيات آسان وي. د الله تعالى ارشاد دې:

وَضَرَبَ لَنَا مَثَلًا وَّنَسِيَ خَلْقَهٗ قَالَ مَنْ يُّحْيِ الْعِظَامَ وَهِيَ رَمِيْمٌ۔ قُلْ يُحْيِيْهَا الَّذِيْٓ اَنْشَاَهَآ اَوَّلَ مَرَّةٍ وَّهُوَ بِكُلِّ خَلْقٍ عَلِيْمٌ [يٰس ۳۶: ۷۸-۷۹]

انسان اوس په مونږ باندې مثالونه چسپان کوي او خپل پيدائش له هيروي. وائي : څوک به دې د هډوکو له ژوندي کوي هر

کله چه دا ریږیدلي وی. هغه ته اووایه دي لره هغه ژوندي کوی چاچه مخکښ ده لره پیدا کړي وو، او د هغه د تخلیق په هر کار باندي پوهیږی.

دا خوشو د لیکچر عمومی حیثیت، خو د یو داعی انسان لیکچر بالکل خشک هم نه وی، بلکه هغه له پکار دی چه خپل لیکچر کښ عقلی او وجدانی طور باندي څه داسي تحریک پیدا کړی چه په هغي سره اسلام حقائق او اسلامی عقیدي تعلیماتو طرف ته متوجه کړی. دا وجدانی تحریک د مسلمان په زړه کښ موجوده ایمانی جذبي لره راوچتولو سره پیدا کیږی.

### ٤- مباحثه اومناظره:

مباحثه او مناظره د دوؤ یا د دوؤ نه زیاتو سړو په مینځ کښ وی. په هغي کښ هرسړي خپل نقطه نظر بیانوی داعی چه کله چالره الله طرفته دعوت ورکوی نو بعضي وختونو کښ مخاطب د هغه خبري لره نه قبلوی او هغه داعی سره مباحثه او مناظره کوی. قرآن کریم د مباحثي بعضي صورتونه ذکر کړي دی. چه کوم د انبیاء کرامو او د قومونو په مینځ کښ پیش راغلي وو. په هغي کښ یو د الله تعالی دا ارشاد دي:

لَقَدْ اَرْسَلْنَا نُوْحًا اِلٰى قَوْمِهٖ فَقَالَ يَا قَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ مَا لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ اِنِّيْ اَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيْمٍ۔ قَالَ الْمَلَاُ مِنْ قَوْمِهٖ اِنَّا لَنَرَاكَ فِيْ ضَلَالٍ مُّبِيْنٍ۔ قَالَ يَا قَوْمِ لَيْسَ بِيْ ضَلَالَةٌ وَّلٰكِنِّيْ رَسُوْلٌ مِّنْ رَّبِّ الْعٰلَمِيْنَ۔ اُبَلِّغُكُمْ رِسَالَاتِ رَبِّيْ وَاَنْصَحُ لَكُمْ وَاَعْلَمُ مِنَ اللّٰهِ مَا لَا تَعْلَمُوْنَ۔ اَوَعَجِبْتُمْ اَنْ جَاءَكُمْ ذِكْرٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ عَلٰى رَجُلٍ مِّنْكُمْ لِيُنْذِرَكُمْ وَلِتَتَّقُوْا وَلَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ۔ [الاعراف ٧: ٥٩-٦٣]

"مونږ نوحؑ لره د هغه قوم طرفته اولیږلو. هغه اووئیل اې بردرانِ قوم! د اللّٰه بندګی اوکړئ، د هغه نه سیوا ستاسو بل خدائې نشته . زه ستاسو په حق کښ د یو سخت ورځې د عذاب نه یریږم. د هغه د قوم خلقو جواب ورکړو چه مونږ ته خو په نظر راځی چه ته په صریح ګمراهئ کښ مبتلا ئې. نوحؑ اووئیل: اې بردرانِ قوم! زه په څه ګمراهئ کښ نه یم بلکه زه د رب العالمین رسول یم، تاسو ته د خپل رب پیغامات در رسوم، ستاسو خیرخواه یم ماته د اللّٰه دطرف نه هغه څه معلوم دی چه تاسو ته معلوم نه دی. آیا تاسو ته په دې خبره باندې تعجب اوشو چه تاسو ته ستا سو د قوم یو سړی په ذریعه سره ستاسو درب دطرف نه یاد دهانی راغله دې دپاره چه تاسو خبردار کړی اوتاسو دغلط روش نه بچ شئ،او په تاسو رحم اوکړې شی."

مدعو چه کله دخپل داعی سره مباحثه او مناظره کوی نو کله کله خو هغه په خپل داعی باندې د الزام لګولو حده پورې رسی او هغه وائی چه دې په صریح ګمراهئ کښ مبتلا دې. د مدعو دا ګمراهی هغه لره نه خیرانوی او نه هغه دخپل وقار او سکون نه خارج کوی.بیاهم هغه خپل مدعو ته پوره وزن ورکوی، دهغه سره شفقت کوی،څنګه چه دحضرت نوحؑ د جواب نه واضح دی. داعی له پکاردی چه همیشه ددې خبرې لحاظ اوساتی چه دخپلې مباحثې اومناظرې په خبرو کښ بهترین انداز اختیارکړی، پاکیزه خبرې اوکړی او پوره ادب لره ملحوظ اوساتی، د تواضع او سکون نه کار واخلی خپل آواز اوچت نه کړی او مد مقابل ته غصه ورنه ولی اونه د هغه مذاق اوچت کړی. هغه د مخاطب سره خپلې خبرې اترې اوچتې او په اعلی سطح باندې اوساتی او د هغه سره د نرمی اوشفقت جاری اوساتی، خپلو خبرو لره دسختئ او خشونت

نه خالی اوساتی، خو په دې کښې د مخاطب د مطمئن کولو قوت موجود
وی او په دې سره حق واضحه کیدو سره ښکاره شی.
دا ټولې خبرې دالله تعالی ددې ارشاد نه مستفاد دی:

ادْعُ إِلَىٰ سَبِيلِ رَبِّكَ بِالْحِكْمَةِ وَالْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ وَجَادِلْهُم بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ

[النحل ١٦: ١٢٥]

"اې نبی ﷺ! دخپل رب لارې طرفته دعوت ورکړه په حکمت اوښه نصیحت سره، او خلقو سره مباحثه کوه په داسې طریقه باندې چه بهترینه وی."

بیا که مخاطب په خپل باطل موقف باندې ټینګ وی په ضدکښې راځی او دهغه سره د نورو خبرو فائده نه وی نو داعی له پکاردی چه دهغه سره مباحثه پرېږدی او د الله تعالی دا ارشاد پیش نظر اوساتی:

قُلْ يَا أَيُّهَا النَّاسُ قَدْ جَاءَكُمُ الْحَقُّ مِن رَّبِّكُمْ فَمَنِ اهْتَدَىٰ فَإِنَّمَا يَهْتَدِي لِنَفْسِهِ وَمَن ضَلَّ فَإِنَّمَا يَضِلُّ عَلَيْهَا وَمَا أَنَا عَلَيْكُم بِوَكِيلٍ [یونس١٠: ١٠٨]

"اې محمد ﷺ! اووایه چه خلقو!تاسوته دخپل رب دطرف نه حق راغلې دې. اوس چه څوک نیغ لار اختیار کړی د هغه په لار کیدل د هغه دپاره فائده منددی، اوڅوک چه ګمراه وی دهغه ګمراهی دهغه دپاره تباه کوؤنکی ده. او زه په تاسو باندې څه حواله دار نه یم."

دارنګه داچه: وَقُلِ الْحَقُّ مِن رَّبِّكُمْ فَمَن شَاءَ فَلْيُؤْمِن وَمَن شَاءَ فَلْيَكْفُرْ [الکهف١٨ : ٢٩]

"صفا اووایه چه داحق دې ستاسو د رب دطرف نه، اوس چه دچا زړه غواړی او دې منی او د چازړه غواړی انکار دې اوکړی."

د داسې خلقو سره مباحثه پرېخودل یو صحیح طریق کار دې.په دې وجه د بعضې خلقو سره د مباحثې څه فائده نه وی.ځکه چه هغه د مباحثې په ذریعه حق ته رسیدل نه غواړی بلکه د هغه مقصدخپل

ځان لوې ثابت کول او ضدوعناد وی.

دالله تعالی ارشاد دې:

وَلَوْ نَزَّلْنَا عَلَيْكَ كِتَابًا فِي قِرْطَاسٍ فَلَمَسُوهُ بِأَيْدِيهِمْ لَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا إِنْ هَٰذَا إِلَّا سِحْرٌ مُّبِينٌ

[الانعام٦: ٧]

"که مونږ په تا باندې څه کاغذ باندې ليکلې شوې کتاب هم نازل کړو او خلق هغه په خپل لاس مسح کولو سره هم اووينی بياهم چه چادحق نه انکار کړې دې هغوی به دا وائی چه دا خو ښکاره جادو دې."

## ٥- امر بالمعروف او نهی عن المنکر:

امر بالمعروف او نهی عن المنکر عمومًا په ژبې سره وی. غير مسلم ته د اسلام دعوت ورکول هم داسې قسمه څيز دې. دغه شان يو ګناهګارمسلمان ته د الله تعالی د اطاعت دعوت ورکول او هغه د شريعت د خلاف ورزئ نه منع کول هم  امر بالمعروف او نهی عن المنکر دې.

د دې نه علاوه د دې ټول قسمونو د اوامرو او نواهيو رخ کله د يو فرد طرفته کيږی او کله د يو نه زياتو افراد يا خلقو چه يو پوره جماعت طرفته، يابالعموم ټولو انسانانو طرفته. د دې مقصد داوی چه خلق ددې احکامو تابعداری اوکړی کوم چه اسلام راوړی دی او د هغه څيزونو نه منع شی چه د دې نه خلاف دی. په دې سلسله کښې څو جامع قواعدپه کومو چه داعی له پوهيدل پکار دی لاندينی دی:

# د امربالمعروف او نهی عن المنکر قواعد

**۱- علم:**

د کوم معروف طرفته چه اسلام حکم ورکوی او د کوم منکر نه چه هغه منع کوی د هغې علم ضروری دې په سلف صالحینوکښ دچاقول دې چه امربالمعروف او نهی عن المنکر دې هغه څوک کوی چه فقیه وی،د هغه معروف د کوم چه حکم ورکوی او د هغه منکر د کوم نه چه منع کوی. دا خبره واضحه ده. دا داسې خبره ده چه کوم سړې د چا مریض علاج کوی د هغه دپآره ضروری ده چه بیمارئ لره هم اوپیژنی او علاج هم معلوم وی. مطلب دا دې چه هغه ښه طیبب وی. دغه شان دداعی معامله ده دا خبره د الله تعالی د هغه ارشاد نه مستفاد ده چه :

قُلْ هٰذِهٖ سَبِيْلِيْٓ اَدْعُوْٓا اِلَى اللّٰهِ عَلٰى بَصِيْرَةٍ اَنَا وَمَنِ اتَّبَعَنِيْ [یوسف ۱۲: ۱۰۸]

"ته دوی ته صفا اووایه چه زما لاره خو دا ده، زه د الله طرفته بلل کوم، زه ځپله هم په پوره رڼړا کښ خپله لار وینم او زما ملګری هم."

مونږ چه کومه خبره کړې هغ د بصیرت په ضمن کښ راځی.

**۲- نرمی:**

د هغې بنیاد هم کتاب وسنت دې حضرت موسی او هارون علیهماالسلام ته خطاب کولو سره الله تعالی فرمائی :

اِذْهَبَآ اِلٰى فِرْعَوْنَ اِنَّهٗ طَغٰى، فَقُوْلَا لَهٗ قَوْلًا لَّيِّنًا لَّعَلَّهٗ يَتَذَكَّرُ اَوْ يَخْشٰى [طٰهٰ ۲۰: ۴۳-۴۴]

"لاړشئ تاسو دواړه فرعون ته چه هغه سرکش شوې دې. دهغه سره په نرمئ خبره کوه،شاید چه هغه نصیحت قبول کړی یا اویریږی."

نرمه خبره وئیل،کوم طرف ته چه په دې آیت کریمه کښ اشاره ئې کړې ده، هغې لره الله تعالی په سوره نازعات کښ هم ذکر کړې ده د

الله تعالی ارشاد دي:

اِذْهَبْ اِلٰى فِرْعَوْنَ اِنَّهٗ طَغٰى۔ فَقُلْ هَلْ لَّكَ اِلٰٓى اَنْ تَزَكّٰى۔ وَاَهْدِيَكَ اِلٰى رَبِّكَ فَتَخْشٰى۔

[النازعات۷۹: ۱۷۔۱۹]

"فرعون ته لاړشه هغه سرکش شوې دې، او هغه ته اووایه : آیا ته د دې دپاره تیارئې چه پاکوالې اختیارکړې او زه ستا رب طرفته ستا رهنمائی اوکړم نو(د هغه) یره په تاکښې پیدا شی؟"

دا خطاب حق لره د صراحت سره بیانوی خو په دې کښې نرمی موندلې شی د کوم په وجه سره چه مخاطب په خپل زړه کښې، چه د باطل سره درووند بوجې شوې دې څه بوج محسوس نه کړی.

بیا په خطاب کښې نرمی دې حده پورې مخکښې شوې ده نو څنګه الله تعالی واقعه بیان کړې ده، حضرت موسی علیه السلام فرمائی:

اِنَّا قَدْ اُوْحِيَ اِلَيْنَآ اَنَّ الْعَذَابَ عَلٰى مَنْ كَذَّبَ وَتَوَلّٰى ۔[طٰہٰ۲۰: ۴۷]

"مونږ ته په وحی سره خودلې شوې دی چه عذاب دې دهغه چا دپاره چه څوک تکذیب اوکړی او مخ واړوی."

دا د فرعون یرولو دپاره یو ربنتونی او لطیف انداز دې. په دې کښې الله تعالی د عذاب خبره براهِ راست فرعون طرفته منسوب نه کړه بلکه وې فرمائیل: عَلٰى مَنْ كَذَّبَ وَتَوَلّٰى یعنی عذاب د هغه چا دپاره دې چه تکذیب اوکړی او مخ واړوی.

په دې کښې چه د یرې ورکولو چه کوم لطیف انداز او نرمی موندلې شی هغه د چانه پټه نه ده. او کله چه حضرت موسی علیه السلام ته الله تعالی د نرمۍ حکم ورکړو، حالانکه موسی علیه السلام معصوم دې او الله تعالی د هغوی حفاظت کړې دې، نو د نورو

داعیانو دپاره د نرمۍ او شفقت زیات ضرورت دې په دې وجه اوس به څوک هم داعی د موسی علیه السلام نه افضل نه وی او د هغه مخاطب به د فرعون نه زیات بد نه وی. په حدیث شریف کښې راغلې دی:

مَاكَانَ الرِّفْقُ فِيْ شَيْءٍ اِلَّا زَانَهُ وَلَا كَانَ الْعُنْفُ فِيْ شَيْءٍ اِلَّا شَانَهُ۔

"په کوم څیزکښې چه هم نرمی کیږی هغه ښائسته وی اوپه کوم څیز کښې هم چه د سختۍ نه کاراخستلې شی هغه خرابیږی."

په یوحدیث کښې دی چه:

اِنَّ اللهَ رَفِيْقٌ يُّحِبُّ الرِّفْقَ فِي الْاَمْرِ كُلِّهٖ وَيُعْطِيْ عَلَيْهِ مَالَا يُعْطِيْ عَلَى الْعُنْفِ۔

"الله تعالی نرم دې او په هرڅیز کښې نرمی خوښوی. الله تعالی نرمۍ سره هغه څه ورکوی چه په سختۍ سره ئې نه ورکوی."

په دې کښې شک نشته چه دعوت الی الله او امر بالمعروف ونهی عن المنکر کښې چه کومه نرمی وی په هغې کښې رفق داخل دې د کوم چه حکم ورکړې شوې دې. په هغې کښې هم څه شک نشته چه داعی بعضې وخت امربالمعروف اونهی عن المنکر کښې د دې نرم طریق کار نه اووځی. خو هغه له پکاردی چه همیشه خپل ځان د دې خبرې دپاره آماده اوساتی. په دې وجه چه هم دا هغه درست طریق کار دې کوم طرف ته چه سنت نبوی رهنمائی کړې ده او رسول الله صلی الله علیه وسلم دې لره عملی کولو سره خودلې ده.

په دې عملی نمونو کښې یوهغه ده چه دحضرت معاویه بن حکم سلمی نه روایت دې، هغه وائی چه مایوځل نبی علیه السلام سره مونځ کولو. په دې دوران کښې په خلقوکښې چا انتروشکې اوکړو نو ما اوورئیل : یرحمک الله دې اوریدو سره خلقو ماته په غصه نظرونو سره اوکتل. ماوورئیل: روره څه اوشو؟ ماطرفته ولې ګورئ؟ خلق نورهم

زيات پريشانه شول او په خپل پنډو ئې لاس وهلو سره ئې زه خاموش کولم. رسول الله صلی الله عليه وسلم چه کله مونځ پوره کړو، زما مور پلار دې په هغوی قربان وی،ما د هغه په شان معلم نه مخکښ ليدلې وو او نه روستوليدلې دې، والله! نبی عليه السلام نه زه اورټلم،نه ئې اووهلم او نه ئې راته بدرد اووئيل.نبی عليه السلام صرف دومره اوفرمائيل :

**اِنَّ هٰذِهِ الصَّلَاةَ لَا يُصْلِحُ فِيْهَا شَيْءٌ مِّنْ كَلَامِ النَّاسِ، اِنَّمَا هِيَ التَّسْبِيْحُ وَالتَّكْبِيْرُ وَقِرَاءَةُ الْقُرْآنِ۔**

"دا مونځ دې، په دې کښې انسانی خبرې صحيح نه دی. په دې کښې صرف تسبيح، تکبير او د قرآن تلاوت کيږی."

### ۳- په مصلحتونو باندې نظر:

د دې نه مراد دا دې چه امربالمعروف او نهی عن المنکر والا د دې خبرې ژوره پوهه او بصيرت لری چه کومه خبره په مصلحت باندې مبنی ده اوکومه نه ده، او هغه په کومه خبره قادر اوپه کومه خبره قادر نه دې.هغه چه دکوم څيز په باره کښې امربالمعروف او نهی عن المنکر کوی،که ددې په باره کښې د مصلحت او فساد خپل مينځ کښې مقابله وی نوهغه اوګوره، که صورت حال داوی چه دده په خبره کښې موندونکی فوائد دهغه خرابئ نه زيات وی چه ددعوت نه ورکولو په صورت کښې راپيښيږی، نو په هغه لازم دی چه امربالمعروف او نهی عن المنکر اوکړی،خو که معامله الټه وی،يعنی د دعوت ورکولو نقصان د دعوت نه ورکولو نه زيات وی نو امربالمعروف او نهی عن المنکر نه صرف داچه واجب نه دې، بلکه کله خو حرام کيږی.

## ٤- د معروف او منکر یوځاې کول:

داعی دې د معروف د مختلفو قسمونو په باره کښې مطلقًا دعوت ورکړی، او دغه شان دې د منکر د ټولو قسمونو په باره کښې مطلقًا نهی اوکړی. خو چه کله د یو خاص فرد یاډلې په باره کښې معامله پیښه وی په کوم کښې چه معروف هم موندلې شی او منکر هم، نو د هغې دوه صورتونه جوړیږی: یاخو به هغه معروف اومنکر دواړو لره کوی. یابه دواړو لره پریږدی. داعی له پکار دی چه غور اوکړی،که د معروف فائده زیاته وی، د کوم چه هغه حکم ورکوی نو هغه له پکاردی چه ددې حکم ورکړی، اګر چه هغه فرد یا ډله په څه منکرکښې مبتلا وی، کوم لره چه ډیرو معروفاتو پټه کړې وی.دغه رنګه که د منکرنقصان د معروف دفائدې نه زیات وی نو داعی له پکاردی چه خپل مخاطب لره ددې نه منع کړی،اګرچه ددې په وجه سره دامربالمعروف نه کولو په بناء دڅه ښیګړې نه محروم کیدل وی چه په بدو سره پټه شوې وی. که دداعی په مخکښې معامله ددې نه هم زیات مشتبه شی نوبیاهغه ته پکاردی چه توقف اوکړی،تردې چه دهغه مخې ته معامله واضحه شی. نوچه هغه کوم قدم هم اوچتوی په علم سره ئې اوچت کړی اوخپل نیت خالص کړی.

## ٥- رسوَل په قدر دامکان:

د تبلیغ فریضه ادا کولو دپاره دا خبره شرط نه ده چه د داعی خبره د دنیا هر مکلّف انسان ته اورسی. په دې وجه چه دا د رسالت د تبلیغ په شرائطو کښې هم داخل نه دې، نو کوم څیز چه د رسالت قائم مقام وی په هغې کښې دا خبره څنګه شرط ګرځولې شی. بلکه شرط دا دې چه مکلّف خلق د دې خبرې امکانات پیداکړی چه حق هغه ته

اورسی. که هغه په دې کښې کوتاهی کوی او هغه د دې خبرې دپاره کوشش نه کوی چه حق هغه ته اورسیدو،باوجود ددې چه څه خلق د دې کار دپاره اودریدل او هغوی خپله فریضه اداکوی. په دې صورت کښې به کوتاهی دخلقو وی نه چه دداعی.

## ٦- خط وکتابت او تحریر:

خط وکتابت اوتحریر، څنګه چه مونږ مخکښې اشاره کړې ده، د دعوت الی الله په معامله کښې قول او خبرې اترې یو قسم شمارکیږی. په دې کښې خو به یاهغه خلقو ته خطونه لیکلې کیږی کوم ته چه داعی اسلام طرفته دعوت ورکول غواړی او د اسلام مخالف امورو لره دده نه خلاصول غواړی یا بیا لیکلو او د تحریر هدف کتابونه تالیف کول او مختلف مجلاتو دپاره علمی او تحقیقی مقالات ومضامین لیکلې کیږی. دا دواړه د دعوت الی الله ښه ذریعې دی.

رسول الله صلی الله علیه وسلم به خپل ملګروته حکم ورکولو چه د غیر مسلم ملکونو باچاهانو ته خطونه اولیکئ. په هغې کښې به رسول الله صلی الله علیه وسلم خلقو له د الله طرف ته او د اسلام قبلولو طرف ته دعوت ورکولو. څنګه چه نبی علیه السلام دعراق او ایران باچا کسریٰ، د شام هرقل او د مصر مقوقس په نوم خطونه لیږلې وو.

د علماءِ اسلام هم دا طریقه وه چه هغوی به مسلمانانو باچاهانو ته خطونه لیکل. او په هغې کښې به هغوی باچاهانو ته ددې کارونو دعوت ورکولو کوم چه الله تعالی په هغوی باندې لازم کړې دی. د دې یومثال دامام اوزاعی هغه خط دې چه هغوی په شام کښې عباسی باچا ته د ذمیانو په باره کښې لیکلې وو.په دې کښې ئې دهغه دې خبرې طرف ته توجه اړولې وه چه د ذمیانو د جائز حقوقو خیال دې اوساتلې شی.

د دې نه علاوه په اسلامی تعلیماتو باندې مشتمل کتابونه لیکل تحقیقی مضامین او مقالات لیکل د دعوت الی اللّٰه یوه مفیده ذریعه ده. خصوصًا کله چه هغه داسې ژبو ته ترجمه کړې شی کوم لره چه د اسلام نه متعارف کول او هغوی ته د اسلام دعوت ورکول پیش نظر وی.نو په دې طریقې سره به په لکهونو داسې خلقو ته د اسلام دعوت رسیدل ممکن شی چه کوم عربی ژبه باندې نه پوهیږی اوکومو ته چه اسلامی تعلیمات نه وی رسیدلې.

د کتابونو او مقالاتو په لیکلو کښ دا خبره ملحوظ ساتل پکار دی چه دهغې خطاب عمومی وی او هغې لره زیاتو نه زیات خلق اولولی، اګرچه د علم اوفهم په لحاظ سره د هغې سطحې مختلف وی.

نو داعی له پکاردی چه کتابونه او مقالات په ساده انداز کښ اولیکی.... د هغې مفهوم واضح وی، تردې چه هغه خلق پرې هم پوهه شی په چاکښ چه د پوهیدو صلاحیت کمزورې وی.

داعی چه پخپل کتاب یا مقاله کښ کوم خیالات پیش کوی هغه داسې وی چه کچرې څوک انسان اسلام لره قبلول غواړی، نو هغه د دې تعلیماتو نه مخ نه شی اړولې. د داعی کتابونه د دقیقی اختلافی مسائلو نه پاک کیدل پکار دی، په هغې کښ اختصار پیش نظر وی اوپه دې کښ د معانیو لحاظ سره یادفهم د تقاضو په لحاظ سره څه خرابې نه وی.

## په عمل سره دعوت رسوَل

### د عمل نه مراد:

دلته د دعوت رسولو په معامله کښ د عمل نه زمونږ مراد په عملی طور باندې د منکر ازاله کول دی. او عمومًا کیږی هم داسې. دا

هم جائز دی چه په عمل کښې د منکرازاله نه وی، بلکه د څه منکر قیام او نفاذ مقصود وی. لکه د مسجد او مدرسې وغیره په تعمیر کښې په کوم کښې چه د الله تعالی د شریعت د اقامت دپاره کار اوکړې شی یا د هغې دپاره تیارې کولې شی. دا د اسلام طرفته یو خاموش دعوت به وی او دا د دعوت الی الله د اشاعت یو فعال او مؤثر ذریعه به وی.

## منکر لره د ختمولو بنیاد:

د منکر د ازله کولو اصل بنیاد د رسول الله صلی الله علیه وسلم دا ارشاد دې:

مَنْ رَاٰی مِنْکُمْ مُّنْکَرًا فَلْیُغَیِّرْهُ بِیَدِهٖ ، فَاِنْ لَّمْ یَسْتَطِعْ فَبِلِسَانِهٖ ، فَاِنْ لَّمْ یَسْتَطِعْ فَبِقَلْبِهٖ وَذٰلِكَ اَضْعَفُ الْاِیْمَانِ۔

"په تاسو کښې چه کوم کس بدی اووینی نو هغه دې په خپل لاس سره بنده کړی، که ددې طاقت ئې نه وی نو په ژبه سره، اوکه ددې ئې هم طاقت نه وی نو په زړه سره دې بد اوګڼړی. دا دایمان کمزورې درجه ده."

د منکر عملاً ازاله د یو داسې څیز ازاله ده چه د بدئ یاحق په لاره کښې رکاوټ وی. په دې وجه که په زمکه کښې څه منکر موجود وی نو هغه د خپل برابر یاد دې نه هم زیات حق دپاره رکاوټ جوړیږی. نو هغې لره زائل کول یا د هغې زائل کیدل ښیګړه او حق دخلقو دپاره د آسان جوړولو په خاطربه وی. نو دا هم د امربالمعروف د پوره والی بلکه د دې یو اړخ دې.

## د منکر د ختمولو عمومی قواعد:

د امربالمعروف او نهی عن المنکر په باره کښې مونږ دعمومی قاعدئ ذکر کړې دې، هم هغه قواعد دلته هم جاری کیږی. د منکر

ازاله کولو دپاره د هغه څيز علم اودهغې فهم ضروری دې دکوم چه داعی ازاله کول غواړی. دغه شان دمنکر په ازاله کولو کښ هم نرمۍ لره ملحوظ ساتل پکاردی. په دې وجه چه اصل مقصود دادې چه دمنکر ازاله اوشی چاته سزا ورکول یادچانه انتقام اخستل مقصود نه دی.

د بخاری په یو روایت کښ دی چه یو بانډیچی په مسجدکښ متیازې اوکړې. خلق دهغه د وهلو دپاره روان شو، خو نبی علیه السلام اوفرمائیل :

دَعُوْهُ وَاَرِيْقُوْا عَلٰى بَوْلِهٖ سِجْلًا مِّنْ مَّاءٍ اَوْ ذَنُوْبًا مِّنْ مَّاءٍ ، فَاِنَّمَا بُعِثْتُمْ مُيَسِّرِيْنَ وَلَمْ تُبْعَثُوْا مُعَسِّرِيْنَ۔

”پریږدې چه متیازې اوکړی، او (روستو) په دې باندې یو ډول اوبه واچوئ. تاسو آسانی پیدا کړئ،نه چه سختی او تنګی راوستونکې شئ.“

په داعی باندې لازم به وی چه د منکر ازاله کولو دپآره د اقدام کولو نه مخکښ هغه د فوائدو او نقصاناتو جائزه واخلئ او د هغې په مینځ کښ د مقابلې صورت هم اوګورئ. دغه شان به داعی ته معلومه شی چه د دې په ازالې کولو څه ښه یابد نتائج به راوځی.دغه شان په هغه سړی کښ د معروف او منکر یو ځاې کولو هغه صورت هم اوګورئ چه په څلورمه قاعده کښ بیان شوې دې. هغه سړې یاخو به دمعروف او منکر دواړو کار کوی یابه دواړه پریږدی. حالانکه معروف لره کول پکاردی او دمنکر نه بچ کیدل ضروری وی نو داعی دې اوګوری چه ددې متعین سړی په باره کښ دمنکر دازالې به څه فائده یانقصان وی. دلته مونږ دهغه عمومی قواعدو نه علاوه دمنکر د ازاله کولو په باره کښ څو نور قواعد اضافه کوو:

۱- دمنکر د ختمولو قدرت:

اوله خبره داده چه دمنکر ازاله کولو والا کښې دومره قدرت وی چه د منکر ازاله کولې شی، او په دې کښې شک نشته چه ددې قدرت په لحاظ سره د داعیانو په مینځ کښې فرق کیږی. د دې د ټولو نه زیات قدرت په حکمران کښې وی، یعنی هغه سړې چه د چا په لاس کښې اقتدار وی چه د اوامرو او نواهیو د اختیاراتو مالک وی.

همدا وجه ده چه دخپل کور د منکر د ازالې کولو په سلسله کښې به هغه د نورو په نسبت زیات جواب ده دې. په دې وجه چه هغه په شرعی طور باندې په دې کاربندې مامور دې چه هغه به دا ازاله کوی، او هغه ته په خپل کور کښې ولایت حاصل دې په دې وجه هغه په ازاله باندې قادرهم دې. همدا وجه ده چه دا دهغه ذمه داری ده.

البته که د منکر بعضې جزئیاتو کښې څه څیز په شرعی طور باندې د هغې دازالې بالمقابل راشی، په دې لحاظ سره که داعی دې جزوی خرابئ لره لری کوی نو په دې سره به بل طرفته داسې نقصان وی چه د حاصل شوې فائدې نه به زیات وی، نو څنګه په سابقه قواعدو کښې وئیلې شوې دی د دې منکر ازاله به صحیح نه وی.

که په داعی کښې دمنکر د ازاله کولو قدرت نشته دې، یا ازاله خو کولې شی خو ددې نه زیات منکر لازمیږی، یاپه هغې سره دڅه عظیم نقصان واقع کیدو یره ده. نو په دعوت الی الله کښې به ددې عملی اقدام ختم شی او داعی به په ژبې سره د ازالې طرف ته منتقل وی. خوکه هغه د دې هم طاقت نه لری نوڅنګه چه په حدیث کښې راغلې دی، داعی د دې نه هم لاندې راتلو سره په زړه سره د بدلولو طرفته به رجوع کوی.

ددې قاعدې په عملي نمونو کښې یو دادې چه رسول الله صلی الله علیه وسلم دمنافقانو سردار عبدالله بن ابی ته څه نه وو وئیلې،په دې وجه چه په مدینه کښې د هغه ډیر حمایتان موجود وو. ولی چه هغه سزا ورکولو سره ددې منکر ازاله کولو سره به د یو لوې معروف نه هم لاس وینځل وو. او هغه دا چه د هغه د قوم خلق چه په کښې بعضې رښتونی مسلمانان وو، خصوصًا د هغه ځوې حضرت عبدالله بن عبدالله بن ابی به خفا کیدو. ددې نه علاوه دا هم وو چه خلق به واوری نو هغوی به د اصل حقیقت نه ناخبره کیدو سره همدا خیال کوی چه محمدصلی الله علیه وسلم خپل ملګرو لره قتلوی.

## ۲- دمنکر نه نفرت او د هغې لرې کول بقدرِوسعت:

په دې خبره هم په ښه شان سره پوهیدل پکاردی چه دمنکر سره نفرت کامل او مکمل کیدل پکار دی ځکه چه د مسلمان په باره کښې اصل تصور همدا دې چه د هغه محبت دالله دمحبت موافق کیدل پکاردی او د هغه بغض دهغه څیز سره کیدل پکاردی کوم چه الله تعالی ته ناخوښه وی.

په دې موافقت کښې دڅه قسمه کمئ، خواه دیو طرف نه وی یا د دواړو طرف نه،په قطعی طوربانديې دایمان د ناقص کیدو دلیل دې. په دې وجه چه په زړه کښې منکرلره ناخوښه کول یو داسې امر دې چه په دې کښې څه قسمه ضررنه وی، نو که څوک داهم نه شی کولې چه هغه د منکر سره په زړه کښې نفرت اوساتی نو دا ددې خبرې دلیل به وی چه دده په ایمان کښې ضعف دې. بلکه دده زړه مړ دې او دده په زړه کښې ایمان نشته دې. په دې وجه چه په حدیث کښې منکرلره په لاس او ژبې سره منع کولو په شان دایمان مختلف مراتب ذکر دی،

دهغې په آخر کښې دی چه لَيْسَ وَرَاءَ ذٰلِكَ مِنَ الْإِيْمَانِ حَبَّةُ خَرْدَلٍ۔ ”ددې نه پس د ذرې برابر هم ایمان نشته دې.“

په لاس سره دمنکر ازاله یعنی په عملی طور باندې ددې خلاف اقدام کول دانسان په قوت اوقدرت باندې مبنی دی. په دې وجه چه الله تعالی چالره دهغه دطاقت نه زیات نه مکلّف کوی.د الله تعالی ارشاد دې: فَاتَّقُوا اللّٰهَ مَا اسْتَطَعْتُمْ [التغابن ٦٤: ١٦]

”ترڅو پورې چه ستاسو په وس کښې وی د الله تعالی نه یریږې.“

کله چه په زړه کښې دمنکر سره نفرت کامل وی او د هغې د بدلولو اراده پخه وی او مسلمان ددې خلاف دخپل وس مطابق کوشش کوی، یاعاجز کیدو په وجه سره ددې خلاف څه کار نه کوی نوهغه ته به ثواب ضرور ملاویږی.

### ۳- دمنکر لرې کولو دپاره دمباح اُمورو سهارا اخستل:

ددې اصل بنیاد دادې چه د خلقو تالیف قلب کول مشروع ګرځیدلې دی، دې دپاره چه خلق خیر طرفته وړاندې شی او د بدې نه لاس واخلی. نو ددې مقصد دپاره خلقوته مالی عطیات هم ورکولې شی. امام اوفقیه( او پنځم خلیفه راشد) حضرت عمربن عبدالعزیز رحمه الله نه نقل دی چه هغوی اووئیل: په الله قسم،زه خلقوته ددین څه حکم نه ورکوم، ترڅوپورې چه دهغې سره څه دنیوی اړخ هم دهغوی مخې ته پیش نه کړم، ددې په ذریعې سره دخلقو په زړونوکښې نرمی پیدا کوم، ځکه چه ماته یره ده چه د هغوی دطرف نه به ماته داسې څیز رامخ شی چه دهغې طاقت به په ما کښې نه وی.

دې وجه نه داعی لره جائز دی چه کوم سړې په څه ناجائزه کار کښې مبتلا دې هغه ته یو جائز دنیوی عوض هم فراهم کړی دا به هغه لره د ګناه په پریخودلو یا بدلولوباندې آماده کړی.

مثلاً دچا ځوې یادوست جواری کوی هغه د جوارې نه منع کولو دپاره هغه ته څوک انعام ورکوی. یاداسې دی څنګه چه دڅه مباح کار مثلاً په اس باندې د منډې مقابله یاننبه ویشتلو مقابله ګټلو،یادڅه داسې څیز په یادولو باندې انعام ورکړې شی، چه دهغې یادول مستحب وی. دغه شان که څوک سړې دفحش کتابونو او رسالو دلوستلوپه منکرکښ مبتلادې نوهغه ته پاکیزه کتابونه ورکړې شی یاڅوک درشوت عادی دې،یا د نورومال خوړلوکښ دتساهل نه کار اخلی نودهغه په اجرت کښ به اضافه کولې شی،اودغه شان نور امور.

## په ښه کردار سره دعوت رسول

### د ښه کردار اهمیت:

د دعوت الی الله او خلقو لره د اسلام طرفته مائل کولو ذرائعو کښ بهترینه ذریعه د داعی پاکیزه کردار،او د هغه قابل تعریف افعال، اعلی صفات او اوچت اخلاق دی. داځیزونه داعی لره د نورو دپاره بهترینه نمونه او د خوب صورتئ اسوه جوړوی. دهغې په بناء باندې د داعی ژوند د یو کهلاؤ کتاب په شان وی چه په هغې کښ خلق اسلامی تعلیماتو لره لولی، دغه شان هغه دې تعلیماتو طرفته وړاندې کیږی او دهغې طرفنه راښکلې کیږی. په دې وجه چه دافعالو او کردار اثر صرف دخبرو داثر نه څه زیات وی.

د دنیاپه اکثر ملکونو کښ داسلام اشاعت د مسلمانانو د پاکیزه سیرت او کردار په وجه سره اوشو، هغه کردارچه دغیرمسلمو نظرونه ئې ځان ته راښکل اوهغوی ئې په دې خبره باندې آماده کول چه هغوی اسلام ته غاړه ورکړی،داعی دخپل پاکیزه سیرت په ذریعه چه کومه اسوه حسنه پیش کوی هغه په اصل کښ داسلام علمی دعوت

دي، چه په هغې سره غیرمسلم د اسلام په حقانیت باندې استدلال کوی او هغوی یقین کوی چه اسلام دالله تعالی رالیږلې شوې دین دې داتاثر خاص طورباند په هغه غیر مسلمو باندې کیږی چه سلیم الفطرت او سلیم العقل وی.

دداعی دښه کردار د اهمیت او چه هغه کوم څیزطرفته دعوت ورکوی په هغې باندې دخلقو د ایمان راوړلو کښې دداعی دکردار اثراتو نه اندازه په دې خبرې سره لګولې شی چه حضرت خدیجه بنت خویلدرضی الله عنها ته چه کله رسول الله صلی الله علیه وسلم په غارحرا کښې د راپیښدونکې واقعې اطلاع ورکړه نو هغوی اووئیل چه تاسو ته دې مبارک وی، الله تعالی به کله هم تاسو لره رسوانه کړی،تاسو صله رحمی کوئ،رښتیاوایئ، تاسو خلقو سره ښیګړې کوئ او دحوادث زمانه په مقابله کښې مدد کوئ.

هغوی د رسول الله صلی الله علیه وسلم دداسې ښو اخلاقو ذکر اوکړو، د کومو په بناء باندې چه هغه درسول الله صلی الله علیه وسلم تصدیق او په حق کښې ئې د نبی علیه السلام په مدد کولو باندې ملااوتړله.

په یو روایت کښې دی چه یو بانډیچی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغلو او وې وئیل : ته څوک ئې؟ نبی علیه السلام او فرمائیل: زه محمدبن عبدالله یم. هغه سړی اووئیل چه آیا ته هغه ئې د چاپه باره کښې چه خلق وائی چه هغه دروغژن دې؟ نبی علیه السلام اوفرمائیل هاؤ زه هم هغه یم د چا په باره کښې چه د خلقو داګمان دې. بانډیچی اووئیل چه دا مخ د چادروغژن مخ نه دې.بیاهغه اووئیل تاسو د څه څیز دعوت ورکوئ؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم دهغه مخې ته

اسلامی تعلیمات بیان کړل، کوم طرفته چه به نبي علیه السلام دعوت ورکولو. بانديچی اووئیل چه ماپه تاسوباندې ایمان راوړو. زه ګواهی ورکوم چه دالله نه سیوا څوک معبودنشته، او زه ګواهی ورکوم چه محمد دالله رسول دې.

ددې نه معلومه شوه چه بانديچی دنبی علیه السلام مخ مبارک په هغه نښو سره، چه دیو ربنتونی او بااخلاقه خلقوکښ موندلې شی،په دې خبره باندې استدلال کړې دې چه تاسو په خپل دعوت کښ ربنتوني يئ.

## د ښه کردار اُصول:

ښه کردار،دکوم په ذریعه سره چه داعی د نورو دپاره ښه نمونه ثابتیږی،دهغې دوه لوې اصول دی: یو د ښو اخلاقو دویم د دقول وفعل موافقت. که چرته دا دواړه اصول موجود وی نو دداعی سیرت وکردار به ښه وی اودهغه کردار د اسلام طرفته خاموش دعوت به وی. خو که په داعی کښ دا دواړه امور موجود نه وی نودهغه سیرت به بد وی او دابه ددې خبرې خاموش دعوت وی چه خلق د اسلام نه متنفرشی. په دې وجه داعی له په دې اهم ترین معامله کښ دالله تعالی نه یره کول پکاردی اوهغه دخپل سیرت په وجه سره نورو لره د دین نه متنفرنه دی کول پکار،حالانکه داعی غواړی دا چه خلقو لره د دین طرفته راوبللې شی.

### ۱- ښه اخلاق:

دښه کردار ړومبې اصول ښه اخلاق دی. اول کښ مونږ په یو فصل کښ د اسلام د نظام اخلاقو په باره کښ بحث کړ يدې. دارنګه یوځای کښ مونږ دداعی اخلاقو لره بیان کړې دی. په دې وجه دلته

مونږ د هغه ټولو بحثونو اعاده نه کوو. دلته صرف دصبر او یوبل ته د معافۍ دصفاتو اعاده مناسب معلومیږی.

داعی دپاره ضروری دی چه د تکلیفونو په مقابله کښې بردبار او صابروی. په دې وجه چه دداعی به د تکلیفونو او مشکلاتو سره مخ کیدل ضرور راځی. که داعی دحلم او صبر نه کار وانه خلی نو دامام ابن تیمیه په قول : دې به داصلاح نه زیات فساد خورکړی. همدا وجه ده چه الله تعالی فرمائی :

خُذِ الْعَفْوَ وَأْمُرْ بِالْعُرْفِ وَأَعْرِضْ عَنِ الْجَاهِلِينَ [الاعراف ۷: ۱۹۹]

"د نرمۍ او معافۍ طریقه اختیارکړۍ، د نیکو تلقین کوۍ او د جاهلانو نه مخ واړوۍ."

لقمانِ حکیم چه خپل ځوی ته کوم نصیحت کړې وو دهغې په باره کښې د الله تعالی ارشاد دې:

وَأْمُرْ بِالْمَعْرُوفِ وَانْهَ عَنِ الْمُنكَرِ وَاصْبِرْ عَلَىٰ مَا أَصَابَكَ إِنَّ ذَٰلِكَ مِنْ عَزْمِ الْأُمُورِ

[لقمان ۳۱: ۱۷]

"د نیکې حکم ورکوۍ، د بدۍ نه منع کول کوۍ، او کوم مصیبت چه راشی په هغې باندې صبرکوۍ دا هغه خبرې دی دکوم چه ډیر تاکیدکړې شوې دې."

په دې وجه الله تعالی خپل رسولانو ته،چه امربالمعروف او نهی عن المنکر کولو والو امام دې،دصبرحکم ورکوی. فرمائی :

فَاصْبِرْ كَمَا صَبَرَ أُولُو الْعَزْمِ مِنَ الرُّسُلِ [الاحقاف ۴۶: ۳۵]

"صبرکوۍ څنګه چه اولوالعزم رسولانو صبرکړې دې."

بلکه دلته خو صبر د رسالت د ابلاغ سره متصلاً ذکر کړې شوې دې، چه دهغې اهمیت او دحق داعی دپاره دهغې د لازمی کیدو

دليل دي، رسول الله صلى الله عليه وسلم باندې داقرار نه پس اوله وحى دانازله شوه.

يَآيُّهَا الْمُدَّثِّرُ، قُمْ فَاَنْذِرْ، وَرَبَّكَ فَكَبِّرْ، وَثِيَابَكَ فَطَهِّرْ، وَالرُّجْزَ فَاهْجُرْ، وَلَا تَمْنُنْ تَسْتَكْثِرُ، وَلِرَبِّكَ فَاصْبِرْ۔ [المدثر ۷۴: ۱-۷]

"اې څادر اغوستونکيه! پاسه او خبردار کړه. او د خپل رب لوئى بيان کړه. او خپلې جامې پاکې ساته. او دګندګئ نه لرې اوسه. او احسان مه کوه ، د زيات احسان کولو دپاره. او دخپل رب دخاطره صبرکوه."

د دې آيتونو شروع د دې خبرې نه کيږى چه خلقو لره اويروه او هغوى ته دالله تعالى پيغام اورسوه. او اختتام په صبر کيږى. انداز امربالمعروف او نهى عن المنکر دې او د دې آيت نه معلومه شوه چه امربالمعروف او نهى عن المنکر نه پس صبر واجب دې.

حقيقت دادې چه داعى دخپل معافئ او دجاهلانو نه اعراض او د هغوى په تکليفونو باندې صبرسره هغه نتائج حاصلوى، چه ددې صفتونو نه بغيرنه حاصليږى. بلکه زه وايم چه د داعى صفات مخاطبينو لره په لازمى طور باندې په حق قبلولو باندې آماده کوى، اګرچه په دې کښې څه وخت لګى،سيوا د هغه خلقو نه په چاچه تقدير غالب راشى. په دې وجه چه د بدئ نه منع کول او دښه کارونو قوت ورکول هم دالله تعالى نه سيوا د چا په لاس کښې نشته. ولاحول ولاقوة الابالله۔

## ۲- په قول وفعل کښې مطابقت:

د ښه کردار دويم اصول په قول او فعل کښې مطابقت دې. داعى له د داسې خبرې نه هم محتاط اوسيدل پکاردى چه د هغه په قول وفعل کښې تضادوى. دافطرى خبره ده چه کوم سړې په خپل علم باندې

عمل نه کوی دهغه دخبرو څه فائده نه وی. په دې وجه حضرت شعیب علیه السلام خپل قوم ته وئیلې وو:

وَمَآ أُرِيۡدُ اَنۡ اُخَالِفَکُمۡ اِلٰی مَآ اَنۡهٰاکُمۡ عَنۡهُ [ھود۱۱: ۸۸]

"او زه هیڅ کله دا نه غواړم چه د کومو خبرو نه زه تاسو لره منع کول غواړم هغه په خپله اوکړم."

دغه شان الله تعالی مونږ ددې خبرې نه منع کوی چه زمونږ افعال زمونږ داقوالو نه خلاف وی.

د الله تعالیٰ ارشاد دے:

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا لِمَ تَقُوۡلُوۡنَ مَالَا تَفۡعَلُوۡنَ۔ کَبُرَ مَقۡتًا عِنۡدَ اللّٰهِ اَنۡ تَقُوۡلُوۡا مَا لَا تَفۡعَلُوۡنَ۔ [الصّف۶۱: ۲۔۳]

"اے هغه خلقو چه ایمان مو راوړې دې! تاسو ولې هغه خبره کوئ چه کوئ ئې نه؟ دالله په نزد داسخت ناخوښه حرکت دې چه تاسو وایئ هغه خبره چه کوئ ئې نه."

داعی له پکاردی چه همیشه خپل ځان په دې خبره باندې آماده اوساتی چه د هغه افعال د هغه د اقوالو مطابق وی. داځیز به خلقو لره، د هغه طرفته متوجه کیدو او د هغه دخبرې قبلولو ذریعه جوړېږی.

## باب : ۱۲

# عام معاملات

د دعوت په لاره کښې د يو داعی مختلف قسم سوالانو سره مخ کيدل راځی. د هغې جواب داعی بغير د سوچ کولو نه زرترزره ورکوی. په دې سلسله کښې داعی ته هوښيار اوسيدل پکاردی. هغه دخپلو ذمه دارو چه کوم په ده باندې دالله او د بندګانو د طرف نه واجب کيږی دهغې احساس کول پکاردی او د څه په باره کښې بغير د علم نه دڅه وئيلو نه ځان ساتل پکاردی.

### سوالات وجوابات:

دلته څه لطيف نمونې سوالات اودهغې جواباتو سره نقل کولې شی. واضح دې وی چه د سوالانو جوابونه چه مونږ سره دی هغې سره دهرسړی د اختلاف رائې کولو آزادی ده.يوداعی په ميدان عمل کښې دخلقو د طرف نه اکثرداسې سوالانو سره مخ کيدل راځی. داعی ته په عام طور باندې ورنه د تپوس کړې شوؤ مسائلو اومعاملاتو متعلق دشريعت د پوره علم مطالعه او علم ساتل پکاردی دې دپاره چه هغه په وخت سائل لره مطمئن کولو سره خپل دعوت لره په مؤثرانداز کښې پيش کړی. خوسوالانه سره دجوابونو په طور دنمونې دادی:

### الف- دعاداتو او احکامو سره متعلق سوالات :

**سوال:** په سنت باندې عمل کولوسره مونږ خپله ګيره غټه کړو يا زمانې سره ملګرتيا کولوسره هغې لره کټ کړو؟

**جواب:** د رسول الله صلی الله عليه وسلم دصحيح احاديثو نه ثابت دی چه بريت کټ کړئ او ګيرې غټې کړئ ديهودو مخالفت اوکړئ.[بخاری: کتاب اللباس]

د سلف صالحینو د عمل نه هم دا ثابت دی چه هغه وخت نه دی کله نه چه د اسلام آغاز اوشو. بعض فقهاؤ درسول الله صلی الله علیه وسلم سنتو لره په دوه حصو کښې تقسیم کړې دی. یو هغه سنتونه دی چه د عباداتو سره متعلق دی دویم هغه چه درسم او رواج سره متعلق دی.

د رسم او رواج دسنتو مقصددادې چه اسلامی رسمونواو رواجونو او اسلامی عاداتو لره په یو ښکاره حیثیت سره پیش کړې شی اوهم ددې نه دا خبره معلومیږی چه په ماحول او معاشره کښې اوسیدو سره په دې څیزونو باندې عمل کول پکار دی چه د اسلامی دعوت دپاره زیات مناسب وی. باوجود د دې چه دا خبره مسلّم ده چه هم دګیرې غتول اصل دی.

**سوال:** د سړی او ښځې اسلامی لباس څه دې؟

**جواب**: په اسلام کښې دسړی یاښځې دپاره دلباس تعین نه دې کړې شوې اوهم دا څیز د دین دحسن وجمال او د هغې نرمۍ طرفته اشاره ده. دلته صرف د دوارو د لباس تحدید کړ ې شوې دې چه د دې حدودو لاندې دې دوی بالکل آزاد پرې نخودلې شی.

د ښځې داسې لباس اغوستل چه هغې اغوستو سره هم هغه بربنډه په نظرراځی یا دومره بدن پورې پیوست لباس واغوندی چه په هغې سره د بدن خطوط ساخت ښکار او د فتنې ځایونه په نظر راځی یا داسې لباس واغوندی چه ډیر مختصر وی او د بدن نور اندمونه ښکاره وی یا دا چه دسړی د لباس سره مشابهت اختیار کړی چه د هغې حراموالې راغلې دې.

او د سړی په نسبت دا حکم دې چه د هغه د کونډو نه واخله تر نوم پورې دې، په دې وجه به هغه داسې لباس نه اغوندی چه په هغې سره د هغه ستر ښکاره شی یا په کوم سره چه خطوط ښکاره وی، د شهرت لباس هم نه اغوندی (یعنی داسې لباس چه خلقو لره خپل ځان ته متوجه کړی) داسې لباس به هم نه اغوندی چه د غیر مسلمو لباس دې (لکه د راهبانو او یهودیانو لباس وی) سره زر او ریښم به هم نه اغوندی (دکوم د حراموالی ذکر چه په روایتو کښ راځی) دښځو سره مشابهت والا لباس به هم نه اغوندی او نه به داسې لباس اغوندی چه په زمکه باندې راخکلې شی. ددې نه علاوه هغه ته اختیار دې چه څه غواړی هغه واغوندی.

**سوال:** د کمپنیانو او بینکونو نه حاصل کیدو والا فوائدو څه حکم دې؟

**جواب:** دا اصولی خبره دې یاد وی چه په هرقرض باندې چه کوم نفع ملاویږی هغه سود وی په اسلام کښ مال فی الواقع څه فائده نه ورکوی، فائده ورکوؤنکې څیز دې په کار کښ استعمالول دی.په دې وجه هغه مالونه چه د بینکونو او کمپنیانو نه ملاویږی چه دهغې په نفع کښ سړې خو شریک وی خو په نقصاناتو کښ شریک نه وی نوهغه په سودکښ شامل دی.

مسلمانانو ته په خپل مال کښ اضافه کولو دپاره خپل دولت لره په تجارت کښ لګول پکاردی یاپه داسې کمپنیانو کښ اولګوی چه په منصفانه شرائطو سره فائده حاصله کړی او په بینک وغیره کښ داسې مقصد دپاره جمع نه کړی.

**سوال** : په معقول اومنقول کښې مونږ کوم لره مقدم اوساتو؟
**جواب**: کله چه یوه خبره دالله تعالی یادهغه درسول صلی الله علیه وسلم نه په صحیح طورباندې ثابت شی نو هغې لره اخستل واجب اوضروری دی په دې کښې دڅه وئیلو ګنجائش نشته ځکه چه د معقولاتو شرعی حیثت د شریعت مآخذ خادم اوهغې طرفته رهنمائی کولو والا دې.

البته هغه احکام د کوم چه په شریعت کښې صراحت نه وی کړې شوې په دې کښې څه نص نه وی نو په داسې موقعو باندې دعقل سیلم فیصلو لره هم په شریعت اسلامیه کښې لوې اهمیت دې په دې سلسله کښې یو اصولی قاعده یادساتل پکار دی هغه داچه په نص کښې دڅه قسمه اجتهاد ګنجائش نشته دې. البته په احادیثو چه چرته هم څه قسم ابهام وی نوعقلِ سلیم ته ددې تحقیق وتفتیش کول پکار دی دې دپاره چه ددې تعارض ختم شی،او مسئله پوره واضحه کیدو سره مخې ته راشی.

## ب- سیاست سره متعلق سوالات:

**سوال**: د اولی الامر اطاعت کوم حده پورې جائزدې؟
**جواب**: د اولی الامر اطاعت واجب دې د دې خبرې نه قطع نظر چه هغه کوم رنګ او نسل سره تعلق لری اوهغه وخت پورې اطاعت کول پکار دی ترڅو پورې چه دهغوی احکام دالله او رسول صلی الله علیه وسلم داحکامو سره متصادم نه وی یاپه نورو لفظونو کښې داچه کله دالله د حقوقو حفاظت کوی. د نبی صلی الله علیه وسلم فرمان دې:

”د مسلم سړی دپاره اوریدل او اطاعت کول دی خواه هغه ته خوښ وی یا ناخوښه تردې چه هغه ته دڅه معصیت حکم ورکړې شی، په دې صورت کښې څه اوریدل اوڅه اطاعت نشته دې.[بخاری:کتاب الاحکام]

**سوال**: بعضې مسلمانان د هجرت په سلسله کښې سوچ کوی چه هغوی څه داسې ځاې ته لاړشی چرته چه هغوی ددعوت الی الله اوجهاد اوکړې شی. ددې څه حکم دې؟

**جواب**: دغه شان هجرت دهجرتِ نبوی صلی الله علیه وسلم په شان نه شی کیدې اونه په هغې باندې د دومره ثواب توقع شته ځکه چه حدیث نبوی صلی الله علیه وسلم دې:

"د فتحِ مکې نه پس هیڅ هجرت نشته صرف جهاد دې او نیت دې. صرف دومره قدرې کیدې شی چه یوسړې دیو تنګ ځاې نه نسبتًا وسیع ځاې طرف ته لاړشی چرته چه هغه په زیاتې آزادئ سره خپل کار کولې شی. دا واجب دی او دالله تعالی دطرف نه په دې باندې اجر هم متوقع دې. اوس د داعی ذمه داری ده چه هغه دداسې ځاې انتخاب اوکړی چرته چه هغه ته اطمینان وی چه هغه په سکون سره دعوت ته ترقی ورکولې شی."

**سوال**: ګڼې فرقې کارکوی چه په هغوی کښې هریوخپل ځان په حقه او نور لره دسرنه باطل کیدو دعوی کوی!! په دې صورت کښې څه څه اوکړې شی؟

**جواب**: وئیلی شی چه"حق لره ښه اوپیژنه نو صاحب حق لره به هم اوپیژنې"دغه شان که تاسو د اسلام ارکانو لره ښه اوپیژنئ نو کومه فرقه چه هم د اسلام دارکانو مخالفت کوی هغه به داسلام نه خارجه وی. بیاچه کله ته دیوداسې اسلامی معاشرې دخصوصیاتو دهغې د آدابو دهغې دفطرت او دسلف صالحینو نه واخله اوسه پورې د احوالو نه واقف شې نوته هرفرقې په دې باندې قیاس کړه. که یوفرقه یاجماعت ددې اصولو او ارکانو نه منحرف ده نودهغې نه بچ کیدل او هوښیار

اوسیدل ستادپاره ضروری کیږی. د نیغي لارې د تابعدارئ دپاره همدا صحیح طریقه ده. واضحه دې وی چه علم یو نور دې اوپه هرمسلمان باندې ددې حاصلول فرض دی دې دپاره چه هغه دجهالت په تیاروکښ پریونځی. رښتیا وئیلي دی الله تعالی:

وَلِكُلٍّ وِجْهَةٌ هُوَ مُوَلِّيهَا فَاسْتَبِقُوا الْخَيْرَاتِ [البقره: ۱۴۸/۲]

"د هر یو دپاره یو رخ دې کوم طرف ته چه هغه اوړی بس تاسو نیکو طرفته ورمخکښې شئ."

**سوال:** د قومیت څه مفهوم دې او د دې سره ددې څه تعلق دې؟

**جواب:** د قومیت مفهوم او د هغې حدود د ډیرو خلقو نه پټ دې تردې پورې چه هغه خلق هم ددې دمفهوم باندې د پوهیدو نه عاجز دی چه په چغوچغو سره ددې ډهنډوره وهی.

که د قومیت نه مراد د دې زمکې سره محبت دې چرته چه یو قوم اوسیږی نو دا یو ښه خیز دې د وطن محبت د ایمان جز دې اوپه دې کښ حرج نشته چه سړې خپل خاص وطن سره داسې محبت کوی چه هغه لره دهغه دوطن عام نه غافل نه کړی. د وطن عام نه مراد هر هغه ملک دې چرته چه د مسلمانانو اکثریت آباد دې او دقومیت نه مراد د قوم محبت او د هغه خپل نسبت کول دی نوپه دې کښ هم خرج نشته ترڅو پورې چه په بل یو قوم باندې ظلم وزیاتې نه کیږی.دارنګه چه ددې جذبې په وجه سره یو قوم د بل قوم دشمن جوړ نه شی که دقومیت نه مراد ژبه ده نوپه دې کښ هم شک نشته چه ژبې خپل مینځ کښ دخیالاتو دپوهیدو یو اهم ذریعه ده اوخپل هم زبان سره محبت کول یو فطری خبره ده. خو که قومی فلسفې لره په دې وجه خپله کړې شی چه په دې سره اسلام او عالم اسلام ته نقصان اورسی او مسلمان قوم لره

دهغه دعظيم الشان مقصد نه لرې کړی يو محدود مقصدطرف ته ئې بوځی. يادقوميت جذبې لره دمسلک مسائلو يامقدس مقاماتو لره يادولو سره راوچت کړې شی دې قوميت لره فی نفسه يو مقصد جوړکړې شی او دقوميت او ژبې په بناء باندې يوبل ته ترجيح ورکړې شی لکه سندهی ته په پنجابی باندې او سرحدی ته په بلوچی باندې يادژبې په اعتباسره اردو ويونکی ته په پنجابی ياپښتو ويونکی باندې،عربی ته په عجمی باندې،اودرنګ په اعتبارسره سپين ته په تورباندې،دغه شان دبرادرئ په اعتبارسره يوسف زی په ګګيانی باندې مهمندته په آفريدی باندې داسې نور شکلونو باندې پوهه شئ نوداخبره معلومه ده چه داټول ړانده تقليدونه بصيرت نه لرل دی، اوداهم په ذهن کښ کينول پکار دی چه اول جنګ عظيم او دويم جنګ عظيم هم ددې قوميت د اُور په وجه سره بل کړې شوې وو دې لره ''امن پسندو'' بل کړې وو دې دپاره چه ددې په ذريعه سره څه مادی فائدې حاصلې کړی.

**سوال**: مونږ دقرآن کريم فهم څنګه حاصل کړو؟

**جواب**: انسانی زړه هم د قرآن کريم بهترين مفسردې په شرط ددې چه دعربئ ژبې د اصول وقواعدو نه هم سرې خبر وی الله تعالی فرمائی : مونږه قرآن د پوهې دپاره آسان کړې دې نوآياڅوک نصيحت حاصلونکې شته.بل ځاې فرمائی آيادوی په قرآن باندې غور نه کوی يا د دوی زړونو ته تالې لګيدلې دی.

د قرآن فهمئ يوه بله لويه ذريعه د قديم مفسرينو د رايو علم هم دې ځکه چه خلق دنبوت زمانې ته ډير نزدی دی او دناسخ اومنسوخ،اسبابِ نزول او دبعضې آيتونو په تفهيم کښ دنبی کريم صلی

الله علیه وسلم ماثور تشریح نه هم بنه واقف دی.

د یو آیت تفسیر کولو سره داسرائیلی خرافاتو نه بچ کیدل پکار دی. زمونږ د تفسیرونو د ټولو نه لویه المیه داده. په دې کښې شک نشته چه ددې څیزونو په اخستو کښې مفسرینو د ښه نیت، د اجتهاد په صدق او د غلط تاویلونو نه ځان ساتلونه کار اخستې دې ددې تفسیرونو په سلسله کښې داخبره یادساتل پکاردی چه داټول په ټوله د الٰهی آیتونو د تفهیم یو کوشش دې.صرف یوکوشش.

قرآن لره بخپله د قرآن نه زده کړئ ځکه چه په مختلف آیتونو کښې چه کوم موافقت او ژور ربط دې ددې نه د قرآن یو ګوټ هم خالی نه دې بالکل هم داسې د فهمِ قرآن دپاره دحدیث نه هم مدداخستلې پکاردی ځکه چه په احادیثوکښې د قرآن تشریح ده. هرکله چه دعامو خلقودپاره دخپلې زمانې دقرآن دماهرینو مشائخو نه زده کول اوځان پرې پوهول پکاردی.

**سوال:** په اسلام کښې د رواداریٔ حدود څه دی؟

**جواب** : بعضې خلق د رواداریٔ مفهوم مداهنت ګنړی یعنی داچه هرصاحب رائے او بدعتی په کوم څیز باندې راضی وی په هغې باندې کیدل. حالانکه معامله دانه ده حق صرف یو دې په یومسئله کښې ددې څو رُخونه نه شی کیدې. په اسلام کښې نفاق اومنافقین سخت مبغوض دی. د روا داریٔ مطلب دادې چه دنورو نظریٔ سره باطل ګنړلو سره که مونږ هغه قبوله کړو اوپه دې باندې تنقیدپه دې وجه نه کوو چه هغه ته به تکلیف وی، په دې وجه ناروا مه وایئ چه دهغه په تندی کښې ګونجی والې راشی اودهغه احساسات به مجروح شی. په دې ټولو معاملاتو کښې به مونږ کومه رویه اختیاروو؟ دهغې طرف ته قرآن

کريم داسې توجه ورکړځوی:

وَاِذَا مَرُّوْا بِاللَّغْوِ مَرُّوْا كِرَامًا ـ[الفرقا:۲۵/۷۲]

”اوکه په څه بيکاره څيز باندې د هغوی تيريدل او شی نو دشريف خلقو په شان تيريږی.“

وَيَدْرَءُوْنَ بِالْحَسَنَةِ السَّيِّئَةَ ـ[الرعد:۱۳/۲۲]

”او بدئ لره په نيکئ سره دفع کوی.“

فَلِذٰلِكَ فَادْعُ وَاسْتَقِمْ كَمَا اُمِرْتَ وَلَا تَتَّبِعْ اَهْوَآءَهُمْ وَقُلْ اٰمَنْتُ بِمَا اَنْزَلَ اللّٰهُ مِنْ كِتٰبٍ وَاُمِرْتُ لِاَعْدِلَ بَيْنَكُمُ اللّٰهُ رَبُّنَا وَرَبُّكُمْ لَنَا اَعْمَالُنَا وَلَكُمْ اَعْمَالُكُمْ ـ [الشوریٰ:۴۲/۱۵]

”په دې وجه اې محمدصلی الله عليه وسلم! اوس تاسو دې دين طرفته دعوت ورکړئ څنګه چه تاسو ته حکم کړې شوې دې،په هغې باندې په مضبوطئ سره قائم شئ اودهغه خلقو د خواهشاتو تابعداری مه کوئ او هغوی ته اووايه چه“ الله کوم کتاب هم نازل کړې دې ماپه هغې باندې ايمان راوړې دې ماته حکم راکړې شوې دې، چه ستاسو په مينځ کښې انصاف اوکړم، هم الله زمونږ رب دې او ستاسو هم، زمونږ عملونه زمونږ دپاره دی اوستاسوعملونه ستاسودپاره دی.“

سَلٰمٌ عَلَيْكُمْ لَا نَبْتَغِي الْجٰهِلِيْنَ ـ [القصص:۲۸/۵۵]

”تاسوته سلام دې مونږ دجاهلانو په شان طريقه اختيارول نه غواړو.“

د دې ظالمانو،ګمراهانو او بدکردارو سره رواداری کول بزدلی ده په شرط ددې چه مونږ ته په هغوی باندې قدرت هم حاصل وی.

**سوال:** په اسلامی حکومتونو کښې د ښځو د سرګرمو حدود بيان کړئ؟

**جواب:** د ښځو سرګرمئ دسړو په مقابله کښې په څه لحاظ سره هم کم نه دی، د ښځو دکار دپاره يو وسيع ميدان دې چه دهغې ډيراهميت دې د هغې دکار دائره د کور چارديواری ده..... کور چه د اولاد اوله

تربیت ګاه،اول میدان دعمل او د ژوند دحرارت اوله سرچینه وی.

ددې ټولو څیزونو باوجود اسلام د ضرورت په وخت ښځې لره اخستلو خرڅولو نه هم نه منع کوی، دعلم د حاصلیدو هم اجازت ورکوی په دې شرط چه په دې کښ د سړو سره اختلاط اوبې پردګی نه وی، په جهادکښ هم د حصې اخستلو اجازت ورکوی(په دې شرط چه دسړو سره خلوت او اختلاط نه وی) په دې میدان کښې د هغې په ذمه هغه خدمت سپاری چه دهغې دفطرت سره بلددې مثلاً : د زخمیانو مرهم پټئ،هغوی باندې اوبه څکوَل، خوراک تیارول،البته هغوی به دفوجیانو دتعیش دپاره استعمالولې نه شی.

دوی لره په ملکی سیاست کښ داخلول دا په څو وجهو سره مناسب نه دی ځکه چه فطرتًا دا جلدبازې وی او د رازونو حفاظت نه شی کولې. (او رسول الله صلی الله علیه وسلم هم دښځې د حاکمې جوړیدو نه منع فرمائیلې ده. فرمائی :

لَنْ يُّفْلِحَ الْقَوْمُ وَلَّوْا اَمْرَهُمْ اِمْرَأَةً۔ [بخاری: کتاب الفتن]

”هغه قوم کله هم نه شی کامیابیدې چاچه خپل معاملات ښځې ته اوسپارل.“

(یعنی هغې لره ئې خپل والی اوحاکمه جوړه کړه)دغه شان دحکومت په نورو شعبو کښ هم به هغې لره نه شی اخستلې. ځکه چه دوی ډیرې جذباتیانې وی او په آسانئ سره د دهوکې خوړلو یره وی. تجربات ګواه دی چه کومو ملکونو ددې خدمات حاصل کړې دی هغوی دسختې ناکامئ مخ لیدلې دې. پاتې شو هغه خلق چه دښځو د آزادئ په نوم نعرې اوچتوی دهغوی خطرناکې ارادې اوس پټې پاتې نه شوې.د هغوی مقصد صرف اوصرف دادې چه ښځې لره دهغې د کورنه

راوباسی او په سرک باندې ئې اودروی او هغوی ته په دې تجرباتو کښې دسخت ناکاموسره مخ کیدل اوشو.

ربنتیاوئیلې دی حکیم وخبیرمولاکریم :

يُرِيْدُ اللّٰهُ لِيُبَيِّنَ لَكُمْ وَيَهْدِيَكُمْ سُنَنَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ وَيَتُوْبَ عَلَيْكُمْ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ وَاللّٰهُ يُرِيْدُ اَنْ يَّتُوْبَ عَلَيْكُمْ وَيُرِيْدُ الَّذِيْنَ يَتَّبِعُوْنَ الشَّهَوَاتِ اَنْ تَمِيْلُوْا مَيْلًا عَظِيْمًا يُرِيْدُ اللّٰهُ اَنْ يُّخَفِّفَ عَنْكُمْ وَخُلِقَ الْاِنْسَانُ ضَعِيْفًا ۔[النساء:۲۶،۲۸/٦]

"اللّٰه تعالی غواړی چه په تاسو باندې هغه طریقو لره واضحې کړی اوپه هغه طریقوباندې تاسولره اوچلوی،دکومې تابعداری چه ستاسو نه مخکښې تیرشوو نیکانو خلقو کوله،هغه دخپل رحمت سره ستاسو طرفته د متوجهې کیدو اراده لری او هغه علیم هم دې او هوښیارهم،ها! اللّٰه تعالی په تاسو باندې د رحمت سره توجه کول غواړی خو چه کوم خلق د خپلو خواهشاتِ نفس تابعداری کوی هغوی غواړی چه تاسو هم د صحیح لارې نه اخوا کیدو سره لرې لاړشې، اللّٰه تعالی په تاسوباندې پابندو لره سپک کول غواړی ځکه چه انسان کمزورې پیدا کړې شوې دې."

## د دعوت کارسره متعلق څو سوالات:

**سوال:** دعوت لره په پیش کولو کښې مونږ د نرمۍ نه کار واخلو یاهغې لره واضحه کولو سره بیان کړو؟

**جواب:** دا یو داسې سوال دې چه د هغې جواب په "ها"یا "نه" کښې نه شی ورکولې. په دې سلسله کښې یو اصولی خبره مونږ له یادساتل پکار دی چه په حق خبره کولو کښې د چا ملامت کوؤنکی د ملامت قطعًا پرواه نه دی کول پکار.بخپله نبی کریم صلی اللّٰه علیه وسلم او روستنو خلفاؤ په دور کښې هم د دعوت د مصلحت پیش نظر خلقو سره د نرمۍ او رواداریٔ رویه اختیار کړې شوې ده دې دپاره چه په څو مرحلو

کښې هغوی لره دحق د دعوت نه په ښه طریقې سره واقف کړې شی. بیا هغه مهربانۍ او د رحمت او محبت هم زیات مستحق وی په کوم سره چه د هغوی دزړونو سختی ختمیږی او د مخکښې نه پرته غلط فهمی لرې کیږی. بهرحال داعی لره د دعوت پیش کولو سره د مصلحت تقاضو لره نظر انداز کول نه دی پکار.

اوچه کوم داعی خپلې خبرې لره په دوه ټوکه او واضح لفظونو کښې کهولاؤیدو سره بیانوی د هغه هم په خبرو کښې یو خاص تاثیروی د هغه په ذریعې ډیرخلق هدایت حاصلوی. خصوصًاکله چه دهغه تعلق امراء اوحکّامو سره وی.اوچه کوم داعی خپل دعوت لره پیش کولو کښې اختیاط،بردباری او داعلٰی ظرفۍ مظاهرکوی نوداخیز هم ډیرفائده مندوی. خلق هغې طرفته راځکلو سره راځی اوپه دې سره لوې اثر قبلوی. ددې طرزدعوت مزدور طبقه، طلبه او عام ښځو کښې خپل خاص اثرښائی.په دې وجه دعوت پیش کولو سره دټولو نه اول حالاتو باندې پوهیدل پکاردی. په دې وجه چه ددعوت کار دیومسلمان دپاره دفرض عین حیثیت لری،خواه اثرات ئې زر ښکاره شی څه وخت پکښې اولګی.

**سوال**: د دعوت کار په صحیح طریقه باندې ادا کولو دپاره فلاحی ادارې یا رفاهی مراکز قائمول دی؟ آیا دا مناسب دی چه دې ټولو څیزونو لره پریښودو سره صرف دتحریک په ترقۍ باندې خپل ټول صلاحیتونه خرچ کړې شی؟

**جواب**:د رفاهی ادارو د قیام اصل غرض وغایت دڅه نیکۍ او خدمت کار کول دی اوهم ددې دپاره مال راجمع کولې شی او ادارۍ قائمولې شی دې دپاره چه ددې په ذریعه سره په کار کولو کښې سهولت وی او

دانساني خدمت مقصد په بهترطورباندې پوره کړې شي.

او د دعوت وتبليغ دپاره جماعتونه قائمولې شي دهغې مقصد لګاتار عمل وي هغوي ته اکثر حالتونو کښې د ظلم وستم سره هم مخ کيدل راځي په دې وجه مال جمع کول اوجاګير جوړول ددې کارسره ميل نه خوري. بلکه زيات بهتردی چه دې دولت لره په تحريک او دداعي په مفادو باندې خرچ کړې شي.

**سوال:** د دعوت دکار شروع مونږ داخلاقو په ښائسته والي سره اوکړو يادموقعې په لحاظ سره ددې شروع اوکړو؟

**جواب:** هر هغه سړې چه په عملي طور باندې د دعوت په کار کښې حصه اخستل غواړي دهغه دپاره ضروري دي چه هغه مخکښې يو لائحه عمل متعين کړي او د هغې مطابق د خپل دعوت کار شروع اوکړي؟

"داعي د يو عظيم مقصد علمبردار وي، د هغې دحصول دپاره څه ذرائع او سائل لري. دې سره هغه ددې خبرې هم مکلّف دې چه کله هغه ته موقع ملاؤ شي دنيکو حکم ورکړي او که څه منکر اووينې نوهغې لره منع هم کړي. اوس که هغه دڅه معروف حکم ورکوي يا د منکر نه منع کوي نوچاته هم ددې وئيلو حق نشته دې چه روره اوس انتظار اوکړه دې دپاره چه دعوامو اخلاق ښه شي."

دده دا ويناپه لاندينې وجهو سره غلطه ده :

**الف:** د عوامو د اخلاقو اصلاح يو داسې کار دې چه د هغې په تکميل کښې عمرونه او صدئ تيريږي او د هغې انجام بياهم نه معلوميږي.

**ب:** د امربالمعروف او نهي عن المنکر د فريضې نه هغه وخته پورې منع شه کله پورې چه دعوامو اخلاق صحيح نه شي دشريعت په

نظرکښې غلط دی ځکه چه د نبي کريم صلى الله عليه وسلم ارشاد دې:
چه په تاسو کښې څوک هم د (دبدئ او دګناه کار )اووینی نوپکارده
چه هغه بدل کړی. [مسلم: کتاب الايمان]

**ج:** په کوم منکر باندې د نکير اظهارکول (منع کول) د هر داعی
په فرائضو کښې داخل دی. اګرچه ددې په نافذ کولو کښې تاخير کيدې
شی. د داعی خاص کار دې کوم طرفته چه اشاره په دې آيت کښې
ملاويږی:

وَلْتَكُنْ مِّنْكُمْ أُمَّةٌ يَدْعُونَ إِلَى الْخَيْرِ وَيَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ ۔[آل عمران: ۱۰۴/۳]

"په تاسو کښې څه خلق داسې کيدل ضروری دی چه نيکئ طرفته
رابلل کوی، د ښو خبرو حکم کوی او دبدو نه منع کول کوی، کوم
خلق چه دا کوی هم هغوی به کاميابی اوموی."

ددې باوجود چه کوم خلق د اخلاقياتو د اول صحيح کولو رائې لری
هغوی په اصل کښې دخپلو ذمه دارو نه منډه وهی.

**سوال:** زمونږ اهل وعيال ټخپله زمونږ نه دمتاثره کيدو په ځاې
دمعاشرې اثراتو له نسبتًا زيات قبلوی،په دې صورت حال کښې
مونږ څه اوکړو؟

**جواب**: رښتيادی چه زمونږ هلکان په کوم ماحول کښې ژوند تيروی د
هغې اثرات په هغوی باندې ډيرزيات وی مثال په طورباندې که د يو
سړی درې هلکان دی په هغوی کښې يوپه جامعه ازهرکښې دويم په کوم
غير اسلامی سکول کښې او دريم په کوم کالج کښې تعليم حاصلوی نو
ددې درې واړو په اخلاق وعاداتو کښې دومره فرق وی څومره چه ددې
کالجونو او مدرسو دې.

دي اصول لره دتسليم کولو باوجود کچرې مونږدا فرض کړو چه دهغوی سرپرست هغوی سره پابندۍ سره ملاويږی، هغوی سره خبرې اترې کوی دهغوی دغلطو اصلاح کوی او د هغوی په مينځ کښ دنزدې کيدو کوشش کوی نودافرق ډيره حده پورې کميدې شی بلکه داهم ممکن ده چه يوځاې ختم شی.

د کور مالک په اصل کښ (قوام) نګران وی اودهغه اثرات په کوروالو باندې ډير پريوځی. په شرط ددې چه خاندانی تعلقات مضبوط وی. خو که پخپله په کورکښ انتشارپيدا شی نودهلکانو دخارجی ماحول نه متاثرکيدل ضروری دی. کچرې داسې صورت حال پيدا شی نوپه لاندينی طريقو سره هغې لره دفع کولې شی:

۱: هلکان په دې خبره راوچت کړې شی چه هغوی ښه هلکانو لره دوستان جوړکړی اوهغوی له دخپل حالت ښه کولو طرفته برابر متوجې کړې شی.

۲: هغوی لره په نرمۍ سره پوهه کړې شی. هغوی ته سخت او دتوهين نه ډک کلمات هيڅ کله اونه وئيلې شی.

۳: که ممکن وی نو دمسئلې بنيادی حل تلاش دې کړې شی او د ټولو نه په آخر کښ داچه الله تعالی نه د هغوی دښه کولو دعا اوغوښتلې شی.

## دمغربی افکارو سره متعلق مسائل:

۱: دين داری داخلاقِ فاضله نوم دې نه چه درسم ورواج، د دين په رسم ورواج کښ محدود کول دکام چورو لذت پرستو تصور دې چه دژوند په يوه شعبه کښ هم دالله تعالی دفرض کړې شوې احکامو تابعداری کول نه غواړی. اودخپل دې نفسانی خواهشاتو دپوره کولو

دپاره هغه ټول فرائضو(روزه،حج او زکوة) ته باطل او لغو وائی. یقینًاداسې خیال ډیرګمراه کن اوښکاره کفر دې.
اسلام،دایمان وعمل نوم دې.”اَلَّذِیْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُو الصَّالِحَاتِ یعنی داچه دشریعت مقرر شوې حدودو په صحت باندې کامل اعتقاد او د هغې د تقاضو مطابق خپل ځان په هغې کښې اچولونوم اسلام دې، دې اعتقاداتو لره دڅه خودساخته نظریې مطابق دچاچه علم وعمل سره څه تعلق نشته،نه شی بدلولې د”رسم ورواج“ اصطلاح هم عجیبه ده. مونږ دڅه مبهم او پیچیده رسم تابعداری هیڅ کله نه کوو. ددې نه برخلاف زمونږ چه کوم عبادت هم دې هغه قابل د فهم دې او هرعقل سلیم به دې لره معقول تسلیم کوی.“
۲: په اسلام کښې صرف د مدافعانه جنګ اجازت ورکړې شوې وو بیاختم شو.هیڅ کله نه په اسلام کښې د”دفاعی جنګ“ نومې څه څیز نشته بلکه دجهاد اصل غرض وغایت دالله کلمې لره هغه خلقوته رسول دی چه هغې لره نه قبلوی او دعوامو په ذهن وفکرباندې په زبردستئ سره مسلط دی.زمونږ داجهاد د ملک راګیرولو او د ډیرولو په ارادې سره پوره کولو دپاره نه وی. ددې دلیل دادې چه دجهادنه مخکښې کفارو ته درې قسمه اختیارات ورکولې شی:
(۱) اسلام قبول کړئ (۲) جزیه ورکړئ (۳) یابیاجنګ کولو دپاره آماده شئ.
د قرآن کریم ددې آیت نه ددې تصدیق کیږی:
وَقَاتِلُوْهُمْ حَتّٰى لَا تَكُوْنَ فِتْنَةٌ وَّيَكُوْنَ الدِّيْنُ لِلّٰهِ۔ [البقرہ: ۲/۱۹۳]
”هغوی سره جنګیږئ تردې پورې چه فتنه باقی پاتې نه شی او دین (خالص) دالله تعالی دپاره شی.“

يومسلمان داعلاءكلمة الله دپاره په فوج كښې شامل كيږى ځكه چه هغه ته معلومه ده چه هغه لره دالله تعالى دطرفنه په دې خبره باندې ماموره كړې شوې دې چه هغه هرهغه سړى سره به جنګ كوى چه څوک دالهامى شريعت نه انكار كوى دې دپاره چه دهغه مخې ته كوندې كيږدى. دا فريضه په مسلمانانو باندې دقيامت پورې ده د چا ظالم ظلم اوسخت ګيرسختى هغې لره هيڅ كله نه شى ختمولې. تاسو پخپله سوچ اوكړې چه كله باطل داسلام خلاف مخې ته راځى، دهغوى زمكې اونيسى اودهغه مقدس مقاماتولره پامال كړى نوستاسوبه څه حالت وى؟

بياپه اسلام باندې راغلې صدئ تيرې شوې اونن پورې يومسلمان هم دانه دى وئيلې چه د اسلام نه جهاد ختم كړې شوې دې.تردې پورې چه هسې په نوم مسلمان هم ددې قائل نه دې.ددې خبيثې اونې اوبه خورخو"غلامانو"دخپل استعمار خوښونكو آقاګانو دخوشحالولو دپاره كړې دې،حالانكه دقرآن مجيد په سوؤنو آيتونه او بې شماره احاديث نبويه ددې ترديد كوى.

**ظاهروباطن:**

د صوفياؤ او باطنياؤ يوه ډله په دې ګمان كښې مبتلا ده چه د دين اسلام دوه اړخه دى يو ددې ظاهرى اړخ دې چه دهغې اهميت كم دې. دا ظاهرى اړخ شرعى فرائض او واجبات، د فقهې احكام اودعام اسلامى اصول وضوابط باندې مشتمل دې.ددين اسلام دويم اړخ باطنى دې او اصل اهميت ددې دې خو دا اړخ پټ دې چه دې لره ډيركم خلق پيژنى. ددې علم د الله تعالى په وركړه باندې موقوف دې دا وركړه ياخو ديومتعين نسب يامعروف حلقو سره تړلې دې. دې خيال اوګمان

حق اوباطل لره د تللو او وزن کولو په باره کښې اکثرمسلمانانو کښې یو اضطراب پیدا کړې دې. دغه شان ئې هغوی لره یوې لوئې ګمراهۍ ته رسولې دی،دهغوی بعضې قائدینو خو دنبوت او الوهیت پورې دعوی کړې ده یعنی داچه دالله تعالی وحی په هغوی باندې راځی او داچه دالله تعالی روح په هغوی کښې حلول کړې دې. دهغوی صوفیانه باطنیه تابعداری کوؤنکی د واجبات دینیه بلکه د واجبات اخلاقیه نه هم آزاد شوې دی. دهغوی دلیل هغه خوبونه دی چه دهغوی قائدین ئې وینی یاهغوی ته خودلې شی اوبیاپه هغوی کښې هریو په دې وهم کښې مبتلا کیږی چه هغوی دمقربین بارګاه نه دی. حالانکه دالله تعالی ارشاد دهغوی او دهغوی نه علاوه د نورو خلقوپه باره کښې دادې چه ::

أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ يُزَكُّونَ أَنفُسَهُم بَلِ اللَّهُ يُزَكِّي مَن يَشَاءُ وَلَا يُظْلَمُونَ فَتِيلًا انظُرْ كَيْفَ يَفْتَرُونَ عَلَى اللَّهِ الْكَذِبَ وَكَفَىٰ بِهِ إِثْمًا مُّبِينًا۔ [النساء : ۴/۵۰،۴۹]

"تاسو هغه خلقو لره لیدلې دی چه ډیردخپل نفس دپاکۍ دعوی کوی حالانکه پاکیزګی خو الله چه چاته غواړی ورکوی ئې او( دوی ته چه کومه پاکیزګی نه ملاویږی نو په حقیقت کښې) په دوی باندې به ذرا برابر ظلم نه شی کولې اوګورئ خو سهی په الله باندې د دروغ تړلو نه هم نه منع کیږی اودهغوی دصریح ګناهګار کیدو دپاره همداګناه کافی ده."

رښتیاخبره داده چه د اسلام هم یو اړخ دې او د اچه الله ظاهر هم دې او باطن هم اوداچه رسول الله صلی الله علیه وسلم د رسالت امانت لره دټولو خلقو په مخکښې یوشان طورباندې پیش کړې دې اوپه دې کښې ئې څه هم نه دی پټ کړې.

الله تعالی مونږته خودلې دی چه د هغه او دکوم انسان په مینځ کښې نسلی تعلق نشته دې او دهغه رضاصرف دهغه اطاعت سره حاصلیږی،اودهغه اطاعت دهغه په شریعت باندې عمل کولو سره کیدې شی کوم چه هغه نازل کړې دې.

**وسیله او شفاعت:**

یوه بله ډله دا ګمان لری چه دهغوی دپاره دیرې څه خبره نشته دې په دې وجه چه هغوی ته به دنبی یاولی شفاعت حاصل وی او هغوی ته د دې عقیدې په وجه سره حق حاصل دې چه څه غواړی کوئ. د هغوی ددې عقیدې او منطق فساد اودهغې خرابی بالکل واضح ده ځکه چه هغوی وائی :

مَنْ ذَا الَّذِیْ یَشْفَعُ عِنْدَهٗۤ اِلَّا بِاِذْنِهٖ۔ [البقره: ۲/۱۲۷تا۱۳۰]

"څوک دې چه د هغه په دربار کښې د هغه داجازت نه بغیر سفارش اوکړې شی."

بل ځاې کښې ارشاد فرمائی :

وَلَا یَشْفَعُوْنَ اِلَّا لِمَنِ ارْتَضٰی وَهُمْ مِّنْ خَشْیَتِهٖ مُشْفِقُوْنَ۔ [الانبیاء : ۲۸/۴]

"هغوی د چا سفارش نه کوی بغیر ددې نه چه دچاپه حق کښې په سفارش اوریدو باندې الله راضی وی او هغوی دده دیرې نه رپیږی."

او داهم دی :

وَمَنْ یَّقُلْ مِنْهُمْ اِنِّیْۤ اِلٰهٌ مِّنْ دُوْنِهٖ فَذٰلِكَ نَجْزِیْهِ جَهَنَّمَ۔ [الانبیاء : ۲۹/۴]

"اوڅوک چه دوی ته دا وائی چه دالله نه سیوا زه هم معبود یم نوهغه لره

به مونږ دجهنم سزا ورکړو."

لهذا څوک به هم د چا دپاره د الله د اجازت نه بغير سفارش جرأت به نه شي کولي،د شفاعت څه آداب او شرائط دی هغې لره نظرانداز کول په هغې اعتماد کول په يولوې وهم باندې تکيه کول دی.

مونږ دالله تعالی دافرمان هم لولو:

فَمَنْ يَّعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَّرَهٗ۔ وَمَنْ يَّعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَّرَهٗ۔ [الزلزال:۹/۹۹]

"بیاچاچه ذره برابر نیکی هم کړې وی هغه به هغې لره اوینی اوچاچه ذره برابر (بدی ګناه) بدی کړې وی هغه نه هغې لره وینی."

د وسيلې اوشفاعت په تفسيرکښ توسع(يعنی بې دليله وسعت پيدا کول) عدل،جوابدهی،او دجزا او سزا هغه ټولو پيمانو لره ختموی په کوم سره چه په اسلام کښ امتياز کيږی.

وَقُلِ اعْمَلُوْا فَسَيَرَى اللّٰهُ عَمَلَكُمْ وَرَسُوْلُهٗ وَالْمُؤْمِنُوْنَ۔ [التوبہ:۱۰۵/۹]

"او اې انبی! ته دې خلقو ته اووايه چه تاسو عمل کوئ او الله او د هغه رسول او مومنان ټول به وينی چه اوس ستاسو طرزعمل څه وی."

د قرآن نه علاوه څه بل څيز لره مونږ نه منو دا عقيده د ټولو بدو سرچشمه اوښکاره جهالت دې. د بدو سرچينه په دې وجه ده چه په دې دکلمه شهادت دويم جز په کوم کښ چه د نبی عليه السلام درسالت اقرار کړې شوې دې دهغې انکار لازميږی.دا عقيده،دسنتِ

مطهره خاتمه کوی چه دقرآن کریم د تفسیرتفصیل دې:

وَمَا آتَاكُمُ الرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَاكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوا ـ[الحشر:۵۹/۷]

"کوم څه چه رسول الله صلی الله علیه وسلم تاسو ته درکوی هغه واخلئ اودکوم څیزنه چه تاسو منع کوی دهغې نه منع شئ."

وَمَا يَنْطِقُ عَنِ الْهَوَىٰ ـ[النجم:۵۳/۳]

"او هغه پخپل خواهش خبرې نه کوی."

البته بعضې شر پسندو رسول الله صلی الله علیه وسلم ته بعضې غلطې خبرې منسوب کړې دی او بعضې جاهلانو د ځان نه حدیثونه جوړکړې دی نو پخپله الله تعالی د هغې دا انتظام فرمائیلې دې چه هغه د علم حدیث څه داسې ماهرین پیدا کړې دی چه هغوی د صحیح او غلط روایتونو تحقیق کړې دې او نن صبا هر سړې د صحیح او غلط روایت تمیز کولې شی. بیا د حدیث نبوی خدمت خو په داسې شان ممکن نه دې چه ددې نه خلقو له لرې کړې شی بلکه ددې خدمت تقاضا خو داده چه ددې تحقیق کولو سره د غلط روایتونو تردید اوکړی. که واقعی دحدیث رسول سره محبت دې.

## معاشی بدحالی دا نسانی مسائلو واحد وجه ده؟

نه.......دا خبره قطعًا صحیح نه ده. ددې دواړو ځانله ځانله تقاضې دی. انسانی بدن فانی دې او روح د بدن محافظ دې، دده د ژوند انحصارپه دې باندې دې.روح همیشه موجود وی. خواه انسان په خاوره کښې ملاؤ شی. څنګه چه د انسانی بدن ضرورت غذا(خوراک) دې هم داسې د انسانی روح ضرورت ایمان دې او هم ددې ایمان دتقاضو دپوره کولو دپاره بدن جوړ کړې شوې دې.

کله کله داسې کیږی چه په ظاهری طور باندې انسانی بدن ډیر زیات خوشحاله او مطمئن وی حالانکه د روح شقاوت (بدبختی) دبدن شقاوت دې او همدا شقاوت ده لره بیمار کوی تردې چه فناشی.

ژوند د مجرد مادې نوم نه دې، ګنی بیا خو به د انسان اوحیوان په مینځ کښې فرق څنګه کولې شی. تردې چه حیوان هم دخپل اولاد سره روحانی محبت کوی او د بعضې حیواناتو خو دمحبت عالم داوی چه دهغوی په مرګ باندې خوراک څکاک پریږدی اودخپل ملګری په غم کښې ویلې کیدو سره ځان هم قربانی کړی. دا دبدل مادیت فلسفه په دې وجه ایجاد کړې شوه دې دپاره چه ددې په ذریعه دچامعبود د تصور نه انکار اوکړې شی چه دانسانی قدرونو بنیاد دې.او ددې په نتیجه کښې د هغه جرمونو ارتکاب اوکړی چه دهغې په وجه سره هغه دالله تعالی خدائی خپله کړی.

دا او ددې په شان ډیر سوالونه چه دخاص اوعام هرسړی په ذهن

کښې په مختلفو موقعو باندې راوچتیږی.

ددې جواب آسان نه دې اوددې سوالونو صرف یو جواب هم نه شی کیدې بلکه دحالاتو او زمانې په اختلاف سره سره دهغې جوابات هم بدلیدلې شی.

د یو داعی دپاره ضروری ده چه کوم سوالونه دده په ذهن کښې پیدا شی هغه د اهل علمو نه تپوس اوکړی او د ټولو نه مخکښې پرې غور اوکړی، په دې کښې هم څه حرج نشته چه معلّم په خپله د متعلّم نه زده کړی ځکه چه ژوند د اخستلو او ورکولو نوم دې . الله تعالی فرمائی:فَاسْئَلُوْا اَهْلَ الذِّكْرِ اِنْ كُنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ [الانبیاء:۲۱/۷]

"که تاسو نه پوهیږئ نو د اهل علمو نه تپوس اوکړئ"

## داجتماعاتو قیام:

د یو داعی دپاره عوامو لره یوځاې کول، دعوت لره په بهترین انداز کښې پیش کول داجتماعاتو د نظم سنبهالولو فن نه هم واقف کیدل ضروری دی، دا یو وسیع میدان دې چه په دې کښې د ډیرو څیزونو پیژندل او په هغې د پوهیدلو ضرورت، بعض اجتماعات په ملکی پیمانه باندې وی څه په ضلعی او مقامی پیمانه باندې هم وی.

په دې جلتئ کښې مونږ صرف غټو غټو خبرو طرف ته اشاره کول غواړو د کومو تعلق چه د اجتماعاتو انعقاد سره دې:

## الف- ددعوت قسمونه:

دعوت کله دخاص نوعیت وی یعنی په دې کښې دشریک

کیدونکو تعداد متعین او محدود وی او څه دعوامی نوعیت وی چه په هغې کښې هر سړې شرکت کولې شی.

**خصوصی دعوت:**

ددې قسمه دعوت عمومًا د څه خاص خلقو دپاره وی چه د هغې انتخاب د څه مصلحت د پوره کولو دپاره وی. په دې کښې صرف هم خیال او هم فکر خلقو(ارکان ومعاونینو) ته دعوت ورکولې شی،دې دپاره چه دعوت د کامیابۍ سره مخ شی او حتی الوسع د اختلاف رائې نه بچ شی. په داسې قسمه اجتماعاتو کښې اکثر دخیالاتو تبادله او مشورې وی.

**عوامی دعوت:**

ددې مقصد په لوې تعداد کښې خلقو لره راجمع کول وی او عوامو ته د دعوت ورکولو دپاره په دې کښې مختلف ذرائع اختیارولې شی. د دې پوره انتظام او انصرام د راغوښتونکو خلقو په ذمه وی، په دې وجه که عوام دې ذمه دارئ لره سنبهال کړی نو ددې نتیجې به ښه نه راوځی.

**ب- د دعوت اعلان:**

ددې اعلان کولو دپاره مختلف وسائل او ذرائع استعمال شی کله اخبارات، ریډیو وغیره په ذریعه سره دې لره نشر کولې شی اوکله د مسجدونو او په ډیره جمع کښې دارنګه په ګاډو باندې لاوډاسپیکر لګولو سره اعلان کولې شی. (دارنګه اشتهارات،پلې کارډ،بنیرز او

سائن بورډ هم ددې مقصد دپاره استعمالولې شی.)

## خصوصی دعوت نامې :

بهتره داده چه دا کارډ صفاستهرا او د پیړ کاغذ وی په کوم چه د مدعو نوم او د هغه پوره پته، د دعوت ځاې او تاریخ،سبب او موضوع، دلیږلو تاریخ او د داعی نوم او پته لیکلې وی. بیاپه آخرکښې څه بل نوټ وی مثلاً داچه دماشومانو سره وی یانه،زنانه راتلې شی یانه،اجتماع به څو ورځو پورې وی وغیره.

## د کارډ تقسیم:

کارډ عام طور دارنګه لیږلې شی چه داجتماع تاریخ نه کم ازکم یوهفته مخکښې اورسی اوکله د خصوصی حالاتو په بناء باندې په لاس سره هم تقسیم کړې شی.

داعی چه دکوم شخصیاتو دشرکت زیات خواهش مند وی هغوی سره براه راست په ټیلی فون باندې رابطه قائم کړی.د اجتماع ذمه دارو لره دکارډ د تقسیم په معامله کښې ددې خاص خیال ساتل پکار دی. چه کچرې دچا کارډ ورک شی یا د چرته نه څه شکایت نامه وصول شی نوددې ټولو جواباتو دپاره همیشه تیار اوسی.

## اجتماع ګاه:

د اجتماع ګاه انتخاب په ښار یادکلی په مینځ کښې کیدل پکار دی، په انتخاب کښې دځاې د پاکئ اوصفائې او ددې د وسعت او فراخئ دارنګه دکهلاؤ فضا خیال ساتل پکاردی چرته چه رسیدل آسان وی. دشورشغرب

دارنګه د لوګی وغیره نه هغه ځاې پاک وی،دارنګه داچه دڅه قسمه پارټۍ د اثراتو نه خالی وی،ځکه چه بعضې وخت په داسې صورت حال کښې ډیر خلق هلته تلل نه خوښوی. دځاې د درست والی خاص خیال ساتل پکار دی دې دپاره چه اجتماع ته داخلیدو کښې آسانی وی.

## د اجتماع کارکنان:

د اجتماع د انتظام سنبهالولو دپاره یوه کمیټی کیدل پکاردی او د هغې امیر کیدل پکار دی کوم ته چه داجتماع ناظم وائی. دا کمیټی به پروګرام تیار وی، د مقررینو فهرست او د هر یو دپاره یو موضوع او وخت به متعین کوی.د تقریرونو نه پس د سوالاتو او جواباتو هم نشت کیدل پکاردی.

څه خلق د اوبو وغیره په انتظام کولو اوڅه په نور خدمتونو باندې مامور کول پکاردی. دخدمتونو په ضمن کښې لاندینی څیزونه هم راځی :

## دجلسه ګاه نګرانی په داخلی او خارجی طورسره:

د آواز نګرانی چه په صحیح طریقه سامعینو ته رسی یانه. دبجلی دکنکش خیال ساتل،ماشومانو لره داجتماع ګاه نه لرې ساتل، نور تکلیف ورکوؤنکی څیزونه بندول.

## د اجتماع نه پس:

ښکاره خبره ده چه اجتماع کول ډیرګران کار دې او دډیر مشکلاتو نه پس ددې انتظام کیږی،په دې وجه ددې نه استفاده کولو

کښې حریص کیدل پکاردی.ځکه چه اصل مقصدمجمع راجمع کول نه دی بلکه دا اجتماع دیوبل مقصد دحاصلیدو ذریعه ده. د اجتماع نه د استفادې دپاره مونږ دلاندینو خبرو نصیحت کوو:

* هغه مشهور او باعزته شخصیات چه اجتماع ته ئې تشریف راوړې دې دهغوی احترام اوکړئ شکریه ئې ادا کړئ دهغوی نه استفاده اوکړئ اوهغوی لره په احترام سره رخصت کړئ.

* شرکاء دکوم نه چه دڅه بهترئ امید وی داجتماع ختمیدو نه پس په نورو ورځو کښې هم هغوی سره رابطې اوساتلې شی دې دپاره چه دوباره هغوی سره تعارف اوکړې شی او دهغوی خیالات معلوم کړې شی. او هغوی ته څه کتابونه او رسالې هم هدیه کړئ.

* هغه ټول افراد چاچه داجتماع دکامیاب جوړولو کوشش کړې دې مثلاً مزدور سوداګر حضرات او ګیر چاپیره خلق یاخپل کارکن هغوی سره دوباره ملاقات اوکړې شی او د هغوی شکریه ادا کړې شی،ځکه چه داحسان قدر کولو نه پس هم د دوباره احسان توقع کیدلې شی.

* ملګری، دوستان، مقررین او نور ټول شرکاء یوځاې ته راجمع کړې شی او هغوی نه دفنډ ورکولو اپیل اوکړې شی دې دپاره چه ددوباره ملاویدو موقعې په آسانئ سره اوشی.

داخبره د ذهن نه پټول نه دی پکار چه د نن د اجتماع دکامیابئ او ناکامئ اثردصباپه اجتماع باندې به پریوځی.

**دعوتي اداري:**

دالله تعالی شکر دې چه داسلام دتبلیغ او اشاعت او اسلامی دعوت ته د ترقۍ دپاره ځاې په ځاې په مختلفو ښارونو کښې دتربیتی ادارو قیام په عمل کښې راروان دې یقینًا دا ادارې ډیرلوې خدمات ادا کوی او نوې نسل ته ددعوت ورکولو دپاره په تیارولوکښې اهم کردار ادا کوی. ددې سره مونږ ګڼړو چه دا ادارې دې د لاندینی څیزونو خیال اوساتی نو ددعوت کار نور په بهترطریقه باندې سرته رسیدې شی.

۱: دا ادارې په خپل مینځ کښې تعاون دې اوکړی بلکه نسبتًا زیات تجربه کار ادارې دې دخپل رهنمایۍ دپاره منتخب کړی.

۲: د جدید وسائلو او ذرائعو نه دې استفاده اوکړی بلکه نسبتًا زیات تجربه کار ادارې دې دخپل رهنمایۍ دپاره منتخب کړی.

۳: په دې کښې دې داسې مدرسین کارنه کوی چاچه صرف لوې لوې ډګرۍ حاصل کړې وی یادځه مخصوص مسلک متعصب تابعدار وی بلکه دهغې انتخاب په تقوی او کارکردګۍ باندې پکار وی.

هغوی ته ددې کار دکولو مهارت هم وی او دې سره ئې د زړه نه شوق هم وی او ددې د لاندی باندی نه هم واقف وی دې دپاره چه پخپلو طالبانو کښې هغه خصوصیات پیدا کړی چه د اول صدر نه د بزرګانو طریقه وه. کله ددې طلباؤ اجتماعی تفریحی پروګرام هم ایخودل پکار دی دې دپاره چه هغوی ته ددې ملک د طول وعرض څه اندازه اوشی. او ددعوت د کار کوؤنکو تربیت هم اوشی په دې سره به دهغوی په فکر او اوچتوالی اوشعور کښې فراخی هم پیداشی.

دفراغت نه پس دې حکومت دهغوی مالی امداد هم اوکړی څنګه چه دعربې ملکونو په بعضې حصو کښې نن صبا کيږی. دغه شان به دیو مسجد دامام او د يو کلی د اوسيدونکی مرتبه په يونيورسټو کښې د سبق ويونکو سره برابر شی او د احساس کمترئ جذبه به ختمه شی. ددعوت اوتبليغ کارونو ته راتلو سره دې ددې کارونو لحاظ اوکړې شی نوپه دې سره به دهغوی په مړ بدن کښې بيا ساه واچولې شی او لاندې باندې په تياروکښې پټ شوې دحق رڼړا به بياراښکاره شی.

**مشکلات:**

دې وخت کښې ددعوت الی الله کارکوؤنکو ته داخلی او خارجی دواړه قسمه مشکلات وړپيښ دی،په داخلی مشکلاتو سره زمونږ مراد هغه مشکلات دی چه نن صباپه خپله په معاشره کښې موجود دی اوپه مسلمانانو کښې دننه ديوې اوږدې مودې نه اوسيدونکی اختلافات د پسماندګۍ او استعماريت د غلبې نه پيداشوې دی، دبعضو تذکره مونږ لاندې کوو:

* د راسخ العقيده مسلمانانو په مختلف فرقوکښې تقسيمدل،د يو بل سره تعصب کول او ډله بازی کول د دې ټولو څيزونو رايوځاې کيدو سره اهل حق هم ...... د عام پارټو په شان يوپارټی جوړه شوه.

* په يو مسلک باندې دعمل کوؤنکو د بل مسلک او د هغوی دامامانو سره تعصب کول خواه اختلاف څومره هم معمولی ولې نه وی.

د خپلو شيخانو،سردارانو او مذهبی مشرانو هره خبره منل خواه دهغوی

رائې دکتاب وسنت نه مختلف ولې نه وی،حالانکه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل: زه په تاسوکښې دوه څیزونه پرېږدم اوځم چه دهغې اختیارولو نه پس تاسو به کله هم ګمراه نه شئ کتاب الله او زما سنت. [مستدرک حاکم]

بعضې مشکلات په داعی باندې په دې وجه سره راځی چه هغوی په مشرانو باندې دتبلیغ شوق پوره کول شروع کړی،حالانکه ددعوت کارکوؤنکو دپاره څه اصول او قواعد دی کومو لره چه هغوی ته یادول پکاردی اودهغوی په خصوصی طورباندې لحاظ کول پکاردی.

* ډېرمشران داسې وی چه دې عمرته رسیدو نه پس په څه زده خودنه کښې خپل توهین محسوسوی ځکه چه داڅیزونه په هغوی کښې د ماشوموالی دخصوصیاتو نه دی. په دې وجه هغوی د زده کړې اوبحث کولونه ځان ساتی چه چرته خلق هغوی لره جاهل اونه ګڼړی. دغه شان بعضې ښځې خپلو ملګرو کره په دې وجه ځی دې دپاره چه هلته تلوسره خپل غم هیرکړی یادخپل زیوراتو(کالو) نمائش (خودنه) اوکړی دهغوی مقصدعلم حاصلول او دعوت ورکول نه وی.

ډېر د دین داعیان براه راست د وعظ اونصیحت جام څکوَلو او خپل مینځ کښې دتعاون اوتعلیم اوتربیت کار سرته رسولو په مینځ کښې فرق نه کوی حالانکه اوله طریقه دنقائصو او خامیانو نه خالی نه دې او دویمه طریقه اکثر د تربیت دماهرینو په نزد افضل او مناسب دی.

## د پسماندګۍ بعضې مثالونه:

په ډیرو ښارونو کښې جهالت عام دې دخلقو په مینځ کښې د ښو بدو، د نفع نقصان تمیزاحساس نشته دې اوډیر کم خلق داسې دی چه په خپل نفع اونقصان باندې ښکاره بحث اوکړې شی.خلق دا طریقه یاخو دچاپیرپه احترام کښې یاد وخت دباچا د یرې نه اختیاروی اوکله کله صحت،صفائی او دمعاشرتی ژوند داصولو نه دناواقفیت پسماندګۍ سبب جوړیږی.

یو ډیر بد سبب په معاشره کښې خورشوې غربت دې هرکله چه داعی د معاشرې غریبانانو لره وینی چه هغوی ته د وعظ نه زیات د روټۍ ضرورت دې نو هغوی ته څه وئیلو سره شرم ورځی. (حالانکه دلته د اصحاب رسول صلی الله علیه وسلم په غربت باندې مبنی حالات او واقعاتولره مخې ته ایخودلوسره بهترین حکمت عملۍ سره ددعوت فریضه سرته رسول پکار دی.)

## د استعماریت نښې:

ددې واضح اثرات دادې:

## پارټی بندۍ:

* دملت دافرادو په خپل مینځ کښې اختلافات اودحکومتِ اقتدار مظالم دارنګه دعسکری طاقت خاتمه.

* دین او اهل دین ته په سپک نظرسره کتل اودینی فکر لره په مادی پیمانې سره ناپ کول،دارنګه سیاست ددین نه جدا کول.

* هر بهرنه راتلونکې څیز خواه هغه فکروی یاتجارت وی یا افراد وی هغې لره لوې کنټرل او د هغې نه مرعوب کیدل.

* دعسکری قوت ضعف اودکلمة اللّٰه اوچتولو دپاره دجهاد نه تختیدل،تاریخ لره دغلطو نه ډکول،دارنګه زمونږ په فکری میراث باندې حمله کول.

* اقتصادی بدحالی،چه هغه وخت کښې ښکاره شوه کله چه ملک والو امتیاز ی خصوصیاتو لره ختم کړې شو اودهغوی وزرې کټ کړې شوې اودشمن په هغوی باندې مسلط کړې شو نوزمونږ په معاشره کښې دا دردناک صورت حال پیداشو نتیجه دې ته اورسیده چه د امت صالحانو او ددین داعیانوخپلې دعوتی فریضې لره د حد درجې پیچیده او مشکل ګنړل شروع کړل.

**خارجی مشکلات:**

خارجی مشکلات هم ډیر دی دبعضو تذکره مونږ لاندې کوو:

* په ماضی کښې چه کوم جهادی او قتالی جنګونه دمسلمانانو او دهغوی ددشمنانو په مینځ کښې شوې دی هغې هغوی لره اوسه پورې په یره کښې اچولې دی په دې وجه چه هغوی څه دینی تحریک لره اوچت شوې اووینی سخت په یره کښې شی.

* هغوی ددې خبرې نه هم په ښه شان واقف دی چه د عیسائیانو په دین دارئ اوحکومت وسیاست کښې ژور تعلق دې. کوم لره چه هغوی ډیراهمیت ورکوی په دې بناء باندې د شروع نه ددشمنانو دا پالیسی ده چه هغوی ددعوت کارکوؤنکو پسې کیږی د دین منونکو په مخکښې هغوی دوې لره خراب کولو سره پیش کوی اوپه هغوی باندې علمی اوعملی یلغارکله چه هم موقع ملاویږی کوی ئې

* هرسرېږ خواه دمشرق وی یامغرب هغه ته معلومه ده چه اسلام لره داختیارولو نه پس دهغه مفاداتو ته سخت زخم لګی اودهغه تجارتی مصلحتونو ته عظیم الشان نقصان رسیږی. مثلاً داچه که مسلمانان دالله تعالی دې قول يَمْحَقُ اللهُ الرِّبَا وَيُرْبِي الصَّدَقَاتِ لره اختیارکړی نو زرګونو بینکونو ته به تالا اولګی. دغه شان که هغوی دالله تعالی په دې ارشادوَقَرْنَ فِيْ بُيُوْتِكُنَّ وَلاَ تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الْأُوْلٰى باندې عمل اوکړی نو په زرګونو کارخانې به بندشی او د تجارتی منډو ګرموالې به یخ شی.

* یوبل مشکل دادې چه زمونږ ځوانان اوعلماء د بهریونیورسټو ډګریانو لره لوې ډګرئ تصورکوی. حالانکه په علم حاصلولو کښې څه حرج نشته حرج خو صرف دهغوی په تهذیب باندې عمل کولو کښې دې. ځکه چه زمونږ سره خو پخپله هغه تهذیب شته چه مونږ ئې نورو ته ورکوو داخستو سوال نه پیداکیږی.کیږی داسې چه هغوی دعلم په لاره کښې زمونږ په طلباؤ کښې خپل بدترین تهذیب وررننباسی او په هغوی کښې اکثر په دې حال کښې واپس کیږی چه لویه حده پورې هغه مغربې جوړشوې وی. داځیزونه هم د امت مسلمه په مشکلاتو کښې د اضافې سبب جوړیږی. دغه شان زمونږ دهغه مستغربیو مسئله بقول دشاعر داسی کیږی

نَحْذُتُكُمْ دِرْعًاحَصِيْنًالِتَدْفَعُوْا بِنَاالْعِدَاعَنِّيْ وَكُنْتُمْ نِصَالِهَا

"مونږتاسو یومضبوط ډهال تصورکړې وئ چه تاسو به ددشمن نه زمونږ حفاظت کوئ خوتاسو دنیزې سُوکه ثابت شوې."

د دعوت الی الله کارکوؤنکی ددې خبرې نه ښه واقف دی چه هغوی دالله تعالی سره څه عهد نه دې کړې چه هغوی به داسلام عظمت اوچتوالې واپس راولی ځکه چه دغه شان دعوی کول خو دچا ولی یانبی دپاره غیرمناسب ده ددې نه مخکښ الله تعالی په خپله نبی محمدصلی الله علیه وسلم ته فرمائیلې دی: اِنْ تَحْرِصْ عَلٰى هُدٰىهُمْ فَاِنَّ اللّٰهَ لَا يَهْدِيْ مَنْ يُّضِلُّ وَمَا لَهُمْ مِّنْ نّٰصِرِيْنَ۔ [النحل:۱۶/۳۷]

”اې نبی! ته څومره هم که د دوی دهدایت دپاره حریص ئې،خو الله تعالی چه چاله غواړی ګمراه کوی بیاهغه ته هدایت نه کوی دداسې خلقو څوک مدد ګار نه وی.“

او الله تعالی په یو بل مقام باندې داسې فرمائیلې دی:

وَلَوْ شَآءَ رَبُّكَ لَاٰمَنَ مَنْ فِي الْاَرْضِ كُلُّهُمْ جَمِيْعًا اَفَاَنْتَ تُكْرِهُ النَّاسَ حَتّٰى يَكُوْنُوْا مُؤْمِنِيْنَ۔ [یونس:۱۰/۹۹]

”که ستادربّ اراده دا وې چه په زمکه کښ دې ټول مومنان او فرمانبردار وې نو ټول دزمکې خلقو به ایمان راوړې دې نو آیا ته به خلقو لره مجبوروې چه هغوی مومنان شی.“

هغه د دې خبرې نه ښه واقف دې چه دې هدایت موندونکی لره دهغه دمقام نه نه شی مخکښ کولې او نه ورته ددې خبرې اختیارشته چه دې ظالمانو لره دغلبې موندولو نه منع کړی. هغه ته خو صرف خپله فریضه ادا کول دی. اوبس!!!

**بشارتونه (زیرې):**

د دې سختو تیارو په وادئ کښې دالله دنصرت او امیدونو شمعې بلې په نظر راځی.

د دعوت کار کوؤنکو دپاره یو خوشحاله کوؤنکې خبره داده چه په پوره دنیا کښې دعلم ترقئ په خلقو کښې د آزادئ چپه شان په منډه کړې ده او ظاهره ده چه دعلم ترقی هم د رنړا او هدایت پیش خیمه ده. داپه عقل اوفطرت کښې پوخ والې راولی اوپه څه څیز ته په کتلو سره هم د هغې په باره کښې په تحقیق او کوشش باندې انسان آماده کوی،په دې وجه چه کوم خلق د حق دعوت دمنع کولو دپاره کوشش کوی د هغوی اثرات په هغه خلقو باندې کله هم نه پریوځی چه په رښتیااونیک نیتئ سره دحقیقت کوشش کوی.

یوه بله خوشحاله کوؤنکې خبره داده چه هغه تهذیبونه چه د مادې دتقدس قائله او روحانیت لره ډهکوسله ګرځونکی دی هغوی لره زبردست شکست سره مخ کیدل دی. او دټولې دنیا مفکرین او دانشور د مادیت دفکر نه آزادیدو سره دڅه داسې تهذیب په تلا ش کښې دی چه هغوی ته دهغوی ورک شوې متاع واپس کړی.اوهغوی په څه قیمت هم د حیوانی ژوند تیرولو دپاره رضامندنه دی په کوم کښې چه انسان دبطن او فرج پرستار اوبهری مشین جوړکړې شوې وی. هغه په حقیقی معنوکښې انسان جوړیدل غواړی اودهر هغه سړی دپاره دافهام وتفهیم دپاره راضی دې چه دوی لره صحیح لارې طرفته راهنمائی ورکړی. داسې لار په کوم کښې چه د مادیت او روحانیت ښکلې امتزاج

په نظر راځی.

یوه بله خوشحاله کوؤنکی خبره د لویوطاقتونو په مینځ کښ رسۍ راښکل دی اوهمدا هغه څیز دې دکوم دمینځ چه الله تعالی همیشه دکمزورې طبقې دپاره د خلاصی لار راوستلې ده. د الله تعالی فرمان دې:

وَلَوْلَا دَفْعُ اللّٰهِ النَّاسَ بَعْضَهُمْ بِبَعْضٍ لَّفَسَدَتِ الْاَرْضُ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ ذُوْ فَضْلٍ عَلَى الْعٰلَمِيْنَ۔ [البقرہ:۲/۲۵۱]

"کچرې دغه شان الله تعالی دانسانانو یوې ډلې لره دبلې ډلې په ذریعه نه لرې کوله نود زمکې نظام به خرابیدو خو د دنیا په خلقو باندې دالله تعالی لوې فضل دې(چه هغه دفساد دفع کولو انتظام کوی)"۔

## د سامراجیت ناکامۍ:

سامراجیت ته په عربې ملکونو اوټول اسلامی ملکونوکښ د سخت وهلو سره مخ کیدل کیږی. دا صرف د الله تعالی لوې فضل دې چه زمونږ عزت او آزادی مونږ ته بیا واپس ملاویږی او دشمنان دناکامۍ مخ وینی. داسلامی تحریک په لاره کښ دا لوې کانړی وو چه دهغې دلرې کیدو نه پس مونږ به د آزادۍ په فضاکښ ساه واخلو.

څه به بهتره وه چه زمونږ ملکی حکامو خپل رونړو ته دقول اوعمل آزادی ورکولې نو په هغه ورځ به زمونږ رونړه د الله په دې مددسره ځومره قدرې خوشحاله کیدل.

## په حکومتی سطح باندې د دعوت وتبلیغ اهتمام:

بعض اسلامی حکومتونو د اسلامی دعوت د نشرو اشاعت دپاره په سرکاری سطح باندې هم کارشروع کړې دې په هغې کښې بعضې کارونه دادی:

د اسلامی کتابونو چهپائی، د دین د داعیانو تربیت، د ملک په مختلفو حصو کښې د حق د دعوت داشاعت دپاره وفودونه روانول،په عالمی پیمانه باندې د کانفرسونو انعقاد، اوددسې ادارو تشکیل چه په عالمی سطح باندې داسلام خدمت اوکړې شی اودهغې دپاره دمالی وسائلو او ذرائعو بندوبست کول.دا ټول څیزونه دی چه مونږ ته د خوشحالونکی مستقبل پته راکوی.

## حرف آخر:

په آخرکښې دا نکته هرسړی ته (خواه هغه څوک داعی وی یاعام مسلمان) په دې ځان پوهول پکاردی چه ددعوت کار په غټوغټو کتابونو لوستلو او په اوچتو اوچتو ډګرو اخستلو سره دارنګه د هوښیارتیا او خطابت په اظهارسره سرته نه رسی بلکه ددې دپاره نفس لره د دنیاوی لذتونو او آسانو نه پاک ساتل دی. په هرحالت کښې دالله تعالی یره اودهرهغه څیز التزام کول دی کوم لره چه الله تعالی دخپل نیکانو بندګانو دپاره خوښ کړې دی رښتیاوئیلی دی الله تعالی:

وَمَنْ يُؤْمِنْ بِاللَّهِ يَهْدِ قَلْبَهُ وَاللَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ [التغابن: ۱۱/٦٤]

”او کوم سړې چه په الله تعالی ایمان لری الله تعالی دهغه زړه ته هدایت کوی الله تعالی ته د هرڅیز علم دې.“